د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د علومو اکاډمي
معاونيت بخش علوم بشرى
مرکز زبانها و ادبيات
د پښتو ژبې او ادبياتو انستيتوت

# کابل

**په دې ګڼه کې:**

- د محمد اکبر معتمد ژوند او ادبي هڅې
- د ژبپوهنې او ادبپوهنې مسئلې
- په پښتو اولسي ادب کې کړۍ
- د ګل پاچا الفت په نثرونو کې ځينې هيومانيستکي افکار
- د خروټو د لهجې ګړويزونه (ډايلکټرمونه)
- د نامعلومې زمانې پښتو نکلونه
- په هوتکي پېر کې د ښځو فرهنګپالنه

او نور ...




- دري مياشتنۍ
- درېيمه دوره
- کال: ۱۳۹۷ لمريز
- د تأسيس کال: ۱۳۱۰ لمريز
- کابل- افغانستان

۴

څېړنيزه، ژبني، ادبي او فولکلوري مجله
کابل
۱۳۹۷ لمريز کال، ۴ مه ګڼه


# KABUL

## Monthly Journal


Establishment 1931
Academic Publication of
Afghanistan Academy of Science



Address:
Academy of Science of Afghanistan
Torabaz Khan, Shahbobo Jan Str.
Shar-e-Now, Kabul,Afghanistan
Tel: 0202201279

دافغانستان اسلامي جمهوري دولت د علومو اکاډمي

معاونیت بخش علوم بشری

مرکز زبانها و ادبیات

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# کابل

څېړنیزه، ژبنۍ، ادبي او فولکلوري درې میاشتنۍ مجله

د تأسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز

ګڼه: ۴

**یادونه:**

✓ مقاله دې له يوې رسمي پتې څخه چې پـه هغـې کـې د ليکـوال نـوم، تخلـص، علمـي رتبـه، د ټيليفون شمېره او برېښليک پته وي د علومو اکاډمي ادارې ته را ولېږل شي.

✓ رالېږل شوې مقاله بايد پوهنيزه ـ څېړنيزه، بکره او له منل شوو علمي معيارونو سره برابره وي.

✓ رالېږل شوې مقاله بايد په بله خپرونه کې نه وي خپره شوې.

✓ د مقالې سرليک بايد لنډ او له منځپانگې سره سمون ولري.

✓ مقاله بايد د ۸۰ او ۲۰۰ کلمو ترمنځ لنډيز ولري او د څېړنې پوښتل شوې پوښتنه ځواب کـړاى شي. همدغه راز لنډيز بايد د يونسکو په يوې ژبې ژباړل شوى وي.

✓ مقاله بايد د سريزې، اهميـت، مبرميـت، مـوخې، د څېړنـې پوښـتنې، د څېړنـې روش، پـايلې او مأخذونو لرونکې وي او په متن کې مأخذ ته نغوته شوې وي.

✓ مقاله بايد د ليکوالۍ له اصولو سره سمه وي، املايي او انشايي تېروتنې ونه لري.

✓ د مقالې حجم حد اقل يې ۷ مخه او حد اکثر يې ۱۵ معياري مخونـه وي، د فونـټ سـايز ۱۳، د کرښو ترمنځ فاصله بايد (Single ) وي او ادارې ته دې سافت او هارد کاپي دواړه را ولېږل شي.

✓ د مجلې کتنپلاوى د علومو اکاډمي د نشراتي لايحې له مخې د يوې مقـالې د تائيـد او رد واک لري.

✓ د رالېږل شوو مقالو شننه او څېړنه د ليکوالو فکري زېږنده ده، ليکوال ته بويه چې سپيناوى يې په خپله وکړي، اداره يې په سپيناوي کې کوم مسووليت نه لري.

✓ د مجلې له چاپ شوو مقالو څخه استفاده کول، بې له مأخذه جواز نه لري.

✓ ادارې ته رالېږل شوې مقاله بېرته ليکوالو ته نه ورکول کېږي.

بسم الله الرحمن الرحيم

**خپرندوی:** د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**مسؤل مدیر:** څېړنوال سیدنظیم سیدي

**مهتمم:** څېړنیار حضرت آغا همدرد

**کتنپلاوی:**

څېړنوال ډاکټر عبدالظاهر شکیب

څېړنپوه ډاکټر خلیل الله اورمړ

څېړنپوه نصرالله ناصر

څېړنوال محمد آصف احمدزی

**مطبعه:** مطبعه صنعتی چهاردهی

**تیراژ:** ۵۰۰ ټوکه

**پته:** د افغانستان د علومو اکاډمي، طره باز خان واټ،

کابل، نوی ښار، د شابوبو جان کوڅه

**د اړیکو شمېرې:**

۰۷۷۰۸۴۸۰۸۶- ۰۷۹٦٦۵۰٦۵۸ - ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹

**د مجلې برېښلیک:** magazinekabul@gmial.com او

informationasakabul@gmail.com

**کلنۍ ګډون بیې:**

په کابل کې: ۹٦۰ افغانۍ

په ولایاتو کې: ۱۴۴۰ افغانۍ

په نورو هېوادونو کې: ٦۰ امریکایي ډالر

په کابل کې د یوې ګڼې بیه:

- د علومو اکاډمۍ د څېړونکو او استادانو لپاره: ۷۰ افغانۍ
- د زده کوونکو او محصلینو لپاره: ۴۰ افغانۍ
- د نورو ادارو لپاره: ۸۰ افغانۍ

# لیکلړ


| شمېره | سرلیک | لیکوال | مخگڼه |
|---|---|---|---|
| ۱. | د محمد اکبر معتمد ژوند ... | څېړنپوه نصرالله ناصر | ۱ |
| ۲. | په هوتکي پېر کې د ښځو... | څېړنواله عاطفه نورستاني | ۱۳ |
| ۳. | په داستاني ادب کې د...... | عبدالوکیل سوله مل شینواری | ۲۸ |
| ٤. | په پښتو اولسي ادب کې .... | څېړندوی عبدالاحد منگل | ۵۸ |
| ۵. | د گل پاچا الفت په نثرونو... | پوهنمل سید اصغر هاشمي | ۷٦ |
| ٦. | په پښتو معاصر شعر کې له... | څېړندوی رحیم الله حریفال | ۸۴ |
| ۷. | د پیر محمد کاروان په شعر... | محمدطاهر شرر ساپی | ۹۹ |
| ۸. | د ژبپوهنې او ادبپوهنې..... | څېړندوی ډاکټر نظام الدین کټوازی | ۱۱۳ |
| ۹. | پیر روښان او وحدت الوجود.. | پوهنیار حمیدالله عمرخېل | ۱۲۵ |
| ۱۰. | د حسن گل باندوال ژوند..... | څېړنوال عبدالظاهر شکېب | ۱۴۲ |
| ۱۱. | د خروټو د لهجې گړویزونه... | پوهنیار میوند بختیار | ۱۵۰ |
| ۱۲. | د شال شعري گلبڼ... | څېړندوی راضیه نوري | ۱۷۵ |
| ۱۳. | د نامعلومې زمانې پښتو... | څېړندوی سمیله احمدزۍ | ۱۸۷ |

څېړنپوه نصرالله ناصر

# د محمد اکبر معتمد ژوند او ادبي هڅې

## لنډیز:

زموږ په هېواد کې ډېر نومیالي او حقدار لیکوال او شاعران تېر شوي او اوس هم دغسې وتلې څېرې لرو، هغه چې اوس زموږ په منځ کې نه شته، د هغوی په اړه به څه ویل او لیکل دا ګټه ولري چې اوسني او راتلونکی نسل به یې له ادبي هڅو او کارنامو څخه خبر شي او له بله پلوه به د دوی د دغو خدمتونو نسبي حق ادا شوی وي.

یو له دغسې حقدارو او د درنښت وړ لیکوالو څخه څېړنپوه محمد اکبر معتمد شنیواری دی چې خپل ژوند یې فرهنګي ـ ادبي هڅو او په ځانګړې توګه د پښتو ژبې او ادب خدمت ته ځانګړي کړی و. هغه د خپل ژوند په بهیر کې ډېر اثار لیکلي او یا یې له نورو ژبو ژباړلي دي چې د ده دغه خدمتونه د یادونې او ستاینې وړ دي.

په دې لیکنه کې به د نوموړي پر لنډ ژوند لیک سربېره د هغه په ژوند، زده کړو، آثارو، لیکوالۍ او شاعرۍ، د شاګردانو روزنې، د علمي پرژوژو په لارښوونې او نورو ادبي هڅو عام بحث وشي او په ترڅ کې به یې د هغه د علمي- ادبي شخصیت تر یوه بریده روښانه شي.

## سریزه:

د پوهانو او فرهنګیانو پېژندنه او د هغوی پر آثارو بحث په دې معنا دی چې اوسني او راتلونکي نسلونه وهڅول شي چې د دغسې او دې ته ورته نورو فرهنګي چارو پرمخ بېولو ته لاس وغځوي او فرهنګي چوپړ ته ملا وتړي.

وايي چې مخکينی د وروستني پول (پُل) دی، موږ به په دې توګه له يـوې خـوا د خپلو مشرانو د يادونې او نمانځنې ترځنګ چې دا د هغوی حـق دی، د هغـوی لـه پنځونو او څېړنو سره بلدېږو، له بلې خوا به خپل مشران له هېرېدو او آثـار بـه يـې لـه ورکېدو ژغورو او کارنامې به يې بيانوو او همدارنګه به مو اوسني او راتلونکي نسـل تـه يو پيغام وړاندې کړی وي. په دې توګه به ځوان نسل هم وهڅول شي او دا بـه د دې لامل شي چې دوی به هم د خپلو مشرانو په څېر فرهنګي هڅو تـه متـې راونغـاړي او د هغوی په پله به پل کېږدي.

## د څېړنې اهميت او مبرميت:

هر هېواد او ټولنه خپل خپل فرهنګي ميراثونه او فرهنګي شخصيتونه لري، کـه څه هم فرهنګي شخصيتونه پوله او سرحد نه پېژني، خـو بيـا هـم ((هـر څـوک خپـل ګنې ښاغلي)) همدغه فرهنګي موارين د يوې ټولنې د هويت لامل ګرځـي، کـه يـوه ټولنه يا قوم خپله ژبه او فرهنـګ لـه لاسـه ورکـړي، نـو ښـکاره ده چـې محکـوم واقـع کېږي.

د فرهنګ د پياوړتيا لپاره کار ډېر ډېره هڅه غواړي، لکه چې له يوه لاسه ټک نه خېږي، همداسې په يوه ګل هم نـه پسرلـی کېـږي، نـن چـې مـوږ پـه خپـل فرهنـګ وياړو، دا زموږ د نيکونو د زرګونو کلونو د کړاو، هلو ځلو او قربـانيو نتيجـه ده، نـو بويـه چې موږ په خپلو مشرانـو نـه يـواځې وويـاړو، بلکـې د هغـوی هڅـې او کارنـامې بايـد رابرسېره او وڅېړو او ټولنې ته يې ور وپېژنو، د دې موضوع اهميت او مبرميت هم پـه همدې ټکي چورلي چې په دې مقاله کې موږ له دغسـې شخصـيتونو څخـه پـه يـوه باندې غږېږو.

## د څېړنې موخه:

د دې څېړنــې موخــه دا ده چــې د څېړنپـوه محمـد اکـبر معتمـد د شخصـيت بېلابېل اړخونه روښانه، د ده فرهنګي هڅې څرګندې او د ځانګړو آثـارو فهرسـت يـې وړاندې شي، لنډه دا چې د ده فرهنګي خدمتونه به په ځانګړې توګه پښتو ژبې ته د ده خدمتونه تر يوه حده روښانه شي.

**د څېړنې پوښتنې:**

- ✓ محمد اکبر معتمد څوک و؟
- ✓ زده کړې يې تر کومې کچې رسولې وې.
- ✓ کوم مهم او د يادونې وړ فرهنګي- ادبي خدمتونه يې ترسره کړې دي؟

**د څېړنې ميتود:**

په دې څېړنه کې له تشريحي او توضيحي ميتود څخه ګټه اخيستل شوې ده.

**اصلي متن:**

له نن نه څه له پاسه نوي کاله دمخه د (۱۳۰۵لمريز) (۱) د لوی ننګرهار د سهيلي اړخ د سپين غره لمنو ته څېرمه د هسکې مېنې (ده بالا) د محمد وزير په کاله کې يوه بختور ماشوم نړۍ ته سترګې وغړولې او کورنۍ يې ورباندې د محمد اکبر ښکلي نوم ولوراوه چې وروسته په فرهنګي کړيو کې د محمد اکبر معتمد شينواري په نوم اوښار شو.

کوچنی محمد اکبر د خپل کور په اډانه کې ورو ورو را لويېده، خو نوموړی تر څوارلس کلنۍ پورې له ليک او لوست څخه بې برخې و، ځکه چې پلار يې يو نالوستی کليوال کروندګر و، خو په څوارلس کلنۍ کې يې په فکر کې بدلون راغی، څښتن تعالی يې په زړه کې له سق او درس سره مينه پيدا کړه او د زده کړې په تکل کې شو، زما په اند په دې کار کې به يې غالباً د پلار او يا کوم دوست او خپلوان هڅونه او تشويق هم ورسره مل و.

استاد عبدالروف بېنوا په خپل اثر "اوسني ليکوال" کې زده کړې ته د هغه تمايل يوه تصادفي پېښه ګڼي او ليکي: "... تر څوارلس کلنۍ پورې ده يوه تور ټکی نه و لوستی، مګر وروسته بيا تصادفاً داسې شرايط منځ ته راغلل چې په سبق ويلو يې پيل وکړ او په ډېر لږ وخت کې له خپلو همزولو سره برابر سو." (۲)

زما په اند زده کړې ته تمايل او مخه کول په تصادفي توګه نه کېږي، حتماً به چا هڅولی وي. د استاد بختاني د شفاهي وينا پر بنسټ د ده يو ورور ملا و او د ملا شريف په نوم مشهور و، ښايي د زده کړې په برخه کې به يې همدی مشوق وي. (۳)

په هر حال، هغه تر يوه وخته په خپله سيمه کې ديني علوم ولوستل، وروسته کوزې پښتونخوا ته لاړ او هلته يې د ديني علومو په برخه کې خپلو زده کړو ته دوام

ورکړ، هغه په ۱۳۲۳ لمریز کال کې کابل ته راغی، دا چې تر یوه بریده یې دیني علوم لوستي وو، نو ځکه د عربي دارالعلوم په پنځم ټولګي کې شامل شو. دا مهال یې د خپلو درسونو په لوستلو سربېره مطبوعاتو ته هم ځان یو څه نږدې کړ، خپل شعرونه او نثرونه به یې په جریدو کې خپرول. (۴)

محمد اکبر معتمد په ۱۳۳۱ لمریز کال له عربي دارالعلوم څخه د مولوي په سویه فارغ او په خوشحال خان لېسه کې د ینیاتو او پښتو د ښوونکي په توګه وټاکل شو.

لکه دمخه مې چې وویل نوموړي لا د زده کړې پر مهال له مطبوعاتو سره ځانګړې مینه درلوده او همکاري یې ورسره پیل کړې وه، نو همدا لامل و چې په ۱۳۳۲ لمریز کال کې یې د پوهنې وزارت له موافقې وروسته په پښتو ټولنه کې د زېري اوونیزې د مرستیال په توګه دنده پیل کړه، دا مهال پښتو ټولنه په اداري لحاظ د مطبوعاتو په مستقل ریاست پورې تړلې وه.

هغه مهال چې معتمد د زېري اوونیزې مرستیال و، خپله دنده یې په بشپړ صداقت او رښتینولۍ پرمخ بیوله، خو له صداقت سره یې وړتیا هم درلوده، نو ځکه ورته د ۱۳۳۴ لمریز کال له شپاړسمې ګڼې وروسته (د لیندۍ د میاشتې څلورمه) لومړی د زېري کفالت او وروسته د مسوول مدیریت چارې ور وسپارل شوې چې د ده مدیریت د ۱۳۴۲ لمریز کال د تلې د میاشتې تر شپږمې نېټې پورې دوام وکړ. (۵)

محمد اکبر معتمد سربېره پر خپلې مورنۍ ژبې پښتو، په دري هم پوهېده، عربي ژبه خو یې د دیني زده کړو په ترڅ کې زده کړې وه، سره له دې چې په مطبوعاتي چارو کې مصروف و، خو بیا یې هم وغوښتل چې روسي ژبه هم زده کړي. د روسي ژبې د زده کړې په خاطر په ۱۳۳۸ لمریز کال کې د روسي ژبې په کورس کې شامل شو، که څه هم روسي ژبه پېچلې ګرامري جوړښت لري، خو د ده لپاره یې په دوو دلیلونو ستونزې نه درلودې، لومړی دا چې د عربي ژبې په ګرامر کې ښه ماهر و او همدارنګه د پښتو ژبې پر ګرامر هم لاسبرى و، نو ځکه ورته د روسي ژبې زده کړه ستونزمنه نه وه او په ډېرې اسانۍ سره یې تر یوه بریده زده کړه او د ۱۳۴۰ کال په غبرګولي کې یې کورس پای ته ورساوه.

که څه هم د پښتو ټولنې (پښتو اکاډمي) لپاره پـه (۱۳۳۵ لمریـز) کـال کـې د پوهنتون په څېر علمـي رتبـې او کـادري امتیـازات منـل شـوي وو (٦)، خـو دی لا د پښتو ټولنې مسلکي غړی نـه و، خـو نومـوړي ۱۳۴۲ کـال د وري پـه میاشـت کـې د پښتو ټولنې په مسلکي غړیتوب ومنل شو او د پښتو ټولنې د اساسـنامې لـه مخـې د څېړونکي علمي رتبه ورکړل شوه.

نوموړي په همدغه کال د افغان – شوروي د دوستۍ ټـولنې لـه خـوا د روسـني ژبې د لا ښې زده کړې او تقویې په خاطر پخواني شـوروي اتحـاد تـه واسـتول شـو او هلته یـې د لومونـو سـوف پـه پوهنتـون کـې د روسي ژبـې د معلمـۍ او د تـدریس د اصولو کورس پای ته ورساوه او بېرته هېواد ته را ستون شو. (۷)

په ۱۳۴۵ لمریز کال کې یې د څېړنیار علمی رتبې ته ترفیع وکړه چـې وروسـته یې د اړوندې اساسنامې له مخې نورې علمي رتبې هم ترلاسه کړې.

محمد اکبر معتمد د څه وخت لپاره د مسلکي غړي پـه توګـه دنـده تـرسره کـړه چې څه موده وروسـته د خپرونـو د لـوی مـدیریت چـارې ور وسـپارل شـوې، د پښـتو ټولنې په تاریخچه کې د راغلو معلوماتو پر بنسټ هغه په ۱۳۵٦ کال کې په همـدې دنده بوخت و. (۸)

کله چې په ۱۳۵۷ لمریز کال کې په اوسني بڼه د افغانستان د علومو اکـاډمي جوړه شوه، محمد اکبر معتمد شینواری هم د دې اکاډمي د ژبو او ادبیـاتو د مرکـز د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت د علمي غړي په توګه خپلې دندې تـه دوام ورکـړ او د پښتو ټولنې د وخـت د څېړنـدوی علمـي رتبـه یـې د افغانسـتان د علومـو اکـاډمي د سرڅېړونکي (سرمحقق) په علمي رتبه تعدیل شوه.

هغـه څـو کالـه د پښـتو ادبیـاتو د څـانګې آمـر و چـې پـه ۱۳٦۹ لمریـز کـال د افغانستان د علومو اکاډمي په لومړنیو آزادو ټاکو کې بیا هم د همـدې څـانګې د آمـر په توګه وټاکل شو او دا دنده یې د تقاعد تر وخته ترسره کړه.

نوموړي ته د ۱۳۷۲ لمریز کال د لیندۍ په میاشت کې تقاعد ورکړل شو، هغه په داسې حال کې تقاعد کړای شو چې هم یې د کار کولو پوره ځـواک درلـود او هـم اړوند انستیتوت ورته ډېر ضرورت درلود.

محمد اکبر معتمد پر خپل اصلي نامه سربېره پـه دې لانـدې نومونـو هـم خپـل

آثار او لیکنې خپرې کړې دي:

کمین، شینواری، جنتي، معتمد، محمد اکبر معتمد شینواری، محمد اکبر معتمد جنتي شینواری او نور.

د استاد بختاني د شفاهي نظر پر بنسټ نوموړي د تحصیل پر مهال لومړی کمین تخلص کاوه، کله چې پښتو ټولنې ته راغی، معتمد تخلص یې غوره کړ.

سرڅېړونکی محمد اکبر معتمد جنتي سربېره پر دې چې ډېرې مقالې یې لیکلې او په بېلابېلو موقوتو خپرونو کې یې خپرې کړې، ځانګړي آثار یې هم لیکلي، همدارنګه یې ځینې هغه آثار چې په پخواني شوروي اتحاد کې د پښتو ادبیاتو په اړه لیکل شوي، په روانه پښتو ژباړلي دي.

په همدې توګه یې پر تدریس سربېره د افغانستان د علومو اکاډمۍ او نورو فرهنګي موسسو له خوا په جوړو شوو سیمینارونو کې کارنده ونډه اخیستې ده، همدا رنګه یې پر تحصیلي سفرونو سربېره پخواني شوروي اتحاد ته فرهنګي سفرونه هم کړي دي چې دلته یې له تفصیله تېرېږم.

زموږ دغه پیاوړي لیکوال، شاعر، څېړونکی، تکړه ژباړونکی او نېک انسان په ۱۳۷٦ لمریز کال کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د مشرتابه هیأت د پرېکړې پر بنسټ رفع تقاعد او له مقررېدو سره سم د یوې رسمي دندې د اجرا په منظور د هوا له لارې د هرات په لور وخوځېد، د دوی د سپرلۍ الوتکه د ۱۳۷٦ کال د مرغومي د میاشتې په ۲۲ مه د دوشنبې په ورځ د هوا د خرابوالي له امله را وغورځېده او اروابناد معتمد خان حق ته وسپاره، (۹) او د جلال آباد د زیتون له فابریکې سره څېرمه هدیره کې خاورو ته وسپارل شو. روح دې یې ښاد وي.

د اروابناد فاتحه د سلواغې په پنځمه د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا د حاجي یعقوب په جامع جومات کې واخیستله شوه.

خو د کابل مجلې د ۱۳۸۱ کال د (۹- ۱۰) مې ګڼې په ۱۰۷ مخ کې د ده د مړینې نېټه د ۱۳۷٦ کال د لیندۍ څلېرویشتمه لیکل شوې ده. (۱۰)، چې دا نېټه سمه نه ده، ځکه چې هغه لا دا مهال ژوندی و. اروابناد معتمد جنتي خپل وروستی اثر چې "د افغانانو وروستي خپلمنځي جنګونه او د بشر- حقوق" تر سرلیک لاندې

يې ليکلي او په ۱۳۷۵ کال کې چاپ شوی دی، يو ټوک ماته په دې ډول اهدا کړی و:

"گران او محترم ناصر صاحب ته اهدا شو. په درناوي

محمد اکبر معتمد (۱۱)

دا نېټه د ۱۳۷٦ کال د مرغومي د مياشتې نهمه ورځ وه. لنډه دا چې هماغه د جدي ۲۲ يې د وفات سمه نېټه ده.

اروانښاد محمد اکبر معتمد شينواري ډېرې مقالې ليکلي او په بېلابېلو موقوتو خپرونو کې يې خپرې کړې دي او ترځنگ يې ځينې ځانگړي آثار هم ليکلي يا ژباړلي دي، هغه ځانگړي آثار چې ماته معلوم دي دلته يې يوائې نومونه اخلم:

الف) ليکنې (تاليفات)

۱- ژوند او ادب

۲- د نړۍ ستر شخصيت

۳- د پښتو ادبياتو تاريخ، لومړۍ دوره (ناچاپ) (۱۲)

۴- د افغانستان وروستي خپلمنځي جنگونه او د بشر- حقوق، د ۱۳۷۵ کال چاپ.

ب) ژباړې:

۱- د افغانستان ملي ژبه او ادب، د ۱۳۴۷ کال چاپ.

۲- د روښانيانو ملي نهضت، د ۱۳۵۳ کال چاپ.

۳- اقتصادي جغرافيه، د پښتو ژبو ښوونځيو لپاره.

۴- د مېړني اولس ادبيات.

۵- سيدجمال الدين افغان، د ۱۳۰۷ کال چاپ (۱۳)

٦- د دوو دوستو هېوادونو اولسي پوهه، د تمارا ميوندي په گډون، د ۱۳٦۳ کال چاپ. (۱۴)

۷- په افغانستان کې د پښتو هنري نثر، د (؟) کال چاپ.

بايد ووايم چې استاد معتمد لومړی له عربي ژبې څخه ژباړې کولې، کله چې يې روسي ژبه زده کړه بيا يې له روسي ژبې نه ژباړې پيل کړې. د ده ليکنې هم

رواني وي او ژباړې يې هم رواني او بې تکلفه وي، له ټکي په ټکي ژباړې نـه يـې ډډه کوله او اصلي مطالب يې په بشپړې امانتدارۍ سره را ژباړل.

استاد پر څېړنو او ژباړو سربېره د علومو اکاډمي د ډېرو پوهانو چې علمي رتبـې يې ټيټې وې د لاربښوونې چارې هم ترسره کړې او همدارنګه يې په ډېرو آثـارو بانـدې تقريظونه هم ليکلي دي چې دلته يې له تفصيله تېرېږم.

هغه شعر هم وايه، يعنې دی شاعر هم و، همدارنګه يې نثر هم ليکه چـې دلتـه به يې د شعر، نثر او ژباړې بېلګې وړاندې شي.

د شعر بېلګه:

**د ژوند راز**

هغـــه بـــاغ تـــه د خـــزان د ورتلـــو لاروي
چـــې محتـــاج د پسرـــلي او د مليـــار وي
د خـــزان ســـپېرې ســـيلۍ يـــې ورنـــه يـــوسي
کـومې ونـې چـې د وخـت پـه احسـان بـار وي
د غـــره ونـــې وي پـــه واورو کـــې سمســـورې
اوړی ژمـــی تـــل تـــازه لکـــه بهـــار وي
چـې لـه وختـه متـاع غـواړي وخـت تـه ګـوري
ښـــه او بـــد يـــې د وختونـــو پـــه اختيـــار وي
د موســم پــه ســخا بــار پــه بــرګ او بــار شي
پـــه خـــزان کـــې بيـــا لغـــړ او خـــوارو زار وي
چې د غرو پـه تـړو زيسـت د ځـان پـه ډاډ کـړي
تمـــام عمـــر ښايســـته پـــه ښـــه ســـينګار وي
تـــل بهـــار ځکـــه د غـــرو، ونـــو نصـــيب وي
نـه د وخـت احسـان تـه ګـوري نـه يـې ډار وي
د ژونـــد راز غـــواړه د غـــره او ســـم لـــه ونـــو
چـې پـه درد او د سـختۍ زغـم کـې قـرار وي
څوک چې ژوند کا په خپل سر په ځان ويسا وي
تـل بـه ښـاد وي کـه غريـب کـه دنيـا دار وي

کــه وقــار د ژونــدون غــواړې احســان مــه وړه
د احسان ژوند کله ښـه او کله خـوار وي (۱۵)

د نثر بېلګه:

**بوالهوس شاعره!**

تـل د معشـوقو د سـپین رخسـار سـتاینه کـوې، مګـر د مظلومـو ژېـړ رنـګ او د غریبانو سپېره مخ نه یادوي چې په مخ باندې شـنه خالونـه وینـې، نـو پـه مـخ روانـې اوښکې ولې نه شې لیدلی؟ نرۍ او سرې شونډې دې ښې راځي، خو د وچو شـونډو پوښتنه نه کوې، د رنجو ډکې سترګې خوښوې، خو د اوښکو ډکې نه.

هره تشبېه کولی شې، مګر د سوي زړه تشبېه د کباب سره نه. د پیمخـو د وړې او ښایسته خولې خبرې په ډېر شـوق سره اورې، خـو د یتیمانـو ژړا تـه غـوږ نـه ږدې، سپین غاښونه په شعر کې راولې، مګر هغه غاښونه چې په سوک مات شوي، ستا پـه شعر کې نه شي راتلای.

د پېغلو د د سینې سـطحه سـتا د تصـور تخـت دی، خـو د وطـن سـطحې سره علاقه نه لرې.

د نکریزو رنګ ستایې، اما د شهیدانو وینه نه.

د پېزوان شغلې د زړه په سترګو وینې، مګر د نـورو رڼـا پـه سـترګو هـم نـه شـې لیدای.

ظاهري زېب و زینت ستایې، مګر باطني زینت نه.

سم قامت دې ډېر خوښېږي، مګر د سمو کارونو سره علاقه نه لرې.

ځان ته رباب وهې، مګر د نورو غم نه خورې.

دا به ترڅو پورې وي؟ خلکو زاړه نـاوړه دودونـه پرېښـودل، خـو تـه لا هماغسـې یواځې زلفې او شونډې ستایې. (۱٦)

د ژباړې یوه بېلګه:

لېوه

لېوه د ځنګل نه په ډېره منډه کلي ته راغی

دا راتګ یې له دې کبله نه و، چې ګوندې چا مېلمه کړی دی.

بلکې ده غوښتل چې د هغه خطر نه چې ده ته متوجه و ځان بچ کړي.

د ښکاریانو او سپیو ډله ورپسې په ډېر شدت را روانه وه.
لېوه غریب ډېر وارخطا، مضطرب او غیر عادي معلومېده.
مگر کوم وخت چې کلي ته را ورسېد، څه اطمینان ورته پیدا شو.
او په دې فکر کې شو، چې گوندې په کومه دروازه ورننوځي.
خو له بده مرغه ټولې دروازې تړلې وې. (۱۷)
او...

**پایله:**

د دې لیکنې په پایله کې ویلای شم چې محمد اکبر معتمد د خپل وخت پېژندل شوی لیکوال، شاعر، نثر لیکونکی او بالاخره یو ښه ژباړونکی دی، هغه په خپل نږدې څو څلوېښت کلن فرهنگي ژوند کې ډېرې مقالې ولیکلې، ځانگړي آثار یې تالیف کړل، په شعر او نثر یې قلم وازمایه، له عربي او روسي ژبې یې په پښتو ژبه ډېر آثار را وژباړل.

د ده زیاتره آثار د چاپ په جامه پسولل شوي او اوس هم د مأخذ په توگه ورځخه استفاده کېږي، همدا رنگه یې په سلگونو مقالې د هېواد په بېلابېلو خپرونو کې چاپ شوي چې ژباړې هم په کې شامل دي.

د علومو اکاډمي د ډېرو ټیټ رتبه علمي غړو لارښود پاتې شوی او په ډېرو آثارو یې تقریظونه لیکلي دي، د مجلو او جریدو د کتنپلاوي غړیتوب یې درلود، په سیمینارونو کې یې کارنده ونډه اخیستې ده.

لنډه دا چې د یوه زړه سوانده فرهنگي په توگه یې د افغاني فرهنگ د غوړولو په لار کې کوټلي گامونه اخیستي او د پښتو ژبې د ادبي پانگې په غنامندۍ کې یې ونډه د یادونې او ستاینې وړ ده.

**وړاندیزونه:**

۱- زما لومړی وړاندیز دا دی، هغه حقدار او وتلي لیکوالان او شاعران چې فرهنگي خدمتونه یې د یادونې او ستاینې وړ دي، باید د علومو اکاډمي غړو ته د علمي - څېړنیزو پروژو په ترځ کې دنده وسپارل شي چې د دوی د علمي کارونو په اړه ژوري څېړنې وکړي، څو راتلونکی نسل ورځخه خبر او د نوي نسل د هڅولو لامل هم شي.

ترکومه ځایه چې څرګنده ده د علومو اکاډمي په ستراتېژيک پلان کې دغې موضوع ته ځای نه دی ورکړل شوی چې زما په اند دا يوه تشه ده، بايد ډکه شي.

۲- د افغانستان د علومو اکاډمي ته وړانديز کوم چې د استاد معتمد د فرهنګي خدمتونو د لا ځلولو په منظور دې د څېړنيارۍ د نومانډۍ دورې د رفع لپاره يوه څېړونکي ته علمي ـ څېړنيزه پروژه وسپارل شي، څو دغه حقدارشخصيت په هر اړخيزه توګه وپېژندل شي.

**مأخذونه:**


۱- عبدالرووف بېنوا، اوسني ليکوال (بشپړ متن)، د مطيع الله روهيال په زيار، علامه رشاد خپرندويه ټولنه، کندهار، ۱۳۸۸، ۱۰٦۲ مخ.

۲- اوسني ليکوال، ۱۰٦۲ مخ.

۳- د استاد څېړنپوه عبدالله بختاني شفاهی نظر.

۴- اوسني ليکوال، ۱۰٦۲ مخ.

۵- حبيب الله رفيع، پښتو خپرونې، د قومونو او قبايلو چارو وزارت، لومړی ټوک، دوهم چاپ، ۱۳۹۴ لمريز، ٦۱ مخ.

٦- نصرالله ناصر، د افغنستان د علومو اکاډمي، تاريخچه، د خپرونو رياست، عدالت مطبعه، ۱۳۸۹ لمريز، ٦۳ مخ.

۷- آريانا دايرة المعارف، شپږم ټوک، ناچاپ، د معتمد ژوندليک.

۸- د پښتو ټولنې تاريخچه، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳٥٦ لمريز کال، ۱۲ مخ.

۹- د اوسني ليکوال لمنليک، ۱۰٦۳ مخ.

۱۰- مسافر رئيس خېل، له خپلو همکارانو سره د سرمحقق محمد اکبر معتمد شينواري خواخوږي، کابل، ۹- ۱۰ مه ګڼه، ۱۳۸۱ لمريز کال، ۱۰۷ مخ.

۱۱- محمد اکبر معتمد شينواری، د افغانانو وروستي خپلمنځي جنګونه او د بشر حقوق، ۱۳۷٥ لمريز کال، د کتاب، سرپاڼه.

۱۲- پښتو ادب ته د سرمحقق محمد اکبر معتمد ادبي خدمتونه، کابل مجله، ۹- ۱۰ مه ګڼه، ۱۳۸۱ لمریز کال، ۹۷ مخ.
۱۳- اوسني لیکوال، د ۱۰٦۳ مخ، لمنلیک.
۱۴- نصر الله ناصر، د پښتني فولکلور د چاپي مجموعو څېړندود، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو ادبیاتو مرکز، د آزادۍ مطبعه، ۱۳۸۳ لمریز، ۲۹۱ مخ.
۱۵- اوسني لیکوال، ۱۰٦۳ مخ.
۱٦- همدغه اثر، ۱۰٦۴ مخ.
۱۷- پورتنی اثر، ۱۰٦۵ مخ.

څېړنواله عاطفه نورستانۍ

# په هوتکي پېر کې د ښځو فرهنګپالنه

**لنډيز:**

په فرهنګي ډګر کې له هماغه پيله تر اوسه پورې د ښـځمنو ونـډه تتـه او پيکـه ده چې ډېر ځله د نـورو لاملونـو ترڅنـګ يـې يـو سـتر لامـل دوديـز ټکرونـه او ټـولنيز جوړښتونه دي، خو دا چې موږ د هوتکي دورې يادونه کوو، نو په دې پېـر کـې خـبره يو څه بل ډول ده، په دې معنا ميرويس نيکه چـې يـو قـومي او سـياسي مشرـ دی د همدغه فرهنګ او ادب له پلوه دې ځای ته ورسېد، څکـه مـور يـې نـازو انـا ورتـه ښـه روزنه ورکړې وه، همداسې د ميرويس نيکه لور بي بي زينب هغـه مېـرمن ده چـې پـه هوتکي پېر کې آن د دربار مشاوره هم پاتې شوې چې دا ټول د فرهنـګ او ليکـوالۍ برکت دی، نو څکه په دې مقاله کې دا اړخونه ټـول را سـپړل شـوي او د فرهنـګ پـه حالت خبرې شوې دي.

**سريزه:**

هوتکي دوره يوه داسې دوره ده چې هم په فرهنګـي لحـاظ او هـم پـه سـياسي لحاظ تر نورو دورو يو څه متفاوته ده، په دې معنا موږ ګورو چې د ميـرويس نيکـه نـه راواخله بيا تر اولادې پورې يې ټولو ښځمنو ته ځانګړی احترام او درناوی لاره، حتـا د شاه حسين هوتک په دوره کې خو يې ان خور ښه مشاوره هم وه، چې لويې مشـورې به يې ورکولې او د حکومت د بقا لپاره به يې هلې ځلې کولې.

نو ګورو چې په دې دوره کې که شاعرانې يا ليکوالۍ د ګوتو په شمار هـم دي، خو اوچتې او د ښې قريحې شاعرانې دي، معنا دا چـې د پښـتو د ادب لمـن پـه دې

دوره کې تشه او خالي نه ده، د نازو انا، بې بې زينبې، مېرمن مصرۍ او دې ته ورتـه شاعرانې او ليکوالې لرو، چې د پټې خزانې په حوالـه هـره يـوه يـې د خپلـو ديوانونـو خاوندانې دي، خو دا چې سياسي حالات تل د پښتون ټـبر پـر ضـد وي، نـو ځکـه د ډېرو نورو فرهنگيانو په څېر د دغو اغلو شعري ديوانونه او ټولگې هم له منځه تللي او يواځې يوه نيمه بېلگه يې موږ ته په ميراث را پاتې ده، چې موږ يـې د همـدغو بېلگـو له مخې اټکل کولای شو چې څنگه به وو.

## د څېړنې اهميت او مبرميت:

د دې څېړنې اهميت او مبرميت په دې کې دی چې تـر ډېـره پـه هـوتکي دوره کـې د دربـو فرهنگپـالو او سياسـتوالو مېرمنـو د ژونـد، فرهنـگ او ادب هغـه بېلگـې وړاندې کـوي، چـې هـم يـې پـرې د پښـتو ادب لمـن ښکلې ده او هـم يـې د وخـت سياسـت تـه ځـانگړې ښـکلا او ځـلا ورکـړې او پښـتانه يـې د ښـه او عزتمنـد تـاريخ څښتنان کړې دي.

## د څېړنې موخه:

د دې څېړنه موخه پـه دې کـې ده چـې دغـه درې او دې تـه ورتـه شـاعرانې او اديبانې هوتکي دوره له نورو دورو څخه متفاوتـه کـوي او پـه حقيقـت کـې د همـدې دورې د شاعرانو او ليکوالو برکت دی چې وروسته د ښځينه وو ليکوالو په ادبي چـارو کې ونډه پراخېږي او تر ننه پورې را غځېږي. د دې ترخنگ موږ گورو چـې د همـدغو ميندو او خويندو ښه روزنه، پالنه او اعتبار دی چې ډېر ښاغلي د فرهنگ ډگر ته زړه ښه کـوي او خپلـو ښـځمنو تـه د دې اجـازه ورکـوي چـې پـه دې برخـه کـې ادبي او فرهنگي چارې ترسره کړي.

## د څېړنې پوښتنې:

په دې څېړنه کې تر ډېره لاندې پوښتنې ځواب شوې دي:

- ✓ هوتکي دوره څنگه دوره ده؟
- ✓ په هوتکي دوره کې د ښځو ونډه څنگه ارزيابي کېږي؟
- ✓ ايا د ميرويس نيکه تر شا د کومې برياليۍ مېرمنې لاس و او که نه؟
- ✓ د دغې دورې په ادبياتو کې د ښځمنو رول څنگه دی؟

✓ کومې مېرمنې چې په دې دورې کې معرفي شوي ایا له دوی پرته نورې فرهنګیانې هم په دې دوره کې شته؟

او دې ته ورته ځینې کوچنۍ پوښتنې په دې مقاله کې ځواب شوې دي.

**د څېړنې میتود:**

په دې مقاله کې تر ډېره له تشریحي، تحلیلي او توضیحي میتود څخه استفاده شوې ده.

## د هوتکي دورې فرهنګپالې مېرمنې

وړاندې تر دې چې د هوتکي پېر د ښځمنو پر فرهنګپالنې وغږېږم اړینه بولم لومړی د فرهنګ پر کلمې لږه تم شم چې فرهنګ یا کلتور څه ته وایي؟

څېړنپوه نصرالله ناصر په خپل کتاب د پښتني فولکلور د چاپي مجموعو څېړندود اثر کې وایي چې: "د فرانسوي ژبې کلتور، د انګلیسي- ژبې کلچر او د عربي ژبې ثقافت چې په دې وروستیو کلونو کې په فارسي ژبه فرهنګ بلل شوی د ټولنې د تکامل په بهیر کې ټولو ترلاسه شویو مادي او معنوي پدیدو ته ویل کېږي، چې یوه ټولنه له بلې ټولنې سره یو ځای کوي او بیا یې له بلې ټولنې څخه بېلوي." (۱)

په دې تعریف کې موږ له دوو ځانګړنو سره مخامخېږو چې یوه یې مادي او بله یې هم معنوي پدیده ده. البته مادي پدیده هم که په منفي بڼه وکارول شي ناسالمې سیالۍ رامنځ ته کوي چې ټولنه د انارشۍ خوا ته بیولای شي، خو تر ټولو مهم بحث په کې معنوي پدیده ده.

په دې کې شک نه شته تر اوسه پورې چې زموږ ټولنه له دې پدیدې څخه رنځېږي او تل د پردیو هغه معنوي ارزښتونه چې زموږ پر ټولنې باندې زهر شیندي، موږ یې په پټو سترګو منو او را اخلو یې چې ښه بېلګه یې له بده مرغه په دې وروستیو کې زموږ په رسنیو کې د هندي، ترکي، امریکایي او دې ته ورته ژبو سریالونه او فلمونه دي چې موږ یې په بې کچې توګه را اخلو او خپلې ټولنې ته یې

وړاندې کوو، خو دې ته فکر نه کوو چې دا ډول فرهنګ زموږ ټولنې ته د زهر هومره ارزښت لري.

د ساري په ډول په دغو خپرېدونکو ډرامو یا سریالونو کې چې اکثره پر عشقي مسایلو چورلي ډېر ځله ګورو چې یوه مېرمن په یو وخت کې له څو کسانو سره اړیکې لري، نن یې له یو او سبا یې له بل تن سره واده کړی وي او یا هم کله چې د کورنۍ له خوا د دې تصمیم له مخالفت سره مخامخېږي، نو تېښته خو تر ټولو اسانه او حلوونکې لار ورته برېښي، خو دا چې پایلې یې څنګه وي هغې ته ډېره توجه نه کوي، چې له بده مرغه همدغه فرهنګ کټ مټ زموږ په هېواد کې هم پلي کېږي او د ښځو چارو په وزارت کې په لسګونو دوسیې له همدغې ناحیې نه پرتې دي او دا چې د امن کور څومره ناامنه او له رواني ستونزو څخه ډک دی هغه خو پر ځای پرېږده، نو موږ چې کله پر فرهنګ بحث کوو تر ټولو مهم بحث په کې د هرې ټولنې ارزښتونه دي چې کومه ټولنه څه ډول ارزښتونه لري او دا ارزښتونه د نورو لپاره څومره د منلو وړ دي او څومره په زړه پورې.

که تر دې تعریف را تېر شو او د کلتور لاندې تعریف ته توجه وکړو، نو ښایي تر پورته تعریف دا تعریف یو څه د منلو وي: "له کلچر څخه مراد د یوې ټولنې مجموعي عادتونه، کړنې، ارزښتونه او موسسې دي چې په یوه ټاکلي وخت او ځای کې د خلکو د ژوند خاصه طریقه ښیي. د کلچر عنصر د ټولنو په ټولو لاسي چارو، صنایعو او همداسې په هنر او ادبي هنر کې تجلي کوي." (۲)

په دې تعریف کې ګورو چې په مشخصه توګه وایي چې په یوه ټاکلي وخت او ځای کې د خلکو د ژوند خاصه طریقه څېرېږي، معنا دا چې هېڅکله د یوې ټولنې ارزښتونه که هغه مادي وي او که معنوي د بلې ټولنې له ارزښتونو سره یو شان او ورته نه دي، نو چې کله ارزښتونه سره ورته نه وي ښکاره خبره ده چې خویونه، عادتونه او اړتیاوې هم یو ډول نه دي.

په لویدیځو ادبیاتو کې که کله هم یو لیکوال د امن، سولې او جګړې ضد ادبیاتو خبره کوي، نو نه به یې څوک خوښ کړي او نه به ورته جالب وي او همدا لامل هم دی چې ډېر ځله د تخلیقي او تحقیقي ادبیاتو سرلاري پاتې شوي، ځکه

هغه جوړې ټولنې دي، د خپلو ټولنو ارزښتونه او اړتیاوې څېړي او بیا یې په رڼا کې ادبیات پنځوي، خو زموږ ادبیات چې ډېر ځله له سیاست سره تړل شوي په اکثریتو مواردو کې پر مقطعي مسایلو چورلي او د لږ وخت په تېرېدلو سره ډېر ځله شعاري بڼه خپلوي، نو ځکه یې بقا هم لږه او مقطعي ادبیات باله شي او په داسې حالاتو کې چې د ادبیاتو ټوله منځپانګه پر جګړې یا د جګړې ضد ادبیاتو باندې چورلي په داسې حالاتو کې د ادبیاتو وده هم ستونزمنه وي او بې له شکه د ښځمنو لیکوالو پیدا کېدل او بیا یې روزل هم د اوسپنې د نینو چیچل دي، خو دا چې پښتنې مېرمنې تل په صبر او زغم کې اتلې پاتې شوي، نو همداسې یې وخت ناوخت په دې ډګر کې هم خپله اتلوي ثابته کړې او په هره ادبي دوره کې یې دا میدان فتح کړی دی، چې له نېکه مرغه زه په دې مقاله کې د هوتکي پېر پر ښځینه فرهنګپالو تم کېږم او د فرهنګپالنې اورغړاندي کړنې یې له تاسې سره شریکوم.

لکه څنګه چې پورته هم اشاره وشوه زموږ ادبیات تر ډېره د جګړو او جګړو ضد قرباني شوي چې له بده مرغه دا لړۍ لا تر اوسه هم همداسې را روانه ده چې ښېرته منعکسولو کې یې د نارینه وو ترڅنګ ښځو هم خپله برخه ماته ګوډه او په ځینو مواردو کې په بشپړه توګه ترسره کړې ده، ځکه د ښځو د ټولنیز موقف څرنګوالی په هر هېواد کې د هغه هېواد له سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او کلتوري جوړښت سره نېغې اړیکې لري او دغه اړیکې په هرې تاریخي او ادبي دورې کې خپلې ځانګړنې او څرګندونې لري.

په هوتکي پېر کې دغه ځانګړنې ځکه د ډېرې پاملرنې وړ دي چې یوې مور د میرویس په څېر زوی وزېږاوه چې وروسته د خپل قام او خلکو له خوا د نیکه لقب ور کړ شو او په سلګونو او زرګونو کسانو به یې پر مور بي بي آفرین وایه چې یوه داسې ستره او انقلابي څېره یې ټولنې ته وړاندې کړې ده، چې له امله یې د نړۍ ستر زبرځواک په ګونډو او مظلوم افغانان یې له جبر او زیاتي څخه په امن شول، نو د داسې کسانو امتیاز باید میندو او مېرمنو ته ورکړل شي او د همدغه ارزښت له مخې اړینه ده چې د دې د دورې پر فرهنګیانو او فرهنګپالو بحثونه او خبرې وشي، کارنامې یې جوتې شي او مېړانې یې له ځوانو څېړونکو سره شریکې شي، البته یوه

يادونه اړينه ده او هغه دا چې د هوتکي پېر پر ټولو ښځينه ليکوالو، شاعرانو او فرهنګپالو بحث کول د دې مقالې له حوصلې څخه وتلي خبره ده، نو ځکه زه به يې د بېلګې په توګه دوې مېرمنې چې يوه نازو انا او بله هم زينبه ده د فرهنګي کړنو يادونه وکړم، خو وړاندې بايد نازو انا وپېژنو چې څوک ده؟

مېرمن نازو يوه پياوړې روزنکې، نامتو وګړ پالونکې، تکړه شاعره او د پښتون قام ستره اديبه ده. دا اغلې د سلطان ملخي توخي لور ده چې په کندهار کې زېږېدلې او د اسلامي سنت او احکامو پر اساس د خپل وخت مشهور او متدين انسان ښالم خان په نکاح کې راغلې ده، چې د مينې ثمره يې د هېواد پياوړی مشر، مبارز او انقلابي شخصيت ميرويس خان چې وروسته د نيکه لقب ورکول کېږي ده.

دا چې ميرويس خان څنګه په نيکه بدلېږي دا ټول د همدې مېرمنې د روزنې نتيجه ده. د مؤرخينو په وينا دې مېرمنې په خپل وخت کې په پوهې، وړتيا، متانت، مېلمه پالنې، پښتني ننګ او فرهنګ کې ځانګړی نوم او شهرت درلود نو ځکه يې د انا لقب هم ورکړ.

د پټې خزانې په حواله مېرمن نازو په (۱۰۶۱) زېږديز کال کې د کلات ختيځ خوا ته د (تازي) نومي په سيمه کې زېږېدلې، دا چې کورنۍ يې متدينه کورنۍ وه، نو له هماغه ماشومتوبه يې له لوستو ښځو او سپين ږيرو علماوو سره د ليک لوست لپاره کښېنوله چې په ډېر کم وخت کې يې هم ليک لوست زده کړ او هم يې نظامي زده کړې د کورنۍ له مشرانو څخه په ارث ور پاتې شوې، چې ډېر ځله به يې د خپلې کلا امنيت ساته او د يو داسې نظامي افسر په څېر به يې له خپل کلي او سيمې څخه ساتنه کوله چې ډېر ښاغلي به ورته ګوته په غاښ وو. (۳)

که د نازو انا د ژوند حالات وڅېړل شي، نو جوته به شي چې د هغې ژوند پر څو پړاوونو وېشل کېږي، په دې معنا د ماشومتوب او زده کړې پړاوو، د دفاع پړاوو او بالاخره د مېرمن کېدلو، مور کېدلو او انا کېدلو پړاو.

په دې کې شک نه شته چې نازو انا يوه ښه او پياوړې مور وه، د مؤرخينو په وينا هغې د اولاد په روزنه کې د زړه له تله زيار او هڅه وکړه چې په پايله کې يې يو داسې زوی ټولنې ته وړاندې کړ چې په لږ وخت کې د ډېرو وياړونو او نمانځنو وړ شو

او حتی په لږ وخت کې یې د بابا یا نیکه، میرویس نیکه نوم خپل کړ چې تر اوسه پورې خلک پر خپلو زامنو او د کورنۍ پر غړو همدا نوم ږدي.

دا چې نازو انا یوه فرهنگپاله او لوستې ښځه وه، نو همدا علت و چې زوی یې هم په کوچني عمر کې له لیک او لوست سره اشنا شو، هغې پر ټولنیزو مسایلو سربېره خپل اولاد ته د دینداری او ایمانداری درس هم په سمه توگه ور زده کړ او په دې توگه یې پوه کړ، چې له مشرانو، مخورو، کشرانو او مېرمنو سره څه ډول چلند وکړي. پر دې سربېره فرهنگ او ادب ته په کومه سترگه وگوري.

دا چې نازو انا په خپله هم یوه مېرمنه وه او د پښتني ناسمو دودونو قرباني شوې وه، نو تل یې غوښتل چې زوی یې په خپل ژوند کې د ښځمنو د زده کړې لپاره زمینه سازي وکړي او د نارینه وو په څېر ورته د زده کړو او ټولنیزو کارونو د ترسره کولو زمینه مساعده کړي، چې له امله یې ډېرې مېرمنې د زده کړې پر گانې سینگار شوې.

انا خپل زوی ته ورښودلي وو چې مېړانه څنگه کېږي، څنگه باید توریالی او وطنپال شي، سخا څه ته وایي او له چا سره په کار ده، د ټولنې اړمن خلک څوک دي او څه ډول مرسته ورسره باید وشي، څوک باید وستایل شي او د چا د مخربو کارونو مخنیوی په کار دی، دا او دې ته ورته نصیحتونه د دې لامل شول، چې میرویس نیکه به په هر کار کې د مور نصیحتونه او لارښوونې ټینگې په غوږ کې نیولې او تل به یې د ژوند د روڼایي په توگه ترې استفاده کوله. د مؤرخینو په وینا کله چې نیکه خپلې موخې چې هغه د ټولنې سوکالي، ژغورل او په خپلو پښو درول وو، ورسېد نو سم له لاسه یې د شکرانې لمونځ وکړ او بیا یې د خپلې مور هغه نصیحتونه او خبرې په مخ کې ځان ته ودرولې چې ورته به یې ویل: زویه! د خدای (ج) عبادت او د خلکو خدمت وکړه، ته خدای لویو کارو ته پیدا کړی یې. (۴)

رښتیا هم میرویس نیکه لوی کارونه وکړل او لوی سړی ترې جوړ شو چې دا ټول د مور د دعاگانو، ښې تربیې او ښې روزنې برکت و او دا د مور د هغو شیدو برکت و، چې ټولو اولادونو ته به یې په اوداسه کې ورکولې، نه یواځې به یې خپل اولادونه په اوداسه کې تغذیه کول، بلکې تل به یې ورته ویل: "هغه څه چې حق وي

ټينګ پرې ودرېږئ او هغه څه چې باطل دي ورسره وجنګېږئ، که په کې له منځه ولاړ شئ بيا هم برى ستاسې دى." (۵)

په رښتيا هم چې برى د انا او د کورنۍ يې و، ځکه د انا د خسرګنۍ کورنۍ هم ډېره شتمنه او نيکه وه او دا چې د نازو انا ذکاوت ورته جوت شو، نو له هماغه لومړي سره يې انا ته کورنۍ ښوونکى ونيو او نازو هم له دې فرصته ښه استفاده وکړه او ښه په خوند يې درس او لوست زده کړ او تر زده کړې وروسته يې د کلي نجونو او هلکانو ته په خپل کور کې په ډېرې مهربانۍ سره ليک او لوست ور زده کاوه.

پر دې سربېره انا به د کلي ښځې په اونۍ کې يو ځل را ټولې کړې او هغوى ته به يې د ژوند و ژواک، اولادونو روزنې، تعليم او زده کړو په اړه معلومات ورکړل او هغوى به يې د خپلو اولادونو زده کړو ته لا نور هم وهڅول. انا به تل د کلي او سيمې خلکو د مېړمنو پسې تلله او هغوى ته به يې د وطن پالنې، مېړانې او سرښندنې سبق ورکاوه، چې ښځو به هم په ډېر جرئت ورسره منلې او هيڅ يې مخالفت نه کاوه.

پر دې سربېره انا به د کلي ځوانان هم سمو او ښو لارو ته هڅول او يو نيم بې لارې او سرکشه ځوان به چې په مخه ورغى، نو هغه به يې ودراوه او تر هغې به يې ورته نصيحت کاوه ترڅو به چې هغوى له خپلو کړنو توبه وکښله او له دې سره به يې د ښو کارونو ژمنه وکړه.

نو که خبره را ټوله کړم دا ټول د ليکوالۍ، شاعرۍ او اديبتوب برکت و، چې نازو انا ته يې دومره لوى نوم او شخصيت ورکړى و، هغې به تل د شاعرانو، ليکوالو او اديبانو خدمت او درناوى کاوه، د پوهانو او علمي ستو درناوى يې خپله ايماني او اسلامي وجيبه ګڼله او تل به د هغوى د پوهې منندوى وه.

د نازو انا په اړه پوهان وايي چې څلور اولادونه يې لرل، چې ميرخان، عبدالعزيز، يحيى خان او عبدالقادر خان وو. پټه خزانه يې په اړه کاږي: " هغه وخت چې مير خان (ميرويس نيکه) وزېږيد، مور يې (نازو انا) خوب وليد چې شيخ بيټنې (رح) ورته وايي، دا زوى ښه تربيت کا چې لوى سي، لوى کارونه به وکا او په زيارت د بيت الله به ځان مشرف کا اووه نسله به يې پيدا سي پادشاهان، چې دين به روښانه کا، نو چې حاجى مير خان وزېږېده مور يې په ديانت او عبادت سره لوى کا او د

دین فرایض یې تول په اووم کال ور وښوول او هر کله به یې ده ته نصیحت کاوه چې ستا په مخ کې ډېر لوی کارونه پراته دي، نو چې لوی شې د خدای عبادت او د خلکو خدمت به وکړې، ته خدای پیدا کړی یې د دې لپاره چې لوی کارونه ترسره کړې، خلق الله به ستا په خدمت آرام وکا" (٦)

نو گورو چې میرویس نیکه د مور د ښې روزنې او دینداری له امله دې ځای ته رسېږي، د مور مینه او فرهنگپالنه یې د لویو اعزازونو او شوکتونو څښتن کوي او بالاخره د مور عاطفه او لیکوالي دی ذهناً لوی کوي.

په هر حال! دا چې د زمان او حالاتو څپېړو تل زموږ فرهنگ له ځان سره تروړلی او ډېر نومونه یې زموږ له مخې پو پنا کړي همداسې د انا آثار هم دي، ځکه ادبپوهان وایي چې نازو انا د الله تعالی د مناجاتو په اړه ډېر په زړه پورې او زړه راښکونکي اشعار ویلي او ډېر هنري دیوان یې درلود چې تر دوو زرو زیات ابیات یې لرل، خو دا چې حالاتو تروړلي، نو موږ ته یې یواځې یوه څلوریزه را پاتې ده چې دا څلوریزه د ښې هنرمندی او شاعری گواهي ورکولای شي:

سهارگه وه د نرگس لېمه لانده

څاڅکي څاڅکي یې له سترگو څښېده

ماویل څه دي کښلي گله ولې ژاړې؟

ده ویل ژوند مې دی یوه خوله خندیده (٧)

دا څلوریزه په خپله د دې شاهدي ورکوي چې نازو انا څومره شعري قوت او قریحه لرله، د هغې فلسفي لید لوری او دیني افکار څومره پیاوړي دي او په تولـه کې دا د کومې کچې شاعره او لیکواله ده، خو دا چې حالاتو د دې نېکبختـې مېرمنې شاعري له موږ پو پناه کړې، دا زموږ بدمرغي ده.

نو په توله کې ویلای شو چې نازو انا څو اړخیزه مېرمن وه، په دې معنا هم شاعره وه، هم ادیبه وه، هم توریالی وه، هم پیاوړې روزونکې وه، هم فرهنگپاله او فرهنگیالی وه، هم پالونکې او هم سنبالونکې وه او بالاخره د دې هېواد یوه خیر خوا او پر هېواد مینه مېرمن، مور او انا وه چې دا او دې ته ورته مقالې یې د شخصیت د رابرسېرونې مصداق کېدلای نه شي، خو د دې لپاره چې د یوسف په خریدارانو کې

حساب شوې اوسم، نو مې يې نوم او په لنډه توګه ياد تازه کړ، هيله ده د دې برخې مسلکيان يې د ژوند نور تياره اړخونه هم جوت کړي.

که د نازو انا له بحثه را تېر شو په دې دوره کې بله ليکواله، شاعره او اديبه مېرمن، مېرمن زينب ده چې هوتکي دوره کې يې د ښځمنو فرهنګي برخه ښکلې او رنګينه کړې ده. مېرمن زينب د نازو انا لمسۍ او د ميرويس نيکه لور ده، د پټې خزانې په حواله زينبې له کوچنيوالي څخه ليک او لوست وکړ، قرآن کريم، اسلامي احکام او د فقې کتابونه يې ولوستل او فارسي کتابونه يې ضبط کړل او د هغه وخت له مشهور او لوی عالم ملا نور محمد څخه يې زده کړه وکړه، هغې ښه شعرونه ويل او د شاعرانو احترام يې کاوه. (۸) چې همدغه احترام او له پلار او انا څخه تاثر له دې مېرمنې څخه اديبه او شاعره جوړه کړه. که څه هم انا يې په مستقيم ډول استاده هم وه، خو دا چې کورنۍ چاپېريال ورته مساعد و، نو دې هم په خپل وخت کې د ښځينه وو شاعرانو سرلاري په خپل رياضت او عالي ذوق سره خپل کړل.

د پوهانو په وينا مېرمن زينب د نرمو احساساتو، پښتني روحيې او ملي ممېزاتو لرونکې وه او کله به چې هم د شاه حسين په دربار کې اديبان، شاعران، هنرمندان او ليکوالان را ټول شول، نو هلته به هرومرو مېرمن زينبې ګډون کاوه او له ډېرو شاعرانو او اديبانو څخه به يې ميدان ګاټه، تل به يې د نورو شاعرانو شعرونه او ليکوالانو ليکنې اصلاح کولې او قوي نقدونه به يې پرې کول، خو کله به يې چې خپل شعر حاضر مجلس ته ووايه، نو ټول به يې هنرمندۍ ته ګوته په غاښ شول.

د پوهانو په وينا مېرمن زينبې ډېره زياته شاعري او ليکوالي کړې، خو دا چې تر ډېره حالات زموږ پر وړاندې د سرو اوسپنو نينې وې، نو دغو نينو د ډېرو نورو اديبانو او شاعرانو په څېر د زينبې اثار هم له ځان سره ويلې کړل او موږ ته يې يواځې يوه وېرنه راپاتې ده چې هغه يې شعري قوت او فوقيت زباتولای شي.

د دې وېرنې په اړه وايي، دا وېرنه هغه وخت زيبنې وويله چې کله يې ورور شاه محمود هوتک په ۱۱۳۷ زېږديز کال کې د شعبان پر ۱۲ مه په اصفهان کې له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې او د مرګ خبر يې کندهار ته راغی. (۹)

معمولاً شاعران هغه وخت شعر وايي چې يا ډېر خوشحاله وي او يا هم ډېر خفه، حتی ډېر ځله داسې هم شوي چې ځينو شاعرانو په مياشتو مياشتو شعر نه وي ويلې، خو کله ناکله بيا په ورځ کې څو شعرونه وايي او دا ځکه چې د دوی په وينا په هغې شېبه کې پرې د ښکلا ښاپېرۍ ناستې وي، نو مېرمن زينب هم د همدغو شاعرانو له ډلې څخه وه چې د مجبوريت او خپګان په وخت کې به يې داسې شعرونه ويل چې د اورېدونکي له زړه نه به يې پراړې پرې کړې، په دومره هنري او ادبي انداز به يې شعر وړاندې کاوه چې ټول مجلس به يې تر تاثير لاندې راغی او چا به سپڼ هم نه کاوه.

مېرمن زينب دومره قوي او د عالي ذوق لرونکې شاعره وه چې د خيال او عاطفي تړون په وسيله يې په فکر او ذهن کې ټول د مرثيه نګارۍ تومنې اغږل شوې وې. نوموړې په خپلې شاعرۍ کې پر سلاست او روانې سربېره د هېواد بې شانه او لېونۍ مينه هم انځورولې، ملي روحيه او پښتني احساسات يې د شعر بنيادونه وو، د ښځمنو د هغو محروميتونو، غرور او درناويو يادونه به يې کوله چې ډېرو نارينه وو ته به يا نه وو ياد او يا به پرې ښه نه لګېدل.

د ادبپوهانو په وينا د مېرمن زينب دغه وېرنه د ولسي اشعارو د ساده چاربېتې شکلې جوړښت لري، چې که چاربېته وبلل شي، نو ډېره به نامناسبه نه وي.

د دې لپاره چې ښه ورته متوجه شوي اوسو څو بېتونو ته به يې ځير شو:

ږغ سو چې ورور تېر له دنيا سونا

قندهار واړه په ژړا سونا

زړه مې په وير کې مبتلا سونا

چې شاه محمود له ما جلا سونا

دا روڼ جهان راته تورتم دی نا

زړه د بېلتون په تېغ کړم دی نا

هوتک غمجن په دې مات دې نا

د پاچهي تاج مو برهم دی نا

چې شاه محمود تېر له دنيا سونا

قندهار واړه په ژړا سو نا (۱۰)

له دې وېرنې څخه ښکاري چې مېرمن زينب څومره قوي او زړه راښکونکې شعري قريحه لرله، د هغې دا وېرنه د دې گواهي ورکوي چې هغې به ډېره زياته هنري او په زړه پورې شاعري کړې وي، خو دا چې موږ يې ښېلگې په واک کې نه لرو، نو څکه پرې تبصره هم نه شو کولای.

په هر حال! مېرمن زينب سره له دې چې يوه ښه شاعره، ليکواله او اديبه وه يوه ډېره پياوړې مشاوره او د مملکتي چارو کارپوهه هم وه، نوموړې د خپل ورور شاه حسين په دربار کې د مشاوريت چارې هم سمبالولې او ورور به يې هم له اگاهانه مشورو نه غوره استفاده کوله.

د استاد بېنوا په قول شاه حسين به تل د زينبې مشورې اورېدې، خو کله چې د کندهار ښار د نادر افشار د لوی پوځ له خوا کلابند شو او دغه محاصره چې نږدې يو کال يې دوام درلود ترڅو چې د شاه حسين هوتک جنگيالي له پښو ولوېدل او تدافعي قوت يې پای ته ورسېد، نو د متارکې د تصميم په نيولو او د نادر افشار سره د متارکې په خبرو اترو کې زينب حاضره وه او دا کار د دې څرگندونه کوي چې زينبې د پاچاهۍ په چارو او اداره کې لوی لاس درلود. (۱۱)

نو په دې توگه گورو چې مېرمن زينب که هرڅومره لوی مشاوره او په سياست پوهه وه په حقيقت کې دا ټول د دې د ليکوالۍ او له ادب سره د مينې برکت و، څکه په ټوله کې ادبيات دا وړتيا او ځواک لري چې انسان نورو خوا ته په اسانۍ سره جذب او په کې ماهر کړي، په دې معنا د ادبياتو يوه لويه گټه دا هم ده چې انسان ژبور او مدبر کوي او چې کله هم په چا کې دا وړتيا پيدا شوه، نو دا نورې چارې په لږ رياضت سره هم خپلولای شي، چې له نېکه مرغه مېرمن زينب دا کار وکړ او په دې توگه يې په هوتکي دورې کې خپله فرهنگپالنه او فرهنگساتنه زبات کړه.

که له مېرمن زينبې را تېر شو او د هوتکي دورې د بلې فرهنگپالې فرهنگي چارو او غنا ته ځير شو، نو هرو مرو به مو د آغلې مصرۍ نوم ذهن ته راځي چې هغې هم په هوتکي دوره کې د ښځينه فرهنگ پالنې علمبرداري کړې ده.

د پټې خزانې په حواله مېرمن مصرۍ د يوې شعري ټولگې شاعره هم وه چې د ژوند بېلابېل اړخونه يې په بېلابېلو فورمونو کې انځور کړي و، خو دا چې جنگي

حالاتو لويې ادبي هستۍ تر ستونې تېرې کړې، نو اثار خو يې ورته عادي خبره وه چې له بده مرغه د مېرمن مصرۍ شعرۍ ټولګه يې هم د فراموشۍ په باد لاهو کړې ده، خو له نېکه مرغه له موږ سره يې د يوې منظومې فالنامې يوه بېلګه شته چې په لاندې توګه ورته نغوته کېږي:

که الف راشي په فال کې
ستا خوبي ده په مجال کې
په غليم به دې لاس بر شي
کامراني ښادي به در شي
(ب) په فال هر ګوره ښه ده
د غليم څه انديښنه ده
هر مراد به دې حاصل شي
بخت دولت به دې واصل شي (۱۲)

په لرغونې، منځنۍ او معاصرې دورې شاعرۍ کې تر ټولو سخت او ستونزمن ژانر د فالنامې ژانر دی چې نه پرې څوک په اسانۍ پوهېږي او نه ترې په اسانۍ څوک مفهوم اخيستلای شي، خو مصرۍ بيا هغه شاعره ده چې همدې سخت ژانر ته يې اوږه ورکړې او په دومره هنر يې په دې صنف کې شاعري کړې چې شعر يې د دې د شعري قوت او قريحې ښکارندويي کوي او دا ترې په ډاګه څرګندېږي که چېرې د دې مېرمنې نور اشعار هم زموږ په واک کې وای، نو څومره قوي او د عالي ذوق نه به ډک وای، خو هغه د چا خبره تشه لاسه ته مې دښمن يې او دا ځکه چې موږ د خوشحال بابا په څېر د سخنورو، عالمانو، فاضلانو، نوښتګرو او هېوادپالو انسانانو ډېر داسې اثار چې زموږ تاريخ، تمدن او تهذيب سلګونو کالو پخوا ته رسوي په واک کې نه لرو، نو ښځينه شاعرانې او ليکوالې خو د فرهنګي دودونو په خاطر پر ځای پرېږده.

**پايله:**

که خبره را ټوله کړم هوتکي دوره يوه داسې دوره وه چې په لومړي سر کې له ډول ډول ننګونو او جګړو سره ښکېل وه، هېواد اشغال شوای و او ترې خلاصون لويه اتلولي غوښته چې له نېکه مرغه په دې وخت کې د الله پاک رحم وشو او پر پښتون

وطن یې یوه داسې ادیبه، شاعره او لیکواله مېرمن (نازو انا) ولورله چې هغې د خپل ټولنیزو ارزښتونو، مېړانې او عاطفي ترځنګ په خپلو فرهنګي، ادبي او ژورنالیستي هڅو سره د خپل خواږه بچي میرویس نیکه پر وړاندې کولو سربېره ټولنه د فیل له خوبه را ویښه کړه او یو داسې فرهنګي او سیاسي انقلاب یې راوست چې تر اوسه یې افغانان د احسانونو او خپلواکیو منندوی دي.

همدا راز د دې بي بي د پېرزوینو او عواطفو برکت و چې په دې دوره کې مور ځو نورې لیکوالې او شاعرانې مېرمن زینب، مېرمن مصرۍ او دې ته ورته ځینې نورې ادیبانې مومو چې په ټوله کې پښتني ادب او په ځانګړې توګه د هوتکي دورې ادب ته یې ځانګړې ښکلا او ځلا ورکړې ده.

د دغو مېرمنو له لاس ته راغلو اشعارو څخه څرګندېږي چې دوی د شاعرۍ او لیکوالۍ د پخې قریحې څښتنانې وې، خو دا چې حالات او د ټولنې حاکم دودونه یې پر خلاف وو، نو ځکه یې نه د دوی ټولې بېلګې او نه هم د دوی د همپېره لیکوالو او شاعرانو شعري بېلګې مور ته را پاتې شوي، خو موجوده بېلګې د دې شاهدي ورکوي چې دوی دغه شعرونه هرومرو له ادبي ټولنو او فرهنګي بنسټونو سره شریک کړي و، ځکه د دوی دومره شهرت او فرهنګي سلاست بې له غونډو او ادبي بنډارونو پرته د پختګۍ دې مرحلې ته نه رسېږي، نو ښکاره خبره ده چې دوی نورې ډېرې هم سنګرې هم لرلې، خو دا چې اسناد په لاس کې نه شته، نو یواځې یادونه یې کوو او بس.

په هر حال! د هوتکي دورې د بریالیتوب د ډېرو نورو رازونو ترڅنګ یو ستر راز دا هم دی چې دغه دوره د ښځمنو له خوا بریالۍ او ښځمنو ته په کې ډېره توجه وشوه چې آن د دربار تر مشاوریته په کې ورسېدې، چې په حقیقت کې امتیاز یې ټول د فرهنګپالنې او فرهنګزېږونې دی او دا فرهنګي زېرمه تر ډېره همدغو مېرمنو غني کړې ده، د دې لپاره چې دا میراث لا پسې پراخ او عام شي په کار ده چې په اوسني پېر کې د پښتنو ښځمنو همداسې منجمت شوی فرهنګي حالت له دې کنګله را وباسي او په داسې انقلاب یې بدل کړي چې هر څوک خپلو ښځینه وو اولادونو ته د فرهنګي غنا اجازه ورکړي.

## مأخذونه:

۱- نصرالله ناصر. د پښتني فولکلور د چاپي مجموعو څېړندود، د افغانستان د علومو اکاډمي، د نشراتو رياست: کابل، د آزادۍ مطبعه، ۱۳۸۳ لمريز کال، ۴٦ مخ.

۲- نصرالله ناصر. د پښتني فولکلور د چاپي مجموعو څېړندود، ۴۷ مخ.

۳- محمد هوتک. پټه خزانه، د پوهاند عبدالحی حبيبي ترتيب، تدوين او سريزه: کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۵٦ لمريز کال، ۱۰۱ مخ.

۴- عاطفه نورستانۍ. د هوتکو په دوره کې د ښځو فرهنګي ونډه، د هوتکي غورځنګ دوه نوميالي، د مقالو ټولګه، د مطيع الله روهيال په زيار: کندهار، د اطلاعاتو او کلتور رياست، ۱۳۸۸ لمريز کال، ۱۵۹ مخ.

۵- عبدالظاهر شکېب. د هوتکي دورې دوې نوميالۍ او اديبې مېرمنې، پورته اثر، ۱۴۷ مخ.

٦- عبدالظاهر شکېب. همدغه اثر، ۱۴۸ مخ.

۷- محمد هوتک. پټه خزانه، ۱۸۰ مخ.

۸- پټه خزانه، ۱۰۱ مخ.

۹- عبدالظاهر شکېب. د هوتکي دورې دوې نوميالۍ او اديبې مېرمنې، ۱۵۱ مخ.

۱۰- همدغه اثر، ۱۵۲ مخ.

۱۱- عبدالرووف بېنوا. هوتکيها: پشاور، انتشارات الازهر، ۱۳۷۰ لمريز کال، (-- ) مخ.

۱۲- کبرا مظهري. د پښتني ښځو موقف او برخه په پښتو ادبياتو کې، د مقالو ټولګه: کابل، پښتو ټولنه، ۳۵۹ مخ.

**عبدالوکیل سوله مل شینواری**

# په داستاني ادب کې د کرگر نوې تجربې

**لنډيز:**

د ادبپوهانو ترمنځ دا منل شوې خبره ده چې ژوند کیسه ده او کیسه ژوند دی، انسان له ادمه تر دې دمه په کیسه کې شوی او په کیسه کې لوی شوی او په کیسه کې به مري، خو دغه کیسې کله ناکله هنري وي او کله هم ساده او بې تکلفه.

په دې مقاله کې د ښاغلي کرگر د کیسو په اړه خبرې شوي د هغې ښېگڼې او نیمگړتیاوې په گوته شوي او دا په کې زباد شوې چې کرگر نه یواځې کیسې د خوند او هنري تندې د ماتېدلو لپاره لیکلې، بلکې تر ډېره یې کیسې د ژوند انځور هم دی او دا خبره په خپله د دې خبرې سپیناوی کوي، چې کیسه یا حقیقت او یا حقیقت ته نږدې حقیقت دی.

**سریزه:**

تر اوسه پورې د ادبپوهانو ترمنځ دا بحث یوې ځانگړې پایلې ته نه دی رسېدلی چې کیسه باید رښتیا وي او که رښتیا ته ورته، خو دا منل شوې خبره ده چې کیسه ژوند دی او ژوند کیسه. نو که خبره له دې اړخه را واخلو بیا په خپله دې پایلې ته رسېږو چې کرگر د ژوند انځور او د ژوند ترجمان دی، د ده په کیسو کې د هنر ترڅنگ ژوند ته ځانگړې توجه شوې ده او د ژوند هغه برخې په کې را اخیستل شوي چې ډېر څله فکر کېده چې گواکې دا برخې په کیسه کې نه ځایږي یا هم دا برخې کیسه کېدلای نه شي، خو کرگر دا ثابته کړه چې د ژوند هره برخه کیسه کېدلای شي، په دې شرط چې هنري تومنه او اغېزه په کې پیدا شي، په همدې

اساس موږ په دې مقاله کې لومړی د کرګر پر کیسو تبصره کړې او بیا مو ثابته کړې چې د ژوند په هره برخه که وغواړو کیسه لیکلای شو، خو په دې شرط چې د هنر داسې مالګه په کې واغړل شي، چې هم کیسې ته ښکلا ورکړي او هم د نورو انسانانو په ذهن او ژوند کې بدلون راولي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت:

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې د کرګر د کیسو اصلي جوهر معلوموي چې د ژوند په کومو اړخونو لیکل شوي او کومې موخې یې تر شا دي. همدا راز په دې څېړنه کې تر ټولو مهمه خبره د کرګر د حقیقي ژوند او هنري ژوند ترمنځ توپیر دی چې دغه حقیقي ژوند د نوموړي هنري ژوند ته هم لاره کړې او تر ډېره یې کیسې د ده له ژونده متاثره شوې دي.

## د څېړنې موخې:

د دې څېړنې موخه په دې کې ده چې کیسه باید موهومات او بې ځایه خیالي مسایل ونه ګڼل شي، ځکه کیسه کولای شي چې د ټولنې واقعیتونو ته بدلون ورکړي، کیسه کولای شي چې ټولنه د سمون او رغون خوا ته رهنمایي کړي او بالاخره کیسه کولای شي چې ژوند ته له نوي دیده وګوري او ځانګړې ښکلا ورکړي.

## د څېړنې پوښتنې:

په دې څېړنه کې تر ډېره لاندې پوښتنې ځواب شوې دي:

- ✓ کیسه څه شی دی او د انسان په ژوند کې کوم پیغام لري؟
- ✓ ایا د ژوند د هرې برخې لپاره کیسې لیکل کېدلای شي؟
- ✓ د کرګر کیسې کومې ځانګړنې لري؟
- ✓ د کرګر په کیسو څومره واقعیت او حقیقت نغښتې

او دې ته ورته ځینې کوچنۍ او معترضه پوښتنې په دې څېړنه کط ځواب شوي دي.

## د څېړنې میتود:

په دې څېړنه کې تر ډېره له تشریحي، توضیحي او تر یو ځایه له انتقادي میتود څخه استفاده شوې ده.

## کرګر او د داستاني ادب نوې تجربې

څه موده وړاندې مې داسیر منګل د پښتوافسانې سل کلن بهیرکتاب راونیـو او د دې ترمخه مې د پښتو لنډې کیسې دپیاوړي لیکوال زرین انځـور «دپښـتو معـاصر داستاني ادبیات» کتاب ولوست.په دغو دواړو کتـابونو کـې دپښـتو داسـتاني ادبیـاتو پیل له پیړۍ نه اوړي، که تاسو هریو د پښتو کیسـې پـه بـاب دې ورتـه لـیکلي اثـار، ځانګړې مقالې او یا هم په پښتو کیسو کې د ځانګړو ناسـتو مـواد وګـورئ وبـه وینـئ چې پښتو کیسه نه یوازې د څومره والي له پلوه د سیمې د کیسـې سـیاله نـه ده او بین المللي اعتبار یې په ټیټ پاټکې کې دی، د څرنګوالي له پلوه هم په ښـه حالـت کې نه ده.

د دې ترټولو غټ علت دا دی چې پښتو کیسه له معاصر نړیوال کیسه ییز ژانـر سره موازي خپل حرکت او یـون نـه پیلـوي. د پښـتو کیسـې لومړنیـو لیکوالـو: راحـت زاخیلی «شلیدلې پڼه» عبدالحی حبیبی «پښتنه پېغله»، نورمحمد تره کي «مـوچي)) او نورو... په ګډون په ټوله کې د نړیوالې کیسې د ډېر پخواني فورم او سـبک: سـاده ټولنیز او یا سوسیالیستي ریالیزم په بڼه خپلې کیسه ییزې تجربې وړاندې کړې او دا هغـه مکتبونـه وو چـې د پښـتو کیسـې د پیـل پـه دوران کـې یـې خپـل ګرانښـت او منښت له لاسه ورکړی وو. په دغو کلونو او عصر کې د کافکا او جیمز جویس په څېـر پیچلي فلسفي او اروایي لیکوال د نړیوال ادب په ډګر کې رامنځ ته شول.

له بده مرغه نه یوازې د پښتو کیسې پیل د دغه له موده لویدلي ژانر:(ریالیزم) په بڼه و، بلکې پښتو کیسه او د هغـې پنځـونکي تـر ډېـرې اوږدې مـودې د نړیـوالې معاصرې کیسې له بهیر شاته روان و او تر اوسه یې لا ډېـره لویـه برخـه پنځـونکي لـه نـورو ادبي مکتبونـو او فورمونـو سره بلـد نـه دي او اوس هـم پـه هماغـه بڼـه خپلـې داستاني تجربې کوي.




اکبر کرګر یو له هغو ګوت په شمار لیکوالو دی چې په خپلې دوهمې داستاني مجموعې «سینده څه سینده بهېږه» کې یې په پښتو داستاني بهیر کې نوې نړیوالې تجربې پیلوي او په نورو پاتې داستاني ټولګو کې یې تر دې دمه پالي.له دې ښکاری چې کرګر نه یواځې د معاصرو ادبیاتو د وتلو استاذو له داستاني پنځونو او معاصرو ادبي مکتبونو سره پوره اشنا دی، په معاصره ارواپوهنه او فلسفه هم پوره لاسبری دی.

فلسفه هغه مضمون دی چې کرګر په کې لوړې زده کړې کړي او ارواپوهنه، عرفان او تصوف یې د ځاني زده کړې اساسي برخه او شوق ګرځیدلی دی. په دی برخه کې یې ګڼې څېړنې د کار او هڅو یو عمده لوری دی. ښه بېلګه یې ((د میرزاخان انصاري فلسفي او عرفاني نړۍ لید)) څېړنیز اثر دی.

تاریخ د هغه لوستل او کیسه کول دلیکوال بل شوق دی چې په خورا لیوالتیا یې تر دې ګړۍ په مینه پالي. پر دې بنسټ که د کرګر کیسې وڅېړو وینو چې له لاندینیو عناصرو ترکیبیږي:

فلسفه، تصوف، ارواه پوهنه او تاریخ او دا هغه عناصر دي چې د اوسنیو ادبیاتو ټولې عالي نمونې جوړوي، هغه که د تولستوی سوله او جګړه ده،که د

داستایفسکي دکارامازوف ورونه،که دګویته فاوست،که دکافکا مسخ، که دالبرت کامو پردي، که داونسکو د چوکۍ نندراره،که دګارسیامارکز سل کاله یواځېتوب.... ټول دا کلاسیک داستاني شهکارونه په دغو عناصرو ولاړ دي.

کرګر که څه هم په پیل کې خپلې داستاني تجربې په ساده موضوعاتو او مسایلو پیلوي، خو له هماغه پیله له هغو استاذانو سره اړیکې ټینګوي چې ځیرنیز او تخلیقي پنځونې یې فلسفي رنګ لري. یو له هغواستاذانو هم سید بهاوالدین مجروح دی چې کرګر یې ((دجبر او اختیار دیالکتیک)) او ((ځانځاني ښامار)) اغیزمن کېږي او د هغه لارښوونې یې په راتلونکو فلسفي او عرفاني پنځونو سمدلاسه راڅرګندیږي.

کرګر نه یواځې د سیمې د ادبیاتو له وتلو استازو، لکه رابرنات ټاګور، نجیب محفوظ، توفیق الحکیم، اورهان پاموک او له صادق هدایت سره پوره بلد دی، بلکې کم داسې نړیوال ادبي شهکارونه به وومې چې کرګر دې نه وي لوستی.

ده نه یواځې دا شهکارونه لوستي، په دغو آثارو یې شننه هم په ګڼو مقالو کې د پښتو مینه والو ته وړاندې کړې ده او په دې توګه یې د دغو آثارو په باب خپل پوهاوی او درک له نورو پښتنو سره هم شریک کړی دی. «ادبیات او دانسان دننی نړی» او «کیسه، اسطوره او ناخود اګاه ضمیر» اثار یې ښه بیلګې دي.

زما له نظره به هېڅ بل پښتون لیکوال د ده هومره معاصر نړیوال ادبیات به پښتنو ته نه وي ورپېژندلي او نه به یې د ده هومره په خپلو داستاني تجربو کې معاصرې داستاني تجربې او فورمونه کارولي وي. که دکرګر شخصي کتابتون وګورئ هلته به نه یواځې دسیمې او نړۍ د وتلو لیکوالو داستاني پنځونې او ادبي ځیړنیز نایاب آثار وومئ، بلکې هلته به دمارسل پروست ((د ورک شوي وخت په لټه)) او دولت ابادي د ((کلیدر)) په څیر دګڼو پرله پسې ټوکو خورا اوږده رومانونه په نظر درشي او په کرګر به خامخا شاباس ووایې، چې داسې پیړ او څو ټوکیزه اثار یې څنګه لوستي او بیا یې د دغو کتابونو او ناولونو خپله اخیستنه او پوهاوی له مونږ سره هم شریک کړي دي.

که رښتیا ووایم خبره د داسې پیړو او پیچلو اثارو په لوست کې نه ده. د داسې اثارو د لوست او مطالعې خبره او حوصله د دې آثارو یو اړخ دی، خو په داسې اثار

پوهیدل او درک د هغو بل او اساسي اړخ دی او دا د کرګر هومره پوهه او حوصله غواړي. که لیکوال د دې حوصلې او پوهې بې برخې وای نن به یې هیڅکله موږ ته د کافکا د ذهن پیچلې نړۍ او یا د کامو دژوند دپوچوالي او د سارتر وجودي فلسفه نه وای راپیژندلې.

څه موده وړاندې دغه پرکار، هڅاند، نوښتګر لیکوال او څیړونکي هیله رانه وکړه چې په ګردو چاپي کیسو چې اوس په دې کتاب کې راټولې دي او شمیر یې لسګونو ته رسیږي څه ولیکم او پر هغو خپل پوهاوی او درک له ده او د ده د کیسو له مینه والو سره شریک کړم.

که رښتیا ووایم د ده پر کیسو لیکل، تبصره، کره کتنه او شننه اسان کار نه دی، ځکه هغه د ده په خبره په فلسفې، عرفان، تصوف، اروا پوهنه او تاریخ پوره پوهیدنه او د معاصرو داستاني ادبیاتو له تاریخ سره پوره بلدتیا غواړي. دوهمه خبره هم په پښتو کیسه ییز ادب کې د هغه د ځای او د مقام ټاکلو مسئله ده. له دې امله دپښتو کیسې د بشپړتیایي بهیر له ګڼو استازو او د دوی له اثارو سره اشنایي هم اړینه ده او زه په دې ټولو برخو کې ځان خورا کمزوری ګڼم، خو بیا هم هڅه کوم چې تاسو درنو لوستونکو ته کرګر او دا کیسې په خپل اند در وپېژنم ترڅو تاسو درانه لوستونکي او د پښتو کیسې مینه وال او څیړونکې یې په پښتو کیسه کې ځای او مقام وټاکئ.

کرګر د افغانستان او په ځانګړې توګه د پښتو کیسه ییز ادب هغه استازی دی چې په پښتو کیسه لیکنه کې ځانته ځانګړې لار لري او په خپلو ټولو داستاني پنځونو کې خپل انفرادیت ساتي او پالي. هغه نه یواځې په دې له نورو پښتنو لیکوالو بیل دی چې کیسې یې خپل ځانګړي مضامین لري، بلکې په پښتو ادب کې د روان کیسه ییز فورم او سبک چې د نولسمې پیړۍ له نړیوال کیسه ییز ادب نه اغېزمن دی هم ځان لري ساتي او تل په رایجو نړیوالو فورمونو کې خپلې کیسې پنځوي، ځکه خو یې کیسې لکه د نورو پښتو کیسه لیکوالو تود بازار او مارکېټ نه دی موندلی.

دا یواځې کرګر نه دی چې نوښت یې د لوستونکو شمیر محدود او کیسه یې ارزانه پلورل کېږي، دلته د وتلو او مخکښو شاعرانو هم همدا حال وبولئ، ځکه خو د

ننګیال، کاروان، باقر، پیکار، بیکسیار او نورو اشعار هم د بابرزي، روغ لیونی، پرهیز شګیوال، اړم..... هومره مینه وال نه لري او که څوک اوس د پښتو شاعرۍ سروی په افغانستان کې وکړي او وپوښتل شي چې تر ټولو ډېر لوستل شوی او اوریدل شوی شاعر څوک دی؟ هېڅوک به له مطیع الله تراب د بل چا نوم درته وانخلي.

په هغه ټولنه کې چې د سینما د خوښې فلمونه او د هغه ستوري یې داراسنګ، پریم چوپړه، درمندر، بدرمنیر، اصف خان .....وي څنګه به هغه ټولنه او وګړي د نړیوالې سینما داسې نوابغ لکه البرت هیچکاک، اندري تارکوفسکي ... وپیژني او که په افغانستان کې اوس هم د هندي سینما له پخو مینه والو وپوښتئ چې ساتیا جیت رای او شام بنیګال څوک دي؟ د هغه له خندا او حیرانتیا پرته به بل هېڅ غبرګون ونه مومئ، خو د هند د بازاري سینما فلمونه او د هغو ستوري به درته په زیرو زور در وپېژني.

کرګر په کیسو کې په فورم ډېر زور نه راوړي، د ده کیسې د ژوند ژور مفاهیم او فلسفه تفسیروي او د انسان روان ته ننوځي. د هغه له اندیښنو او بیروني نړۍ ته مو د هغه بیړني غبرګونه خبروي، دا هغه څه دي چې د ده د زده کړو، باور او فکره سرچینه اخلي.

ده د کیسه لیکنې په ځانګړې توګه د ده د دوهمې ټولګې له پیله تر دې دمه نه یواځې په کیسو کې نوي مضامین ځای کړل، بلکې په هغو معیارونو یې هم برابرې کیسې نورې ونه لیکلې چې یو وخت پرې د نړۍ نورو لیکوالو، لکه انتون چخوف، اډګارالن پوه، موپاسان، جک لندن، ګوګل........ کیسې ارزول کېدې. دی له هماغه وخت نه د واحد تاثیر په کیسه کې شو، نه په تلوسه پسې وګرځید او نه یې هم اوج او ټکر ته اندېښنه وکړه، بلکې د ده کیسې فلسفه، تصویرونه او د انسان د نننۍ نړۍ جوړه کړه، څکه خو ورته په لومړي ټولګه کې د هیواد وتلی څېړونکی استاد محمد صدیق روهي ولیکل:

((د کرګر داستانونه کله کله په تخنیکي ډول د بحث وړ دي، خو د بدیعي خصوصیاتو په تېره د احساساتو د انتقال په برخه کې د ډېرو ښو داستانونو په قطار کې دریدلی شي)). (۱)

وروسته دروهي خبره  د هېواد بله ليکواله او ژباړنه شريفه شريف هم تصديق او راغبرگوي:

((دکرگر کيسو ته د دې قاعدو او تعريفونو په سترگه نه گورم چې د انساني انديښنو او يادونو د څپو استعارې په سترگه يې گورم چې دا د ادبي ښکلا خوښېدنې تنده د شاعرانه استعاري سېمبوليک او دقيق او ځيرو انځورونو سره ماتوی او د داستان او کيسې روحيه دافسانوي، تاريخي، تخيلي او ريالستيکه عکاسی گډ او اوډلې زمينې او فضا سره ژوند کوي.)) (۲)

دا چې کرگر پيچلي فلسفي او رواني کيسې ليکي او د کيسو فورمونه يې هم نوي او په پښتو داستاني بهير کې نااشنا دي د کيسو د مينه والو شمېر يې ترلی او محدود دی. داسې نه ده چې دی دې د خپلو کيسو او پنځونو له داسې يو غبرگون سره بلد نه وي، هغه له هرچا په دې ښه پوهيږي چې کيسې يې ښه بازار او ډېر لوستونکي نه لري، خو هغه په دې باور دی چې هغه په خپلو کيسو کې بايد د ځان اقناع او رضا هم له پامه ونه غورځوی. د هغه هر تخليق له لوستونکي دمخه بايد د ده ادبي او هنري تنده خړوبه کړي.

هغه کيسې د اوس او بازار لپاره نه ليکي بلکې غواړي خپل تخليق ته ابديت ورکړي او د هغه سبا تضمين کړي او همداسې چې دی د خپل ايجاد په باب ژور فکر کوي له نورو هم غواړي چې د هستونې  او تخليق په باب يې د فکر نيلی وغځوي. هغه په دې پوهيږي چې د هر نوي ادبي فورم، سبک، مکتب او نوښت پر وړاندې په لومړيو کې د ده د عصر- او زمان د گڼو کره کتونکو منفي غبرگونونه راپاريدلي دي.

ښه بېلگه يې د اوژن يونسکو او د سامو يل بکت ننداريې دي. دغو ليکوالو که څه هم وروسته خپل مينه وال وميندل او اثارو يې ملي او بين المللي اعتبار وگاټه، خو د کافکا په څېر يو ليکوال د خپلو اثارو د هرکلي ارمان گور ته له ځانه سره يوړ.

کرگر د خلقت په پيچلتيا باوري دی او هغه اثر چې په اساني پرې څوک پوهيداى او رسيدلی شي د ده ذوق نه خړوبوي، ځکه خو د جيم جويس په څيرله  خپلو اثارو دشننې تيريږي او د لوستونکو رنگارنگ غبرگونونو ته سترگې په لار دی.

کرگر که هڅاند او نوښتگر پنځوونکی او څیړونکی دی، په دې هم د خپلو همزولو لیکوالو ډېر دمخه دی، چې هېڅوک یې د نوښتي څېړنو او هستونو جوگه اوسیال نه دی او گرده ورځ او شپه په نوو څېړنو او هستونو ځان بوخت ساتي. هغه په یو وخت کې هم تخلیق کوي او هم تحقیق، د ده کیسې د څو لورو د پاملرنې او شننې وړ او جوگه دي:

لومړی: د کیسو د ایجاد د پړاونو له مخې

دوهم: د کیسو د متفاوتو او متنوعو فورمونو له مخې

دریم: د مضامینو او فلسفي افکارو د تنوع له مخې

څلورم: د تاریخي پیښو او تاریخي اتلانو د تصویرونو له مخې

پنځم: د پښتني فرهنگ او ټولنیزو مناسباتو له مخې

شپږم: د روان ناورین، لوبې او د هغو د لوبغاړو له مخې

د کیسو ایجاد او بشپړتیا بهیر یې له څو مرحلو تیریږي، لومړی یې د کیسه لیکنې د پیل پړاو دی.

په دې پړاو کې چې دی په خپل هیواد کې دی. دوې ټولگې خپروي. ۱ـ شېبې،۲ـ سینده څه سینده بهیږه.

شېبې د ده د کیسو تر ټولو لومړنۍ او ابتدایي تجربه ده او که له ده هم خپله وپوښتئ درته به ووایي چې د کیسې د فورم او مضمون دواړو له پلوه یې دا کیسې بشپړې نه دي. پر دې سربېره یې په کیسو د سیاست او ایډیالوژۍ سیوری هم پروت دی او د دغې مجموعې د کیسو لویې برخې ته یې شعاري بڼه وربخښلې ده. که څه هم زه په دې باور نه یم چې سیاست هنر بدرنگ او پنځونه له خپل جوهره باسي، خو که سیاسي پنځونکي د ده له ارادې پرته د ده د ایډیالوژۍ او گوندي تبلیغ او فرمایش وتپل شي. پنځونه یې خامخا شعاري گرځي. دا خبره د هېواد د وتلي شاعر سلیمان لایق په ځینو شعرونو هم صدق کوي. په دغه ټولگه کې په گڼو داسې کیسو سربېره ځینې داسې بیلگې هم شته چې لیکوال د طرحو نوم ورکړی دی.

په «سینده څه سینده بهیږه» کې لیکوال یو سل او اتیا درجې بدلون مومي، په دغه مجموعه کې هغه نه یواځې د کیسه لیکنې نوې تجربې او فورم ازمایي، په

کیسو یې ایډیالوژیک بار هم نه ترسترګو کېږي. په دې کیسو کې نه دګوند نوم اخلي. نه انقلاب ستايي او نه د کوم انقلابي کرکټر له خولې او ستوني انقلابي شعارونه راباسي. له همدې شيبې هغه له نورو ډطرو ګوندي او انقلابي لیکوالو جدا د پنځونې په خپله لار سفر پیلوي. که په لنډو یې ووایم کرګر د «سینده څه سینده بهیږه» له چاپه وروسته نه یواځې د کیسې له کلاسیک فورم سره د تل لپاره مخښه کوي او د کیسه لیکنې معاصر فورمونه تجربه کوي او په نوې بڼه یې پنځوي، د کیسو مضامین یې هم بدلون مومي.

په وروستیو پنځونو کې لیکوال د ګوندي او ریالیستیکې لیکوالی نه په یوه داسې لیکوال بدلیږي چې کیسې یې د انسان روان ته لار مومي او د ژوند په باب فلسفي افکار یې د کیسو برخه ګرځي او هره ټولګه یې د ګڼو تاریخي پیښو او تاریخي څیرو او اتلانو هنري تصویرونه او حکایتونه جوړوي.

که د کرګر کیسې په زماني لحاظ د پیل، منځ او پخیدو پړاونه وهي او په دې دریو مرحلو کې بشپړیږي. د ده په ژوند کې د ده مکاني او جغرافیوي بدلون هم د ده په کیسو بشپړ اغیز لرلی دی. د بیلګې په ډول کله چې د ډاکتر نجیب الله واکمني نسکوره شي او کورنۍ جګړه یوه بله بڼه او تراژیکه ډرامه خپله کړي، نوکرګر هم پاکستان ته په کډه کولو محکوم او مجبور شي. هلته ده ((چې ماشومان سندره ووايي)) په څیر کیسې ولیکي چې کوچنیان څنګه په اګاهانه ډول د هغه هیواد ترانه وايي او ستايي چې همدې هیواد یې د ده په هیواد کې اور بل کړی دی او یا هم کله چې لندن ته راځي «زما تربور» په څیر کیسو کې یې د لندن ماشیني او مصنوعي ژوند څومره په عذاب بدلیږي او په دردونه او کړاونه کې پردیتوب او د خپل هیواد او مینې لرې والی ورته څومره درد او کړاو جوړوي.

کرګر که هرچېرې او په هر هیواد کې اوسیدلای په کیسو کې یې د هغې ټولنې او هیواد ټولنیز مناسبات،کلتوري توپیرونه او نور واقعیتونه انځور کړی دي او د هغه ځای نااشنا او حیرانونکو پیښو یې په احساساتو او عواطفو غلبه کړې ده او په یوه نه یوه بڼه یې د خپل هیواد له واقعیتونو سره تړلي دي او تل یې خپل خلک د دوی درد، ارمان او هیلې په ذهن کې ژوندی حضور لري. یو څه چې کرګر د نورو

پښتنو لیکوالو بیلوي او ده ته د ده په کیسو کې خپل انفرادیت وربخښـي هغـه د ده دکیسو متفاوت فورمونه دي.

فکـر کـوم د ده لـه دوهمـې ټـولګې ((سـینده څـه سـینده بهیـږه)) وروسـته بـه لیکوال د اوسنۍ معاصرې کیسې هیڅ ډول نـه وي پرېښـی چـې نومـوړي پـه کیسـه کې نه وي کارولی. لکه د ده داکیسې: سینده څه سینده بهیـږه، حلاجي،لکـه غڼـه په خپل جال کې، یو سیوری یو تصویر، بړبوکی، ترهه پـه تنونـو کـې، ګرځـون، زمـوږ برګ سپی، د جامو رنګ، خفه ارواوې، مینه او خیالونه، د یادونو پر بستر، لـه تورتمـه روایت دی .... چې ګڼې سوریالیستیک فورم او د پست مدرنیزم په بڼه راغلي دي.

پـر دې سربیـره یـې د جـادویي ریـالیزم پـه فـورم کـې هـم ځینـې کیسـې لکـه ((یادونه او نکلونه)) کښلي دي. که څه هم دی په ریالیستیک فـورم کـې کیسـې نـه خوښوي له دې سره یې هم د ګڼو کیسو فورم ریالیزم دی، خو هغـه کـه پـه دې فـورم کې کومې کیسې لیکلې هم دي تل یې هڅه کړې ده چې په داسې کیسـو یـې هـم سوریالیستیک عنصر غالب او ورزیات شي او هغه د واقعیت تشه او سـاده انځـورګري ونه اوسي. د ده د کیسو بله عمده ځانګړنه د ده د کیسو فلشبکونه جوړوي.

زما د مطالعې او مشاهدې له مخې نـه یـواځې بـه بـل پښـتون، بلکـې ان دري ژبي لیکوال هم د ده هـومره پـه خپلـو کیسـو کـې پـه دې انـدازه فلشـبکونه کـارولي اوسي.

د کیسو بل امتیـاز یـې د ځینـو کیسـو شـاعرانه نـثر دی. کلـه چـې یـې ځینـې کیسې لولې نه یواځې یې له کیسـو خونـد وړې د کیسـو شـاعرانه نـثر مـو داسـې تـر اغیزې لاندې راولي چې فکر کوئ لکه کوم ازاد شعر او ترانه چې لولې، لکـه سـینده څه سینده بهیږه کیسه او له دې هم ډېره تر ټولو شاعرانه کیسه «زه همزولی د زمـان او ته سنګر دژوبلورو». کیسه وګورئ، د دې کیسې یوې برخـې تـه بـه ځیـر شـو چـې څومره شاعرانه او زړه راښکونکی نثر لري:

د پیړیو له درشله، دپیریانو د وطنه رابهیږم، زه په دغه کـږو لارو زه پـه دې زیـږو خوړونو، ژورو او پلندیو ګرداونو ورسمیږم او تیریږم داغاز انجام کیسه مې یاد کـې نـه ده، خو زمان زما همزولی او زما سیال دی.

یا د دې کیسې بله برخه:

د بادونو طوفانونو مخه نیسم، د سیندونو دریابونو اواز اورم، خو له دوی ټولو اوچت زما اواز دی، چې یې اورم د زړګو ټولې درزا نه، د غرونو له عظمته، هیبتونو له هیبته او د راوي د روایته. (۳)

د ده په کیسو کې متفاوت فلسفي افکار او د انسان د روان سپړنه د ده د کیسو بله ځانګړتیا ده چې په پښتو داستاني بهیر کې یې ده ته ځانګړی ځای او مقام ورکړی دی. زما له نظره د ده د کیسو دا برخه او ځانګړنه د ده د کیسو یو عمده باب دی. لکه څنګه چې مې دمخه وویل په فلسفه کې زده کړې او د فلسفې د لوست شوق چې تر دې دمه یې نه قضا کوي خامخا د ده په کیسو کې مختلف بنسټي فکرونه او مکتبونه رانغاړي، لکه د ده په ((جهنم دی هر انسان د بل انسان کې)): "خپلې نمجنې کوټې ته ورننوتم .... تریو او ناولی بوی مې تر سپږمو شو ....فکر مې وکړ چې دا بوی زما دتنه او زما دجامو راځي. فکر واخیستم چې ځان مې بوی کوي او تن مې خولې کړې دي. د تن بوی د کوټې د نم او څڅوبي سره په ټوله کوټه کې غبرګیده ..." (۴)

لیکوال د کیسې پیل دنیچه په دې باور او فلسفي پیلوي چې انسان د چټلیو ډیران دی او د سارتر په وجودي فلسفه یې په اثبات رسوي چې انسان په خپله د خپلې بدمرغۍ او تراژیدۍ مولود دی او د خپل برخلیک ټاکونکی په خپله انسان دی. د انسان د کړاو او ذلت زنځیر د هغه په خپل لاس کې دی او هر انسان د بل انسان لیوه او دوزخ دی. دا فلسفي مفکوره او عقیده د خپل استاذ مجروح چې د کیسې کرکټر یې هم دی دیو شعر له لارې رالیږدوي:

دا ژوند څه دی یو مرموزه سمندر دی
خو د دی سمندر غاړې پورې لار شته
او د دې لارې ړومبی پړاو دوزخ دی
او جهنم نه چرته لرې چرته پټ په دی جهان کې
او جهنم د هر انسان دی هر انسان ته په خپل ځان کې

((لکه غنه په خپل جال کې )) کې لیکوال دا فلسفي مفکوره له یو بل اړخ او زاویې تشریح کوي. د هغه انسان داستان او برخلیک بیانوي چې څنګه نور اسیر او

زندان ته ننباسي، خو په پای کې په خپله د هغه زندان میلمه او اسیر گرځي چې په خپله یې د نورو د اسارت او روزنې لپاره جوړ او اباد کړی دی. لیکوال په دې کیسه کې هغه انسان تصویروي چې څنگه د ځان او بل دښمن گرځي او په خپله څنگه د نورو او د ځان د تباهۍ په وسیله بدلیږي، دا د ژوند او تاریخ، تجربه او واقیعت دی. په کیسه کې گڼ امپراطوران، دیکتاتوران یوپه بل پسې قطاریږي چې څنگه د خپل هوس او دبدبې قربانیږي.

په دې کیسه کې راوي په یوه مچ او وروسته بیا په خپله په یوه غنه اوړي. مچ چې د چټلۍ سېمبول او د غنې ښکار دی، راوي په دې برخه کې په ځان ننوځي او ځان غړوي:

... مچان پرما ناست دي زما د ځان خیرې کشوي. د سر ویښتانو، پښو،کالیو، لاسونو او زیات مې په خوله راټول دي، لکه چې همدلته یې څه پیدا کړې وي.

دلته انسان د مچ په بڼه څنگه د غنې پر وړاندې کمزوری او مظلوم دی، خو بل ځای چې دا انسان څنگه په غنه بدلیږي او د مچانو ښکاري جوړیږي.

... اوس زه هم دا احساس کوم د خپلو لاړو په اثر ځانته ځاله جوړم زه هم په غنه بدل شوی یم. ځان ته کور جوړوم، د غنې د ځالې په څیر په اوږده بوده او تنسته کې .... په تروه او ترخه فضا کې، لکه د ذهرو گوټ چې کوم لکه خوب او وراسته شراب چې زما له ستوني تیریږي، خو سترگې پټوم او څښم یې ... خو زه منم چې په خپله ځاله کې راگیر یم، په خپلو تارونو کې ښکېل یم. د خپله لاسه زنځیرونو کې تړلی یم. په خپله په یوه غنه بدل شوی یم او دې ته سترگې په لار یم چې یوه کوچنۍ حشره رابرابره زما وینه وڅښي او ساه ورکړم او بیا زما کالیو زما داوږدو پنجو او کوچني جسامت سره په خپلو تارونو کې همداسې وزانگې کېدای شي لمر راختلی وي.

د ختو کوټنۍ په کیسه کې لیکوال د سیزف افسانې ته ورته کیسه پنځوي. په دې کیسه کې هم د کامو د پردي ناول په څېر ژوند یو بې معنا او عبث واقعیت ښکاري. یو عذاب او کړاو دی چې له هغه د خلاصون او تیښتې لار هېڅ وجود نه لري، خو لیکوال دا کیسه د تقلید په بڼه نه، بلکې د تخلیق په خپله بڼه کاږي.

لیکوال چې څومره د ژوند د لوړو او ژورو اوړي او د ژوند ترخه شراب لـه سـتوني تیروي او د انساني عذاب او کړاو نوی بڼې ګوري د ژوند بې خوندۍ او بې معنـاوالي په فلسفه یې باور نور هم زیاتیږي.

((دردونه او کړاونه)) د ده داسې کیسه ده چې له وطنه او خپـل پلـرني ټـاټوبي له لری والي او بېلتون داغ یې په زړه اور بلوي او د دغه اور او درد د اغېزې لاندې دا کیسه کاږي. دا کیسه هم د وفا سمندر په خبره د تناسخ پر فلسفې ولاړه ده.

هغه په دې کیسه کې د ژوند پوچوالی او یواځېتوب انځوروي:

زه یواځې وم. په رښـتینې دنیـا وم. نـور نـه پـوهیږم خـو دومـره پـوهیږم چـې زه یواځې یم لکه کور چې یواځې دی، لکه هر یو چې یواځې دی، خو دا نـه منـي چـې یواځې دی، خو زه ځکه دیوازېوالي وا یم چې زه اوس یواځې یم. (۵)

دا کیسه چې په پـردي هیـواد کـې د ده د یواځېـوالي د عـذاب تصـویر دی لـه ژونده د ده بیزاري او کرکه خپل اوج ته رسوي او دا کرکه دومره ژوره ده چې راوي په یو بې معنا کالبوت او مـړي اوړي، ځکـه خـو تصـادفي نـه ده چـې راوي یـا د کیسـې کرکټر په ځان د مسافر خان نوم ږدي او د مرګ نېټه یې هغه ده چـې کلـه لـه خپـل پلرني ټاټوبي په تیښته بریالی کېږي.

ـــ د دې مرحوم یا خدای بخښلي نوم څه دی ؟

...... مسافر خان ښه نوم دی. موږ ټول په دې فاني نړۍ کـې مسـافر یـو ... ده کله خپل کلی پریښی دی ؟

یو چا ورته وویل: وړم کال، ملا ویل بس نو د مړینی نېټه به یـې هـم لـه هماغـه نېټې وکاږو.

((د شګو کوټنۍ)) په کیسه کې هم لیکوال د ده د ختو کوټنۍ په څیر د ژونـد د عذاب د تراژیدۍ انځور کاږي او د ژوند د ښکلا او نیکمرغـۍ پـر لـور د هغـه ټـولې هڅې او ټوپونه عبث، بې ګټې او بې پـایلې بـولي. پـه ((انځورونـه کـه هنـداره » کـې دلیکوال مخاطب په خپله دی دی، له خپل سـیوری او روح سره مخـامخ او پـه خـبرو دی.ځان غړوي او پوښتي، له وجدان سره مخامخ دی د خپلو هیلـو او نـه پـلي شـوو ارمانونو چې د ده د اوس او هیواد د نیکمرغۍ د هڅـو بـې ګټـې ثمـره ده. هغـه دې تراژیدۍ او غمیزې ته خوابدی دی. ځان ملامت ګڼي چې په دې لار کې یـې هڅـې

پوچې او بې ثمره دي، هغه پـه دې مبـارزه او مجاهـده کـې خپـل ژونـد او نیکمرغـي لټوله خو اوس چې د ده د هیواد د نیکمرغۍ ګل رژیـدلی او د هیلـو بـاغ یـې خـزان دی ځان او د اولس غمیزه یې روح وړی او دی یې په ورو د مرګ خواته په سـفر روان کړی دی.

د افغانستان روانه غمیزه چې د لیکوال له ځوانۍ سره پیلیږي او اوس یې چـې په سر کې سپین لړیدلی دی لا هم روانه ده، د ده د کیسو بل مضـمون دی. زمـوږ د تاریخ د دغه زړه بوږنونکي او ورانونکي پړاو لیکـوال نـه یـواځې شـاهد او ګـواه پـاتی شوی دی په خپله هم د دې غمیـزې یـو قربـانی دی. پـه ځوانـه ځـوانۍ کـې بنـدي شوی او د نورو سیاسي بندیانو په څیر یې ګنې شـکنجې او ربـړې لیـدلي او زغمـلي دي: ((د غوایي هډوکی ناول)) یې د زندان او شکنجو ډېر کامیاب تصویر دی.

لیکوال روانه غمیزه په دوومختلفو بڼو را اخلي.

لومړی: ساده ریالسیتیک تصویر او روایت

دوهم:سمبولیک، سوریالیستیک او فلسفي روایت:

لومړۍ ټولګه «شیبې» ګردې کیسې یې ساده ریالیسـتیک روایـت دی. پـه دې کیسو کې روایت ساده ریالیزم دی او کیسې یې تر ډېره حده شعاري بڼه لري، لکه د ده ((تریو تندی)) چې د یـو ګونـدي شـهادت بیـانوي یـا هـم د هغـه ګونـدي کیسـه «نیمګړی کیسـه)) ده چـې پـه جګـړه کـې مـري او کوژدنـه یـې لـه واده محرومیـږي. «شیبې» یې په زندان کې د هغه ګوندي کیسـه ده چـې اعـدام او کـوچنی زوی تـرې یتیم پاتې کیږي.

«یواځېنۍ نښه» مو د هغه ګوندي له غمیزې خبروي چې کونډه مېـرمن د ژونـد او روزګار کړاونو ته یواځې پریږدي.

په «وروستۍ نښه» کې د هغه سرتیـري حـال بیـانوي چـې پـه ټانـګ کـې ځـان الوزوي. حماسه زیږوي او اتلولي ګټي.

د ده لومړنۍ ټولګه که له یوې خوا د ده د کیسو لومړنۍ تجربه ده له بلـې خـوا د ده د سیاسي او شعاري کیسو جونګ هم دی، خو له دې ټولګې وروسته لیکـوال د کیسـو د فـورم او مضـمون پـه بـدلون سره کیسـو تـه نـوی روح وربخښـي او د هېـواد اوسنۍ غمیزه په نوو فورمونو او موضوعاتو کې رانغاړي.

په دې کیسو کې هم روایت په دوه ډوله دی:

لومړی: ساده روایت

دوهم: سور ریالیستي او فلسفي روایت

په ساده روایت کې دا کیسې راغلې دي:

((تورې جامې))، دا د داسې یو چا کیسه ده چې په زلمیتوب کې کلي ته ستنیږي، خو په کلي او چاپېریال کې د کلیوالو هغه شور نهویني او ښځې او نجونې په تورو جامو کې دی، ځکه ځوانان گرد په جګړه کې دي، شهیدان شوې دي او هدیرې هم د پخوا په پرتله څوچنده پلنې شوې دي، لکه ټول کلی چې هدیره گرځیدلی وي.

((خونړۍ شپه)) یې هم د داسې کیسو له قطاره ده. په دې کیسه کې لیکوال د تنظیم واکې او د کورنۍ جګړې د یوې بلې مرحلې انځور کاږي چې څنګه ټوپکیان د خلکو د کورونو په لوټلو بوخت دي. په کیسه کې د هغه بانډ کیسه ده چې یو کور ته په غلاپسې ورځي، خو هلته د کتابونو پرته بل هېڅ شی نه مومي. په دې کیسه کې لیکوال نه یواځې د پیښې شاهد دی ځان هم کیسه کوي او خپل حال بیانوي.

«یه لارویه» د راوي د سوکاله او هوسا ژوند د هوس او خاطرو انځور دی. «ترهه او ککره» له جګړې د راتښتیدلي کس کیسه کوي چې دتیښتې په لار کې ټوپکیان د چا پرې شوی لاس وربښایي او سپرلۍ ګوابښي که یې برخه ور نه کړي په همدې برخلیک به اوړي.

«دلیک پای» د هغه محکوم او زنداني کیسه ده چې د اعدام ترمخه د بل زنداني له لارې خپلې مور ته لیک استوي.

«ورکه لار» له جګړې د راتښتیدلي داسې یو افسر نکل دی چې مېرمن یې په راکټ لګیدلې او دی اوس له خپلو کوچنیانو سره له ښاره په تیښته دی، خو د کرایې پیسې هم نه لري.

کرګر د کورنۍ جګړې نورې ډېرې خاطرې او مشاهدې هم لري چې څه یې په ځان تجربه کړي او څه یې اوریدلي او لیدلي دي. هغه موږ نه یواځې د دې ناورین د قربانیانو له ترخو کیسو خبروي او د ده په څېر مو له سترګو لپې لپې اوښکې

تويوي، بلکې هغه زمونږ د ميړني ولس د ځينو استازو د حماسو او اتلوليو هنري انځورونه هم په مونږ ويني.

((هغه پانسي - په دار شو)). د داسې يو سرتيري کيسه ده چې د بل ملګري سرتيري مرمۍ غواړي او بيا په هغو مرميو د وخت يو يرغلګر افسر وژني او په وياړ يې اعدام ته غاړهږدي.

((يوه د راز خبره)) هم دې ته ورته کيسه ده، چې څنګه يو قومندان يو ډګروال په جګړه کې د خپل هغه سرتيري چې روسي افسر يې وژني، غچ اخلي.

زه فکر کوم د افغانستان د جګړې داسې واقعيتونه به بل هېڅ ليکوال نه وي روايت کړي، د داسې پېښو کيسه کول نه يواځې زمونږ د ادبياتو د دې اړخ د مطالعې لپاره اړين دي، بلکې د هغو لپاره چې په افغانستان کې د روسانو د يرغل تاريخ ليکي هم خورا ګټور دی. د جګړې د وحشت د داسې انځورونو ترڅنګ د کرګر د جګړې سورريالیستیک او فلسفي روايتونه ډېر په زړه پورې او هنري دي.

په دا ډول کيسو کې تاريخ، فلسفه او د ليکوال عواطف او احساسات غاړه غړۍ دي او د ده کيسو ته يې بيل رنګ او خوند ورکړی دی چې ما د کورنۍ جګړې داسې يو ترکيب د بل ليکوال په کيسو کې ډېر کم ليدلی دی:

حلاجي، يو سيوری يو تصوير، له تورتمه روايت دی، ګرځون، د ښاره تېښته، يادونه او نکلونه.... او ډېرې نورې کيسې د کورنۍ جګړې د وحشت، د هغه لوبغاړو اسبابو او په دې جګړې د اغيز لرونکو عناصرو کامياب تصويرونه دي.

((حلاجي)) دا د ايډيالوژۍ سېمبول دی. ايډيالوژي ده چې څنګه خونړي انقلابونه او طوفانونه زېږوي او څنګه د کورنيو او نړيوالو جګړو اور بلوي. دا له تاريخ او سياسته د ليکوال له درک او پوهې سرچينه اخلي، چې څنګه د اروپا نشنليزم، وروسته بلشويزم، فاشيزم او صهونيزم په کورنيو او نړيوالوجګړو کې په زرګونه انسانان ووژل او ګومره ودانۍ ونړيدې.

ليکوال د نورو روښانفکرانو په څېر د ايډيالوژۍ بستر په ښارونو کې ګوري. هغه په ښار کې مظاهرې ويني، دا او هغه سياسي ايډيالوژيکي کتابونه لولي او په سياسي مباحثو کې ګډون کوي او په همدغه ځايونو او وختونو کې له معينې ايډيالوژۍ سره اشنا کېږي او بيا د ايدیالوژۍ بري ته رسول خپل هدف ټاکي او په

تقدس او شوق یې بدلیږي او پرته له دې چې د هغې په ورانونکي او ویجاړونکي ماهیت یې سر خلاص شي، د هغه پلي کېدو ته متې رانغاړي، خو وروسته پوهیږي چې څه لویه خطا او تیروتنه یې کړې ده او له نورو سره یو ځای یې په خپله ځان او نورو ته هیواد دوزخ گرځولی دی:

ماشین لویږي، پراخیږي، فکر کوم انسانان هم راکاږي، بازار هم رانغاړي، ښار هم راکاږي.

ودانۍ هم په کې د پیازو په څیر الونیږي، سرکونه هم راکاږي. غرونه هم ... او لکه چې زما ترپښو لاندې سرک هم ...ما هم راکاږي.

لیکوال د تاریخ او د خپلې کورنۍ جګړې تجارب تول مخې ته ږدي او د خپلو نورو ملګرو په څیر د پردۍ ایډیالوژۍ په منلو ځانته د ملامتیا گوته نیسي او په خپله تېروتنه داسې اعتراف کوي:

... کاشکې مې د غوږونو د حلاجي په باب هېڅ فکر نه وای کړی او کاشکې مې نه وای لیدلی ... کاشکې..و..

(یوسیوری او یو تصویر) د کورنۍ جګړې د یو لوبغاړي، د یو لوی پیژندل شوي قومندان تصویر دی. هغه چې له اوږدې خونړۍ جګړې وروسته یې لښکرو کابل ښار فتحه کړی دی، خو ښار له وګړو خالي او تش دی. ودانۍ نړیدلي او لوټ شوې دي. هغوی چې پاتې دي هم له ښاره په تېښته دي. د روغو ودانیو د نړېدو او لویدلو ویره هم پر ځای پاتې ده او د ښار د چور تالان نور غله هم لا په لار دي، خو دا انساني فاجعه، د ښار ویرجن حالت او انساني ناورین په فاتح قومندان هېڅ اثر نه غورځوي.

هغه په زرکېنو سترګو د ښار چوپتیا او سکون تماشا کوله، ماتم او غم ته یې فکر نه کاوه، نوموړي داسې احساس کاوه چې ګونډې عقاب دی، شاهین دی، د ښار په کنډوالو الوزي او ټول ښار د هغه مړي او ارواګاني د ښار ټولې خځلې او خاشاک، لوړې او ژورې، دیوالونه، ستنې، ټول او ټول د هغه د قدرت او عظمت ننداره کوي.

فکریې کاوه چې هغه امپراطور دی، یو امیر دی، یو داسې قومندان دی چې په امر یې غرونه د ځانه حرکت کوي او سیندونه دریږي.

په کیسه کې لیکوال لکه یو مورخ او فیلسوف پـه ډېـر مهـارت د تـاریخ د تکـرار خبره کوي او د تناسخ په فلسفه تمرکـز کـوي....دا مهـال هغـه ځـان یـو فـاتح ګاڼـه، یوسلطان،...او یا هغـه امیـر چـې د هغـه لـه داړې درویشـت زره نـه سـوه پنځـه نـوي ورځې دمخه د همدې ښار په څلور لاري کې خپه او په یوه دړه وځړېده، خـو دا وار د نوموړي خپه شوی امیر روح په معقولـه (!) او پـر حـق ډول پـه سـالم تـن کـې حلـول کړی.

په کیسه کې بیا د سارتر وجودي فلسفې ته اشاره شوې چې څنګه یو انسـان د خپلې لویۍ او برترۍ په وجه بل انسان ته دوزخ جوړوي:

خو کله چې به د ښار په کنډوالو ورسم شو او پرې ګرځیده بـه نـو بیـا بـه یـې د ځان ځانۍ ښامار په تن کې داسې ټوپونه وهل چې پـه هـر سـیوري دیـوال پـه هـره کنډواله، په هر دوکان او پلورنځي، هره ودانۍ کې د یوپیاوړي اتل او نابغه او یو فاتح او یا داوسني دوران د یو ناپیلون تصویر لیده.

دا عبارات سړي ته د تنظـیم واکـۍ د لومړیـو کلونـو او دهغـو لویـو تصـویرونو او شعارونو یاد تداعي کوي چې پرې کنبل شوي وو: او تاسو له ناپیلون هـم ستریاسـت څکه تاسو هغو ته ماته ورکړې ده چا چې هغه ته ماته ورکړه.

«ترهه په تنونو کې» د ټولنې سورریالیسـتیک تصـویر دی چـې درواغ او یـو بـل غولونه په کې خپل اوج ته رسیدلې وي او رښتیا او سپیڅلتیا ترې پوره کډه کـړې وي او په یو بل نه باور ژوره وېره خپره کړې وي.

په «ګرځون» کې هم وګړي یو له بله په ویره کې دي او هرڅه تر دې اندازې بې خونده او بدرنګه دي چې ښېرته راګرځول کیږي. دا په ټولنه کې د چورتالان، درواغو، فساد، یو د بل د تیرایستنې او دارزښتونو د بحران اوج ښايي.

((خاورې، دوړې او ګردونه)) زموږد هیواد دتاریخ دیوې اوږدې غمیزې دپیل او تداوم بیان دی:

- (سهار له خوبه په راپا څیدو سره باد خپلې څپېړې زما مخ تـه هـم ونیـولې. دیخوا او اخوا یې وشړکولم، مخ یـې راتـه سـور کـړ. بـاد د یرغـل او د مـخ سـوروالی د

- هیواد د ورانۍ او د اولس د تباهۍ سمبولونه دي چې دا د سېمبولونو پـه دقیق انتخاب کې د ده وړتیا او پوهه را ښايي. د کیسې پا ی د روان ناورین تـداوم او په کوټه کې د رواي اسارت او بندیـدل د ده د اولـس د بې وسـۍ او اسـارت روایـت کوي.
- ((له ښاره تیښته ))کیسه هم زمـوږ د اولـس د تراژیـک برخلیـک ننـداره ده. دلته سپي د لویو قدرتونو سېمبول دی چې هریـو پـه خپـل وار زمـوږ اولـس لـوټې او داړي. د دوی په یرغلونو له کورنو خوښې کډه کوي او ټول اولـس او چاپیریـال د غـم او ویر پر ټغر کښیني او که یو تللی بل لا هم په خپل موجودیت زموږ اولس پـه خولـه کې نیولی او خپل غاښونه پرې تیروي.

ناپایه شېبه د ده بله فلسفي کیسه ده چې د ژوند په فلسفه تمرکز لري. په دې کیسه کې هغه موټر د انسان او ژوند سره تشبیه کوي چې کله لـه کـاره ولیـږي ژونـد پای مومي او لکه انسان چې له مرگه وروسته څه وخت د یادونو جوگـه وي یـو وخـت داسې هم راشي چې د تل لپاره تیر او هیر شي.

((له تورتمه روایت دی)) د ده د دې ټولگې یوه بله په زړه پورې سورریالسـتیکه کیسـه ده. دا د لیکـوال د اولـس او هیـواد د تراژیـدۍ او تیـاره برخلیـک فلسـفي او اروایــي روایـت دی. هلتـه چــې اخـلاق او ارزښــتونه مسـخ شـوي او ټـول وگـړي او اوسیدونکي یې په رنځ اخته دي. د لته هر څه تیاره او پیکه ښکاري: آسمان، ځمکـه او ټوله فضا چې چې د ده د حواسـو هنـداره جـوړوي. د بیـرون فضـا د ده درون هـم نیولې، دا په ټولنه کـې د موجـود وضـعیت اغیـز دی چـې د ده پـه روان یـې کـړی او همدا د ده ذهن دی چې بیا ترې ټولنه اغیزمنه کیـږي. دواړه یـو لـه بلـه اغیـزمن او متقابلې اړیکې یې محصول گرځي.

زه درته د نن سهار کیسه کوم، د همـدا نـن سـهار کیسـه هغـه مهـال چـې ډېـر وختي له کوره راووتلم ـ تورتم لا خپل ځای رڼا ته نه وو پریښی ان د تورتم په زړه کـې د رڼا کومه څرېکه هم نه وه لگیدلې.

د ده د کیسې پیل او سرلیک د کاروان له ما ښامه تر ما ښـامه د شـعر انځـور د سـړي مـخ تـه ورولي. دی پـه خپلـه کیسـه کـې د ۱۹۹۲ کلونـو کـورنۍ جگـړه چـې

تنظیمونو زموږ په ولس وتپله انځوروي. د چا راتګ چې ډېرو لـه سولې، ثبا ت او خپلواکۍ سره تړلي وو، خو دغو واکدارانو شپه او تیاره لا نوره هم وغځوله چې لا هـم واکمنه او روانه ده. د تراژیدۍ اوج هلته دی کله چې نوي واکداران چې د تاریخ سېمبول دی هم بازار تـه را وباسي او د مړو پـه پلورلـو بینا وشړي او دا جریان نـه یواځې د ژوندیو، بلکې د مړو حوصله هم سرته راولي او له زغمه یی ووځي.

- له حاله ما ضي او له یوه مکا ني حالت نه بل ته تګ او ستنیدل د کرګر د کیسو بله ځا نګړنه ده چې زما له نظره په پښتو کیسه کې د ده په پرتله بل چانه ده تجربه کړې. د ده هره ستنیدنه د ده د ژور درد، آرمان او نهیلیو غبرګون او ناره جوړوي، لکه د ده په لومړۍ کیسه: زما د کلي له آسما نه لیرې، کې چې لومړی د وطن او کلي تصویر کاږي او بیا په خپل لرې والي ځنګه افسوس کوي:

- خو زه چې له اوږد ه مزله وروسته سرې ترافیکي اشارې تـه دریږم ـ پلي لاروي د پاخه سړک له یو لوري بل ته اوړي ـ کوچنی ماشوم سترګې را اړوي هغه یې مور لـه لاسه نیولې او ماته د خدای پاماني لاس خوځوي اود ماشوم دلاس په خوځیدو مې دکلي یاد، لویدلي سپوږمۍ، نوي ځلیدونکي ستوري او داوبو پارچاو له ذهنه الوزي اوخپله لاره نیسم، خواو شا ته ګورم خپلو کالیو ته ګورم ـدموټرو بیروبار سړک ته ګورم. پوهیږم چې د خپل کلي له اسمانه ډېر لرې یم.

((یادونه او نکلونه)) چې له پښتو فولکلوریکو کیسو سرچینه اخلي حال لـه ما ضي سره تړي. په دې جادویي کیسه کې زمان متحرک دی او د پېښو له جغرافیوي موقیعتونو سره شاته او مخکې ځي، خو دا مخکې او شاته تګ د لیکوال تصادفي غوراوی نه دی، بلکې د پېښو له تړون سره په یوه وخت کې، د هغو وختونو او د نن د اتلانو د ورته برخلیک دبیا بیا تکراریدو ننداره راباندې ګوري. دا ننداره په یوه بله بڼه د تاریخ د تکرار له فلسفې خړوبیږي:

((دا موده د څو ورځواو څو ساعتونو څه چې د څو شیبو په څیر تیره شوه. زموږ د نسل توربریت او تور ویښتان په کې سپین شول چې شاته مخ اړو، نو اوس یوه پراخه هدیره پرته ده.....اوس زموږ همزولي نجونې د ویالې په سر د لمر خاته په لوراوربل نه ږمنځوي. دا ځکه چې وایي: کونډې باید سینګار ونه کړي.)) (٦)

که څه هم اوس د کیسې دا افسانوي اتلان وجود نه لري او نه هغه پیښې، خو لیکوال لکه یو جادوګر په اوس کې او په روانه تراژیدۍ کې موږ ته بېرته هماغه کرکټرونه له سره راژوندي کوي او له موږ سره یې مخامخوي چې د زړه خواله ورسره وکړو او دا ځکه چې موږ له ماضي هېڅکله نشو بیلیدلی:

((له دروازې څخه په وتلو سره دمومن خان مور د اوداسه دکوزې یوه ډکه کوزه اوبه دهغه پسې وشیندلې اوبیا یې د جوارو سوکړک ورپسې تول کړ. د کابل نه واوښت او دشمال په لار د جنګل باغ په سیمه کې څو تنو ټوبک والاو ودرولو. په بډه یې څلور سپینې روپۍ وې. ترې راویې ویستلې او ترې وایې خیستلې، خو چې کله تا شقرغان ته ورسید نو یو پهلوان په خپله ولاړوو. جیبونه یې ورته وپلټل. یواځې یوه سړه چنډه سوکړک ورسره و. له هغې یې هم نیمایي لا له مخه د اوبو او ایلنې سره خوړلی وو. پهلوان په مرګ وواهه.... یواځې دومره یې ورته وویل: په دې لار بیا بې پیسو رانشې.)) (داستاني کلیات).

کیسه دلته نه یواځې د تاریخ د اتلانو او حماسو خبره تکراروي. په کیسه کې موجود اتلان په سېمبولونو اوړي او ځانته یو کلي واقیعت غوره کوي. هیواد، خپلواکي، یرغلګر، هیواد پلورنکی، مامله کوونکي ...دې ته ورته مفاهیم د کرکټرونو په څیروکې راڅرګندیږي:

(....دلۍ ورته په موسکوشونډو وویل: مه خفه کیږه که زه چا نه وای ترلی نو ستا له سره به ټکری نه و لویدلی.

- شهۍ ویل: ستا ژوند مې په کار دی.

دلی وویل: مه خفه کیږه زما مور ډېر آرموني زیږولي دي، ولد یې زما د پلارکښلی، خو خدای خبر د چا اولاد دی، تا به هم کوم چاته په نکاح کړي.

شهۍ وویل: سودا مه کوه.

هغه وویل: زه پوهیږم که زه ژوندی نه وم ستا سوداګر پلار به تا په کوم حرامي وپلوري.

هغې ویل: زه هم په دې خفه یم خو دا یې ورسره زیاته کړه چې د موزیانو په کولمو به هم که خدای کول اوبه تودې نه شي.

د تاریخ د مشهورو څېرو او پېښو هنري انځور د معاصرو ادبیاتو او هنر د نورو برخو ځلانده باب جوړوي، خو تاریخ چې وګړي یې د خوند او درس دواړو لپاره په مینه لولي،کیسه کول خورا ګران کار دی، ځکه که څوک غواړي تاریخ کیسه، په زړه پورې، هنري او خیالي کړي هرومرو به د ځینو داسې خبرو او پېښو جوړول ورسره تړي چې تاریخي واقیعیت به یې څه پوښتنې او شکونه راولاړوي. همدغه حقیقت دی چې نن د ترکیې نامتو سریال ((د سلطان حرم))، د الیور استون ((مقدوني سکندر)) او د ګیبسن ((د میسح عذابونه)) فلمونه د ګڼو نیوکو او پوښتنو لاندې راغلي دي او ډېر وختونه یې لوی جنجالونه زیږولي دي.

لیکوال دا واقیعت په پام کې نیولی او د تاریخي پېښو او تاریخي څېرو په کیسه کولو کې تر ډېرې اندازې هڅه کړې چې د کیسې د اتل او د پېښې تاریخي واقیعت د پوښتنې او شک لاندې رانه ولي.

د کرګر د تاریخ هنري کول ساده ریالیستیک تصویر نه دی، بلکې هغه په خپل تخیل او انځور لوستونکی په ژور فکر کې بیایي. د ده د هرې تاریخي کیسې تر شاه یو لوی تاریخي درس او فلسفه موجوده ده، لکه ((د زمانو سندره)) کې چې یو لوی امپراتور د یو ساده ملنګ د منطق تر اغیزې لاندې راځي او مغلوبیږي:

(دانړۍ په یوه شېبه اندېښنه نه ارزي

زما د ملنګۍ کالي په میو وپلوره چې له دې زیات ارزښت نه لري.

امیر ورنږدې شو، ترې ویې پوښتل:

نوم دې څه دی؟

ځواب یې ورکړ؟

ـ دولت

امیر مسته خندا وکړه. د هغه د خندا څپې په ټوله دښته کې پلنې شوې. د وختونو په سینه کې یې د خپلو لښکرو په څېر لار پیدا کړه بیا یې خپله خبره غبرګه کړه:

ـ دولت نو ړوند دی؟

ـ که ړوند نه وای نو یو ګوډ به یې نه خاوند کېده.

امیر تیمـور د زرو سـکه د ړانـده ربـابي پـه ربـاب کېښـوده، پـر هغـه ربـاب چـې امپراتور یې ایل کړ. هغه امپراتور چې ملکونه یې د آسونو د پښـولاندې کـول. هغـه د بوډا درناوی وکړ. د بوډا ربابي ترمخ یې ځان کمزوری ولید او خواشینی ستون شو:

په ((بې کچکوله گدا)) کې هم د داسې یوه عارف او صوفي کیسه راغلـې چـې د اکبر پاچا له امره سرغړونه او تمرد کوي او په خپل بغاوت مرگ ته هر کلی وایـي.دا کیسه او د صوفي تمرد له دې عقیدې څرگنده چې ربنتیني مینـه او تقـوا هـېڅ زور او قدرت ته نشي مغلوبولی او د هغې خاوند هېڅ زورور نشی ماتولی.

په ((امیر او برهمن )) کې گوډ تیمور بیـا لـه یـو بـرهمن سره مخـا مـخ دی او د ړانده ربابی په څېر یې د هغه یوه خبره په منځ دوه ځایه اره کوي:

(.....د برهمن خبرو د یوتنـاو یـوې هسـتۍ پـه څېـر د هغـه پـه تـن او روان راج چلولو. د امیر د تن ذره ذره یې ژور فکر کولو ته راوبللـه .........پـه هماغـه شـپه امیـر دوه تنه شو.

امیر د ملکونو فاتح د تاجونو مالک، د تختونو صاحب یـو وار بیـا د خپـل ویشـل شوي تن او شخصیت سره د سمرقند په لور راستون شو.......پرېکړه یې وکـړه چـې د خپل قبر کلنگ په خپله پر ځمکه ووهي او څنگ ته یې جامع جومات جوړ کړي.

په دې کیسو کې ملنگان لکه لوی فیلسوفان را څرگندیږي او لوی ټولواکـان او امپراتوران په گونډو کوي او ځان او جهان ته په لیدلو یې په زورو فکرونو کې ډوبوي.

((جهان ارابیگم)) د داسې یوې شهزادگۍ د سوزونکې مینې داستان دی چـې په خپل نوکر او سپاهي زړه بایلي او د هغه د مینې لپاره لوړې بېې د ژوند جواری ته چمتو کیږي. کیسه له دې فکر او عقیدې الهام اخلـي چـې مینـه د زور او زرتـابع نـه ده.

کرگر داسې نورې ډیرې کیسې لکـه:ما تـه د حسـنک کیسـه وکـړه، اهـریمن د ورځې هم لیـدل کیـږي، تړلـې متـې، سورسـات...هـم لـري. فکـر کـوم د ده پـه لـړو داستاني ټولگو کې به تاریخي کیسه نه وي راغلې.

د ده هره ټولگه خامخا دوې درې داسې کیسې لری چـې لـه تـاریخ سره تړلـې وي. په دې ډول هغه غواړي له دې پېښو او تاریخه خپله اخیسـتنه لـه مـوږ سره هـم شریکه کړي.

په پښتو لنډه کیسه کې به د ده هومره هیڅا تاریخ نه وي کیسه کړی. هغه کـه سیده د تاریخي پېښو په بڼه او که د روان ناورین د فلسفي انځورونو په بڼه او یـا هـم د تاریخ د عام بیان په تصویرولو لکه د ده: سینده ځه سینده بهیږه او یـا زه همزولـی د زمان ته سنګر د ژوبلورو.

کلی،کلیـوال مناسـبات او دکلیـوال ژوندانـه د اداري کودونـه چـې پـه پښـتنې نرخونو کې یې انعکاس پروت دی د کرګر د کیسو بله خو غښتلې برخه ده. هغـه کـه موږ ته کلی راپیژني د دې توان لري چې موږ کټ مټ هغه تـه ور ولي. پـه هـوجرو او دېرو کې مو کښېنوي، پیتاوي ته مو په لمر ډډې تودې کړي. شـنه فصـلونه رابانـدې ووینې. د چنارونو لاندې راباندې د مرغانو اوازونه او نغمې واوري. د سیندونو او ویالو د اوبو شور او زوږ ننداره راباندې وګوري او په خپلو تصویرونو زموږ د کلي تصویر بېرته زموږ په یاد او ذهن کې راژوندی کړي، لکه د ده د ((مینه او خیالونـه )) د کیسـې دا برخه:

- ... خو لاروی په خپلو سوچونو او اندېښنو کې له لوی ورخ نـه ټـوپ کـوي ـ د اینځرانو د ونو لښتې په لاس کې نیسي ـ د خپل مخ نـه یـې بـڅ کـوي او پـه پنـډه پوله روانېږي ـ په چابکو ګامونو د مخامخ کلا د دوه پوړ بام پر سر د یـوه سره کمـیس خاونده پېغله برېستن پـر سر را برسېره کیـږي ـ بـام تـه راخیـژي ـ هلتـه د قبلـې پـر لور لمر سترګه په وریځو کې خپل مخ پټـوي. د وریځـو رنـګ سـور اوړي ـ د کمـیس رنګ د وریځو له رنګ سره یو کیږي ـ د لمر سترګه لږ ځان را ښکاره کړي او کلـه هـم پټه شي. پېغله اخوا دې خوا وګوري ـ برېستن په کټ کې واچـوي بېرتـه مـخ واړوي او له بام نه په کوزېدو شي ـ لمر سترګه هم په وریځو کې غوپه شي او په ورکیدو شي ـ خو د سره کمیس خاونده له سترګو پناه شي، د لمر سترګه هـم پـه وریځـو کـې پټـه شي، د ورځې د مازدیګر مهال وروستۍ شېبې دي.

او یا هم د ده په (د ارواحو په دهلیزونو کې) دننه ختېنه کلا چې کټ مـټ مـوږ هر یو ته خپل کلیوال کور او په هغه کې دننـه د انسـانانو او څـارویو د ژونـد او مکـان انځور مخې ته دروي:

- د تورتم کوټې په مخ کـې دالان لکـه یـو لـوی څپـر داسـې ولاړ و ـ کـږو وږو لرګو چت ته شاه کړې وه، اسمان یې له سترګو پناه کړی و ـ دبشونو او ډاګـو تـرمنځ

ښه غټه او پراخه واټن موجود وو ـ د قلبي کرکيلي ښايسته زيات وسايل په هغـو کـې ځاييدل ـ بش ته ولاړه ستنه کې دوه پيړ پيړ ميخونه وهل شوي دي ـد ستنې په يـو پيړ او زنگ وهلي ميخ کې به هر وخت يـو زوړ مـيراثي ټوپـک چـې خاونـد تـه يـې لـه پلاره پاتي و او په همدې ټوپک يې مشر زوی د خپل پلار کسات اخيسـتی و، ځوړنـد و ـ دا اوږد او د تېرو زمانو او کلونو تېر داستان مړي تـه د ناسـتې مېرمنـې پـه ذهـن کې گرځي ـ د هغې مرگ ورته ان له اوله تر اوسه پـورې د اوږده سـفر پـه څـو شـېبو کې ترسره کيږي او بيا له همدې پېښـې نـه وروسـته دکـوټې د دالان پـر سر يـو لـوی درب د هغې ذهن بلې خواته اړوي.

کرگر نه يواځې کليوالي انځور په خورا دقت کـاږي، بلکـې کـټ مـټ دې هماغه ځای او هماغه وخت ته بيا يي او د کليوال ژوندانه هير يادونه دې بيا په زړه دروروي، کله کله يې نثر شاعرانه او خورا ډېر هنري شي، لکه زما د کلي لـه آسما نه لرې کيسه کې د ده دا شا عرانه تصوير:

• دکلا له لويې دروازې بهر له يوې څنډې مې د اسمان په مورگـو چـې زمـا د کلي د غره په څوکـو يـې رکـوع کـړې ده، سـترگې گنـډم. د ماښـام سـپوږمۍ د سرو وريځو له پاسه يا په بله ژبه د بوډۍ د تناره له پاسه کښـته گـوري ـ د دوبي د ماښـام توده وږمه دراپورته شويو او تسکوره شويو جوارو په څنو باندې خپله له نازه ډک لاس راکاږي ـد ويالې اوبه په شرک بهيږي له جگ پارچاوه لاندې را لويږي اواز او موزيک جوړوي. ته به وايې چې سندره وايي او بيا کښته درومـي ـ دکيرړيـو او نـورو خځنـده وو اواز د پارچاو له اواز سره ورگډېږي، سمفوني يې نور هم خوند پيدا کوي ـ

د کليوالي تصوير ترځنـگ ليکـوال د ښـار آو د اروپـايي ژونـد او کلتـور پـه انځورولو کې هم ځا نگړی مهارت لري. لکه د مينه او خيالونه په کيسـه کـې دا انځور:

• د ترن ستيشن له خلکو ډک و. گڼه گوڼه بيخـي زياتـه وه ـ خلـک او لاروي اوتر اوتر له يوې خوا بلې خوا ته ځغلېدل ـ په ستيشن کې ډېر شـور ماشـور و. جـوړ محشر و. خو د خلکو د لارو نه گوښې دوه تنه ځوانان په سپين ميدان ولاړ ول ـ يـوه نجلۍ او هلک وو دواړه د شلو او پنځه ويشـتو کلونـو معلوميـدل ـ نجلۍ ډېـره ښـکلې وه، هلک هم بد نه و. د زلميتـوب پـه مسـتيو کـې غـرق و. يـو د بـل پـه شـونډو يـې

شونډې ایښې وې ـ نجلۍ چې اوږدې زلفې یې نیمایې ملا ته رسیدلې نوره هم جذابه او ښکلې برېښیده کله به یې مخ د خلکو مخ ته را ستون او کله به یې شاه شوه ـ د مچکو په توده جګړه کې ترې لاسي بکس په ځمکه ولویده ـ خو د هغې پروا یې ونه کړه ـ هلک ورپسې کړوپ شو هغه یې را پورته کړ. د نجلۍ په ولې کې یې واچاوه او بیا په هماغه شان بوخت شول ـ

له حاله ما ضي او له یوه مکاني حالت بل ته تګ او ستنېدل د کرګر د کیسو بله ځا نګړنه ده چې زما له نظره په پښتو کیسه کې د ده په پرتله بل چانه ده تجربه کړې. د ده هره ستنېدنه د ده د ژور درد، آرمان او نهیلیو غبرګون او ناره جوړوي، لکه د ده په لومړۍ کیسه: زما د کلي له آسما نه لرې کې چې لومړی د وطن او کلي تصویر کاږي او بیا په خپل لرې والي څنګه افسوس کوي:

- خو زه چې له اوږد ه مزله وروسته سرې ترافیکي اشارې ته درېږم ـ پلې لاروي د پاخه سړک له یو لورې بل ته اوړي ـ کوچنی ماشوم سترګې را اړوي هغه یې مور له لاسه نیولي او ماته د خدای پامانۍ لاس خوځوي او د ماشوم دلاس په خوځیدو مې دکلي یاد، لویدلي سپوږمۍ، نوي ځلیدونکي ستوري او د اوبو پارچاو له ذهنه الوزي او خپله لاره نیسم ـ خو او شا ته ګورم خپلو کالیو ته ګورم ـ د موټرو بیروبار سړک ته ګورم. پوهېږم چې د خپل کلي له اسمانه ډېر لیرې یم.

کرګرنه یواځې د کلي د طبیعي او مکاني انځورونو ماهر انځورګردی او د ده د کوچنیوالي او ځوانۍ د وخت د پښتني کورنیو د غربت او بدمرغه ژوند ښه حال بیانوي، بلکې ګڼې کیسې یې د کلیوالي مناسباتو او نرخونو (بدل، تربګني، پیغور، تربور، بدي، جرګه، مرکه، فرار، شرم........)صفا هنداره هم ده، لکه د ده دا کیسې: پور مې کړ، ټوپک، د ارواحو په د هلیزونوکې، د ژوندپاڼه، سپکاوی، له نښتې وروسته، سرې منګولې، د شوتلو بوی، د څپړیو په ځنګله کې.....

**پایله:**

که د کرګر ټول داستاني کلیات ته وکتل شي، نو خورا ډېرې ښېګڼې او مزایاوې لري، چې د ټولو بیانول به د یوې مقالې له حوصلې څخه وتلې خبره وي، خو د دې لپاره چې له سینده مو کوزه ډکه کړې وي، نو په لنډه توګه به لاندې ځینو

ځانګړنو ته نغوته وکړو چې د کرګر داستانونو ته یې ځانګړې ښکلا او هنریت ورکړی دی:

ما په نظر د کرګر په هره کیسه کې لیکوال په څرګند ډول ښځینه نرخونه راپېژني او د دغو مناسباتو په معرفۍ د ښځینه د تراژیدۍ داستان راوروي چې هم حیرانونکی او هم زړه بوږنونکی دی.

- په (پورمې پرې کړ) کې لیکوال د یو داسې چا کیسه کوي چې پلار یې په کوچنیوالي کې څوک وژني، خو چې کله ځلمی او ځوان شي لومړی کار یې د پلار بدل او د قاتل وژنه وګرځي. دا کیسه د ښځینه نرخ یوه ښه معرفي ده او راښیي چې د غچ اور په ښځینه ټولنه کې څومره تود او سړول یې څومره فرض او وجیبه ده.

د ((د ارواحو په دهلیزنو کې)) کې هم د دوو کورنیو د اوږدې دښمنۍ او تربګنۍ او په غرونو او رغونو کې د غیبیدو او ورکیدو د عذاب تریخ داستان دی او دا حال راکوي چې په ښځینه چا پیریال او ټولنه کې د دښمنۍ پالل بدیدار ته څومره له عذابه دروند پیټی غاړې ته اچوي. د دوو بنو موجودیت په دې کیسه کې د دې کیسې بله په زړه پورې برخه ده. دا زموږ په ټولنه کې د ښځې د بدمرغیو یو ښه انځور راکوي.

- ((سرې منګولې)) په افغاني ټولنه او په ټوله کې د سندرغاړي په ځانګړې توګه د ښځې د سندرغاړې کیدلو اغزنه لار راښیي.

- ((د څېړیو په ځنګله کې )) هم د هغه چا غمیزه وینو چې بدی او تربګنۍ یې ځواني وړې او اوس یې چې تور ویښتان سپین دي لا هم د دښمن له وېرې له مودو وروسته له غرونو په تور شپه کې کورته د خپلې کورنۍ لیدوته په ویره او غلا راځي:

- (دکنډوسرته د هغه په راختو سره سم یې دا ټپه تر غوږو شوه چې په جګ آواز یې وویل:

په غم پیدا په غم کې لوی شوم
ورکوټي مړ وای چې مې نه لیدای غمونه

- په ((سپکاوي)) کې لیکوال د دوو مینانو د مینې کلاسیک داستان بیانوي چې بیه یې دواړو ته د دوی په بې رحمانه وژنه پریوځي. تردې چې کلونه وروسته یې

هم د قاتل پر وړاندې سندرغاړی د سوزنده او سپېڅلې مینې له سندرې هم په زور راګرځول کېږي.

دا او دې ته ورته ډېرې کیسې په یوه نه یوه بڼه د پښتني ټولنې ځانګړې مناسبات او وراسته ارزښتونه بیانوي. په دې برخه کې هم لیکوال له ډېرو وړاندې او کامیاب ګڼل کېږي. زما په اند د ده دا ډول کیسې د ټولنیز تاریخ او پښتني ټولنې د پیژندنې یوه ښه سرچینه او مأخذ ګرځېدای شي. داسې کیسې نه یوازې د کیسه ییز ژانر د مینه والو هنري تنده ما توي. د هغوی لپاره هم ښه مواد په لاس ورکوي چې له تاریخ او اتنوګرافۍ سره سروکار لري.

د کرګر کیسې په خپله دی دی. د ده کلی دی، پښتني نرخونه او د هغې قربانیان دي. دی هم یو له هغو دی چې په تنکۍ ځوانۍ کې یې په یوه دښمنۍ کې پلار په شهادت رسیدلی دی. د ده احساسات او عواطف دي. د ژوند او پېښو پر وړاندې د ده غبرګون او فلسفه ده. په یوه نه یوه بڼه د ده د ژوند د لوړو ژورو هنري پیژندلیک دی. د ده د علاقې وړ فکرونه او فلسفه ده. د ده د سیاسي ژوند یوه ګوښه او د ده د کړاوه ډک ژوند یوه تا بلو ده.

په دې کیسو کې کلی دی، ښار دی، خپل هېواد یې دی. کلیواله او بازاري مینه ده. تاریخ دی، زموږ د روانې غمیزې او د هغو د لوبغاړو نندارہ ده. دا کیسې که د یرغل کیسې کوي، نو د مېړنو او اتلانو حماسې یې هم ملې دي. د ښېلو کلتوري ارزښتونو بیان هم دی.

لنډه دا چې په دې کیسو کې په یونه یوه بڼه کرګر، لکه یو ښوونکی، لکه یو فیلسوف او لکه یو انځورګر راڅرګندیږي او موږ ته نه یوازې زموږ د هېواد او اولس د درد، ماتې، برې هیلې او ناامیدۍ کیسې روایتوي، بلکې موږ ته په خپلو کیسو کې لوی درسونه هم راکوي او لکه یو فیلسوف او متفکر مو د ژوند په با ب فکر کولو ته رابولي:

قلم یې تاند او د تخلیق چینه یې خوټېدلې

## مأخذونه:

۱- اکبر کرگر، د کرگرداستاني کليات، ننگرهار، هاشمي خپرندويه ټولنه، ۱۳۹٦ لمريز کال.
۲- شريفه شريف، د کرگر د کيسو ارزښت، انټرنټي پاڼه، ۱۳۹۷ لمريز کال.
۳- د کرگر داستاني کليات، ۲۳، ۲۵ مخونه.
۴- د کرگر داستاني کليات، ۳۷ مخ.
۵- د کرگر داستاني کليات، ٦۵ مخ.
٦- همدغه اثر، ۱۰٦ مخ.

څېړندوی عبدالاحد منګل

# په پښتو اولسي ادب کې کړۍ

**لنډیز:**

کړۍ عام ولسي ژانر دی چې اکثره له لنډیو سره یوځای ګردانېږي. کړۍ اووه څپې لري او د جوړښت له مخې دوه ډوله دي: ترلې کړۍ او ازادې کړۍ؛ ترلې کړۍ قافیه او ردیف لري، لفظي صنایع پکې موندل کېږي، خو آزادې کړۍ یوازې د قافې له قیده ازادې دي او په خپل داخلي جوړښت کې د موزون کلام ټولې ځانګړتیاوې لري.

د ولسي ادب دغه ژانر تر اوسه پورې د فولکلورپوهانو له خوا نه و ثبت شوی. په دې مقاله کې د کړۍ ځینې بېلګې ثبت شوي، همداشان یې په جوړښت، د لنډۍ سره یې پر ترون، لفظي او منطقي ترونونو بحث شوی او د بېلګو په را وړلو موضوع پای ته رسېدلې ده.

**سریزه:**

د پښتو ولسي ادبیات ډېره بډایه پانګه لري چې د نړۍ د یوې ټولنې ولسي-ادبیات ورسره سیالي نه شي کولی. پوهان په دې نظر دي چې له دې سره سره چې پښتو ولسي ادبیات څومره غني دي همدومره یې د پېړیو په پوړیو کې له منځه تللي او پوپنا شوي دي، د منځه تللو علتونه یې ډېر دي خو یو عمده علت یې دا دی چې پښتني ټولنه د خپل ستراتیژیک موقعیت له مخې چې دوی په کې ژوند کوي په ارام پرېښودل شوې نه ده. که دوی واحد مرکزیت درلودی او ښاري اوږد ژوند ته پرېښودل شوي وای؛ نو هرو مرو به یې تعلیم او زده کړې حاصلې کړې وای. تاریخ

په دې ګواه دی چې لوستو خلکو د انسان او بشر تاریخ پـه لـیکلي ډول ثبـت کـړی. راځم خپلې اصلي موضوع ته، اوس هم د پښتني ټولنې په کلیـو او بانـډو کـې زیـات فولکلوري توکې شته، خو بې ثبته پاتې دي، که چېرې ثبت شي پښتني فولکلـور بـه نور هم بډایه شي اوس چې د ټکنـالوژۍ وخـت دی، هـر څـه ډېـر اسـان شـوي دي، ټلیفـون، کمپیـوټر، انټرنېـټ، تلوېزیـون، کېسـټ، چـپ، فلـش یـا یـو اېـس بي، سونډ(غږیز یا آواز) ثبت سیستم او نور، چـې پښـتني ولسـي۔ ادب پـه اسـانۍ ثبتـولی شي. کـه د همـدغو وسـیلو پـه مرسـته ثبـت نـه شي کیـدای شي همدغـه وسـیلې د پښتني فولکلور او کلتور د محوه کېدوسبب و ګرځي.

په دې څېړنه کې ما دا کوښښ کړی چې پـه پـوره امانتـدارۍ یـو څـه کـړۍ او ورسره ټپې ثبت کړم، ځکه چې د ولس مال د ولس حق دی او په را تلـونکي کـې بـه کوښښ وکړم چې په دې برخه کې خپلو هڅو ته دوام ورکړم او د دې ژانر زیات مـواد د تحلیل، څېړنې او شننې لپاره اماده کړم.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت:

د څېړنې ارزښت په دې کې دی چې په کې کړۍ چې نـوی ژانـر دی پېژنـدل شوی او په ولسي ادب کـې یـې مقـام، ارزښـت او ځرنګوالی بیـان شـوی. د کـړۍ د استعمال او له لنډیو سره یې د تړښت له مخـې یـې پـر موسیقیت بانـدې رڼا اچـول شوې ده او بله دا چې په دې څېړنه کې کوښښ شوی چې فولکلـور پېژنـدونکو تـه د کړۍ د زېږېدو ځای، شکل او د را منځته کېدو په اړه تبصره شوې ده.

## د څېړنې موخه :

د دې څېړنې موخه د پښتو ژبې او ادب په ځانګړې توګه د پښتو ولسي ادبیـاتو په ډګر کې د نوي مؤجز کلام د ثبتول او د ولسي ادبیاتو په وېش کې یې ورزیاتېدل دي، بله دا چې دغه ژانر بـه د ولسي۔ ادب څېړونکـي پـه پـوره ډول لـه نـورو اړخونـو وڅېړي تر څو له څېړنیزې شننې وروستی مقام خپل کړي.

## د څېړنې پوښتنې:

په دې څېړنه کې تر ډېره لاندې پوښتنې ځواب شوې دي.

۱- کړۍ کوم ډول ژانر دی؟

۲- کړۍ څه ډول جوړښت لري؟
۳- کړۍ له لنډۍ سره څه اړیکه لري؟
۴- د کړۍ او لنډکۍ د جوړښت لوی توپیر په څه کې دی؟
او دې ته ورته کوچنۍ پوښتنې د دې مقالي اصلي منځپانگه ده.

**د څېړنې میتود:**

په دې څېړنه کې له ساحوي، پرتلیز او تشریحي میتود څخه گټه اخیستل شوې ده.

## په پښتو ادب کې کړۍ

د تاریخ په اوږدو کې په پښتني ټولنه کې زیات ولسي ادبیات را منځته شوي دي چې ځینې یې ثبت او ځینې یې د وخت په تېربدو هېر شوي دي. د پښتو فولکلور پوهان وایي چې که د پښتنو فولکلور له لومړیو نه په منظم ډول راټول شوی وای، نو اوس به د پښتنو د تاریخ ډېر تیاره گوټونه روښانه وای، ځکه چې موږ ته ډېرې تاریخي پېښې په فولکلوري متونو کې را پاتې دي او د تاریخ یوه برخه یې روښانه کړې ده. د څېړنپوه علي محمد په وینا چې: ((د پښتو ولسي ادب په ځانگړو ډولونو او موسیقي کې ژوند له ورایه څپې وهي، ځکه چې د هنر دا دواړه توکي له ژوند سره نږدې اړیکه لري.))(۱۱: ۴۳مخ)

ځینې فولکلور پوهان د پښتنو فولکلور ټولولو بهیر ختیځپوهانو ته منسوبوي، خو ځینې بیا وایي چې لومړۍ ځل د هوتکو د واکنۍ په دوره کې پښتني فولکلور خوندي کولو ته لومړۍ هڅه شوې ده. په دې اړه ((د پښتني فولکلور د چاپي مجموعو څېړندود)) اثر لیکوال لیکي: ( هسې خو د پښتو ژبې د ادبي پانگې د خوندي کولو لپاره په منظمه توگه د هوتکیانو په دوره کې څه ناڅه توجه شوې ده چې زموږ د دې ادعا ثبوت په هغه وخت کې د نورو فرهنگي خدمتونو ترڅنگ د پټې خزانې لیکل او موجودیت دی.)(۱۲: ۹۰مخ)، د ((فولکلور پېژندنه)) لیکوال د پښتني فوکلور د راټولولو بهیر له خوشال خان خټک څخه حسابوي دی لیکي: ( په پښتو ژبه کې د فولکلور ټولونې کار له خوشحال خان او د ده له کورنۍ سره پیل کېږي، په ((سوات نامه)) کې ده د یوسفزیو دودونه، انگېرنې او چلن بېلگې په ژوره عالمانه توگه څېړلي دي.)(۳: ۴۷مخ)؛ خو که له هرې دورې یې حساب کړو بیا هم

دې ته راځو چې له هغه وخته تر ننه پورې په بېلابېلو ځایونو، وختونو او لـه بـېلا بېلـو پوهانو له خوا فولکلوري مواد راټـولېږي، ثبتېـږي او بلاخـره تحليـل او تشريـح کېـږي چې د دغه اوږده بهير په لړ کې دا ده کړۍ هم ورزياته شوه چې پـه خپـل وار سره د تجزې له فلتر تېرېږي؛ خو زه يې په دې څېړنه کې په لنډه توګه درپېژنم:

کړۍ اووه سـېلابيزه مسرۍ ده چـې لـه موسيقۍ سره د لنـډۍ پـه پـای کـې ورزياتېږي. کړۍ په اصل کې موزن هنري متلونه، اصطلاحات او عبارات دي چې په لنډ چوکاټ او فورم کې يې پوره مطلب څرګنـدېږي. کـه څـه هـم کـړۍ پـه خپلـواک ډول له موزونو متلونو او اصطلاحاتو په قالب کې جوړه ده، خو ډېرې کړۍ بيـا خپـل ځانګړی هنريت او ځانګړې معنا لري. کړۍ په پکتيـا کـې لـه ډېـر پخوانـه موجـودې وې، خو ثبت او څېړنې ته يې د چا پام شوی نه و. زما په لومړيو کې دا خيال و، چـې دا موزونې مسرۍ به ثبت شوي وي، خو کله مې چې د شفاهي منظـوم ادب مطالعـه وکړه هلته مې کړۍ ونه موندله نو هغه و چې د کړۍ د ثبت کولو په تکل شوم او يـو څه مې راټولې او خوندي کړې تر څو له ورکېدا نه وژغورل شي.

### د کړۍ او لنډۍ توپير:

لنډۍ د پښتوفولکلوري ادبياتو هغه ژانر دی چې ټول پښتون ولـس يـې پېـژني او په هر ځای کې ويل کېږي، خو کړۍ سيمه ييـز فولکلـوري تـوکی دی. پـه دې اړه سيال کاکړ په ((ملي انځور)) کې وايي: (د پښتني فولکلور ځينې ډولونه داسـې دي چې په يوه خاصه قبيله او يا بيا په يوه ځانګړې سيمه پـورې اړه لـري، لکـه فالونـه، د مروتو کسرونه، بلندی، د بي بي دستې سندرې او داسې نـور...، خـو پـه پښـتو کـې يـوازې لنـډۍ هغـه فولکلـوري صـنف دی، چـې ځـانګړی مرکـز او تـاکلې سـيمه نـه لري.)(۸: ۲۹مخ)، خو کړۍ په ټاکلې سيمه ، لکه لويه پکتيا، خوست او کورمـه کـې ويونکې لري او د لنډيو په شان په ټولو پښتنو کې عموميت نه لري.

د کړۍ او لنډۍ توپير له څو اړخه کېږي چې پـه لانـدې ډول دی: لـومړی دا چې دواړه د ولسي ادب عـام ډولونـه دي، دوهـم: کـړۍ کـه څـه هـم پـه ځـانګړې سيمه پورې اړه لري، خو په ځانګړې قبيله پورې محدودې نه دي دريم: لندۍ ځانته فورم دی او کړۍ ځانته، خو په سندريز تار داسې تـړل شـوي چـې پـه بېلتـون يـې د موسيقۍ د ترون ټال شکېږي، کله چـې کـړۍ لـه لنـډۍ سره غبرګـه شي؛ د لنـډۍ

ترنمي انداز سندرې ته ملکوتي تاج په سرکړي، لکه دغه لاندې کړۍ چې لـه لنـډيو سره يوځای ويل کېږي:

وه - نن به باڼه درته لوګی کړم
وی – نن دې دا تورې سترګې ډېرې ښکلې دينه
ښکليه په نظير به شې
ډېر غرور مه کوه جانانه
وی – لږ د غريبو خلکو اخله سلامونه
ستربه شې بدرنګ به شې(۴: کېسټ)

څلورم: کړۍ د لنډيو له ترانمي انداز نه زېږېـدلي، پـه دې معنـا چې لـه لنـډيو سره به همېشه سندرغاړو ځينـې آوازونـه د اهنـګ د ښـکلا پـه پـار بدرګـه کـول چـې وروسته له نوموړو آوازونو څخه په تقليدکړۍ رامنځته شوې دي چې د بېلګې په توګه لاندې کړۍ راوړو:

دومره زياتی رو[۱] سره مه کړه
وی – اول دې يار کړم بيا دې راکړل ځوابونه
پړمې که نو مړ مې که
ګوره چې سترګې تورې نه کړې
وی – دغه ساده حسن دې ډېر مزه کوينه
ډېر ښکلی يې ډېر ښه يې
وايي چې ښکلې يې ځواني ده
وی – چې جمې (مجلس) نوستې وي په تو[۲] مجلس کوينه
نيم کلی خو تو[۳] ښايي
څنګه څنګزن را بوندې[۴] تېرشوې

---

[۱] - رو(را): په کرلنۍ لهجه کې (الف) په (و) بدلېږي.
[۲] - تو(تا): تا ښه يې.
[۳] - تو(تا)
[۴] - بوندې(باندې): را باندې مه کوه ظلمونه.

وی – جانانه تا سره مې څه بد کړي دینه
مو[1] ته یې په گوته که(۴: کېسټ)
ژبې په ژبومینېږي
وی – جونو په غاړه کړه د صبر تاویزونه
نوي ریواجونه دي
که مسافر لالی مې راشي
وه – د لاس باهومې خیراتي منلې دینه
وه جونو خبرې شئ(۱۳: کېسټ)

له لنډۍ سره چې په پای کې دغه (۷) څپیزه مسره تړل کېږي، وزن یې نه د لنډۍ له لومړۍ او نه له دوهمې مسرۍ سره برابر دی. کړۍ خپل ځانگړی وزن او آهنگ لري ټوله هغه موضوع په کې څرگندېږي د کومې لپاره چې لنډۍ ویل شوې ده. دغه اووه سپېیزه کړۍ د لنډۍ د منځپانگې پوره جاج اخلي او هغه موضوع چې په لنډۍ کې په کنایي او یا تلمیحي ډول را غلي وي په ډاگه د مطلب پر ټکي گوته ږدي او د موسیقۍ په تړون کې لنډۍ ته نوی خوند او رنگ وربښي.

کله چې سندرغاړي لنډۍ وایي، نو د خوږوالي او لطافت له مخې د لنډۍ په پیل، منځ او پای کې د اضافي یا زیات فشار لپاره چې آهنگین طرز یې لا په زړه پورې شي د( یا قربان، یاکزار، اله وی، اله زار، اله جار، وی، هی، واوا، هې هې، واه واه، هو هو،...) کلمې ورسره یوځای کوي او یادې کلمې د سندریز آهنگ لپاره راوړي او ترانمې خوایې پرې لا غنې کوي. کمپوز په مسلسله توگه په کې تکرار رېږي او تر پایه په همدې کمپوز کې ویل کېږي.

د کړۍ توپیر له نومورو مورفیمونو سره دادی چې کړۍ د یوې بشپړې جملې په توگه پوره مطلب او معنا لېږدوي خو دغه مورفیمونه ځینې یې خپلواک او ځینې یې یوه برخه معنا لري او بله برخه یې ناخپلواکه او بې معنا دي. کړۍ بیا هغه معنا لرونکې ټوټه ده چې د لنډۍ ترنمي آهنگ ته لطافت او ظرافت وربښي، زما په نظر د لنډیو د سندریز کولو لپاره کړۍ او پورتني آوازونه او مورفیمونه د پښتو موسیقۍ

[1] - مو(ما): ماته یې وویل.

يو ډول ځانګړی راګ دی چې سندريز آهنګ لپاره د سور و لی، زير و بم، تنتري او ريتم په اوښتون او سمون کې ناڅاپي ډول را منځ ته شوي دي؛ خو اوس د موسيقۍ په تخنيکي کمپوز کې چې کله سندرغاړی مخکې له دې چې لنډۍ ووايي يا په خپله او يا د ((موسيقۍ پوه)) له خوا د موسيقۍ کمپوز ورته کېږي دا ترون کې پورته ذکر شوي مورفيمونه او کلمې د لنډۍ په سر، منځ او پای کې را ځي او يا يواځې کړۍ د لنډۍ په اخر کې ورسره زياتېږي.

کله – کله د موسيقۍ د ترون له مخې يوه کړۍ په ځو لنډيو کې تکرارېږي، خو تر ټولو په زړه پورې هغه کړۍ دي چې د زړه خبره (په لنډۍ کې د متکلم د زړه خبره) په کې په ډاګه شي، لکه: ((اله درنه زارمې کړې، لاړم مسافر شومه، ولې دې رسواکړمه، اله درنه مړيې کړم، ګوره چې رسوا نه شو، مينه رسوايي شوله... ))(۱: مرکه) همداشان تر پايه پورې د هرې لنډۍ په پای کې تکرارېږي او دغه تکرار د لنډيو موضوع ځانته ټاکي که لنډۍ د مسافرۍ او بېلتون په اړه وي نو (لاړم مسافرشومه) که يار نازولی وي، نو وايي: (اله درنه زارمې کې) خو که کور، کلي خبرشو او مينه رسواشوه وايي: (مينه رسوايي شوله) او که د مينې ليونی بې وسه د کليوالي دود ښکارشي نو يارته د خپلې بې وسۍ نارې داسې وهي چې: (اله درنه مړيې کړم) اصلي خبره دا ده چې کړۍ د ټپو رواني حالت ډېر په زړه پورې او خوندور وي. د يادولو وړ ده چې کړۍ د ولس مال دی په شفاهي ډول په ولس کې شته دي او له هر ډول لنډيو سره ويل شوي دي. خو په همدغه ولسي قالب کې يې لومړۍ ځل سندريز يا کمپوز په ۱۳۸۸ کال کې ګل نذيز منګل وکړ او ډېرې يې په نوې بڼه هم جوړې کړې او د موسيقۍ کمپوز يې هم ورته کړی، بيا ورپسې په ۱۳۸۸ لمريزکال کې ګل روف شوقي هم په سندريز چوکاټ کې راوستې او د ((مستې ټپې)) ترنامه لاندې يې په (۲٦) نمبرکېسټ کې سندرې کړې او د موسيقۍ ترون يې ګل خان بنوخي وکړ او د عبدالصمد موزيک سنټر له خوا خپرې شوې او تر دې وروسته بيا د ګل نذير منګل له خوا ترتيب کړې او ليکلې کړۍ والې ټپې نغمې او ماسټر علي حيدر په همدغه کال هم زمزمه کړې.

## سندریز ترون:

مخکې له دې چې د کړۍ او لنډۍ پر سندریز ترون بحث وکړم د یادولو وړ بولم چې د پښتو ولسي او فولکلوري سندرو د موسیقي خوند او رنګ دومره زیات دی چې په طبیعي ډول د موسیقۍ ((راګونه)) په کې شته دي، په دې باب د پښتو ژبې ځوان خوږ ژبی سندرغاړی (ګودرځاځی) وایي: ((له پښتنو کلیوالي سیمو نه د فولکلور خواږه رااخیستل شوي، هغه له موسیقۍ او کمپوز سره ګډ شوي یوځه پرداز ورته ورکړل شوی، په ترلیو سندریزو کمپوزونو کې یې نوی ډول خوند او انداز خپل کړی.))(۱۰: مرکه). د پښتو ولسي عامې او خاصې سندرې هم د ژانر له مخې او هم د (ټون) له مخې خپل خپل کمپوزونه لري، لکه: لنډۍ، سروکې، غاړې، نارې، چاربیتې، بدلې، لوبې، مقامونه، ...، او د آهنګ له مخې: غرنۍ سندرې، واده سندرې، شولې، ساندې،... او نور په بېلابېلو کمپوزونو ویل کېږي. د یادولو وړ ده چې آهنګین توپیرونه یا ترونونه یې سیمه ییز هم دي، لکه: پکتیا واله موسیقي چې له لویې پکتیا تر وزیرستان او بنو پورې یو ډول غرنۍ، اتنیز او ارماني آهنګ تعقیبوي، مرکزي سیمې د لوګرۍ موسیقي ستایل ترون لري او د لوی ننګرهار د موسیقۍ ترون بیا ځانته کیف لري، زما له نظره د لوی ننګرهار او شمالي پښتونخوا(پېښور، سوات) او ورځېرمه سیمې کلاسیک قوالي او غزلیز رنګ او خوند لري، سویلي پښتونخوا چې مرکز یې کنداره دی د موسیقي خپل ځانګړی آهنګ لري او په دې اساس د ولسي- سندرو د موسیقي ترون اوږد تخنیکي بحث ته اړتیالري چې په دې مقاله کې ځایدی نشي، نو ځکه د دې مقالې غځېدل نور نه غواړم او خپلې اصلي موضوع ته را وګرځم.

کله چې د ولسي سندرو د دغو دوو ډولونو، کړۍ او لنډۍ د موسیقۍ ترون کېږي نو د لومړۍ مسرۍ په سرکې د (وه) اواز اختیاري دی؛ خو د لنډۍ د دویمې یا (۱۳) څپېزې مسرۍ په سر کې د (وی) آواز لازمي دی، لکه په لاندې بېلګو کې:

وه = اوس خو د نوې نخرې زده کړې

وی – لکه چې زړه دې بېلتانه ته شوی وینه

مخ پټ کې بیا وخاندې

سبا عجبه فیصله ده

وی – رقیبه تاسره مې ترلي دي شرطونه
يې تو[1] بو[2] شي که يې مو به شي(۴: کسټ)

د موسيقۍ په ترون کې چې د پيل او پای توله سره برابره وي د دوو سروکو تر منځ شپږ کړۍ والې ټپې بلل کېږي وروسته بيا سروکی ويل کېږي او د سروکي نه وروسته بيا شپږ نورې کړۍ والې لنډۍ ويل کېږي او تر پايه دا لړۍ دوام کوي. خو سروکي يا په عين شکل تکرارېږي او يا به په بېله بېله بڼه مختلف سروکي راځي مطلب داچې پيوسته به هغه يو لومړی سروکی نه تکرارېږي، د بېلګې په توګه لاندې سندريز کمپوز کتلی شو:

سروکی:

وه، بيا جار مېلمنه ځان سره کورونه يوسي
په ځانو پام وساتئ، ښکلي به زړونه يوسي(۴: کېسټ)

د دغه سروکي نه ورسته بيا په لاندې ډول شپږ ټپې ويل کېږي:

۱- جانانه يتو[3] نه مې زړه ښه شو
وی – چې د رقيب نه خو دې واخسته لاسونه
ټک ورکه پنجه يې که(۴: کېسټ)

۲- ته چې را لوی شوې خلک مين شول
وی – په تمامي کلي خواره شول صفتونه
ښکليه اور دې پورې کړو

۳- زما نه دا خپل زړګی ورک شوی
وی – جانانه مه خانده خبره درته کړمه
هريو سړی تو ښايي(۱۳:کسټ)

۴- تور دې بنګړي سپينې دې لېچې
وی – په تمامي کلي دې پورې کړل اورنه

[1] - تو(ستا)
[2] - بو(با)
[3] - يتو(يې ستا)

الله درنه موت[1] نه شي
۵- ځنګه ټوټې ټوټې پراته دي
وی – دا مات بنګړي د مينانو نښې وينه
جنګ دې مينې شوی دی(۱۳:کېسټ)
٦- وړکي به ټول په ځون[2] مين کې
وی – چې دا شکمنې سترګې تورې کړې مينه
اور لمبې دې پورې کړې(۹:کېسټ)
سروکی:
خلک ويده د کلي منځ د کوځې ځنګ دی
بنګړي دې په رومال وتړه د مينې جنګ دی(۴: کېسټ)
لنډۍ:
وړکيه داغتې کيسې مه کړخه
وی – مور د زموږ کره شړومبو پسې را ځينه
غلی زه د پېژنم
زما په ښکلي اوربل جنګ دی
وی – توره را واخله تور بوران مې درنه وړينه
لاس په برېتو ووهه
د مينې لاس خو د رانکړو
وی – که مې هر څومره درته جوړ کړه سينګارونه
ښکليه مور د کونډه شه
ټوټې ټوټې مې شين منګی شو
وی – دا ستا ولور ته مې کاته را پربوتمه
لړه مې درجګه که
سترګې د ووزه بنجاريه

[1] - موت(مات)
[2] - ځون(ځان)

وی – څله مې ګورې د لنډۍ زنې خالونه
پېغلې دې شکمنې کړې
مورجانې ته په خپله ورشه
وی – د دروازې ملنګان سترګې غړوینه
نه وړمه خیر نه وړمه(۱۳: کېسټ)
سندره:
په بل وطن کې یاره، و په بل وطن کې یاره
داته چې نه یې زه به ګرځم بې سینګاره – و په بل وطن کې یاره(۱۳: کېسټ)
لنډۍ:
مادر ته ویل چې مستي مه کړه
وی – چې ګرانې مورته به اوس څه بانه کومه
مات بنګړي یې ولیدل
نوي مینه شوم شرمېږم
وی – چې جانان راشي لاس به څنګه ورکومه
ډېره شرمګیره یم
یار مې ساده دی نه پوهېږي
وی – ماویل چې ستاپه غم مې شونډې تورې دینه
تور توتان مې وخوړل
په سپینه ورځ توبې او باسي
وی – په نیمه شپه مې تورې زلفې لوبوینه
شیخ جانان مې زنده باد
ملنګه دا خوی د خراب شو
وی – زموږ د چم د نجونو مه کوه سیلونه
مات به د کچکول کړمه
داسپنې لېچې به خالي کړم
وی – د مینې جنګ دی شرنګه شرنګ را ته کوینه
کلی را خبرنګړي

د سپين مړوند بنگړي مې مات دي
وی - چې بنگړيواله ترور به بيا کله را ځينه
راغلې د اختر ورځې
ښکليه په تا زما دعوه ده
وی - زما نادان زړگی به تا پټ کړی وينه
خلکه غل مې و نيوه(۱۳: کېسټ)
سروکی:
خلک ويده دکلي منځ د کوڅې څنگ دی
بنگړي دي په رومال وتړه د مينې جنگ دی(۴: کسټ)

کړی والې ټپې ډېرې زياتې دي، مطلب داچې په ټولو عامو او خاصو ټپو پسې کړی راتلای شي او راغلي دي، د کړی والې ټپې يوه غوره ځانگړتيا داده چې که کړی ترې لرې کړې ټپه يا لنډی خپل مفهوم له لاسه نه ورکوي په شکل او محتواکې يې بدلون هم نه راځي، همداشان د کړی په محتوا او شکل کې بدلون نه را ځي معنا داچې موږ کولی شو د لنډی په څېر کړی هم په مستقل ډول ثبت کړو، خو دلته اصلي ټکی په يو ځای والي کې دادی، چې که دواړه يوځای شي ډېر ځله دريمه معنا ورکوي چې په هغه کې ځانگړی هنريت او انداز پروت دی.

لنډی هغه عام، جامع، روان او ټول فهمه فورم دی چې عام او خاص ټول خپل مطلب ترې اخيستلی شي او ډېر ځله مستقيم مفهوم رسوي، خو په يوه مجهوليت سره، هغه دا چې د لنډی لومړی مسره کې موضوع واضح او په دوهمه کې مجهوله پاتې وي چې د قرينې نه يې ځرگندېږي او همدغه مجهوليت کړی واضح کوي، لکه دا لاندې لنډی:

اوس خو د نوې نخرې زده کړې
لکه چې زړه د بيلېدو ته کړی وينه

په پورته لنډی کې د (نوې نخرې) او (بيلېدو) هغه کليمات دي چې د لنډی پوره منځپانگه ترې واضح کېږي يا د مطلب ټکی ترې ځرگندېږي، د پورته لنډی مجهوليت په دې کې دی چې لوستونکی د مخاطب د بيلېدو د علت په کنايه نه پوهوي چې د متکلم مطلب څه دی يا داسې څه پېښ شوي دي چې متکلم گيله او

شکوه کوي چې د مخاطب زړه بیلېدوته شوی، د همدغه مطلب وضاحت کړۍ په ډېر ښکلي او هنري انداز بیانوي د مجهولیت ټکي راسپړي، لوستونکي ته دا څرګندوي چې په یاده لنډۍ کې متکلم له مخاطب نه چې لیلی یې ده، په کومو ټکو یا چارو زړه بدی شوی دی او د بیلېدو څرک ترې لګوي، چې د پورته کنایې د څرګندولو ټکي په لاندې کړۍ کې لیدل کېږي:

مخ پټ کړې بیا و خاندې!

اوس وینو چې په کړۍ کې لوستونکي ته د متکلم او مخاطب د ګیلو او منو کیسه معلومه شوه، چې عاشق له لیلی ولې شکوه کوله؟

څنګه ټوټې ټوټې پراته دي

دا مات بنګړي د مینانو نښې وینه

پورته لنډۍ د لوستونکي سره دا پوښتنه پیداکوي چې مات بنګړي ولې د مینانو نښې وي، ولې روغ جوړ بنګړي نه شي کیدی؟ ځواب یې دغه لاندې کړۍ څومره په هنري انداز کوي ورته وایي:

جنګ د مینې شوی دی

نو خبره اوس معلومه شوه، چې د مینې په جنګ کې بنګړي ماتېږي او مات بنګړي د دوو مینانو د زیات محبت او ګرانښت نښه ده.

**پر لنډکۍ د کړۍ بریا:**

د کړۍ پر جوړښت پورته اوږد بحث وشو. دلته په لنډه توګه د کړۍ او لنډکۍ په اړه بحث کېږي، د لنډکۍ په اړه دا مشهوره ده چې په پښتو ولسي صنفونو کې تر لنډکۍ لنډ ژانر نشته، ځکه چې لنډکۍ تر لنډۍ او غاړې دواړو لنډه ده، چې د لنډیو او سندرو یا ولسي نکلونو د دمې په وخت کې ویل کېږي او اصلي نومونه یې ((سورې، پړاکي، بندۍ) دي، (د فولکلوري وړمې)) د اثر لیکوال یې په اړه وایي چې: (( کلیوال مجلسیان لنډکۍ د سندرو سره په داسې بڼه غبرګوي چې یو ځل څو سندرې او لنډۍ په بېلو او ځانګړو وزمو و بولي وروسته د (دمې) له پاره لنډکۍ په خاص طرز او غږ وایي))(۱۱: ۵۱مخ)

د ولسي ادب دغه ښکلی او لنډ ډول څوارلس څپیزه مسره چې په یوه سا ویل کېږي، خو (کړۍ) تر لنډکۍ وړکې اوه(۷) څپیزه یا سپڼیزه مسره ده چې په یوه سا

ویل کېږي. (لنډکی د ولسي ادب په هنداره کې) اثر لیکوال یې د جوړښت په اړه وایي: (( لنډکی معمولاً څوارلس سیلابه لري، د لنډۍ په شان لنډکی هم په (ونه، ینه او مه) سرته رسېږي چې ځانګړی وزن او آهنګ لري))(۷: ۱۷مخ)

لکه:

جار په خوست ګرمي ده ماته کیږده څنارونه

تورې سترګې سره لاسونه تاته ناسته یمه(٦: ۱۲۲مخ)

پربږده لاس مې پربږده ماته مور سورې وهینه(٦: ۱۳۲مخ)

په پښتو کې تر اوسه پورې لنډکی تر ټولو لنډ ولسي توکی پېژندل کېده؛ خو د (کړۍ) په راتک سره اوس ویلی شو چې کړۍ په ولسي- ادب کې تر ټولو لنډ ژانر دی او په دې سره د ((غرنۍ سندرې)) لیکوال دا ادعا رد شوه چې ویل یې: ((د پښتو د ولسي ادب دغه له نظره لویدلې برخه د پکتیا په ولایت کې اوس هم ژوندۍ ده دا یو ډېر لنډکی او خوږ شعر دی چې تر اوسه پورې یې د پښتو په ولسي- ادب کې انډول نه دی پیدا شوی او د پښتو په ولسي ادب کې له دغه شعر نه لنډکی شعر نه لرو))(٦: ۱۲۱مخ)

د پورتنیو تشریحاتو او پرتلې په رڼا کې د لنډکی او کړۍ جاج په لاندې ډول اخلو:

۱- لنډکی څوارلس سیلابه ده کړۍ اووه سلابه.

۲- کړۍ د لنډۍ د یوې برخې په توګه د موسیقي سره ویل کېږي، خو لنډکی د لنډیو په پای کې په آزاد ډول ویل کېږي.

۳- لنډکی په اوو- اوو سیلابونو ویشل کېږي او هره برخه یې آهنګ لرونکې ده، کړۍ په (دریو او څلورو) سیلابونو ویشل کېږي، چې مبتدا یې درې سېلابه او خبر یې څلور سېلابه وي.

۴- لنډکی د لنډۍ په شان په (ونه، ینه او مه) پای ته رسېږي، خو کړۍ بیا په صرفي روستاړو پای ته رسېږي، چې لاندې به د لفظي تجزیې په لړ کې پرې بحث وشي.

## د کړۍ لفظي تجزیه:

کړۍ په خپل جوړښت کې موزونې، مقفه او مردفې بڼې هم لري، ټول لفظي

او معنوي صنعتونه په کې پیدا کېږي او اکثریت یې د آزاد شعر په شان ځانګړی آهنګ لري چې د ډېرو کړیو آهنګ په لومړی او پنځمه څپه کې سره تولـه برابـروي، لکه:

پړ مې که نو مړ مې که

په پورته کړی کې (پړ)، (مړ) د کړی قافیه ده، (ړ) متحده متصله برخه (روي) ده. (مې که) ردیف دی. د حیرانتیا خبره خو داده چې دومره وړه جمله او دومره ځانګړنې، دا په اصل کې یو شهکار دی، هایکو پوهانو؛ هایکو ته تر ټولو وړوکې او پوره مفهومه کلام لقب ورکړی. که د پښتو ژبې دغه کلام نړیوال نظم پوهان واوري نو د هایکو ریکارډ به مات کړي او زه باور لرم چې د نړی په نورو ژبو کې به په دغه سلاست او سلابت، با معنا مؤجز کلام نه وي.

**منطقي ترون:**

دومره زیاتی رو[1] سره مه کړه

وی – اول دې یار کړم بیا دې راکړل ځوابونه

پړمې که، نو مړ مې که

دغه پورته کړی که د منطق له اړخه وڅېړو وینو چې په دوو وړو پښتني کلتوري، استدلالي، منطقي اصطلاحاتو کې یې ټوله موضوع په فلسفي انداز بیان کړې، د انساني حقوقو له مخې یې مخاطب ته د استدلال او خبرو اترو حق ورکړی تر څو ټولې خپلې ادعاوې واوروي او مدعي علیه ته قناعت ورکړي. متکلم ورته وایي چې که په حقه یې زه درته د تسلیمی غاړه ږدم که مې وژنې او یا مې بخښې ستا حق دی.

که دې پړ نه کړم؛ نو د دوستی لاس به راکوې، ځکه دا نړی د مینې ده او دا ژوند د مینې او محبت لپاره ډېر کم دی، ښه به داوي چې دلدار، د غاړې هار، وړوکی یار، د باغ بلبل، د اوربل ګل، د سفر ملګری، تل به دې جانان وم.

دغه کړی په اصل کې د متل نه اخیستل شوې، پښتو متل دی وایي: ((اول یې پړ کړه بیا یې مړ کړه یا اول مې پړ کړه بیا مې مړ کړه)) د پښتني کلتور د ټولنیزو

[1] - رو(را)

تعاملاتو یوه کوډ هم همدا دی، چې په ناحقه څوک په چا زور زیاتی یا تېری نـه شي کولای، لومړی به یې سلامت او ملامت معلومېږي او بیابه حساب ورسره کېږي.

د بېلگې په توگه لاندې کړی کتلی شئ:

سورگل د اوربل مې یې
زړه په زړه اینه یو سره
شوندې به دې ښکل کړمه
ناز به دې په سترگو وړم
توره غنم رنگه یې
شنې سترگې د خوند کوي
زېړې جامې واغونده
مات به دې بنگړي کړمه
سور چارگل په پوزه که
غبرگه په ملا ماته شوې
ماته سترگک ولې کړې؟
ماته سترگک مه کوه
زېړه زرغونه شوله
ونه د چینار جلۍ
څرڅو سترگو مړ کړمه
څه په بلا وا ونښتم

**پایله:**

کړۍ د پښتو ولسي سندرو وړوکې اوه سپېڅلې مسرۍ ده، چې د لنـډیو سره پـه سندریز ترون کې جوخته ویل کېږي، کړۍ د عبـاراتو، متلونـو او لنـډو موزونـو جملـو څخه جوړه ده، چې په تړلیو او ازادو کړیو ویشـل کېـږي، تړلـې کـړۍ هغـه دي چـې وزن او قافیه دواړه پکې شـتون لـري، ازادې کـړۍ هغـه دي چـې یـوازې وزن لـري د قافیې له تورو څخه ازادې دي، ځینې کړۍ قافیه او ردیف دواړه لري او ځینې یوازې

قافيه لرونکې دي، د لنډۍ او لنډکۍ په شان په (ه) تانیث نه دي تـړل شـوې، هر اواز يې چې د روانۍ سره سرلګوي پرې پای ته رسېږي.

د کړۍ په کشف سره د لنډکۍ د موندونکي ليکوال هغه ادعا هم رد شوه چـې لنډکۍ د پښتو ولسي ادبياتو تر ټولو وړوکـی ژانـر دی، ځکـه چـې لنـډکۍ څـوارلس سېلابه ده او کړۍ اوه، په غاټ منځ نيمه ترې لنډۍ يا وړه ده، د کـړۍ بلـه ځانګړنـه دا ده چې د لنډۍ مجهوليت په کې روښانېږي، لکه پورته چې پرې بحث وشو، کړۍ د هايکو په شان مزاحيه، هزليات او بې هنره لفظونه نه سره پيـي بلکـې کـړۍ ټـولې هنري ټوټې دي او د بشپړ هنر د تعريف لاندې مطالعه کېدای شوي.

## مأخذونه:


۱. بخت الله، صالح محمدزوی، ۲۳کلن، اتم پاس، پکتیاولايت، لژې ولسوالي، سيدګي کلی، ۱۳۹۲کال.

۲. تاربرن، پښتو متلونه، د شېرمحمدکريمي ژبـاړه، ګونـدي مطبعـه، ۱۳٦۰ل کال.

۳. روهي، محمد صديق. فولکلور پېژندنه، د افغانستان دعلومو اکاډمي، د ژبـو او ادبياتو مرکز، کابل،۱۳٦۵لمريز کال، ۱۰، ۱۱ مخونه.

٤. شوقي، ګل روف. مستې ټپې، ۲٦نمـبر کسـټ، عبدالصـمد موزيـک سـنټر ۱۳۸۸ لمريزکال .

۵. شينواري، دوست محمد دوست. د پښتو د ولسيـ ادب لارې، دويـم چـاپ، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۵ل کال.

٦. غـروال، محمـد عـارف. غرنـۍ سـندرې، د افغانسـتان علومواکـاډمي، پښتوټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳٦۰ل کال.

۷. غروال، محمدعارف. لنډکۍ د ولسي ادب پـه هنـداره کـې، آزادۍ مطبعـه، ۱۳۹۰ل کال.

۸. کاکړ، سيال. ملي انځور، پښتوفولکلور اکېډمي کوټه، يونايټيډپنټرز، کوټه، ۲۰۱۷زکال.

٩.  ماسټر علي حیدر. غږیز کلېپ، ١٣٨٨لمیز کال.

١٠. ملي تلويزيون، ګودرځائی او جاوید امیرخیـل، ځـانګړې مرکـه، پنجشـنبې غرمه ١٠:٣٠ دقیقې، ١٣٩٧کال.

١١. منګل، علي محمد. فولکلوري ورمې، نعماني مطبعه، کابل، ١٣٨٧ل کال.

١٢. نــاصر، نصــرالله. د پښــتني فولکلــور د چــاپي مجموعــو څېړنــدود، د علوموااکاډمي، ازادی مطبعه، کابل: ١٣٨٣لمریزکال.

١٣. نغمــه، ښــاپېرۍ. ارمـاني ټپــې، عبدالصـمدموزیک سـنټر، (غږیزکلېـپ)، ١٣٨٨ل کال.

پوهنمل سیداصغر هاشمي

# د گل پاچا الفت په نثرونو کې ځینې هیومانیستکي افکار

## لنډیز:

استاد الفت هغه دردیدلی مفکر او مبتکر لیکوال و، چې د ټولنې ډېر ایماژونه یې په دقیق ډول ټولنې ته وړاندې کړل. د ده ویناوې د انسانیت لپاره خورا ښه پېغامونه لري. په دې لیکنه کې د استاد الفت په نثرونو کې هیومانیستکي افکار ښودل شوي او بېلگې یې له اړوند نثرونو سره راوړل شوې دي.

## سریزه:

گل پاچا الفت د ولس او انسان په درد دردمند پوهاند و. د ده په ویناوو کې ټول ایماژونه د انسان خیر ښېگنې لپاره راوړل شوي دي او په انسان او انسانیت مین لیکوال پنځونو(نثرونو او شعرونو)کې هیومانیستکي افکار زښت زیات دي، چې په دې لیکنه کې د بېلگې یې په ډول ځینې مثالونه راوړل شوي دي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت:

انسان باید د انسانیت پرگانه سمبال وي، دا چې انساني ستونزې په هرې ټولنې کې شته او په ځانگړي ډول په ځینو وروسته پاتې هېوادونو کې، نو دا لیکنه انساني لارښوونو په اړه خبرې لري، چې همدا د موضوع اهمیت ثابتوي. د الفت صاحب په نثرونو کې هیومانیستکي افکارو ښودنه به نوې موضوع وي، چې دا یې نویوالی دی.

## د څېړنې موخې:

د هیومانیزم پېژندنه، د الفت په نثرونو کې د ځینو هیومانیستکي مفاهیمو په

اړه بشپړ معلومات وړاندې کول او همدارنگه د انسان او انسانیت لپاره چې کوم افکار او نظریات استاد درلودل څومره تطبیق شوي، د دې لیکنې موخې دي.

**د څېړنې پوښتنې:**

- هیومانیزم څه ته وایي؟
- د استاد په هنري نثرونو کې د هیومانیزم کوم مفاهیم تر سترگو کېږي؟
- د استاد الفت هیومانیستکي افکار څومره پلي شوي دي؟

**د څېړنې میتود:**

په مقاله کې له تشریحي او توضحي مېتوده گټه اخېستل شوې ده او موضوع تحلیل شوې ده.

## گل پاچا الفت او هیومانیستي افکار

هومانېزم (Humanism) لاتیني کلمه ده او معنا یې انسان پالنه، د بشر۔ د اصالت مذهب ته وایي. (۱)

د گل پاچا الفت په نثرونو کې هیومانېزم د کُل او انسان دوستي د جز په ډول تر سترگو کېږي.د پښتو ادبیاتو مخکینیو کلاسیکو پنځوونکیو په ویناوو کې چې موږ د انسان دوستي په اړه کومې خبرې گورو او اورو، نو دا هغه ویناوې دي، چې د پنځوونکي تعلق د ژوند سره ښيي، پنځوونکی د ژوند سره اړیکې لري.(۲)

د گل پاچا الفت د نثرونو یوه برخه هیومانیستي مسایل په هنري ډول وړاندې کوي. د ده په نثرونو کې انسان دوستي، بشر دوستي، انسانیت، مروت، شفقت، خیر خواهي، همدردي، مساوات، عدالت، اتفاق، د انسانانو حقوق او داسې نور ډېر هغه مسایل، چې د انسان د ژوند د پرمختگ پورې اړوند دي، په خپلو منثورو لیکنو کې ذکر کړي دي.

د هیومانېزم اصطلاح په پښتو ژبه کې د انسان دوستۍ، انسان پالنې او د انساني اصالت مکتب له کلماتو سره په معادلت کې کاروي، یا هیومانېزم هغه فلسفه ده، چې انسان ته د خپلو تأملاتو په مرکز کې ځای ورکوي او د ټولو شیانو محور یې گرځوي او د انساني اصالت، ودې او غوړېدو ښه مناسب شرایط برابروي.(۳)

د انسان له پیدایښت سره د انسان دوستۍ مفکوره موجوده وه او دغه فلسفي نظر باید د نړۍ له هر انسان سره وي، چې د استاد الفت د نثري کلیاتو ډېره برخه هیومانیستي فکرونه لري.دغه(هیومانیستي) اصطلاح د بشر دوستۍ او انسان دوستۍ لپاره کارول کېږي. هیومانېزم په څوارلسمو او پېنځلسمو پېړیو کې د اروپا په ایټالیا هېواد کې منځته راغلې ده چې یواځینۍ موخه یې د لرغوني ادب څېړنه وه. هومانیست هغه څوک دی، چې د بشري پوهنو په اړه څېړنې کوي، پر هیومانېزم پوهه او له هغې څخه په انساني ټولنو کې له هغې څخه ګټوره استفاده کول او کارول په تېره بیا په انساني ټولنه کې د نېکو او حسنه اړیکو کې ترې کار اخیستل ډېر مهم او ضروري کار دی او د انسان لپاره ډېر اهمیت لري.

د اسلام مقدس دین د انسان بشري کرامت ته په ډېر لوړ ارزښت قایل شوی دی، یعنې انساني کرامت او مقام ته په دومره زیاته اندازه قایل شوی، چې حتا هغې وړې نطفې ته هم د قدر او درنښت په سترګه ګوري او د هغې سقط (زیانول) هم د جنایت په نوم پېژني او په اسلامي شریعت کې په دې اړه ځانګړي احکام موجود دي چې د ژوند له پیل څخه تر مرګه او له مرګ نه وروسته هم د درنښت او قدر وړ ګڼل شوی دی. انسان په مخلوقاتو کې اشرف ګڼل شوی او له عالي موجوداتو څخه شمېرل کېږي. دی له نورو ژویو څخه ځانګړنه لري، چې په ټولو موجوداتو کې دده غوره والی په عقل، خبرو، بیان او ارادې کې پروت دی او تر ټولو مهمه دا ده، چې خیر رسوونکی دی.(۴)

په اسلام کې د هیومانېزم فلسفي تاریخ هم ډېر لرغونی دی او ګل پاچا الفت له دیني علم برخمن او همدارنګه زده کړې یې په مدرسو او جوماتونو کې پیل کړې وې، چې د زده کړو پیل یې دیني درسونه وو، نو ځکه یې د معنا له مخې نثرونه هیومانیستي مفکوره ډېرې لري. دغه هیومانیستي مفکورې فلسفه په یونان او داسې نورو هغو ملکونو چې ډېر لرغونی تاریخ لري، منځته راغلی. د اروپا د رنسانس په دورې کې غښتلې شوه او ادبیاتو ته یې مخه کړه.(۵)

د ګل پاچا الفت نثري کلیات د هیومانیستي نثرونو ډېرې بېلګې لري، چې د بېلګې په ډول د(قوي او ضعیف) په نامه لیکنه په دې اړه ښې خبرې لري، وایي:

(...ما ته دغه کورنۍ دود او دستور ډېر ښه ښکاري او له خدایه غواړم، چې دا

رواج عام شي. په دې پوهېږم چې په هر کاله کې همدغه حال دی او په هره کـورنۍ کې کوچنیان په لویانو زورور او زړور دي.

د ګیرا او ترسا پـه کالـه کـې هـم د کوچنیـانو زور چلېږي او جـوړ د نـاجوړ پـه مخکې منډې وهي، مګر چې له کورونو نه د باندې وګوري، نـو بیـا قـوي پـر ضـعیف مسلط دی. د دنیا طبیعي قانون همدغه دی، چې غټان او لویان به په وړو او بیوزلـو سوک او څپېړه پورته کوي او د قوت خاوند به هېڅ تحمل او حوصله نـه لـري.د دغـه ظالمانه قانون د ماتولو لپاره، چـې پـاک خـدای څـه شـی پیـدا کـړی، هغـه مینـه او عاطفه ده.د مینې او محبت په نړۍ کې ضعیف او کوچنی د لوی او قوي تـر څپېـړې لاندې نه دی، بلکې کوچنیان په لویانو حکومت کوي او د وړو پادشاهي ده.

مـوږ ښـځه عـاجزه بولـو، مګـر مینـې او محبـت ډېـر زورور او پیـاوړي د دوی د خوښې او رضا تابع کړي دي...)(٦)

په پورته لیکنه کې د انسان دوستۍ مفکوره پرته ده.د ژوند لپاره مینه او محبت ته اړین دي، ژوند د مینې نوم دی او انسان د مینې سمبول.

که چېرې د انسان د نوم معنا په انسان کې موجود وي او د انسانیت ټولې ښې ځانګړنې ولري، نو په ده بـه حتمـي د نـړۍ انسـانان ګـران وي. هـر انسـان تـه بـه د انسان په سترګه ګوري، له انسانه سربېره په حیواناتو به هم رحم کوي او نباتاتو ته به هم بې ځایه زیان نه رسوي.

**مساوات:** څوک چې هیومانیستي مفکوره لري، نو د ده پـه تخلیقـاتو (منظومـو او منثورو) ویناوو کې به حتماً د انسانانو ترمنځ د برابرۍ او مساوات په اړه ډېر نثرونـه موجود وي.

د اسلام په اجتماعي اصولو کې یو مهم اصل مسـاوات دی، ځکـه یـې عـرب ا و عجم، تور او سپین یې برابر ګڼلي او انساني کرامت یـې هـر بنـي ادم لپـاره یـو شـان منلی دی. استاد الفت په یو ټولنې کې د مساوات لامل بیا افـراط او تفـریط ګڼـي او وایي:

که افراط دی که تفریط یو د بل سر خوري
هر یو بل ته قبر کن د بل اجل دی

استاد الفت نثري کلیات په (٦٩ مخ) کې د (لوی او وړوکي) تر سرلیک لانـدې

د مساوات او برابرۍ په اړه د يوې ادبي ټوټې يوه برخه راوړم:

(څه شی چې ته يې وړوکی ګڼې، هغه هم لوی دی يا هغه څه چې تاتـه لـوی ښکاري هغه هم کوچنی او وړوکی دی. ته ونه لويه ګڼې، هغه په يوه زړي کې ده.

تاته زړی وړوکی معلومېږي، په هغه کې غټه ونه ځای شوې ده.

دغه غټه هندوانه چې ګورې کال ته نه پـاتې کېـږي او عمـر يـې ډېـر لنـډ دی، دغه د هندوانې کوچنی زړی تاته هر کال تازه هندوانه درکوي:

د زړي قيمت له هندوانې لږ نه دی

که زړی ورک شو، هندوانه ورکېږي

نو راشه هېڅ شی وړوکی او کوچنی مه ګڼه، ځکـه چـې دلتـه غـټ او کـوچنی، لوی او وړوکی نشته، ټول برابر دي، يوازې الله تعالی لوی دی او بس.)(۷)

همدارنگه نـثري کليـات، پـه لـومړي ټـوک (څـه وکـړو؟؟) پـه نـامې ليکنـې پـه وروستۍ برخه کې راغلي دي:

(هو! د مظلومانو او بې وزلو له اه و فرياد نه ووېرېـږئ! هغـه کسـان چـې تاسـې خپلو معايبو ته ملتفت کوي او ستاسې نقايص در ښيي له هغوی نه مه وېرېږئ، مگـر له هغو تملقينو وډارشئ، چې ستاسـې خيانـت سـتايي او ستاسـې پـه سـترگو پـردې غوړوي.

چا چې په مملکتي دواېرو کې لکه د شرکتو امران يواځې پـه پيسـو کومـه رتبـه پيدا کړې ده يا يې په خوشامدو او تملقونو ځان يوه حد تـه رسـولی دی او وظيفـه نـه پېژني، بلکې اشخاص او درباريان پېـژني هغـه بايـد لـه خپـل اينـده سرنوشـت څخـه ووېرېږي.))(۸)

استاد الفت په خپلو پنځونو کـې د مظلومـانو اوښـکې پـاکې کـړي دي، د دوی فرياد يې د زړه په غوږو اورېده. د فيوډالي نظام په ضد وه او په ويناوو کې يې د دوی په ضد او د غريب او بېچاره په طرفدارۍ ليکنې کـړي دي او لـه دوی سره يـې خپلـه همدردي شريکه کړې ده.

د محتوا له مخې د استاد په تخليقاتو کې د عدالت په هکله ډېرې ويناوې شته او د ده پـه نثرونـو کـې همـدردي، مسـاوات، د ښـځو حقـوق، اتفـاق، مـلي يـووالی،

ناپوهي، انتقاد، ریالېزم او غندنې په دې دلالت کوي، چې استاد الفت په ټولنې کې د عدالت ارمان درلود.

**له تبعیض سره مبارزه:**

استاد الفت هغه هیومانست لیکوال و، چې د نژادي، جنسي توپیرونو سره یې مبارزه کوله. دوی ته د افغانستان ټول وګړي یو شان وو.د دوی لپاره تور او سپین کوم توپیر نه درلود، هدف یې خپلې ټولنې ته خدمت کول و. پښتون، فارسیوان، تاجک، ایماق، نورستانیان او داسې نورو ژبو ویوونکي ورته د یو لاس ګوتې وو.

د نژاد پالنې، سمت پالنې، قوم پالنې، خپلوۍ او دوستۍ په فکر کې نه وه.استاد الفت یو له هغو لیکوالو څخه دی، چې د ده نثري موضوعګانې د تبعیضاتو په ضد مفکورې درلودې، وایي:

(...وګورئ د پښتنو څومره ډېر قامونه د غلجي یا دراني په نامه یادېږي، مګر غلجي او دراني دواړه بیا پښتون او افغان په نامه بلل کېږي. د افغانستان ټول اوسېدونکي باید په دې خبره باندې پوره وپوهېږي چې د یوه ملت خلک ټول یو شان ورونه دي او پښتو و فارسي، سني او شیعه، غلجي او دراني، هراتي، ننګرهاري، کندهاري، مزاري په دغو بېلو بېلو نومونو یو له بله نه بېلېږي...)(۹)

همدارنګه وایي: ((تغییر رنګ را نباید تغیر جنس دانست. برنج از لغمان باشد یا از بغلان پلو باشد یا چلو رنګ و ذایقه ان کمی تفاوت خواهد داشت مګر در برنج بودن ان شکی نیست.))

د نړۍ ټول انسانان د (بني ادم) په سلسله کې راځي، یواځې د یو قوم، یوې ژبې، یو نژاد، یو براعظم او یو ملک خلک ترې مراد نه دي، بلکې د ټولې نړۍ انسانان ترې هدف دی.

**د ښځو حقوق:**

د نړۍ ډېر نفوس د ښځو دی او د نړۍ ټول انسانان له همدغو ښځو پیدا کېږي، نو له همدې امله د استاد الفت په نثرونو کې دا برخه هم شته. هیومانستي نثرونه د استاد الفت په کلیاتو کې شته، چې د ښځو د اهمیت په اړه هم ښې ویناوې لري. له ادمه تر دې دمه د نړۍ ټول انسانان د ښځو او نرینوو نه پیدا شوي دي، نو په ټولیز ډول د نړۍ د خلکو بنسټ او اساس له نرینوو او ښځینه وو څخه

جوړېږي، چې دواړه د ډېر اهمیت وړ دي، وایي: (د ترسا په کاله کې هم د کوچنیانو زور چلېږي او جوړ د ناجوړ په مخکې منډې وهي، مگر چې لـه کورونـو نـه د بانـدې وگورې، نو بیا قوي پر ضعیف مسـلط دی. د دنیـا طبیعـي قـانون همدغـه دی، چـې غټان او لویان به په وړو او بیوزلو سوک او څپېړه پورته کوي او د قوت خاوند بـه هـېڅ تحمل او حوصله نه لري. د دغه ظالمانه قانون د ماتولو لپاره، چې پـاک خـدای څـه شی پیدا کړی، هغـه مینـه او عاطفـه ده.د مینـې او محبـت پـه نـړۍ کـې ضـعیف او کوچنی د لوی او قوي تر څپېړې لاندې نه دی، بلکـې کوچنیـان پـه لویـانو حکومـت کوي او د وړو پادشاهي ده. موږ ښځه عاجزه بولو، مگر مینـې او محبـت ډېـر زورور او پیاوړي د دوی د خوښې او رضا تابع کړي دي...)(۱۰)

دا لیکنه که له پیله تر پایه ولوستل شي، نو په ځینو ځـایونو کـې دې تـه نغوتـه شوې ده، چې د ښځو سره څه ډول کړنه وکړو، پـه ټـولنې کـې ښـځه څـومره ارزښـت لري. همدارنگه د بد رسم و رواج د غندلو په برخه کې یې هغه رواجونـه غنـدلي دي، چې د ښځو د بدبختۍ لامل گرځي، لکه د ډېـر ولـور اخیسـتل، پـه ښـځو مکتـب نـه ویل، په ښځو ظلم کول او داسې نور مسایل لري.

د استاد الفت په نثرونو کې پر پورته موضوعگانو سربیره نور داسـې مسـایل هـم شته چې د هیومانیزم تر سرلیک لاندې راځي.

**پایله:**

په دې مقاله کې د استاد په نثرونو کې هیومانیستکي افکار(عدالت او برابـري، د ښــځوحقوق، همــدردي، لــه تبعــیض او تعصــبه ځــان ســاتنه او داســې نــور...) موضوعگانې سره د نثري بېلگو ښودل شـوي دي او د انسـاني لارښـوونو لپـاره د کـار خبرې د دې لیکنې موندنې دي.

**مأخذونه:**

۱.سلطاني منگـل، هیومـانیزم د شرقـي او غـربي فلاسـفه وو لـه نظـره: پېښـور، ظاهر کتابخانه، ۱۳۹۰ ل کال، ۱۷ مخ.

۲.محب وزیر، پښتو کلاسیکي شاعرۍ کې انسان دوستي: پیښور یونورسټي بوک ایجنسي، ۲۰۱۲ م کال، ۷۴مخ.

**۳.** سلطاني منگل، هومانیزم د شرقي او غربي فلاسفه وو له نظره: ۲۰ مخ.

**۴.** سلطاني منگل، هومانیزم د شرقي او غربي فلاسفه وو له نظره: ۸۳مخ.

**۵.** پوهندوی علاو الدین حسام، د ملنگ جان د شعرونو منځپانگیز او جوليز جوړښت څېړنه: د ترفیع موضوع، ۱۳۹۲ل، ۳۱مخ.

**٦.**گل پاچا الفت، د الفت نثري کلیات (لومړی او دویم ټوک): ټولوونکي محمد اسمعیل یون او عبدالرحیم بختانی، دانش خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۸۹ل، ۵۹ مخ.

۷. گل پاچا الفت، د استاد الفت نثري کلیات (لومړی ټوک): د محمد اسماعیل یون په زیار، کابل، یون کلتوري یون ټولنه،۱۳۸۷ل کال، ٦۹مخ.

۸. گل پاچا الفت، د الفت نثري کلیات (لومړی او دویم ټوک): ۲۲۲ مخ.

۹. گل پاچا الفت، د الفت نثري کلیات (لومړی او دویم ټوک): ۵۲۴ مخ.

۱۰. گل پاچا الفت، د الفت نثري کلیات (لومړی او دویم ټوک): ۵۹ مخ.

څېړندوی رحیم الله حریفال

# په پښتو معاصر شعر کې له جګړې کرکه

**لنډیز:**

زموږ هېواد د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې له جنګ او جګړو څخه ډېر کړېدلی دی، خو روانه څلوېښت کلنه غمیزه ډېره اوږده او دردوونکې ده. دې غمیزې وطن او اولس ته ډېر زیانونه اړولي دي، خلک یې په رواني لحاظ ځورولي دي، ټولنیزه آرامتیا او سکون یې له منځه وړی دی، د پرمختګ او سوکالۍ مخه یې نیولې ده او دا روانه ډرامه داسې ننداره هم لري چې کلي او کورونه په کې په کنډوالو بدل شوي دي، په میلیونونو انسانان د خپلو کورونو پرېښودلو ته اړ کړل شوي دي، د هېواد زېربناوې په ډېره ظالمانه توګه ورانې او له منځه وړل شوې دي چې دا او دې ته ورته نورې غمونکې پېښې تر نورو ډېر شاعران ځوروي. همدا شاعران دي چې که نور څه یې په وس کې هم نه وي، خو د شعر په ژبه خپل درد بیانوي، د خپل اولس او وطن لپاره اوښکې تویوي او د جګړې له تباه کوونکي اور څخه کرکه ښیي چې دا ډول شاعران ګڼ او زیات دي. موږ دلته لومړی د شعر په اړه خبرې کړې دي، بیا مو د جنګ او جګړې په اړه معلومات راوړي، د شعر او جګړې تر منځ په اړیکه هم بحث شوی دی او د پښتو ژبې او ادبیاتو په معاصره دوره کې مو د ځینو شاعرانو په شاعرۍ کې له جګړې څخه د کرکې او نفرت بېلګې را اخیستې او په پوره تفصیل سره مو بحث پرې کړی دی.

**سریزه:**

شعر له عواطفو، احساساتو او جذباتو څخه راټوکېږي او شاعران د شعر په هنري ژبه د خپلې ټولنې ترجماني کوي. همدا شاعران دي چې د خپل چاپېریال

ښکلاګانو ته تر نورو وړاندې متوجه کېږي او اولس ته یې وړانـدې کـوي. همدارنګـه کله چې د شاعر پر وطن او چاپېریال د درد او ویر توري لـړې را خپـرې شي، نـو بیـا هم همدا شاعران دي چې تر هر چـا وړانـدې دا دردونـه او کړاوونـه حـس کـوي او د خپل لوړ خیال او فکر په وسیله په خـوږه او هـنري ژبـه، لـه دې دردونـو او کړاوونـو څخه فریاد او شکایت کوي. د دې مقالې په پیل کې د جګړې پـه اړه خـبرې شـوې دي او دا هم څرګنده شوې ده، چې جګړې بشري ژونـد تـه کـوم زیانونـه اړولي او انسان یې له څومره دردونو او کړاوونو سره مخامخ کړی دی، بیـا د شـعر پـه اړه بحـث شوی دی چې شعر څه شی دی؟

کله چې یوه ټولنه له اوږدو جګړو څخه وکړېږي؛ نو ډېر څه یـې لـه خـاورو سره خاورې شي. په دې مقاله کې د هـم پـه ګوتـه شـوې ده چـې هغـو شـاعرانو چـې لـه اوږدې جګړې څخه کړېدلي او د جګړې ترخه وختونـه یـې لیـدلي دي، د همداسـې جګړو د مخنیوي لپاره یې خپل مسوولیت څومره پوره کړی او له جګړو څخه یـې پـه شاعرۍ کې څه ډول خپله کرکه څرګنده کړې ده؟

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت:**

له جګړې څخه کرکه کله، کله په داسې ډول ښودل شـوې ده، چـې د شـعر پـر ځای یې د شعار بڼه خپله کړې چې شعار بیا تر ډېره دوام نـه شي کـولای؛ خـو دلتـه موږ د شعر داسې بېلګې راوړې دي چې شعاري بڼه نه لري؛ بلکـې لـه جګـړې څخـه کرکه په کې پـه لـوړ خیـال، عـاطفې او احسـاس سره څرګنـده شـوې ده. اهمیـت او مبرمیت یې دا هم دی چې د جنګ او ورانیو پر وړاندې شاعرانو خپل رول څه ډول د شعر په وسیله سرته رسولی دی.

**د څېړنې موخه:**

له دې څېړنې څخه موخه داده چې د جنګ او جګړو پـه لـه منځـه وړلـو کـې د شاعرانو رول او د شعر ارزښت په ډاګه شي او همدارنګه په ځـانګړې توګـه د څـو تنـو شاعرانو په شاعرۍ کې له جنګ او جګړې څخه د کرکې څرکونه را واخلو او دا جوتـه کړو، چې شعر او شـاعري پـه ټولنـه کـې لـه مینـې او خلـوص نـه ډک ژونـد غـواړي، شاعران له ورانیو، یو د بل پر وړاندې له دربـدلو او دښـمنیو څخـه بېـزاره خلـک دي؛

همدا ده چې ادب د ټولنې د اوسېدونکو د معنوي روزنې په برخه ستره دنده او مسووليت ترسره کوي.

**د څېړنې پوښتنې:**

۱ـ جګړه پر ادبياتو څه اغېزې لري؟

۲ـ ادبيات د انسانانو په معنوي روزنه کې څومره رول لري؟

۳ـ د جګړو په له منځه وړلو کې د شعر او شاعرانو رول څه دی؟

**د څېړنې مېتود:** په دې څېړنيزه مقاله کې له تحليلي او پرتليز مېتود څخه کار اخيستل شوی دی.

**پښتو معاصر شعر:**

په ټولنيزو علومو کې د يوه څه لپاره د جامع، هر اړخيز او اصولي تعريف وړاندې کول ناشونی کار دی، ځکه د نظر هر خاوند کولای شي چې د خپلې پوهې او فکري وړتيا له مخې يې تعريف کړي. د دې ترڅنګ چې يو ټاکلی تعريف نه لرو؛ خو که ګېنو تعريفونو ته ځير شو، معناوې يې سره نږدې او ورته دي، خو توپير يې په الفاظو او کلمو کې تر سترګو کېږي. دلته موږ د شعر په پېژندنه ډېر بحث نه کوو، يوازې يې تعريف داسې را اخلو:

شعر د تخيل ښکلي انځور او په آهنګينه ژبه د احساس او انساني عاطفې لېږد ته وايي، يا په کره او آهنګينه ژبه د اند و واند يا خيال او فکر ولوليز يا عاطفي تړاو ته شعر وايي. (۱: ۴۴)

د شعر سرو کار له عواطفو، احساساتو او افکارو سره دی او د دې ترڅنګ شعر د يوه سالم فطرت او ضمير آواز دی. يو سالم ضمير او فطرت له ظلم، وحشت، وژنو او جګړو څخه کرکه لري.

**د پښتو د معاصر شعر پيل او پاينښت:**

په ادبياتو کې د ادبي دورو ټاکل او بېلول يو له ستونزمنو کارونو څخه دي، ځکه هر څېړونکی يې د بېلوالي او يو ځايوالي په اړه خپل ـ خپل دلايل لري. پوهاند عبدالحی حبيبي يو راز ټاکلې دي او پوهاند رښتين بيا بل ډول او کانديد اکاډميسين محمد صديق روهي بيا د بېلو اصولو او ميتودونو په رڼا کې ټاکلې دي.

د پښتو د معاصر شعر د پیل پـه اړه هـم نظریـات مختلـف دي. «د افغانسـتان معاصر پښتو شـعر» نـومي کتـاب کـې د پښـتو د معـاصر شـعر د پیـل پـه اړه د ځینـو څېړونکو او پوهانو نظریات را اخیستل شوي دي، چې دلته یې کټ مټ را اخلو:

اسـتاد حبیـب الله رفیـع وایـي: "د پښـتو معـاصر شـعر پـه افغانسـتان او لـره پښتونخوا کې پـه یـوه وخـت پیـل شـوی دی چـې هغـه د شـلمې پېـړۍ آغـاز دی. د شلمې پېړۍ له پیل سره په اولس کې د آزادۍ غورځنگونـه ډېرېـږي او د شـعر مخـه هم په همدې لوري کېږي. شاعران په دې وخت کې دوه گامونه پورته کوي، یـو گـام د زړو قالبونو ماتېدل دي، یعنـې قالبونـه چـې پښـتو شـعر تـه وضـعه شـوي وو، لکـه اولسي چاربیتې، بدلې، بگټۍ او نور صنفونه په کـې راځـي یـا لکـه عـربي قالبونـه، لکه غزل، قصیده، مثنوي او نور...

د دغو عنعنوي قالبونو په ماتېدلو سره شعر یوې نوې دورې تـه لاره پیـدا کـوي. دغه مهال چې د خیال او فکر د څرگندولو لپاره نوي قالبونه جوړېږي، په عین حـال کې د آزادۍ غوښتنې افکار هم شعر ته لاره پیدا کوي، دا تحریک د شلمې پېړۍ لـه پیـل څخـه شروع کېـږي چـې بـالاخره د افغانسـتان د آزادۍ پـه تـر لاسـه کولـو سره تمامېږي، تر دې وروسته په پښتو ژبه کې په غربي سبک ترانې جوړې شوې، مـثلاً د علیحضـرت امان الله خان د وخت یوه ترانه له ما سره شـته، چـې غـربي آهنـگ یـا د ترانو په چوکاټ کې جوړه شوې ده." (۲: ٦)

د دغـه (روښـانتیا) پېـر سر لارو شـاعرانو خپـل شـعرونه پـه سراج الاخبـار کـې خپرول. دا خبره سمه ده چې د دغه مهال ادبي برم د سراج الاخبار په هینداره کـې څرگندېږي او سراج الاخبار زیاته توجه پرمختگونـو، ریفورمونـو او د ذهنونـو روښـانولو ته کړې وه. له همدې کبلـه اکاډمیسـین روهـي د روښـانتیا د پـړاو نـوم ورکـړی دی. استاد روهي د روښانتیا د پړاو د ځانگړتیاوو پـه اړه لیکـي: "د شـلمې پېـړۍ پـه پیـل کې د افغانستان په ادبیاتو کې موډرنیزیشن په پراخه پیمانـه مـنعکس شـوی دی. د هغه وخت ادبي نوښتگرو په شعوري توگه هڅه کوله چې لـه ادبیـاتو څخـه د مـلي او دیموکراتیکو هدفونو د تحقق لپاره د یوې اغېزناکې وسـیلې پـه توگـه کـار واخـلي. د

پښتو د معاصر ادب د لومړي پړاو اکثره شعرونه هېواد پالنې ته وقف شوي دي او په اصطلاح (وطنيه) شعرونه دي، خو د فورم او بديعي ځانګړتيا له پلوه په هغو کې نيمګړتياوې ليدل کېږي.» (۲: ۷)

خو ډېر پوهان بيا پر دې باور دي چې په رښتينې معنا اوسمهالې هر اړخيزه هنري شاعري د ويښ زلميانو له غورځنګ سره تړاو لري، څېړنوال عبدالغفور لېوال يې په اړه وايي: «که د ادبي او هنري ارزښتونو له مخې وګورو او له دې نظره ورته وګورو چې د پښتو شعر اوسنۍ دوره څه وخت پيل شوې ده، بيا يې نو له سراج الاخبار څخه نه شو پيلولی. د سراج الاخبار پيل د التزام او تعهد له نظره خپل ارزښتونه لري چې د غلام محی الدين افغان، عبدالهادي داوي، عبدالعلي مستغني او نورو شاعرۍ کې تر سترګو کېږي. دا هغه شاعري ده چې تر ډېره د استقلال، خپلواکۍ، وطن دوستۍ، پرمختګ او ريفورمونو په اړه مضامين لري، خو د دغو شعرونو هغه هنري ارزښت چې موږ په شعر کې ورته قايل يوو، ډېر کمزوری دی چې موږ له داسې شاعرۍ څخه د يوې ادبي دورې پيل نه شو کولای، له همدې کبله پول تړو، استاد حبيبي او د هغه همزولي نسل ته.» (۲: ۲۱)

که څه هم د پښتو د معاصر شعر د پيل پر موضوع څه نا څه د نظرونو بېلوالی شته؛ خو بيا هم معاصر پښتو شعر له څو پړاوونو يا دورو څخه تېرېږي چې لومړی يې د روښانتيا پړاو دی، دوهم يې د ويښتيا پړاو دی. د يادولو وړ ده چې د ويښتيا دورې له پيل څخه شاوخوا درې لسيزې وروسته د پښتو ادب په آسمان کې داسې ګڼ ستوري وځلېدل چې را روانو لارويو ته يې د هنري يون لاره روښانه کړه. په دې ډله کې د محمد صديق پسرلي، سليمان لايق، عبدالشکور رشاد، عبدالباري جهاني، عبدالله بختاني، ډاکټر بهاءالدين مجروح، عبدالله غمخور، پوهاند محمد رحيم الهام، موسی شفيق، سعدالدين شپون، حبيب الله رفيع، ډاکټر مجاور احمد زيار ... او داسې نور شاعران شامل وو چې دې ته د ويښتيا پړاو د دوهم پېر نوم ورکړل شو، دريم يې د اوښتون پړاو، څلورم يې جهادي پړاو دی او پنځم يې د پيوستون پړاو د معاصر پېر روان پړاو دی. (۲: ۵۴)

پښتو معاصر شعر له پیل څخه ورځ تـر بلـې د غوړېـدا پـه حـال کـې دی او پـه ځانګړې توګه په وروستیو یا هم د پیوستون پړاو په معاصر روان پېر کې پښتو شاعري د سیمې او نړۍ په کچه لـه ځینـو مخکښـو ژبـو سره سیالي کـوي، چـې دلتـه بـه د پیوستون پړاو په معاصر روان پېر کې د ځینو شاعرانو په شاعرۍ له جګـړې څخـه پـه کرکه خبرې او بحث وکړو.

## جګړه او ادبيات:

جنګ او جګړې چې د یوې ټولنې آرامتیا او سکون لـه منځـه وړي او تـر دې ور ها خوا چې جګړه انساني ټولنې ته کـوم سـتر زیـان ور اړوي، هغـه دا چـې پـه کومـه ټولنه کې چې جنګ او جګړې روانې وي، هلتـه د خیـال او فکـر د مـنځ تـه راتـګ او ټوکېدل په ټپه درېږي، کله چې په کومه ټولنه کې خیال او اندېښه نه وي، نو بیا یې ځای تاوتریخوالی او تنګ نظري نیسي او بشري ټولنه په هره برخه کې له ستونزو او کړاوونو سره لاس او ګرېوان وي.

کانوې هندرسن وايي: «له ۳۵۰۰ ق م نه د ۲۰ مې میلادي پېړۍ تـر وروسـتیو پورې (۱۴۵۰۰) جګړې شوې دي، چې درې نـیم میلیـارده انسـانان پـه کـې وژل شوي او له منځه تللي دي.» (۵، وېبپاڼه)

دلته د یوې خبرې څرګندېدل په کار دي، هغه دا چې جګړه ډېر ډولونه لري او د پېښېدو لاملونه یې هم ګڼ دي او بشري تاریخ په خپلو پاڼو کې داسې بېلګـې هـم لري، چې هلته بیا جګړه یوه اړتیا ګڼل شوې ده. چېرې چې انساني کرامـت تـر پښـو لاندې شوی، انسانان د ظلم او تېري په ژرنده کې دل شـوي او د دوی نـاموس، سر، مال او وطن له خطر سره مخـامخ شـوي وي؛ پـه دې ډول حـالاتو کـې نـو بیـا جګـړه داسې وي، لکه انسان چې د خپلې روغتیا د ترلاسـه کولـو لپـاره د ډاکټـر او روغتـون چړو ته ځان سپاري، د درملـو تریخـوالی تحمـل کـوي او د پرهرونـو د رغېـدو لپـاره د ناروغۍ پر بستر د زحمت شپې او ورځې سبا کوي. شعر د احساساتو، عواطفو او درد په څپو کې را ټوکېږي، عبدالرحمن بابا وايي:

**دا دستور دی چې له درده زګیروي خېږي**

**کنه څه وو د رحمان له شاعریه**

که له يوې خوا شعر دردونه او نـاهيلۍ تلپـاتې کـوي، لـه بلـې خـوا بيـا د ژونـد خوږې او رنګينې شېبې هم يادګاري کوي. که داسـې ووايـو چـې شـعر او شـاعري د خوږو او ترخو احساساتو انځورونه او څرګندونه کـوي، خـبره د احساسـاتو او عواطفـو ده، کله داسې هم شوي دي، چې د يوه شاعر پـر پلرنـۍ مېنـه اور بـل شـوی او د ده خويندې او ميندې په زوره د خپلو کورونو پرېښودلو ته اړ شوې دي، يوه ظـالم او زبـر ځواک يـې د هېـواد پـر آزادي او خپلـواکي تېـری کـړی؛ نـو هغـه وخـت بيـا د شـاعر احساسات په څپو راغلي، د ذلت او خوارۍ له دې حالت نـه د وتلـو لپـاره يـې خپـل جذبات د شعر په ژبه وړاندې کړي دي، چې ښه بېلګه يې د ميوند د ملالې تـاريخي لنډۍ ده:

**که په ميوند کې شهيد نه شوې**
**خدايږو لاليه بې ننګۍ ته دې ساتينه**

کله چې په پورتنيو حالاتو کې د شاعر احساسـات لـه دغـو ترخـو شرايطـو نـه د وتلو په موخه په جوش راشي او د خپل وطن د خپلواکۍ پـه موخـه زلمـي د مبـارزې ډګر ته راغواړي، خو کله  چې بيا جګړه بې هدفه شي، ارزښتونه په پام کې ونه نيـول شي، ورور د ورور مرۍ پرې کړي، ملت په ډلو ټپلو ووېشل شي، د قومي، سيمه ييـزو او ژبنيو ډلو په نامه يو د بل پر وړاندې ودرېږي، هغـه وخـت بيـا لـه جنـګ جګـړو نـه وروسته همدا شاعرانه احساسات او عواطف دي، چې له جګړې نه په پاتې زيانونو او وحشتونو اوښکې څځوي، ساندې او مرثيې وايـي، د جګـړې لـه لاسـه پـه ورانـو شـوو کنډوالو او ورانيو د حسرت او ارمان ژړاګانې کوي او هغه کسان مخاطب کـوي، چـې جنګ غواړي او د اور بلولو ته لېواله وي. صاحب شاه صابر وايي:

**د سرو لمبو د غر غرو له شوره نه دي خبر**
**دا څوک چې جنګ غواړي د جنګ له زوره نه دي خبر**
**زما د کور د ورانولو په ارمان لېوني**
**د خپل ارمان د ورانېدونکي کوره نه دي خبر**
**دا خلک دومره د نفرت په ګناه مه ګرموه**
**دوی ته ګناه نشته صابره وروره نه دي خبر**

وايي چې ځمکه هغه سوځي چې اور پرې بل وي؛ نو دلته هم د هغو شاعرانو شعرونه را اخلو او خبرې پرې کوو، چې ويناوال يې د غرغرو او جګړو له زوره خبر دي، نومووړو شاعرانو ليدلي چې څنګه يې د جګړو له زوره پټمنې خويندې سر تورې شوې او د جګړې اور يې څنګه د وطن مادي او معنوي شتمنۍ لولپه کړې ده.

شاعر روح پالي، روزنه يې کوي، ټولنې ته خپل عيبونه ور په ګوته کوي په يوه ټولنه کې ژوند کوي او خپل مواد له ټولنې اخلي او بېرته يې ټولنې ته ورکوي، د ولس په درد دردمند او په غم يې شريک وي؛ کله چې يوه ټولنه د جنګ ـ جګړو په ترخو شپو او ورځو کې ژوند کوي، نو شاعر د يادې ټولنې د يوه حساس ضمير لرونکي کس په توګه هېڅکله هم بې تفاوته نه شي پاتې کېدی او تر ټولو وړاندې د وجدان سپېڅلی غږ اوچتوي، د خپل وطن دردمند حالت ته کړېږي. يو له دغو شاعرانو څخه مخلص او زړه سواند شاعر پير محمد کاروان دی.

«کاروان صاحب په ډېر لږ وخت کې د شعر د هنر پر دريځ ودرېد. د ده شعر او شعري کيفيات پر داسې يو پېر را وځلېدل چې زموږ ګران هېواد د اور او وينو له پېر نه بل پېر ته ولېږد او د تعهد يوه تشه رامنځ ته شوه، ډېرو ځوانو شاعرانو کښته او پورته د شعر په نامه شعارونه ورکړي وو، خو د خلا په دې پېر کې هغوی د ښکلا استازي ونه کړای شوه، خدای (ج) د هنر مينان ترې نه پرېږدي. دوی ته يې داسې يو سندربول هنرمند را وپنځاوه چې شعر يې لر و بر، دننه او بهر د پښتني زړونو د درد او ښکلا د ستيتيکي خوښونې د خړوبولو اوچت استعداد لري، ځکه خو نن د ده شعر کما حقه، متفق عليه مقبوليت ګټلی دی.» (۴: ۱٦٨)

کاروان د هغو شاعرانو له ډلې څخه دی چې کله د تاندې ځوانۍ پړاو ته رسېدلی، نو په وطن کې د جګړو لمبې هم ژبغړاندې شوې دي. د خپل سوله ييز کلي شپې او ماښامونه يې هم ښه په ياد دي او بيا يې هغه وخت هم ښه په زړه دی، چې د جګړې بلا يې کلي ته کډه راوړې او دې بلا يې د کلي راڼه او معصوم سهارونه ترې يرغمل کړي دي، هاغه ترخې شپې يې هم په خپلو سترګو ليدلي، چې د کلي چينارونه او نښتر يې د جنګ اژدها ته يواځې پرېښې وو او د هغو شپو خوبونه يې نيمګړي پاتې شوي، چې په هغو کې به يې د ښاپېريو امېلونه شکول او کله ناکله به د هغه ډنډ غاړې ته ورته، چېرې به چې ښاپېريو مستۍ او لامبوګانې کولې؛ د امن

او سولې د دنیا شهزاده کاروان به پټ ـ پټ ورغی، د ښاپېریو جامې به یې د خوب په نړۍ کې ترې نه پټې کړې او بیا به نو ښاپېریو زارۍ ورته کولې او په معصومانه لهجه به یې ورته ویل، چې موږ ستا هر امر په سر سترګو منو، خو هیله کوو جامې مو موږ ته وسپاره!

د ښاپیریو د وطن شاعر کاروان له سلګونو ناهیلیو سره خپل کلی او دیار د جګړې د تورې بلا له زور نه پرېږدي او له خپل ټاټوبي نه لرې د مجبوریت او کړاو ژوند پیلوي، د هجرت له ټاټوبي هر ورځ د خپلې مېنې او وطن حالات څاري، خو یو وخت داسې هم راځي چې د ناهیلۍ په سمندر کې لاهو کېږي، د پردیسۍ ژوند یې د زړه زور ترې اخلي، ورځپاڼې او مجلې ورته پردۍ او د دروغو تابلوګانې ښکاري، د رسنیو په یوه خبره هم باور نه کوي او له دې تریخ او ناقراره ژوند څخه د غره پر لور رهي کېږي، ډېر ستړی او ناقراره وي او وايي:

**هر اغزی رانه د وینو قلنګ غواړي**

**د تناکو په پښو کې مو سفر دی**

په پورتني بیت کې وینو چې اوږدې جګړې او ستړي ژوند د شاعر د رنځور زړه ځواک ترې اخیستی او د ستړي ژوند پر لاره هر اغزی لا هم ورځخه د وینو قلنګ غواړي، د جنګ توره بلا تر اوسه پورې لا نه ده مړه شوې او لا هم د تناکو په پښو کې له وینو او مرګ سره مل ژوند دی.

له دومره کړاوونو او ستړیاوو سره ـ سره د چینارونو او نښترو د سیمې شاعر کاروان شهکار کوي، خپل ولس ته د ژوند او پرمختګ یو نامې پیغام ورکوي:

**بې جرسه قافلې ته مو جرس کړ**

**مات مې زړه کې د ظالم د غشي سر دی**

شاعر په خپل زړه کې مات شوی غشی د اولس ویدو قافلو ته جرس کوي او غواړي  د ژوند په معرکه کې یې قافلې شاته پاتې نه شي. وايي:

**راشه د رحمت بارانه ښار اخیستی اور دی**

**ژوند لکه د کلي د چینار اخیستی اور دی**

د شاعر وطن او کلي اور اخیستی، په عاطفي او له درده ډک انداز کې د رحمت باران راغواړي، تر څو په خپلو مهربانه څپو د جگړې ژبغړانده لمبې خاموشه کړي، معصوم او سپېڅلی ژوند وژغوري.

په ورپسې بیت کې لاله زار سوځېدلو ته نه پرېږدي، د جگړې له اور څخه کرکه او خپل درد داسې بیانوي:

**راشئ زما اوښکې ورله یوسئ بلبلانو**

**سوځي درنه ښکلي لاله زار اخیستی اور دی**

شاعر جنگ او جگړې دومره بې وسه او کمزوری کړی چې نور یې په توان کې هېڅ نشته، خو بیا هم ځان کمزوری نه گڼي او د لاله زار د ژغورلو لپاره بلبلانو ته آواز کوي چې ژر کوئ راشئ، زما د اوښکو قېمتي مرغلرې ورته یوسئ او لاله زار د اور له لمبو څخه وژغورئ او مه پرېږدئ چې ښکلی لاله زار د جگړې په ناترسه او کرغېړنو لمبو کې درنه لولپه شي.

**له زړه نه راشي لکه سور د وینو خال څاځي**

**له سوري لاس نه مې د سپینې سولې سوال څاځي**

شاعران د نورو انسانانو په پرتله له جنگ او جگړو څخه ډېر ځورېږي. کاروان هم شاعرانه هیله او تمنا کوي، له زخمي او سوري لاس نه یې د سولې او امن سوال څاځي او غواړي د جنگ توره بلا یې له کلي او وطن څخه ورکه شي او دی د سولې او امن په جنتي فضا کې دنگو او لوړو چینارونو ته شاعري وکړي.

**خدایه دا بیا یې ده د کوم ستوري مرۍ پرې کړې**

**چې یو شفق وینې له تورې د هلال څاځي**

شفق او هلال په شاعرۍ کې له هغو سمبولونو څخه گڼل کېږي چې شاعران یې د مینې، محبت او سکون لپاره کاروي، خو کله چې د کاروان پر وطن د جگړې تورې بلا منگولې ښخې کړي، نو هغه هلال چې له کږو ورځو سره باید تشبیه شوی وای، نو دا د هلال له تورې نه را پیدا شوی شفق هم د وینو رنگ ورته ښکاري، له دې او نورو پورتنیو بیتونو څخه په ورایه ښکاري، چې شاعر څومره له جگړو ستړی شوی او له جنگ څخه څومره کرکه لري.

د معاصر شعر یو بل انځورگر لاروی عبدالغفور لېوال دی.

«د لېوال فن زموږ د هېواد د رواني تراژيدۍ په منځ کې غځوني کړي او د ده د هنر سرچينه د همدغه ناورين له زړه نه رانښلېدلي، ورو - ورو يې وده کړې، د وچ شعاريت پړاو يې ښځي نه دی ليدلی او سيده يې د هنر لار خپله کړې ده. لېوال لکه چې له لومړي سره د شعر او شعار پر توپير پوه شوی دی.» (۴: ۲۰۶)

لکه څنګه چې مو پورته ولوستل، لېوال د خپل ټاټوبي د جګړو غميزه د شعار په وچو او سپېرو ټکو نه بيانوي؛ بلکې د خپل اوچت شاعرانه استعداد پر مټ يې په لوړ هنري انداز له عواطفو او احساساتو سره مل د لوستونکو مخې ته ږدي. لېوال يو له هغو شاعرانو څخه دی، چې د جنګ او جګړو تراژيدي يې په خپلو سترګو ليدلې ده، په دې دردمندو او ترخو حالاتو کې يې ژوند کړی دی، چې دلته به يې د بېلګې په توګه د شاعرۍ ځينې هغه برخې را واخلو، چې له جنګ او جګړې څخه يې خپله کرکه په لوړه هنري بڼه په کې بيان کړې ده:

**څه مانۍ د نازولو شوې کوڅې د دروېزګرو**
**څه لوی ښار مو د حسينو جوړ مالت شو د سوالګرو**

شاعر ليدلي دي چې جګړې يې څه ډول ښکلې او دنګې مانۍ د سوالګرو په کوڅو بدلې کړې دي، د جنګ بلا يې د ښاپېريو لوی وطن د بېوزلو په مالت اړولی دی. دا جنګ دی چې د يوې ټولنې هرڅه د اور په لمبو لړه کوي. د جګړې نامراده لمبې دي، چې نازولې پېغلې سوال ته اړ باسي او همدا د جنګ توره بلا ده، چې د يوه هېواد علمي کادرونه او ځوانان ترېنه اخلي او کله چې ملتونه خپل شخصيتونه او شاه زلمي له لاسه ورکړي، نو دا بيا حتمي ده چې د يادو ملتونو عزتمندې تورسرې سوال ته لاس اوږدوي، چې بدبختانه اوږدې جګړې زموږ له هېواد او ملت سره همداسې وکړل.

**څه درنې درنې شملې مو شولې لېې د کپ سوال ته**
**غرونه غرونه لوپټې مو نن ګرو شوې په جوارګرو**

شاعر په خپله شاعرۍ کې د هغه وخت انځور وړاندې کوي، هلته چې درنې او دنګې شملې د يوه کپ د سوال ډوډۍ لپاره ټيټې شوې، هغه وخت کله چې د جګړې د تور ديو له لاسه د وطن علمي او فرهنګي شخصيتونه د غربت او بېوزلۍ په

حال د نورو په کوڅو او واټونو کې لالهانده او سرګرانه ګرځېدل. د هغو عزتمندو لوپټې له جوارګرو سره ګرو شوې چې چا یې پلو نه و لیدلی.

**هر زرګر مو آهنګر شو جوړوي په غبرګو لاسو**

**له نتکیو نه د ښکلو تور کچکول د قلندرو**

لېوال په ډېره شاعرانه توګه یو دردمند انځور وړاندې کوي. کله چې په یوه ټولنه کې امن وي، هلته مینه، محبت او سوکالي وي، له مینې نه په ډک ژوندانه کې زرګر د ښکلو او نازولو لپاره نتکۍ جوړوي، چې د اوسېدونکو ژوند ته د مینې او ښکلا رنګ ورکوي؛ خو د جنګ او درد په شپو او ورځو کې زرګر په آهنګرو بدلېږي، هغه زرګر چې د ښکلو لپاره به یې نتکۍ او غوړوالۍ جوړولې، په جګړو او غمونو کې بیا زرګر په آهنګر اوړي او د ښکلو له نتکیو څخه د قلندرو لپاره کچکولونه سازوي.

**زه بې وسه بې ګرېوانه، چېرې وساتم ستا اوښکې**

**رانه یوړې مرغلرې ها پردیو سوداګرو**

شاعر جنګ دومره ځپلی او بې وسه کړی چې د خپل محبوب د اوښکو د ساتلو لپاره ګرېوان هم نه لري، د جګړې لمبو هرڅه ترېنه تالا ترغۍ کړي دي؛ همدغو ترخو شپو ورځو د شاعر وطن او خلک دې حال ته رسولي، چې د پردیو د لاس غځولو لپاره هم امکانات برابر شوي او همدغو پردیو ترېنه مرغلرې وړې دي.

**کلی نه دی هدیره ده یو څو مړي په کې ګرځي**

**نه ګودر شته نه منګي شته نه کتار یې د دلبرو**

په پورته بیت کې، لېوال د جګړې ډېره لوړه انځورګري کوي او یوه دردوونکې صحنه وړاندې کوي. دا جنګ دی چې له ژوندیو انسانانو څخه مړي جوړوي، هغه ژوند له مرګ سره څخه توپیر لري؛ چېرې چې زړونه مات وي، د زنده ګۍ امېد نه وي، د جنګ له وېرې د سهار او ماښام فرق نه کېږي. جنګ د شاعر کلی او وطن په یوه هدیره بدل کړی دی چې یو څو مړي په کې ګرځي، نه د ګودر منظره شته، نه د منګیو قطارونه او نه هم د ښکلو او نازولو بنډارونه.

بحث د انځورګر شاعر اسحاق ننګيال په هغه دردمن شعر را ټولوو چې د جګړې او غمونو په اور کې د خپل کړېدلي ټاټوبي پيکه حالات په کې بيانوي او ظاهراً د ساده لفظونو پر وزرو درنې او ژورې معناوې لېږدوي.

**ښکاري ته!**

اې ښکاري اشنا! در ته سلام کوم
پرېږده چې دا سپينې مر غۍ والوزي
لاړې شي جوړې جوړې ګلونه شي
ښکلې شي ښايسته شي امېلونه شي
واخلي په وزرونو کې تنکي بچي
سپينې سرې مښوکې زرکني بچي
پام کوه!
پام کوه ماشې ته ګوتې مه ور وړه!

* * *

اې ښکاري اشنا! درته سلام کوم
پرېږده چې دا شنو جلګو کې وځغلي
پېغلې د هوسيو د دامان په لور
واړوي پيکي د شنه آسمان په لور
وخاندي راتاوې شي مستي وکړي
ورغړي نخرې وکړي خوښي وکړي
پام کوه!
پام کوه ماشې ته ګوتې مه ور وړه

* * *

اې ښکاري اشنا! درته سلام کوم
پرېږده د غنچو په لمن پرېوځي
زموږ د کلي باغ کې د سپرلي بلبل
زموږ د خمارونو شرابي بلبل
پرېږده چې په سرو مښوکو وبولي

زموږ د بام د پاسه د سپرلو سرود
بڼ ته د غوټیو د ښکالو سرود
ځمکې ته د وریځو بارانو سرود
پام کوه!
پام کوه ماشې ته گوتې مه ور وړه!
اې ښکاري آشنا! درته سلام کوم
گوره دا بې ژبې مرغان مه وله!
نه یې چې کوم ووړ بچی بې موره شي
ته هم گوره پلار یې او بچي لرې
پېغله لور ښایسته زوی گلالی لرې
درد لرې، ارزو لرې، زړگی لرې
نو!
اې ښکاري اشنا! درته سلام کوم
پام کوه ماشې ته گوتې مه ور وړه

**پایله:**

جگړه د یوې ټولنې هرڅه لـه خـاورو سره خـاورې کـوي، د یـوه اولـس معنـوي ارزښتونه له منځه وړي، د فکر او اندېښې پر وړاندې خنډ گرځي او د پرمختـگ مخـه نیسي. زموږ گران هېواد هم له څلورو لسیزو را په دې خوا لـه یـوې سـترې کـوونکې جگړې څخه ځورېږي او دا جگړه تـر اوسـه پـورې زمـوږ لـه خلکـو او وطـن څخـه غـچ اخلي.

کله چې د جگړې په سرو لمبو کې د یوه وطن هرڅه ایـرې کېـږي؛ نـو تـر ټولـو لومړی بیا د هماغې ټولنې درد ته با احساسه او دردمند کسان متوجه کېـږي، چـې د یادو دردمندو کسانو په سر کې شاعران قرار لري، لکه څنگه چې شاعران تـر ټولـو اول د خپل ټاټوبي ښکلاگانې په خپل شعر کې ستایي، نو همداسې یې په غمونو او ځورېدلو هم تر ټولو مخکې د درد او غم اوښـکي څڅـوي. جگـړه کـه لـه یـوې خـوا د انسانانو روح او روان متأثره کوي، بل لور ته فرهنـگ او ادب د ټـولنې د نـورو څـانگو په توگه ترېنه اغېزمن کېږي. موږ همدا اوس هم گورو چې جگړې ادبیـاتو تـه څـومره

زیان اړولی دی. همدغه جګړه وه چې د هېواد فرهنګي او ادبي مرکزونه په کې له منځه ولاړل او فرهنګي او ادبي شخصیتونه له خپل هېواد نه وتلو ته مجبور شول، ځینو یې همالته په پردېسۍ کې له نړۍ سترګې پټې کړې او ځینې نور یې لا هم له هېواد نه لرې ژوند کوي. شاعرانو که څه هم په خپلو شعرونو او شاعرۍ کې له جګړې ځخه کرکه ښرګنده کړې ده او د جګړې ناورینونو یې اولس او ټولنې ته د خیال، عاطفې او احساس سره مل ور په ګوته کړې دي، خو جګړې چې کوم زیان شاعرۍ ته رسولی دی، هغه دا چې شاعران تر ډېره له اوښکو او ویرونو سره پاتې شوي دي، جګړې دا فرصت تربنه اخیستی دی، چې شاعران خپله شاعري، پرمختګ، سوکالۍ او هوساینې ته ځانګړې کړي او یا هم خپل مسوولیت ادا کړي.

## مأخدونه:


۱- آشنا، عبدالباري. ادبیات، دوهم چاپ، ( --- ): ۱۳۸۹ل کال.

۲- سالک، مصطفی. د افغانستان معاصر پښتو شعر، کابل: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۷ل کال.

۳- کاروان، پیر محمد. چنار خبرې کوي، درېم چاپ، کابل: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۷ل کال.

۴- وفا، محمد داود. ستوري د ادب په اسمان کې، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۷۹ ل کال.

۵- http://insan.af/ ۱۳۹۷/۸/۱۱

**محمدطاهر شرر ساپی**

# د پیرمحمد کاروان په شعر کې د حواسو توافق

## لنډیز:

کله چې یو شاعر یا ویناوال په خپل کلام کې د دوو حواسو دندې یا ځانګړنې سره ګډې یا یو ځای کړي او یا د یو حس دنده بلې حس ته منسوب کړي؛ نو دا ډول صنعت ته په ادبیاتو کې د حس آمیزۍ یا د حواسو د توافق صنعت وایي.

د حس آمیزۍ صنعت د فرانسې له انقلاب څخه راپدېخوا په نړیوالو ادبیاتو کې رامنځته شو، چې بیا وروسته پښتو ادب ته یې لاره پیدا کړه، ډېرو شاعرانو په دې برخه کې خپل هنر وکارو او د شاعرۍ د موضوعي لمنې د پراختیا سره ـ سره یې په ښکلاییزه برخه کې هم ونډه واخیسته. یو په دې شاعرانو کې پیرمحمد کاروان هم دی.

نوموړی د پښتو د ژبې او ادب د اوسني پېر هغه شاعر دی چې په خپل کلام کې یې د ټولنې دردونه په ډېره هنرمندانه ډول وړاندې کړي دي او د تشبیهاتو، استعاراتو او نورو ادبي صنعتونو پر مټ یې د شعر لفظي او معنوي اړخونه ډېر غښتلي کړي دي چې پر اساس یې ټولنې ته په پېغام رسونه کې بریالی ښکاري. نوموړي له نورو ادبي صنعتونو سره، سره په خپله شاعرۍ کې د حواسو د توافق یا حس آمیزي صنعت هم کارولی دی.

## سریزه

د فرانسې له لوی انقلاب سره د بشر په ژوند کې تغییر راغی او دا بدلون نه یواځې دا چې په اقتصادي، ټولنیز او سیاسی برخه کې و، بلکې په ادبیاتو کې هم

رامنځ ته شو. نوي ادبي مکتبونه جوړ شول، په ادب کې نوي اصطلاحات او نوي ادبي صنعتونه رامنځته شول. که څه هم دغو ادبي صنعتونو په ژبه کې لرغونتیا لرله، خو وچپل شول او اصطلاحات ورته وټاکل شول. یو له دغه نویو ادبي صنعتونو څخه چې سیمبولیستانو کشف کړ، د حواسو توافق و. په دې مقاله کې د حواسو توافق/ حس آمیزي (Correspondence) په اړه څرګندونې شوې او ورپسې د پښتو ژبې د پیاوړي شاعر پیر محمد کاروان په شعر کې دغه توافق څېړل شوی دی.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت:

دا چې په پښتو ادب کې د حواسو توافق (حس آمیزي) ادبي صنعت تر ډېره څېړل شوی نه دی؛ نو د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په همدې کې دی چې دا ادبي صنعت وڅېړل شي او بله دا چې دا صنعت پیاوړي شاعر پیرمحمد کاروان په خپله شاعرۍ کې ډېر کارولی دی؛ نو ځکه د نوموړي په شاعرۍ کې تشریح شوی دی.

## د څېړنې هدف:

د دې مقالې موخه دا ده چې د پښتو ژبې لیکوالان او شاعران د حواسو توافق او د هغې ارزښت وپېژني، څو وکولی شي په اسانۍ خپلې پنځونې متنوعه کړي او شعري انځورونو ته خوځښت او حرکت ورکړي.

## د څېړنې پوښتنې:

په دې څېړنه کې لاندې پوښتنو ته ځواب ویلی شوی دی:

۱ـ په شعري انځور کې حواس څومره ونډه لري؟

۲- ایا ټول حواس د رتبې له مخې یو له بل سره ورته دي؟

۳ـ د حواسو توافق څه شی دی؟

۴ـ د حواسو توافق پر مجاز که پر استعارې ولاړ دی؟

۵ـ په پښتو ژبه کې د حواسو توافق هنر څومره مخینه لري؟

## د څېړنې مېتود

دغه لیکنه د تشریحي او مقایسوي مېتودونو په اساس مخته وړل شوې ده.

## د کاروان په شاعرۍ کې د حواسو همغږي

د ادبیاتو لمن پراخه ده او د شاعر خیال د ژبنیز قاموس په کلمو کې نه ځاییږي، نو شاعر د یار د سرو غومبورو لپاره گل ته، د اوربل لپاره شپې ته او د قد لپاره سروې ته لاس وغځوي او دغه کلمات استعاره کړي؛ خو په دې هم د شاعر د دروني نړۍ انځور سخت دی، نو اړ دی چې په خپلو خبرو، معانیو او تعبیرونو کې نوي ادبي او هنري تخنیکونه، په ژبه کې د پراختیا او تنوع په موخه وکاروي؛ ځکه چې عادي ژبه د ځینو مفاهیمو له تعبیرونو څخه ناتوانه ده. د شاعر خیال برید او پوله نه لري، نو په ژبنیز قاموس کې یې کنښلول ستونزمن کار دی، یوه له دغه ادبي او هنري تخنیکونو څخه د حواسو توافق، د حواسو گډوله، یا حس امیزي ده.

دا معاصره ادبي اصطلاح ده چې په انگلیسي کې correspondence بولي، په نړدې وختونو کې په اروپا کې وکارېدله. که په بشپړه توگه دې اصطلاح ته ځیر شو، نو سیمبولیزم او توافق له یوه اصله راوتلي دي چې هغه سیمبول دی. د حواسو توافق په حقیقت کې د یوې نوي خبرې لپاره نوې ساه او نوې معنا ده چې دا اصطلاح عربي او فارسي ته وژباړل شوه او په لسگونو کره کتونکو پرې لیکنې وکړې او د بلاغت په کتابونو کې عامه شو. بلاغت پوهان د استعارې د ماهیت او د حواسو د توافق د فرضیې په اړه بېلا بېل نظرونه لري، په فارسي ادب کې شفیعي کدکني ((صور خیال)) کې په پوره ځېرنه څېړلې ده او په استعاره کې یې شماري، ځکه چې د یوې حاسې صفات او افعال بلې حاسې ته انتقالیږي؛ خو مصری ادیب مجدي وهبه د حواسو توافق د مجاز یو ډول بولي او ترمنځ یې علاقه او اړیکه نفسیاتي په گوته کوي. دا چې په استعاره کې علاقه مشابهت دی او په مجاز کې په مشابهت نه ده ولاړه، خو د حواسو په توافق کې د رواني اغېز گډه اړیکه شته. هغه په دې باور دی چې د ناپاکه خوړو او ناولي غږ ترمنځ مشابهت نشته، خو د مخاطب په ذهن باندې یو شان اغېز کوي، په دې برخه کې تر ټولو غوره څېړنه د ابو ادیب ده؛ نوموړي د جرجاني او د لوېدیځوالو کره کتونکو او لیکوالانو نظرونه رااخیستي دي او بیا یې په غور څېړلي دي. که څه هم د استعارې بحث ډېر لرغونی دی، آن له یونانه تر لوېدیځه پورې پرې خبرې شوي دي. لوېدیځ لیکوالان وایي چې د حواسو

توافق د استعارې مهمه برخـه ده، پـه دې لیکوالـو کـې تـر ټولـو مشـهور یـې سـټفن اولمن دی، د استعارې په اړه د سټفن کتاب تر ټولو کره او منظم دی.

حواس هغه کړکۍ ده چې موږ پـرې بیرونـۍ نـړۍ وینـو، نـو د هـر ژونـدي شي لپاره حواس مهم دي، په تېره بیا د انسان لپاره له هر چا زیات ارزښـت لـري، څـو لـه بیروني نړۍ سره په اړیکه کې وي، اړتیا ده چې انسان د څیزونو له ښایست نه خوند واخلي. لکه څرنگه چې حاسې جلا دي، همدارنگـه یـوه حاسـه پـر بلـې د ښـکلا پـه برابرولو کې هم تفاوت لـري، نـو همـدا ده چـې د یـوې حاسـې پـر بلـې د غـوره والي قضیه مطرح کېږي. پوښتنه دا ده چې ایا ټولې حاسـې د ښـکلا پـه برابرولـو کـې یـو شان ونډه لري او ایا ټولې حاسې له یو یا څو هنرونو څخه یو شـان اغېزمنـې کېـږي، که نه یواځې سامعې او بصرې حاسې دغه ځانگړنه لري؟

د حواسو ترمنځ د غوره توب خبره لرغوني یوناني فلسفې تـه وځـي، سـقراط پـه خپلې لوړې هڅه کې د ښایست پـه اړه وایـي: «زه ټولـو خونـدونو تـه اشـاره نـه کـوم، یواځې هغه یادوم چـې د سـامعې او بـاصرې د حاسـو لـه لارې تـرې خونـد اخیسـتل کېږي». نوموړی د خپلې خبرې په دوام وایي: «که ووایو چـې خـواږه خونـد نـه لـري، بلکې ښایسته دي او بوی یې خوند راخپلوي، بلکې ښایسته دی». (۵: ۳۳۵ مخ)

همدا نظریه بیا افلاطون او ارسطو ته انتقال شوه، دوی وایي چې بـاصره رئیسـه حاسه ده، فارابي او کندي هـم لـه دوی نـه پـه تـاثر وایـي چـې د بـاصرې او سـامعې حاسه پر نورو غوره ده.

د دې حاسو د غوره توب دلیل دا دی چې موږ ټول فنون په سـترگو وینـو او پـه غوږونو یې اورو او دا ټول له احتکاک پرته ترسره کېږي، نورې حاسې له لمسولو پرتـه خپله دنده په سمه توگه سر ته رسولی نه شي.

که موږ د پښتو ژبې شعري نړۍ ته ورننوځو، نو پښتو شعر په هغو انځورونـو ډېـر ولاړ دی چې د باصرې پر مټ کښل کېږي، تر دې چې زموږ ړانده شـاعران هـم دغـه حاسه کاروي، یو ړوند شاعر وایي:

ډاکوگان گرځي دا د سرو زرو دکان وتړه
خلک دې غرق کړل د ظالم لورې گرېوان وتړه

ړوند دغه تمثیلي تشبیه د باصرې پر مټ نه، بلکې د خپل دروني احساس پر مټ کښلې ده او په خپله تشبیه کې بریالی هم دی، خو دا په دې معنا نه دی چې په پښتو شعر کې له نورو حاسو نه گټه اخیستل شوې نه ده. مورږ د نورو حاسو پر مټ بلاغي تصویرونه د پښتنو شاعرانو په بېلا بېلو شعرونو کې موندلی شو.

د درویش زهر زهر ژوند خو ستا په مخکې دی نن

خواړه د شونډو دې ور گډ کړه لږ او شات یې کړه ته

د شامې حاسې پر مټ جوړ شوی انځور به د رحمن بابا په دې بیت کې ولولو:

چې یې دلته باد پر زلفو برابر شي

په ختن کې شي ارزان قېمت د مشکو

خو ژبه دغه دوه حاسو (سامعې او باصرې) ته ورلنډه ده، انسان سندرې او غږونه اوري او پرې پوهېږي، لیکنو ته گوري او په معنا یې پوهیږي. ارسطو وایي چې د لیکلو لومړی هڅه هم فکر ته د حواسو راستنېدل وو، ځکه چې دا ورته لنډ و، نوموړی وایي: ((د لیک لومړی لاره له حواسو وه، که به مورږ تور سړی ولیده او بیا به ورک شو، د هغه یاد به زموږ سره پاتې کېده.)) دا چې دغه دوه حاسې ژبې ته نږدې دي، نو ژبې ته یې دا مجال ورکړی دی چې د دې دوه حاسو د نړۍ (مدرکاتو) کره او رښتونی تعبیر وکړي.

دا چې سامعه او باصره د ژبې دوه اساسي ستنې دي او له فکر سره مرسته کوي، نو د لفظي تعبیر لپاره ورته مرئیات تر نورو ښه تابع دي، ځکه چې زموږ په ورځني ژوند پورې تړلي دي.

**د حواسو ترتیب:**

انسان چې نړۍ ته راشي، نه څه پېژني او نه یې درک کولی شي؛ خو الله تعالی پرې د حواسو لوریښنه کړې او د دې پر مټ باندې شیزونه پېژني او درک کوي یې، نو لومړی غږ اوري او بیا شیزونهویني. د سامعې حاسه له باصرې مخکې ځکه ده چې ماشوم له پیدا کېدو سره سم غږ اوري. د باصرې حاسه کله ناکله خپله وظیفه پربېږدي، خو تېز غږ کولی شي چې انسان له خواږه خوبه راویښ کړي، ځکه خو هم په قران کریم کې د سامعې حاسه له باصرې مخکې یادیږي. مورږ د غږ مصدر په هر حالت کې اورو، خو شیان په هر حالت کې لیدلی نه شو.

خو دا چې د باصرې حس زموږ په خیال باندې بې کچې تاثیر لري، نو ځکه د لیکوال او شاعر په پنځونو کې ډېر کارېږي.

کاروان وايي:

غوږ غوږ ومه چې غلی غلی یار غږېده
په زړه کې مې نرۍ نرۍ ستار غږېده

**لامسه:**

د لامسې حاسه له باصرې او سامعې وروسته درجه لري، ځکه چې له باصرې سره مرسته کوي. موږ لومړی څېزونه وینو بیا یې د را اخیستلو کوښښ کوو. ابن رشد د لامسې په اړه وايي: ((لامسه هغه حاسه ده چې پر مټ یې حرارت، لوندوالی او وچوالی په لومړۍ درجه پېژنو او له دې څخه نور زېږېدلي کیفیتونه د دې په واسطه پېژنو.)) (۱: ۳ مخ).

په دې حاسې سره ژوي له خطرونو ځان ژغوري، په پوستکي کې د لمس د حاسې وېش د دې حاسې په اهمیت او ارزښت دلالت کوي، بیا دغه حاسه د وجود په بېلابېلو برخو کې د قوت او کمزورتیا پر بنسټ خوره ده، په هغه ځای کې ډېره ده چې د شیانو پر وړاندې ډېر کارول کېږي، لکه د گوتو څوکې او د ژبې اطراف. (۱: ۱۳ مخ)، نو شاعران هم په خپلو شعرونو کې د پوست، کلک او زیږ کلمې ډېرې کاروي چې دا د دې حاسې په اهمیت دلالت کوي.

کاروان وايي:

غاړه کې مې لاس یوسه چې روح لري او ساه لري
مړې مړې مرغلرې وړې پېیلې په تار څه مانا

درویش درانی وایي:

څه لره د یار په زلفو لاس وهي
وا درویشه مار د لوبو شی نه دی(۴: ؟ مخ)

**د شامې او ذائقې حواس:**

دا حواس له لامسې وروسته درجه لري. ابن رشد وایي: ((دا هغه قوه ده چې پر مټ یې موږ د بوی شوي شیانو پر معانیو پوهېږو، لکه خوږ بوی.)) د لوی فیلسوف

ابن رشد له راوړي مثال څخه څرګندیږي چې ذائقې او شامې حاسو ترمنځ یې اړیکه تړلې ده.

ابن رشد په خپل کتاب ((النفس)) کې وایي: «بوی ذایقې ته ورته دی، نو ذایقه له شامې نه کره او دقیقه ده؛ ځکه چې په ذایقه کې لمس دی او لمس په ټولو حاسو باندې دقیقه او کره حاسه ده، نورې حاسې په انسان کې له ځینو حیواناتو نه هم کمزورې دي، خو د لمس حاسه په انسان کې له ټولو حیواناتو کره او دقیقه ده.» طب دا کره کړې چې انسان کله په زکام اخته شي، نو د ذائقې حاسه یې کار پرېږدي، یا کمزورې کېږي او دا طبیعي ده چې د شامې او ذائقې ترمنځ اړیکه ده او همدا د ابن رشد او ارسطو وینا هم ده.

د مخلوقاتو ښکلا د باصرې پر مټ درک کوو، خو ښکلا سرکشه ده، باغي ده، خوند یې یواځې په لیدو نه تر سره کېږي، بلکې د لیدونکو په وجود کې د شاتو په څېر حرکت کوي. که موږ په یو چکر باندې لاړ شو، په ګلونو مو سترګې لګېږي، وږمې حس کوو، په شنو وښو باندې کېنو، خوراک څکو او پر پاڼو د نسیم د لګېدو غږ اورو؛ نو معلومیږي چې هره حاسه خپله دنده اجرا کوي؛ خو ځینې داسې مدرکات او ګډ محسوسات شته دي چې په کوم ځانګړي غړي یې نه شو درک کولی، بلکې یو پټ (ګډ حس) شته دی چې ټول حواس په کې راټولیږي او بیا د هغو محسوساتو د ادراک لپاره خپلې لارې بېلوي. د ګډ حس په اړه ارسطو وایي: «دا هغه محسوسات دي چې له یوې حاسې نه یې په زیاتو ادراک کېږي، ځکه چې ډېر صفتونه لري، لکه د سامعې او باصرې ترمنځ تعاون یا د باصرې او لامسې او یا هم د شامې او ذایقې ترمنځ تعاون او مرسته.»

د هرې حاسې لپاره خپل ځانګړي احساسات دي، نو د مختلفو خواصو ګډ محسوسات به څنګه درک کوو؟

په دې اړه ارسطو وایي: «دا ناشونې ده چې د ګډو محسوساتو لپاره د حاسې یو غړی پیدا کړو، بېلګه یې حرکت او سکون دی، شکل او مقدار دی، دا ټول موږ په حرکت پېژنو، موږ په حرکت مقدار پېژنو او شکل پېژنو؛ ځکه چې شکل یو مقدار دی او ساکن د حرکت په نه شتون پېژنو او عدد په اړیکه پېژنو، نو امکان نه لري چې د دې ګډو محسوساتو لپاره دې ځانګړې حاسه موجوده وي، نو په دې صورت کې یې

داسې پېژنو، لکه خوږ چې په سترګو پېژنو دا ادراک هله رامنځته کېږي چې په یو وخت کې موږ دوه محسوسه یو ځای احساس کړو، کله چې یو ځای وي، نو یو ځای یې پېژنو". همدا خبره لوی فیلسوف ابن رشد هم کوي، هغه وایي: "دا پنځه قوې چې موږ یادې کړې، دا په ټوله کې یوه ګډه قوه لري، دا په هغه صورت کې وي چې ګډ محسوسات درک کړو، که دې کې ټول راټول شوي وي، لکه حرکت او عدد او که دوه په کې وي، لکه شکل او مقدار چې په باصرې او لمس درک کېږي." (۳: ۹، ۹۴ مخونه)

نو یوه بله نفسیاتي قوه شته دی چې حواس یو له بل سره جمع کوي. اروپوه عربي عالم یوسف مراد وایي: "موږ ډېر ځله د خپلو پنځوګونو حواسو د مدرکاتو ترمنځ توپیر کوو او مختلط کوو یې نه، سپین رنګ د باصرې، د مرغۍ غږ د سامعې، د شاتو خوږوالی د ذائقې، د ګلونو وږمې د شامې، د وربښمو نرموالی د لامسې د حس مدرکات دي، که د مدرکاتو په حسي اړخ تکیا وکړو، نو دا ټول سم دي، خو که نفسیاتي یا اروایي اړخ ته یې وګورو، نو بیا خبره بدله ده.." (۸: ٦۲ مخ)

جرجاني وایي، د یوه متن ښکلا یواځې په لفظ او معنا کې نه ده، بلکې نظم هغه ژبنیز قانون دی چې د هر متن د ښکلا تر شا ولاړ دی. د جرجاني د نظم نظریې پر بنسټ موږ ته د حواسو د توافق اهمیت په ډاګه کېږي. شعر چې کومه معنا وړاندې کوي، نو په نورو صیغو یې تعبیر سختیږي. دا چې د شعر دنده له یوه نفس نه بل نفس ته د یوې تجربې د اثر انتقال دی، دا چې ځینې مدرکات کولی شي ذاتي پېښې بل مدرک ته انتقال کړي، نو طبیعي ده چې شاعر هم د یوې حاسې مدرکات نورو حاسو ته استعاره کوي، شاعر نغمو ته نظر، غږ ته رڼا او بوی ته رنګونو انتقالوي، دعوه لري چې همدا حقیقت دی او په همدې باور دی، دا کوم تشبیهات او شکلي ورته والی نه دی، نوي ترکیبونه زېږي، شعر ته د تعبیر نوی ځواک ورکوي، ژبه پراخیږي او د شیانو ترمنځ اړیکې هم پراخیږي.

بودلیر وایي: "کره هنرمند او شاعر یې داسې انځوروي، څنګه چې یې وینې او احساسوي یې، باید خپل طبیعت سره وفا وکړي او باید له دې ځان وژغوري چې د بل لیکوال سترګې استعاره کړي، که هغه هر څومره لوی وي، که یې داسې وکړل، نو پنځونه به یې بېخونده وي." (۲: ۳۹۲ مخ)

**د حواسو توافق:**

بشري نفس له متناقضاتو ډک لوښی دی، خواشیني، خوښي، مینه، نفرت، رښتیا، دروغ او داسې نور هغه متناقضات دي چې ډېر پېچلي نفسیاتي حالت او متنافر انفعالات لري؛ خو د دې تر څنګ بېلابېلو تعبیرونو ته اړتیا لري څو انسان یو سکون ته ورسیږي، مشاعر او احساسات تړلي پاتې کېدی نه شي، باید ازاد شي، که تړلي پاتې شي، نفسیاتي ناروغۍ رازېږوي، نو دا به څنګه ازادیږي؟ او څه ډول به تعبیریږي؟ د شاعر نفس یو بشري نفس دی؛ نو د حواسو له توافق پرته بله ښکلې او اسانه لاره نه شته. شاعر ویني چې په داخل کې یې داسې څه دي چې څرګندول یې غواړي، دا څرګندول باید رښتوني وي، داسې چې د ده په ذهن کې تمثیل شوي، نو باید هغسې یې ووایي چې څنګه یې احساسوي، مشاعر او حواس د شعور په بڼه کې ویلې کېږي، د ټولو حواسو ترمنځ توپیر ورکېږي، تر دې چې یوه حاسه د نورو حاسو دنده پرغاړه اخلي، مزي ځیزونه بوی کوي، اورېدول شوي ځیزونه ځکي....نو شاعر تر رواني اغېزو لاندې راځي.

همدا دا ده چې سیمبولیستانو په سبک کې د حواسو توافق ډېر تر سترګو کېږي، که څه هم محمد غنیمي هلال وايي چې سیمبولیستانو ټول رمزي وسائل نه دي کشف کړي، بلکې دا په ژبه کې پراته و، دوی راټول کړل، ور زیات یې کړل، فلسفي رنګ یې ورکړ... خو په پښتو ژبه کې د حواسو د توافق مخینه لرغونې ده چې د شعور له ژورو رازېږېدلې ده.

په پښتو ژبه خدای پاک دا لوریېنه کړې ده چې هره ادبي اصطلاح یې په ژبنیز قاموس او ورځنۍ ژبه کې پرېمانه شته دي. د حواسو توافق هم په ژبه کې داسې اغړل شوی چې له حقیقت سره یې توپیر نه کېږي. موږ وایو چې خوږ غږ دی، خوږ بوی دی، غمګین ماښام دی. دا کلمات په ژبه کې د ډېرې کارېدنې له امله موږ ته حقیقت ښکاري؛ خو د شفیعي کدکنې په خبره، د استعارې او د وهبه په وینا د مجاز یو ډول دی. موږ خواږه او تراخه د ذائقې په حاسه باندې پېژنو او غږ د سامعې په حاسې باندې درک کوو، نو دلته د سامعې حاسې پر ځای د ذائقې حاسه وکارول شوه، په خوږ بوی کې مو د شامې پر ځای د ذائقې حس وکاراوه. اوس که موږ په

همدې ترتیب یوه حاسه د بلې پرځای وکاروو، دې ته د حواسو توافق وايي، په پښتو کې دا هنر زیات کارول شوی دی.

د پښتو ژبې یوه لرغونې ټپه ده چې:

سپوږمیه کړنګ وهه راخیژه

یار مې د گلو لو کوي گوتې ریببنه

سپوږمۍ په سترګو لیدل کېږي او هیڅ غږ نه لري، شاعر په ټپه کې سپوږمۍ ته د کړنګ صفت ور اضافه کړی دی او د سامعې حس لـه مدرکاتو څخه یې غږ راوړی دی. شاعر ویلي شول چې سپوږمیه ځار دې شم راخېژه، لـه سپوږمۍ ځاربدل او د ګوتو رېبلو ترمنځ یو تلازم هم شته؛ خو د سپوږمیه کړنګ وهه په څېر ښکلا نه لري. د بودلیر په وینا، شاعر باید هغه څه ووايي چې دی یې حس کوي، د شاعر په نفس کې یو لوی نفسیاتي کشمکش روان دی، شپه ده، یار یې لو کوي، رڼا نشته، هره شېبه چې لور اچوي د دې زړه ورسره درزېږي چې اوس به لاس پرې کوي، نور یې صبر تمامیږي او غږ کوي چې سپوږمیه کړنګ وهه. لمر او سپوږمۍ په طبیعي ډول اهسته اهسته راخېژي او کړنګ ناځاپي وي. مور په ورځنۍ ژبینز قاموس کې هم وایو یو کړنګ شو، یعنې ناڅاپه غږ شو، نو د شاعر له نفسیاتي حالت سره د کړنګ کلمه مناسبه راغلې ده، ځکه چې د سپوږمۍ راختلو ته یې بېړه ده او په کړنګ کې دغه مفهوم څرګند دی.

په پښتو شعر کې له نورو شاعرانو څخه د کاروان په شعر کې د حواسو توفق زیات لیدل کېږي، کاروان وايي:

ستا وړې وړې خبرې مې خوراک دي

شین طوطي یمه شکرې مې خوراک دي

په دې بیت کې د سامعې حس پر ځای د ذائقې حس کارول شوی دی. خبرې په غوږونو اورېدل کېږي، خوړل کېږي نه، خوړل یې د ذائقې پر حاسې پورې تړلې ده. که شاعر داسې ویلي وای چې ستا وړې وړې خبرې مې یادیږي، یعنې ستا د خبرو غږ مې یادیږي، نو شعر به بشپړ و؛ خو کومه هېښتیا چې د خبرو په خوراک کې پرته ده، په اورېدا کې نه شته. په ادبیاتو کې یوه لرغونې مقوله ډېره مشهوره ده چې وایي: ((اکذبه اعذبه))، تر ټولو زیات دروغجنه وینا یې تر ټولو زیاته

خوږه ده. دلته له دروغو نه موخه د حقیقت خلاف عمل او ویل نه دي. انسان تل له تکراري او سولېدلو خبرو نه ستړی کېږي او یا ورته کوم ارزښت او پاملرنه نه کوي، نـو تل هڅه کوي چې نوې خبره وکړي او که نوې نه شي کولی، نو زړه خبره دې په نوي انداز کې وکړي. که فرض کړو چې په یوه کوټه کې استاد په خوځنده چـوکۍ د مېـز تر شا ناست دی، کتابونه یې سر په سر پر مېز ایښي دي، په سپینه تخته یې لیکلي، د حواسو توافق... دا یوه انځوریزه جمله ده چې زموږ په مـخ راگرځونـه کـې د پـام وړ کومک نه شي کولی، خو که موږ په یو مجلس کې ناست یو او یو تن ناڅاپه غږ کـړي چــې کتـاب وزرې وکـړې او والـوت، د مجلـس ټـول وگـړي بـه هـېښ کـړي، د خـبرو خوراک همداسې یو کیفیت لري. کاروان په یو بل بیت کې وایي:

ستا په خبرو کې خبرې شته سندرې نه شته
خوند د باروتو په کې زیات دی خو شکرې نه شته

په دې بیت کې یې د شامې حس پر ځای د ذائقې حاسـه راوړې ده، دلتـه لـه شکرې سره په تناسب د ذائقې حس یاد شـوی دی؛ کـه نـه بـاروت پـه بـوی پېژنـدل کېږي، نه په خوند. که شاعر د خوند پـر ځـای بـوی راوړی وای، نـو هغـه خونـد چـې اوس په خوند کې شته، په بوی کې به نه و، ځکه چې په گاونډ کې یـې شـکره هـم د ذائقې پر حس پېژندل کېږي.

**د باصرې د حس پر ځای د لامسې حس کارول:**

کاروان وایي:

کلي ته راشه سره او شنه گلان د غره واغونده
بمونه مه اغونده ترې یو اوبه واغونده
راځه چې اوښکې سره وپیو په تار د موسکا
دغه رنگین غونډې ارمان زما د زړه واغونده
ها چې ژوندون یې د ورغوي په تپاکو سور دی
ټکور ټکور یې کړه دردونه د هغه واغونده
د خویندو میندو سترگې تورې کړه دعا یې واخله
سپینه گلابه د کاروان د خیال رانجه واغونده

شاعر په دې غزل کې د حواسو توافق په ډېره هـنرې ژبـه کـارولی دی، پـه دې کې به دوه راسره اختلاف ونه لرې چې گلونه لیدل کېږي او خوند یې پـه لیـدلو کـې دی. شاعر څه شي اړ کړی چې گلان اغوندې؟ ایـا دا بـه منطقـي وي چـې گـل دې واغوستل شي؟ د شاعر په زړه کـې لـه گلانـو سره مینـه دومـره زیاتـه ده چـې غـواړي جامې ترې وکړي، که یې داسې ویلي وای:

کلي ته راشه سره او شنه گلان د غره ووینه

بمونه مه اغونده ترې یو اوبه ووینه

ایا دغه پورتنی خوند او لذت به په کې پاتې شوی و، هیڅ سـلیم ذوق بـه راسره دا ونه مني چې دغه دوه بیتونه دې د ښکلا او خوند له مخې یو شي وي. دغو بیتونو ته چې خوند او ښکلا ورکړې، یواځې او یواځې د حواسو توافق ورکړې ده، کـه نـه یـو چاته د گلونو د لیدلو دعوت هیڅ هنري ارزښت نه لري، دا هغه عامه معما ده چې په لارو او کوڅه کې پرته ده چې شاعر او غیر شاعر متمدن او غیر متمدن یـې یـو شـان پېژني.

په دوهم بیت کې وایي:

راځه چې اوښکې سره وپیو په تار د موسکا

دغه رنگین غوندې ارمان زما د زړه واغونده

په دې بیت کې شاعر د ارمان د اغوستو خبره کړې، ارمان نـه اغوسـتل کېـږي، ارمان معنوي شی چې په ژبه ترې تعبیر کېږي، خو شـاعر یـې اغونـدي او ښـکلا یـې همدې اغوستلو زېږولې ده.

همدارنگه په پاتې بیتونو کې هـم عـین توافـق یـاد شـوی دی، چـې د شـعر پـه نوښت او ښکلا کې یې مهم رول لوبولی دی.

**د باصرې د حاسې پر ځای د سامعې حاسه کارول:**

کاروان وایي:

په کې راټوله ټوله تا اورم

زه مې د خپل زړگي درزا اورم

کاروان د خپل زړه په درزا کې خپله معشوقهويني، خو د ليدو پر ځای د اورېدو حاسه کاروي، ځکه چې د زړه درزا اورېدل کېږي، بلکې ليدل کېږي نه، نو د زړه د درزا په تلازم د معشوقې اورېدل مناسب او پر ځای کارول شوی دی.

کاروان چې ټوله موده يې د ستورو رڼا ليدلې، نن د ستورو رڼا اوري، نو وايي:

ها پورې ستورې په خندا کې پټ دی

چوپې نارې يې د رڼا اورم

موسکا غږ نه لري په سترګو يې ادراک کېږي، خو کاروان د خپل يار په مينه کې دومره ډوب دی چې ان د هغه د مړو شونډو موسکا اوري:

دا چا په زړه باندې مې لاس ايښی دی

د چا د مړو شونډو موسکا اورم

**پايله:**

د حواسو توافق په ژبه کې لرغونې ريښې لري، خو د لومړي ځل لپاره دا ادبي صنعت د فرانسي له لوی انقلاب وروسته سيمبوليستانو کشف کړ. د حواسو توافق هغه هنر ته ويل کېږي چې شاعر يوه حاسه بلې ته استعاره کړې وي. د حواسو توافق په شعر کې خورا ارزښت او اهميت لري، شعر ته نوی رنګ او خوځښت ورکوي، د حواسو توافق په هنر کې هېښتيا پرته ده چې ډېر ژر د مخاطب پام راړوي.

په پښتو ژبه کې د پيرمحمد کاروان په شعر کې د حواسو توافق د نورو شاعرانو په نسبت زيات دی، په کومو بيتونو کې چې د حواسو توافق راغلی، په ډېره هنري بڼه ياد شوی دی.

**مأخذونه:**


۱ـ ابن رشد، أبوالوليد، تلخيص کتاب النفس، دار المعارف، القاهره.

۲ـ أحمد، محمدفتوح : الرمز و الرمزية في الشعرالمعاصر، ط۲ ، دارالمعارف، القاهرة،۱۹۷۸ ، ص۳۹۲ .

٣ــ أرسـطوطاليس، كتـاب النفس،ترجمـة أحمـد فـؤاد الأهـواني داراحياءالكتب المصرية

۴ـ درانی، درويش. په كاڼو كې هينداره

۵ـ ستولينتز، جيروم : النقد الفني، دراسةجمالية وفلسفية،ترجمة : فؤاد زكريا، النشر المصريةالعامة للكتاب، ط٢،.١٩٨١

٦ـ كاروان، پيرمحمد، چنار خبرې كوي، دانش خپرندويه ټولنه

٧ـ كاروان، پيرمحمد، زرزري وزرې.

٨ـ مراد، يوسف :مبادئ علم النفس العام. دار المعارف القاهره

٩ــ هـلال، محمـد غنيمــي : النقـد الأدبي الحـديث، دارالعـودة، بيروت،١٩٧٨

څېړندوی ډاکټر نظام الدين کټوازی

# د ژبپوهنې او ادبپوهنې مسئلې

## لنډيز :

په دې ليکنه کې په ادبپوهنه باندې د پوهېدلو په پار اړين او اساسي ژبپوهنيز مفهومونه توضيح شوي. اساسي فرضيه دا ده چې ادبيات د معنا د لېږد او ايجاد يو ځانګړی سيستم دی. د نوې ژبپوهنې له مخې ژبه د افکارو د تبادلې د نورو سيستمونو په څېر د معنا د لېږد لپاره له سيمبولونو څخه کار اخلي. له دې امله د علايمو د پوهنې (Semiotik/ Semiotic) اساسي مفهونه د ژبنيو متنونو د پوهېدو او تحليل لپاره يو بنسټ جوړوي. دغه څېړندود د ادبياتو مادي اړخ يعنې ژبنۍ جوړښت او د معنا د ايجاد او د لېږد په پروسه کې د هغه نقش ته اشاره کوي. نوی ژبپوهنيز څېړندود به په پښتو ادبي څېړنو کې يوه نوی ليد لوري ته لار پرانيزي.

## سريزه:

په ادبپوهنه د پوهېدو لپاره دې ته اړ کېږو چې د ژبې او ژبپوهنې بنسټيز اصول او قواعد په لنډ ډول له نظره تېر کړو. دا ليکنه يوه ناڅېزه هڅه ده چې په پښتو ادبياتو کې د ژبپوهنې د بنسټيزو مقولو د يادونې په مټ د ادبي تفکر يو نوی ډول تر بحث لاندې نيسي. په دې ليکنه کې ژبپوهنيزې مقولې تر هغه برېده د يادولو وړ بولو چې د نوي ادبي تفکر په روښانه کولو کې مرستندويه وبرېښي. له دې امله د ژبپوهنې د ترمونو او بنسټونو توضيح د دې ليکنې اصلي موخه نه جوړوي. يواځې د ژبپوهنې په اساسي مفهومونو تمرکز کېږي او هدف دا دی چې په سيستماتيک ډول او پوړ په پوړ د ادبپوهنې يو نوی سره تړلي او نوميرلي مفهوم ته ورسېږو. په دې ډول به له يوې خوا د ادبپوهنې او ژبپوهنې په منځ کې تړاو تر يوې

اندازې روښانه شي او له بلې خوا زه فکر کوم، د نوو ژبپوهنيزو ترمونو له توضيح سره داسې بنسټ ايجادېږي چې ادبيات له مرموزو، ايډيالوژيکي او اروا پوهنيزو تعبيرونو څخه وژغورو او د هغو په مادي اړخ يعنې ژبنيز جوړښت باندې زور واچوو. د دې څېړندود له مخې ادبيات يو ژبنی ځانګړی جوړښت دی چې ځانته خپل قواعد لري.

**د څېړنې اهميت او مبرميت:**

دا چې د ادبيات پرته له ژبپوهنې يو له بل سره لازم او ملزم دي او د ژبې له ګرامري قواعدو او سيمبولونو استعمال پرته ادبي متونو بشپړ مطالب رسولی نه شي؛ نو په دې مقاله کې د ادبپوهنې او ژبپوهنې تر منځ ارتباط او د ادبي مفاهيمو په لېږد کې د ژبپوهنې په ځينو اصولو رڼا اچول شوی ده چې دا د دې څېړنې اهميت او مبرميت څرګندوي.

**د څېړنې موخه:**

له دې څېړنې څخه موخه داده چې موږ په ادبي متونو کې او مفاهيمو کې د ژبپوهنې په نوو معيارونو پوه شو او هغه ژبنيز اصول او قواعد چې په ادبي ليکنو او متون کې يې کارول اړين دي، په سمه توګه وکاروو.

**د څېړنې پوښتنې:**

۱ـ د ادبپوهنې او ژبپوهنې ترمنځ اړيکه څه ده؟

۲ـ په يوه ژبه کې کلمې څنګه پراختيا پيدا کوي؟

۳ـ ژبنۍ نښې څنګه جوړښت لري او څنګه معنا لېږدوي؟

**د څېړنې مېتود:**

په دې څېړنيزه مقاله کې له تشريحي مېتود څخه کار اخيستل شوی دی.

**اصلي متن:**

په دې لړ کې، د تېرې پېړۍ په نيمايي کې د لوېديځې نړۍ په ادبياتو کې د ادبپوهنې او ژبپوهنې په اړه نوی طرز فکر، نوی څېړندود معرفي شوي. دغه څېړندود د ادبپوهنې او ژبپوهنې د مسئلو، موضوع ګانو او څېړندودونو تر منځ د اړيکو پر بنسټ ولاړ دی. په دې ترځ کې د لوېديځو هېوادونو په ادبياتو کې د ادبي ژبپوهنې (Literaturlinguistik/ Literature - linguistic) اصطلاح را منځ ته

شوه. ادبي ژبپوهنه په دې هېوادونو کې د يوه ډسپلين پـه څېـر د علمـي موسساتو پوهانو او سيمينارونو لپاره د څېړنې او بحث يوه په زړه پورې موضـوع گرځېـدلې ده. د بېلگې په ډول، په المان کې د گيسن د پوهنتون لـه خـوا لـه ۱۹۷۱ ز کـال څخـه دې موضوع ته يوه درې مياشـتنۍ مجلـه ځـانگړې شـوې. دغـه مجلـه د ادبپـوهنې او ژبپـوهنې (Literaturwiseenscharft und Linguistik ,LiLi) پـه نـوم خپرېږي. مجلـه د خپلـو موخـو پـه اړه ليکـي: "لي لي، لـه ۱۹۷۱ څخـه راهيسـې د ادبپـوهنې او ژبپـوهنې پـه مـنځ کـې د مفهومونـو او علمـي پېژنـدنو پروگـرام پـه مـخ بيايي... او تاريخي او تيوريکي څېړنې سره يو ځای کوي.)) مجلـه د ((لابراتـوار)) تـر سرليک لاندې رديف کـې د ادبي او علمـي نـوو موضـوعاتو پـه اړه خـاکې، طرحـې او مسئلې خپروي. (۱: ريسرچر گېټ وېبپاڼه)

د دې اصطلاح مطلب دا نه دی چې ادبيات د ژبپوهنې لپاره د څېړنې موضـوع وگرځوي، بلکې د دواړو مستقلو علومـو پـه برابـر اهميـت ټينگـار کـوي او پورتـه يـاده شوې موضوع تر څېړنې لاندې نيسي. دغه څېړندود د ژبنيو علومـو پـه کتنـه کـې يـو نوی بعد پرانيستی او مرکزي ټکی يې دا دی چې هر متن يو فزيکي جوړښت لـري او د معنا پوهنې او گرامري قواعدو لـه مخـې د سره تړلـو او پېچلـو ژبنيـو سـيمبولونو يـا نښو يوه ټولگه ده.

## د ژبې معرفتي اړخ:

د ټولنيز موجود په حيث، انسان له نورو سره د پوهېدو او پوهـاوي پـه مقصـد د افکارو تبادلې، مکالمې او مراودې ته اړ دی. ژبه هغه وسيله ده چې د انسان په ژوند کې د افکارو او پيغامونو د تبادلې دغه اړتيا پوره کوي.

څنگه چې ژبه د هغې د ويوونکو له فکر او ذهن سره تعلـق لـري، نـو د ژبـې پـه ماهيت د پوهېدو لپاره ناچار يو د ژبې د ويوونکو د مفـاهيمو او خيـالي نـړۍ تـه نظـر واچـوو چـې پـه ژبـه کـې کاريـدونکي سـيمبولونه يـې څرگنـدويي کـوي. (۲: لېـنس وېبپاڼه)

انسان د خپلو تجربو او مشاهدې له لارې له نورو سره د گډ ژونـد او تعامـل پـه ترڅ کې تصورات او مفاهيم جوړوي. مفهوم کېـدای شي يـوه فکـري واحـد تـه اشـاره

وي، د بېلګې په ډول موږ د ((ونې)) په اړه څه تصور لرو یا کېدای شي د څو ذهني واحدونو یوه ټولګه ترسیم کړي. دغه مفهومونه په کټګوریو وېشل کېږي څو یې په پوهېدلو او پوهولو کې اسانتیا رامنځ ته شي او په ذهني کټګوریو بدلې شي. د دغو مفهومونو یوه لویه ټولګه د ژبنیو کټګوریو لپاره یو بنسټ برابروي. ذهني کټګورۍ چې په ژبنیو کلمو کې ځای ونیسي په دې ذریعه د څرګندېدلو وړتیا پیدا کوي او په ژبنیو مقولو بدلېږي. فکر یا مفهوم په ژبه کې قالبونه جوړوي. د بېلګې په ډول کله موږ د ((مېوې)) کلمه راوړو، ذهن ته مو د مېوې بېلا بېل ډولونه راځي؛ خو په عین وخت کې نور څېزونه لکه سابه یا د څښاک ډولونه له دغې ډلې څخه باسو. د دې ذهني عملیې په مټ په حقیقت کې موږ د واقعي بهرنۍ نړۍ بېلا بېل جنسونه، حالات او کیفیتونه د ذهني منسجم کوونکې قوې په مټ ډلبندي کوو، څو یې پېژندل راته اسان شي. دغه ډول ډلبندي شوي څېزونه ذهني کټګوري جوړوي. د دغو کټګوریو په مرسته موږ بېلابېل څېزونه د مشابهت د اصل پر بنسټ په یوه ټولګه کې راغونډوو. دلته د دې حقیقت یادونه ضروري ده چې له بهرني واقعي نړۍ څخه زموږ برداشت یو ډول نه وي. یو شی ښایي موږ په یو ډول درک کړو او په یوه بل کلتور کې د هغه شي په اړه یو بېل تصور موجود وي. ژبنۍ نښې چې د ذهني کټګوریو منعکس کوونکې دي هم په همدې ډول د تصوراتو او فکرونو دغه بېلوالی په ژبه کې څرګندوي. باید هېر نه کړو چې ذهني کټګورۍ او نومونې د یوه کلتور په تاریخي ـ فرهنګي بستر کې له نورو سره یو ځای رامنځته کېږي او په پایله کې له واقعي نړۍ څخه د یو خپل منځي ادراک (intersubjektiv/ intersubjective) بڼه اختیاروي. ژبنۍ مقولې په ټوله کې هغه ذهني کټګورۍ منعکسوي چې موږ یې په واقعي نړۍ کې له مشترکو تجربو څخه خپلې کړې وي.

ذهني مقولې یواځې په ژبنیو سیمبولونو کې نه اظهارېږي، بلکې په ګرامري ډلبندیو کې هم څرکندیږي. دغه ډول کټګورۍ د ژبنیو توکو لپاره یوه اډانه جوړوي. د بېلګې په ډول ګرامري مورفیمونه چې له فعلي یا اسمي ستې سره نښلي، په حقیقت کې ذهني کټګورۍ جوړوي. د دغو کټګوریو په مټ د ویوونکي او د هغه شي تر منځ چې ویوونکی پرې غږیږي، اړیکې څرګندیږي. د ګرامري کټګوریو په

مرسته ویوونکي جنسونه او حالتونه له خپله نظره د خپلي خیالي نړۍ له جنسونو او حالتونو سره په اړیکه کې ویني او ورسره د اوړېدونکو اند او پوهه رانغاړي. دغه ژبنۍ کټګورۍ د ذهني کټګوریو انعکاس دی چې د څېزونو او حالتونو په یوې لویې ډلې اطلاق کوي او د یوې ژبې ویوونکي یې د غړو په څېر د خپلمنځې تجربو په ترڅ کې په مشترک ډول مني او خپلوي یې. د ذهني مفهومونو دغه ډول ډلبندي له موږ سره مرسته کوي چې واقعي نړۍ په ټوله پېچلتیا سره وپېژنو. مګر ژبه څنګه دغه چار تر سره کوي او له کومو وسیلو او طریقو څخه د پوهېدو او پوهاوي لپاره کار اخلي؟ دغه پوښتني به د نوي ژبپوهنې په رڼا کې راوسپړو.

ټول مادي څېزونه چې د ټولنیز تولید محصول وي، زموږ په ژوند کې بېلابېلې دندې ترسره کوي. موږ له هغو څخه د خپلې بقا لپاره یا په سیده ډول د ابزارو په څېر استفاده کوو، لکه له قلم څخه د لیکلو، له ګیلاس څخه د څښاک، له جامو څخه د اغوستلو یا پټولو لپاره کار اخلو او نور یا په چاپېریال کې داسې څېزونه او وسیلې هم تجربه کوو چې موږ له یوې حادثې، کیفیت یا حالت څخه خبروي، موږ ته معلومات رالېږدوي. دغه ډول څېزونه په ناسېده ډول په نړۍ کې زموږ بقا یقیني کوي. په عمومي ډول څېزونه چې په ټولنیزه مراوده کې نقش لري، یعنې د کلتور یوه برخه وي، هغو ته نښه یا سیمبول ویل کېږي. د پوهنې هغه څانګه چې د دغو نښو یا سیمبولونو له سیستم او د نښو د پېچلو شکلونو له مطالعې سره کار لري، سیمیوټیک (Semiotic) بللې کېږي. سیمیوټیک پوهنه د ادبي علومو د پوهانو له خوا داسې تعریف شوې: «سیمیوټیک هغه پوهنه ده چې د افکارو په تبادله کې د ښکېلو افرادو له خوا د معنا د لېږد عمومي پروسه تر څېړنې لاندې نیسي.» (۳: (Schulte-Sasse,R.Werner,۱۹۹٤

د نوي ژبپوهنې بنسټ ایښودونکی فردیناند دوسوسور (۱۸۵۷- ۱۹۱۳ ز کال) ژبپوهنه د سیمیوټیک د یوې برخې په څېر ګڼلې او ژبنۍ کلمې هم نښې بولي چې یو ځانګړی جوړښت لري او د ژبې د قوانینو په دننه کې معنا لېږدوي. په دې لړ کې د نښو درې ګونې عمومي ډولونه پېژندل شوي: د اشارې نښې (  )، تصویري نښې(  ) او ژبني نښې. هره نښه خپل اصول لري چې له مخې

يې د شکل او د هغه شاته د مفهوم په منځ کې اړيکه تعبيريږي او په دې ډول نښې معناوې ليږدوي. د اشارې يا تصويري نښې زموږ پاملرنه هغه څېزونو ته رااړوي چې راته نږدې وي يا په يوه ټاکلې موقع کې ورسره مخامخ کېږو چې د دې ډول نښو معنا محدوده وي.

((اوس)) او ((دلته)) کلمې، زماني او مکاني کيفيتونو ته اشاره کوي. په لږ توپير سره تصويري نښې دا وړتيا لري چې د تصوير او د هغه جنس يا حالت، چې ورته منسوب شوی وي، ترمنځ د ورته والي تصور وکړای شو. ژبنۍ نښې (توري) په دې ډول معنا ليږدوي چې د يوې ژبې د ويونکو ترمنځ تړون شوی وي چې د يوې نښې تر شا کومه معنا پرته ده. د يوې ژبې ويونکي د ټولنيز، تاريخي او فرهنګي ګډ ژوند په اوږدو کې دې توافق ته رسېدلي وي چې يو ژبنۍ سيمبول څه معنا لري؛ څکه نو دې نښې ته د تړوني نښه هم وايي. په ټوله کې د نښو د لومړيو دواړو ډولونو د انتزاع او تجريد کچه محدوده وي او نه شي کولای د يوې ژبې د ويونکو په منځ کې د احساساتو او افکارو د تبادلې ټولې اړتياوې پوره کړي؛ نو ژبه له دريوو واړو ډولونو څخه د پوهېدو او پوهاوي لپاره کار اخلي.

ژبنۍ نښې د څه شي استازې دي؟

که يو چا ته ووايو چې زه يوه مڼه وينم. د دې مفهوم د رسولو لپاره په بنسټيز ډول موږ له دريو طريقو کار اخلو. يا به يوې مڼې ته چې زموږ په مخ کې پرته وي اشاره کوو چې د اشارې نښه ده، يا به د کاغذ پر مخ د مڼې شکل باسو چې تصويري نښه ده، يا به د مڼې کلمه چې له خولې راوزي په ليکلې يا د ابېڅې په بڼه ليکو چې سيمبوليکه نښه ده. په درې ګونو نښو کې وروستۍ نښه يعنې ژبنۍ نښه د ژبې بنياد او تر ټولو لويه برخه جوړوي. څنګه چې انسانان د خپل نږدې چاپېريال، عادي څېزونو او حالاتو له دايرې څخه بهر غواړي په خپلو منځونو کې د داسې پېښو او څېزونو په اړه يو بل ته پېغامونه او خبر ولېږدوي، چې په خوا تېر شوي وي يا ښايي په راتلونکي کې ورپېښې شي؛ په داسې حالاتو کې دوه ګونې لومړۍ نښې د انسان دغه پراخې معلوماتي اړتياوې پوره کولای نه شي؛ نو داسې سيمبولونو ته اړ دی چې په پېغامونو کې د هغه فانتزي، ارمانونه، وېرې او احساسات نورو ته ولېږدوي. د دې اړتياو پر بنسټ د پوهېدو او پوهاوي لپاره سيمبولونه ايجاد

شوي چې د لېږد د وسیلې په څېر کار ورکړي. د سیمبولونو تر ټولو پېچلي او هر اړخیز سیستم چې ټولې نښې د معنا د لېږد رالېږد لپاره په کې کارول کېږي، ژبه ده. په نوی ژبپوهنه کې کلمې یا وییې هم سیمبولونه دي چې ژبنۍ نښې یې بولو.

**ژبنۍ نښې څنګه جوړښت لري او څنګه معنا لېږدوي؟**

ژبپوهنه چې د ژبنیو نښو عمومي قوانین تر څېړنې لاندې نیسي. ژبنۍ نښې دوې خواوې لري:

۱ـ هره نښه یوه فزیکي جوړښت لري چې د غړیزو غړو په واسطه د اواز په بڼه تولیدېږي او موږ یې اورو یا یې د تورو په شکل کې وینو او لولو.

۲ـ د ژبنۍ نښې بله خوا هغې ته منسوب شوې معنا ده.

د ژبنۍ نښې (دال/ ښوونډ) او هغې ته د منسوب شوې معنا (مدلول/ ښوولی) ترمنځ طبیعي یا منطقي تړاو موجود نه وي، لکه که څوک وغواړي پوه شي چې موږ په پښتو کې زمري ته ولې د ((زمري)) کلمه غوره کړې او یو بل څه ورته نه وایو؟ د دې پوښتنې ځواب نه شته؛ بلکې د ژبپوهنې له مخې د ژبنۍ نښې معنا د ټولنې د عرف او تاریخي ـ فرهنګي ګډ ژوند په بهیر کې د ویونکو له خوا ټاکل کېږي او یوې ژبې ویونکي د هغې په تعیینولو کې یوې هوکړې ته رسېږي چې دا یو ټولنیز تړون دی. د ژبپوهنې هغه څانګه چې د ژبنیو نښو معنا څېړي، سیمانټیک ( /Semantik Semantic) یا معنا پوهنه ده.

هیڅ ژبنۍ نښه له غږ څخه پرته په خپلواک ډول نه تصور کېږي، هره ژبه د غږونو ځانګړی سیستم لري چې د بلې ژبې له هغې څخه توپیر لري. هر ژبنی اواز یو غږیز واحد (فونیم) دی چې د یوې ژبې په بېلابېلو لهجو کې په بېلابېلو ډولونو سره تلفظ کېږي. د دغو غږونو څېړنه د غږ پوهنې (Phonologie/ Phonology) دنده ده. غږ پوهنه د ژبپوهنې هغه څانګه ده چې د یوې ژبې ځانګړي او ارزښتناک غږونه تر څېړنې لاندې نیسي- چې دغه غږونه د نوموړې ژبې د ویونکو له خوا ډلبندي شوي دي او د هغې ژبې غږیز واحدونه یا فونیمونه دي.

ژبنیز غږونه له دوو اړخونو څخه تر څېړنې لاندې نیول کېږي:

۱ـ د جوړښت له مخې: د ژبې غږونه یو عمومي فزیکي جوړښت لري او د تولید په وخت کې بېلا بېلې ځانګړتیاوې نښيي.

۲ـ د معنا له مخې: ژبنیز غږونه یو بنسټ جوړوي چې له مخې یې وییې یا کلمې د معنا په لحاظ له یوې بلې څخه بېلوي.

د غږونو د فزیکي جوړښت څېړنه د فونیتیک (Phonetik/ Phonetic) د پوهنې دنده ده او هغه غږونه چې په یوه ژبه کې د نښې معنا له یوې بلې بېلوي او د یوې ژبې غږیز سیستم دی، د فونولوژي (Phonologie/ Phonology) په پوهنه کې څېړل کېږي. (J.Link,۱۹۹۷ :۴)

یو ماشوم تر ۵ - ٦ کلنۍ پورې د خپلې ژبې ټول غږونه په خپل چاپېریال کې د تقلید په ذریعه کسب کولای شي. ژبني غږونه په بېلا بېلو ډولونو تلفظ کېږي. د ژبې یوه ځانګړتیا دا ده چې مختلف غږونه په ډلبندیو وېشي- چې دا د ژبې هغه خصلت دی چې موږ د نښو او معناو په منځ کې د اړیکې د موندلو په برخه کې پرې بحث وکړ. د غږونو مختلف شکلونه د یوې کټګوري د عناصرو په ډول چې عمومیت لري پېژندل شوي چې دغه کټګوري فونیمونه دي. د پښتو ژبې په ابېڅې کې موږ د ځینو فونیمونو لپاره یو ځانګړی توری نه لرو؛ نو ځکه د ژبنیو غږونو په څېړنه کې یوه ربړه دا وي چې د یوې ژبې د غږ د ډول او د لیکنې بڼې په منځ کې توپیرونه راڅرګندېږي. پښتو ژبه هم له دې ستونزې څخه خالي نه ده. د بېلګې په ډول، د لیکنې پر مهال په پښتو ژبه کې موږ د لنډ واو او اوږد واو چې دوه فونیمونه دي یو توری (و) په کاروو، لکه د زانګو او ټېټو په کلمو کې. دغه ربړه په ډېرو ژبو کې عامه ده چې د هوارولو لپاره یې اوسمهال له نړیوال فونیټکي ابېڅې (IPA) څخه کار اخیستل کېږي. دغه سیستم په دقیق ډول ژبني غږونه د تورو په ذریعه څرګندولای شي. (۴: تاند وېبپاڼه)

د یوې ژبې غږونه په دې بنسټ څېړل کېږي چې غږیز غړي د هغو په تولید کې څه نقش لري او د اوازونو د تولید په وخت کې کوم حالت اختیاروي. په پښتو کې په عمومي ډول درې ډوله ژبنیز غږونه: بیواک، اواز لرونکي یا خپلواک غږونه چې شمېر اوو ته رسېږي او غبرګغږونه لرو.

د فونیمونو په بحث کې د دي خبرې یادول اړین دي چې هر یو توک یې یعنې فونیم له بل فونیم څخه توپیر لری او له یو ځای کېدو څخه یې مورفیم چې تر ټولو کوچنی مانیز واحد دی، جوړېږي. که په دوو مورفیمونو (کلمو) کې یواځې یو فونیم له یو بل سره توپیر ولري، دغې جوړې ته په ژبپوهنه کې تر ټولو کوچنۍ ترینه جوړه (minimalpaar) وایي، د بېلگې په ډول د ((کور)) او ((پور)) په کلمو کې یواځې یو فونیم چې د دواړو کلمو په پیل کې راغلی له یوه بل سره توپیر لري او نور چاپېریال یې سره یو شانته دی. دغه غږیز واحدونه /ک/ او/ پ/ د دې سبب شوي چې کلمې د معنا په لحاظ سره بېلې کړي. د دې یادونه ځکه اړینه وه چې وښیي ژبه په بنسټیز ډول د تقابل پر اصل ولاړ ده. دلته دغه اصل د ژبې تر ټولو کوچنی جوړوونکی واحد یعنې د فونیم په کچه لیدل کېږي؛ خو دغه اصل په نورو کچو هم د تشخیص وړ دی چې وروسته به اشاره ورته وشي.

فونیمونه په یواځې ډول کلمې نه جوړوي او له دې امله داسې ژبنې توکي نه دي چې معنا ورته منسوبه شي. د فونیمونو ترکیب معنا لرونکي ویېي یا مورفیمونه جوړوي چې هر یو یې یوه معنا یا څو معانیز اړخونه لري. د ژبنیو نښو په منځ کې د اړیکو څېړل د معنا پوهنې (Semantik/ Semantic) دنده ده چې له مخې څومره چې د ژبنیو نښو او هغو ته د منسوب شوو مفهومونو تر منځ اړیکې مهمې دي هغومره د بېلو کلمو تر منځ اړیکې ارزښتناکې دي. هره ژبنۍ نښه خپل ارزښت د معنا د ایجاد په سیستم کې دننه د هغې اړیکې له لارې تر لاسه کوي چې له نورو کلمو سره په تقابل کې دربېږي. په دې حساب معنا یوه ارتباطي کلمه ده او د دوو عناصرو د موجودیت او د دوی له تړاو څخه راوتلې ده. معنا په یواځیتوب کې نه، بلکې له نورو عناصرو او په معمول ډول له ژبې څخه بهر د نورو اجزاوو په راگډولو او تصور کولو سره تولید او لېږدول کېږي. که مور د ((هلک)) کلمه راوړو د هغې په معنا ځکه پوهېږو چې په مقابل کې یې د ((انجلۍ)) کلمه پېژنو. د دې دوو کلمو په منځ کې اړیکې اوس دوه اړخیزې دي: یوه اړیکه یې دا ده چې جنسیتي تضاد په گوته کوي. نارینه او ښځینه دوه متضاد جنسونه دي. بله اړیکه یې د دې دوو کلمو په منځ کې گډ اړخ ته اشاره کوي. دوی دواړه انسانان دي او انسانیت د دوی په منځ کې یو مشترک اړخ دی. په دودیزه ژبپوهنه کې معنا د فونیمونو په پېژندلو او په

جمله کې د نحوي ترکیب په سمه کارونه کې وینو. د معنا پوهنې، چې د رغښتوالي له فکري ترون څخه سرچینه اخلي، له مخې د ژبنیو توکو له تعاملاتو او اړیکو څخه بهر د نورو شرایطو پېژندلو ته اړ یو. د دې څېړندود پر بنسټ په دال او مدلول پورې تړلې ترلې خواوې په ذهن کې تداعي کېږي او په دې ډول د پوهېدو او پوهاوي عملیه شونې ګرځوي. په دې سربېره، نوی ژبپوهنیز څېړندود موږ ته دا ښيي چې په ژبه کې هره کلمه له نورو ډېرو کلمو سره یا د تقابل پر بنسټ کارول کېږي یا د معنا له مخې له هغو سره یو ګډ اړخ لري. ژبنی سیستم په دې دوه ګوني خصلت تکیه کوي. د تقابل او مشابهت د دې دوه بعدیز سیستم په دننه کې متنونه خپلې معناوې ایجادوي  او لېږدوي.

ویل کېږي چې په ژبه کې په عموم ډول دوه ګونې اړیکې کار کوي. دلته د معنا د لېږد لپاره له دوو سیستمونو څخه کار اخیستل کېږي. په هر سیستم کې د ژبنیو توکو په منځ کې ځانګړې اړیکې کار کوي. په ژبپوهنه کې دغو سیستمونو ته د ژبې دوه بعدونه هم ویل شوي. یو بعد یې په یوه افقي لیکه کې ژبني توکي د نحوي قواعدو پر بنسټ د یو بل تر څنګ ږدي چې د ژبې افقي محور جوړوي. په دې لیکه کې یوه جمله د غږونو، سیلابونو (څپو)، کلمو او فقرو یوه پېچلې ټولګه ده چې هره کلمه ښایي یوه یا څو سیلابیزه وي. د نحوي ترکیب لپاره خپل قواعد شته چې بېلابېل توکي سره یو ځای کوي. د ژبې دغه بعد په ژبپوهنه کې د سینټاګم په نوم یادېږي چې یو ادبي قاموس یې داسې را پېژني: ((سینټاګم یوه ژبپوهنیزه اصطلاح ده چې په یوه معینه لیکه کې د ژبنیو واحدونو یو ترکیب ښيي. یوه غونډله یا جمله د کلمو یو سینټاګم جوړوي. (۵: ګوګل)

د ژبې له بل بعد څخه چې یوه عمودي لیکه جوړوي، موږ د افقي بعد لپاره کلمې غوره کوو. له دې محور څخه کلمې د تقابل د اصل پر بنسټ انتخابېږي او په افقي لیکه کې د بلې هغې ځای ناستې کېدای شي بې له دې چې د دغه بعد نحوي ترکیب یا قواعدو ته زیان ورسوي. هره کلمه چې د بلې ځای نیسي- په جمله کې هماغه ګرامري چاره ترسره کوي. په لاندنیو جملو کې د ژبې د دوو بعدونو کارونه ښکاري. په دې جمله کې((زمرک ناول لولي.)) د زمرک پر ځای د ښوونکي ، د ناول پر ځای د لیک، د لولي پر ځای اخلي، ویني او  یا پلوري کلمې راتلی شي،

بې له دې چې د جملې په نحوي ترکیب کې بدلون راشي. پورته يادې شوې کلمې چې له عمودي محور څخه غوره شوې په دې لیکه کې د یو بل ځای ناستې کېدای شي. په لاندنیو دوو جملو کې د افقي بعد ځانګړنې ته پام وکړئ:

۱- چې زه دې ګورم ته وېده یې.

۲- ته چې وېده یې زه دې ګورم.

په دواړو جملو کې ټولې کلمې سره شريکې دي،خو د معنا له مخې توپير لري. د دې سبب دا دی چې دلته ژبني توکې په جمله کې وروسته وړاندې، يعنې د لومړۍ هغې په پرتله په بېلو موقفونو کې کارول شوي دي. د ژبې هره وينا د دغو دوو سيستمونو پر بنسټ ايجادېږي.

په دې ډول مور ولیدل چې په ژبني سيستم کې هره کلمه له نورو سره یا په تقابل کې ولاړه وي يا له نورو کلمو سره یو ګډ اړخ لګوي. د تقابل د دې سیستم په دننه کې متنونه معناوې ایجادوي او لېږدوي. له دې امله په په ادبي یا بل هر متن باندې د پوهېدو لپاره اړينه ده چې په هغه کې شته تقابلونو او مشترکاتو ته پام وکړو.

**کلمې څنګه پراختيا پيدا کوي؟**

په پښتو ژبه کې د کلمو د جوړونې عملیه له محدود شمېر مورفيمونو څخه په عمده ډول د اشتقاقونو او ترکیبونو په ذريعه جوړېږي. د اسمي یا فعلي ستې سره د تاړو په نښلولو او دغه راز د نومونو، ستاينومونو د ګرداني حالتونو په ښکارولو سره نورې کلمې جوړېږي. په پښتو ژبه کې، لکه د نورو ژبو په څېر د دې تر څنګ د لغوي زېرمې د بډای کولو په مقصد له نورو طريقو لکه نیولوګیزم، زړې لغوی پانګې یا ارکاییزم او له مختلفو لهجو یا ګړدودونو څخه هم کار اخیستل کېږي. (۴: تاند وېبپاڼه)

د ويي جوړونې عملیه په اصل کې د نحوې په بحث کې زيات تفصيل ته ضرورت لري، دلته د دې ژبنۍ پروسې لنډه یادونه د دې لپاره ارزښتناکه وه چې پوه شو د مکالمې په پروسه کې څه نقش درلودلای شي.

## پایله:

تر دې ځایه موږ په لنډ ډول په دې خبرې وکړې چې د ژبنیو نښو او معنا تر منځ اړیکې څنګه جوړېږي او کلمې یا نښې څنګه معنا لېږدوي. خو څنګه چې ژبه په ماهیت کې شفاهي ده او لا مخکې له دې چې موږ د لیک لپاره توري ایجاد کړو، ژبه د انسانانو ترمنځ د پوهېدو او پوهاوي وسیله وه؛ نو ځکه دا پوښتنه مناسبه برېښي چې انساني فکر او مفهومونه څنګه ژبې ته رانوځي چې بیا د بیانولو لپاره د ژبې په ذریعه وړ وګرځي. دې پوښتنې ته ځواب د نورو پلټنو تقاضا کوي.

## مأخذونه:


۱- https://www.researchgate.net/publication/۲۷۰۲۶۱۳٤٥_Literaturewissenchaft_und_Linguistik_Das_projekt_LiLi_aus_heutiger_linguistischer_Sicht

۲- Sprache und Sprachjwissenchaft, Ralf peorings/ Ulrich Schmitz, ۱۹۹۹ in: http://www.linse.uni-Due.de/publikationenlist/articles/sprache-und-sprachwissenschaft-eine-kognitiv-orientierte-einfuehrung.html

Schulte- Sasse, R. Werner, Einfeuhrung in die Literaturwissenschaft. Meunchen, ۱۹۹٤, S. ٤۹

۳- Jeurgen Link, Literaturwissenschaftliche Grundbegriffe, Meunchen, ۱۹۹۷, S. ٥۰

٤- www.taand.comZiar,۲۰۱٦,Feb,٥

٥- http://www.google.com/url?sa=t&rct=j&q=&esrc=&source=web&cd=۱&cad=rja&uact=۸&ved=۲ahuKEwiCtpec۳fffAhXD٦CwKHDTDZ۸QFjAAgQICRAB&url=http٪۳A٪۲F٪۲Fwww.oxfordreference.com٪۲F۱۰view٪۲F۱۰,۱۰۹۳٪۲Facref٪۲F۹۷۸۰۱۹۹۲۰۸۲۷۲,۰۰۱,۰۰۰۱٪۲Facref-۹۷۸۰۱۹۹۲۰۸۲۷۲&usg=AOvVaw۳Qdwe۱vCa۳z٦v٥۷wqSE۱XD

پوهنیار حمیدالله عمرخېل

# پیر روښان او وحدت الوجود

**لنډیز:**

د پیر روښان او د تصوف په اړه به یې ډېرې مقالې او څېړنې ترسره شوې وي، خو لکه څنگه چې باید وپېژندل شي، له بده مرغه هغسې نه دی پېژندل شوی، د دې لپاره چې ما د پیر روښان او د هغه د وجودي وحدت په اړه د نورو لیکوالو او څېړونکو لپاره هم لار پرانیستې وي، نو مې دا څېړنه یې په اړه ترسره کړه چې په کې تر ډېره مې د ده د مقامونو او د وحدت الوجود لار پرانیستل او تل ته یې رسېدلو په اړه څېړنه کړې ده.

**سریزه:**

تر اوسه پورې دا خبره لا جوته شوې نه ده چې پیر روښان تصوف او عرفان ته د پیرۍ او مریدۍ له نظره کتل او که د سیاست له نظره. البته ډېر ادبپوهان همدا خبره ټینگوي او په دې استناد کوي چې پیر روښان په لومړیو کې د سیاست موخه لرله، خو چې کله په پیرۍ او مریدۍ کې د الله حلقه به گوش شو، نو بیا یې له دنیاوي کارونه سره مخه ښه وکړه، خو یو شمېر نور پوهان بیا په دې نظر دي چې د ده اصلي موخه له همدې لارې د خپل قوم او ټبر له ظلم او زیاتي نه ژغورل وو، دا چې دی تر کومه بریالی و هغه څېړونکو له تصوفي دیده څېړلی نه له سیاسي، خو دا جوته خبره ده چې پیر روښان تصوف ته د سیاست په موخه دخیل شوی و.

دا چې په رښتیا پیر روښان صوفي دی او که سیاستوال دا یوه داسې موضوع ده چې لا هم پراخې څېړنې ته اړتیا لري، خو په ټوله کې په دې مقاله کې د پیر روښان په وحدت الوجودي افکار بحث شوی او د نوموړي هغه اته مقامونه په کې تشریح شوي چې له ده نه يې یو صوفي او کامل پیر جوړ کړی و او له همدې لارې يې وحدت الوجود ته لاره پیدا کړې وه.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت:

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې د پیر روښان وحدت الوجودي فلسفي څېړي او په هغو اتو مقامونو کې چې ده د دیو سالک لپاره وضع کړي او په وسیله يې انسان هم فنا في الله او فنا في پیر ته رسېږي څېړي.

دا څېړنه د پیر روښان په اړه یو نوی باب پرانیزي چې ښایي د دې برخې څېړونکي او مینه وال پرې نورې زیاتونې هم وکړي.

## د څېړنې موخې:

د دې څېړنې موخه په دې کې ده چې د پیر روښان په اړه هغه تیاره گوټونو هم را سپړي چې دی يې دې لوی او ستر مقام ته رسولی دی او په حقیقت کې یو کامل پیر ترې جوړ شوی دی.

دا چې ولې پیر روښان ته پیر تاریک ویل کېدل دا هم د دې مقالې د بحث یوه موضوع ته او تر ډېره د کامل پیر کېدلو له امله د مخالفینو له خوا ورته پیر تاریک ویل کېده.

## د څېړنې پوښتنې:

په دې څېړنه کې تر ډېره لاندې پوښتنې ځواب شوې دي:

- ✓ پیر روښان څوک و؟
- ✓ کومه انگېزه وه چې پیر روښان تصوف ته مخه کړه؟
- ✓ ایا پیر روښان ته پیر کامل ویل یوه سیاسي انگیزه وه او که صوفیانه او تصوفي؟
- ✓ پیر روښان کوم اته مقامونه وضع کړي او له سالکه څه غواړي؟

او دې ته ورته ځینې کوچنۍ پوښتنې هم په دې مقاله کې ځواب شوې دي.

### د څېړنې میتود:

په دې څېړنه کې تر ډېره له تحلیلي، تشریحي او توضیحي میتود څخه استفاده شوې ده.

## لومړی به پیرروښان وپېژنو چې څوک و؟

### پیرروښان:

پیرروښان په میا روښان، بایزید انصاري او بایزید مسکین سره مشهور دی، همدا رنګه د ده مخالفینو لکه اخوند درویزه او د هغه استاد ملا محمد چې په ملا زنګي مشهور و، پیرروښان یې په پیرتاریک سره هم یاد کړی دی، پیر روښان د عبدالله زوی او د شیخ محمد لمسی دی، د مور نوم یې ځینو مأخذونو بیبنې یاد کړی؛ خو په حالنامه نومي اثر او ځینو نورو یې د مور نوم آمنه ذکر کړی او د پلار نوم یې ابابکر ذکر کړی دی، غالباً دغه روایت صحیح ښکاري.

بایزید (پیرروښان) په جلندر (پنجاب) کې په یوې متوسطې کورنۍ د اورمړو په قبیله کې په ۹۳۱ هجري چې ۱۵۲۴ میلادي کال کېږي زېږېدلی دی، چې همدا د اورمړو کورنۍ تر اوسه پورې د وزیرستان په کاڼي ګرم کې میشته دي. له دغو خلکو څخه یې یوځه په اوس وخت کې هم د لوګر په برکي برک او برکي راجان کې اوسیږي او اورمړي ژبه وایي، پیرروښان خپلې لومړنۍ زده کړې د خپل پلار او د هغه د شاګردانو خلیفه ملا پاینده او سلیمان کالنجري څخه کړي دي.

پیرروښان پر دیني علومو سربېره په فلسفه کې هم مطالعه کړې ده، پیر روښان له کوچنیوالي څخه له تصوف سره مینه درلوده او له کوچنیوالي څخه د یو کامل پیر په لټه کې و. اوس به راشو تصوف ته چې تصوف څه معنا لري؟ (۲: ۲۵ ـ۲٦)

### روښان او تصوف:

تصوف یو پراخ مضمون او له بحث څخه ډکه موضوع ده، نه شي کیدای چې په څو کلمو او یا هم په څو جملو کې وپېژندل شي، ځکه چې په بېلابېلو مهالونو کې د اهل معرفت او تصوفي ډلو له اړخه په بېلابېلو الفاظو کې تعریف شوي دی، که څه هم دغه کلمې او الفاظ سره ورته نه دي؛ خو یو شی چې د ټولو عارفانواو

صوفيانو پرې اتفاق شته هغه دا دی، چې د دوی موخه د کشف او معرفت له لارې خدای پالنه، د الله (ج) له ذات سره مينه په خفي اوجلي ډول د الله تعالی ډېر ډېر يادول، په عبادت سره د زړه صفايي کول، نور خلک د الله (ج) پېژندنې او د الله (ج) پالنې ته رابلل دي.

اوس به د تصوف په اړه د بېلابېلو پوهانو نظرونه راواخلو:

۱ـ لوی استاد علامه عبدالحی حبيبي د ابو ريحان البيروني له خولې ليکي: "د تصوف کلمه د صوف له کلمې څخه جوړه شوې ده او صوف په يوناني ژبه کې پوهې او حکمت ته وايي؛ نو د دې لپاره چې په اسلام کې ځينې خلک د پوهې او حکمت په لاره لاړل؛ نو ځکه د صوفي په نامه ونومول شول".

۲- پوهاند صديق الله رښتين د ۱۳۱۴ کال د وږمې مجلې په (۱۲) مخ کې داسې وايي چې تصوف د صوف له کلمې څخه اخيستل شوی چې صوف په عربي کې وړيو يا پشمينه معنا ورکوي، دا ځکه چې صوفيانو به وړينې جامې اغوستلې؛ نو ځکه په دغه نامه سره ياديږي.

۳ـ بله نظريه داسې ده چې تصوف له تيوصوفي څخه اخيستل شوی دی چې په يوناني ژبه کې د خدای د دوستۍ معنا ورکوي.

اوس به د تصوف پر اصطلاحي معنا باندې د پوهانو له خولې ځانونه پوه کړو؛ خو بېلابېلو پوهانو په بېلابېلو مهالونو کې د تصوف لپاره بېلابېلې اصطلاحي معناوې کړې دي، دلته يې يوازې د يوڅو پوهانو د خولې خبرې راخلم:

۱ـ تصوف په اصطلاح کې هغه رياضت دی چې د کشف او شهود له لارې تر لاسه کيږي. جنيد بغدادي (رح) ويلي دي چې تصوف له خدای (ج) سره داسې نږدې کېدل دي، چې په ماهيت يې پرته له الله(ج) انسان نه شي پوهيدلی.

۲- د کشف المحجوب ليکوال ابوالحسن علی الهجوري بيا داسې وايي چې تصوف د ښه خوی او ښو اخلاقو نوم دی.

۳- خواجه عبدالله انصاري په خپل اثر مناجات کې داسې راپېژندلی دی: " تصوف کار کول او مزد نه غوښتل دي" البته زما په اند له انسان څخه مزد نه غوښتل يې مطلب دی.

۴- محمد بهاوالدین نقشبندي چې د نقشبندي طریقې مشر۔ و تصوف ته په دې نظر ګوري او وايي: ″ تصوف یو ځانګړی ادب دی ″.

۵- حضرت شبلي نعماني نظر درلود: ″پرته له کومې اندېښنې د الله ج ذکر ته تصوف وايي″.

٦- ابوعبدالله خفیف وايي: ″ تصوف له اعتراض او انتقاد څخه ځان پاکول دي″. دغه او دې ته ورته نور ګڼ شمېر تعریفونه شته چې د تصوف او اهل معرفت پلویانو له خوا یې تعریفونه شوي دي؛ خو لنډه دا چې تصوف یوه روښانه او ځلانده لاره ده، چې په مسلکي ډول د سالکینو له خوا پر مخ ځي. د تصوف په اړه خو مو یو څه د پوهانو اصطلاحي تعریفونه راوړل اوس به دې خبرې ته راشو، چې بایزید پیر روښان تصوف ته څنګه ؟ ولې ؟ او څه وخت مخه کړه؟ په دې به هم پوه شو چې د تصوف د رامنځ ته کیدو لامل څه و؟

دا چې روښان څنګه د تصوف لمنه ونیوه؟ د دې پوښتنې په ځواب کې باید وویل شي چې دا وخت د تصوف بازار دومره عام شوی و، چې هره خوا د پیرانو او مریدانو لړۍ تر لرې لرې ځایونو غځېدلې وې، د تصوف د رامنځ ته کیدو لامل دا و، چې له ٦۰۰ هجري نه تر ۹۰۰ هجري پورې د مغلو د فاتحانو تاړاکونو د دې سیمې ملتونه یو په بل پسې مات کړل او د دوی روحیه یې بیخي ووژله، د همدغو تاړاکونو او ماتې په نتیجه کې خلک دومره ناهیلي شول، چې ګوښه توب یې غوره کړ، بیا همدغه ناهیلي او ګوښه توب د دې سبب شو، چې له هند نه تر مصره پورې د تصوف په نامه یو تفکر خپور شو چې خلکو به د روحاني تربیت او ریاضت په وسیله د ځان لپاره یو خلاصون غوښت.

په همدې توګه خلکو تصوف ته پنا یوړه او تصوف دومره خپور شو چې لوی لوی ښارونه له خانقاوو څخه ډک شول او د تصوف ډېر لوی شخصیتونه په اسیا کې پیدا شول، په هند کې مغلي شهزادګانو او په ایران کې صفوي کورنۍ تصوف ته میلان پیداکړ، په دې توګه له شمال، شرق او غرب څخه د دې روحاني نهضت څپې په پښتونخوا هم راتللې او د پښتونخوا په سیمه کې یې دوه لوی نمایندګان سیدعلي ترمذي او د ده شاګرد اخوند درویزه لوی پیران وو.

پیرروښان تصوف ته ولې مخه کړه ؟

د دې پوښتنې په ځواب کې ویلی شو چې پیروښان د خپل ولس مظلوم حالت او د مغلي حکمرانانو ظلمونه له نږدې نه ګوري حتی تردې چې دی په خپله هم د قندهار په سفر کې د بیرم خان د لښکرو د ظلم ښکار کیږي، د یوې پښتنې پیغلې مظلومیت او د مغلو د سپاهیانو د ظلم ننداره د سر په سترګو ویني د خپل ولس تېر تاریخ له دغه حالت سره پرتله کوي د هېواد او خلکو د خلاصون او ازادۍ په فکر کې لویږي خپل هدف ته د رسیدو لپاره د تصوف د لارې نیول یواځینۍ لاره ګڼي او په دې توګه د تصوف حلقې ته داخیلیږي.

د دولت لوانۍ په وینا د پیر روښان کورنۍ د مذهب په لحاظ یوه سني مذهبه کورنۍ وه؛ دولت لوانۍ (د روښاني کورنۍ مرید او د روښانیه طریقې خلیفه هم و) وایي:

زه دولت سني مسلم چار یار منمه
هم په خدای رسول راوړی دی ایمان ما (۷: ۲۲)

د پیر روښان فلسفه د وحدت الوجود فلسفه وه، دا فلسفه د انسان د وجود معنوي او قلبي هستي په څلورو عالمونو سره تقسیموي، د زړه عالم، د نفس عالم، د روح عالم او د شیطان عالم دی. د وحدت الوجود په فلسفه کې د روح عالم ته ډېر اهمیت ورکړل شوی دی. د دغې فلسفې له مخې روح د دایمي او ابدي حقیقت یوه برخه ده چې له لوی روح څخه رابیله شوې او د انسان د وجود په تپ و تیاره کالبوت کې یې ځای نیولی دی، د وحدت الوجود د فلسفې هاند او زیار دغه دی، چې د انسان دارنګه تربیت وکړل شي، چې د هغه په بدن کې له لوی روح څخه رابیله شوې دغه وړه ذره خپل اصل ته ور وګرځوي او د هغه سره وصل او یګانه کړي، چې دې ته توحید ویل کېږي.

د پیر روښان ټول علم او عمل د همدغه توحید لپاره و، د عقیدو او نظریو دارنګه فلسفي یون تصوف بولي د تصوف په علم کې د ایمان غرض او نتیجه همدغه توحید دی، دې نتیجې ته د رسیدلو په غرض صوفیانو د ریاضت او مجاهدو بېلې بېلې طریقې او ذریعې را ایستلې دي، چې د هغو په مرسته انساني روح د نفس او شیطان له منګولو څخه ازاد وي او د عناصرو له تیارو څخه یې راباسي ترڅو چې خپله اصیله رڼا او ځلا بیا ومومي.

د پیر روښان له زماني نه څو پیړۍ د مخه دا فلسفه هندوستان ته را رسیدلې وه او دا د تصوف د رهبرانو د هلو ځلو برکت و، چې په هندوستان کې د اسلام دین پراختیا او ټینګښت وموندہ، خو د پیر روښان په زمانه کې دا فلسفه ډېره عامه او خاصه مقبوله شوه، د هندوستان په ډېرو لرو پرتو سیمو کې داسې ځای نه و چې هلته دې کوم صوفي بزرګ او یا پیر موجود نه وي، بلکې د دوی د ارشاد او تلقین دایره تر پښتونخوا پورې هم پراخه شوې وه، خدای پاک په دې وخت کې پیر روښان په پښتنو کې پیداکړ، په نتیجه کې پیر روښان یوه نوې او مستقله سلسله او طریقه رامنځ ته کړه، چې د روښاني تصوفي طریقې په نوم سره یادیږي.

د پیر روښان په طریقه کې اوه خویونه چې د روښانیه طریقې اصول او اهداف تشکیلوي چې زما د لیکنې موضوع نه ده؛ خو یواځې د دغو اوو خویونو نومونه به دلته ذکر کړو (توبه، توضیع، مراقبې، مجاهدې، عزلت، خلوت، ذکر او طلب څخه عبارت دي ) او اته مقامونه چې په تفصیل سره به یې ولولو.

روښان د یوه سالک لپاره اته مقامات مقرر کړي دي، چې سالک باید دغه اته مرحلې طی کړي او د کمال لوړې مرتبې ته ورسیږي، په خپله روښان وایي: چې ما په خپل سیر او سلوک کې دغه مراتب طی کړل، دی تاکید کوي چې دغه علم باطن دی او باید سړی یې له پیر کامل څخه زده کړي. پیرکامل هغه دی چې دغه اته مقامونه یې طی کړي وي، د روښان دغه اته مقامات ارزاني داسې بیانوي:

شریعت دی، طریـــــقت دی
حقیقت یې مـــــعرفت دی
هر چې دا څلور یې خپل کړل
د بابا ادم پـــــر پـــت دی
بل قربت،بل یې وصلت دی
بل وحدت، بل سکونت دی

د روښاني تصوفي دورې مقامونه به اوس له لږ تفصیل سره ولولو.

**۱ـ شریعت :** د روښانیه طریقې د مریدانو لپاره د شریعت مقام ډېره سخته او ستوغه مرحله وه، د اخوند درویزه په قول پیر روښان به د شریعت په مقام کې په خلکو دومره سختي راوستله چې د خلکو زړه به یې له شریعته شین کړ، پیر روښان

به په خپلو مریدانو د شریعت د امر او نهی او د اسلام د پنځو بناوو سخت تاکید کاوه، له دروغو او ناوړه خبرو څخه به یې منع کول، د اسلام په پنځو بناوو پوهیدل او پرې عمل کول یې امر او د اسلام د پنځو بناوو ترکول یې نهي ده.

میرزاخان انصاري وایي :

ریښــــــتینې لار دغـــــــه ده
چــې عمــل پــه شریعـــت کــا
شریعـــت رښـــتیا گفـــــتار دی
صـــادقان دې صداقـــت کـــا
د اســـلام پنــــــــځه بنـــا دي
مومنـــان دې یـــې طاعـــت کـــا
نـــاروا دروغ دې پـــــــریږدي
او پرهیـــز دې لـــه غیبـــت کـــا
چــې ثابــت پــه شریعـــت شي
تــرو دې یــون پــه طریقــت کــا

**دولت لواڼی وایي:**

شریعـت رښـتیا گفتـار د پیغمـبر
حـذر کـړه لـه غـلا، زنا،لـه غیبتونـه
پـنج بنـا، حـلال، حـرام پیژنـدگلوي
ده عمل کړه پـه واړه حکـم پـه رکنونـه
(۷: ۲۲)

ارزاني وایي چې شریعت پنځه حرفه دی او هر حرف یې بېل مقصد لري : ش: شرم له خدایه، ر: روا چارې، ی: یاري له ربه ، ع : عبادت، ت: توبه ده.

**۲ـ طریقت:** د طریقت په مقام کې پر سالک باندې د څلورو عـالمونو پیژنـدل دي، دا څلور عالمونه دا دي: د زړه عالم چې د فرښتو عـالم هـم ورتـه وایـي، د روح عالم، د نفس عالم او د شیطان عالم، د زړه او روح عالمونه سړی د طاعت او طلب پر لور بیایي او د نفس او شیطان عالمونه سړی د دنیا په چارو گوماري او د گنـا، کـبرو

غرور پر لور یې کشوي. په دې مقام کې باید سالک په خپل ځان کې د فرښتو خصوصیات پیدا کړي.

د طریقت په مقام کې پر سالک باندې امر دا دی چې د زړه او روح د عالمونو په نغوته به عمل کوي، یعنې طلب او طاعت ته به اوړه ورکوي او نهي د شیطان او نفس په نغوته عمل کول دي.

**میر زاخان انصاري وایي:**

طریقت خوی د فرښتو دی
چې بندګي په هر ساعت کا
دغه زړه په مثال تخت دی
پرې دوه ځیزه عداوت کا
که په نغوته د شیطان شي
ډېر به خوار په ضلالت کا
که په نغوته د فرښتو شي
په پاکۍ به عبادت کا

**دولت وایي:**

طریقت، فعل کردار دایم فرض شوی
د صانع طاعت په واړه اندامونه
خمس حواس بندي کول خوی د فرښتو دی
په صافي پاکي همیش دي ریاضتونه

ارزاني د طریقت پنځه حرفیزه کلمه هم تحلولوي: ط: طوق بندګي، ر: ریاضت تن، ی: یون په ورځ په شپه، ق: قدم راستي، ت: تن پاک.

**۳ـ حقیقت:** د حقیقت په مقام کې پر سالک باندې په تفصیل سره د ارواګانو پېژندل دي، ارواګانې په بدن کې درې دي، یو جاري روح دی چې لس ګونې حواس ور پورې تړلي دي، دا جاري روح انساني روح بلل کېږي، جاري روح د خوب په وخت له بدن څخه وځي او په ویښه ببرته ورننوځي، همیشه ژوندی دی دا چې عقل ورسره ملګری دی د خیر او شر پوښتنه له دغه څخه کېږي، دوهم مقیم روح

دی چې د هرې حوصلې سره راوځي، د انسان وجود په دې روح سره ژوندی او قـایم دی؛ خو لکه د جاري روح غوندې تمیز نه لـري او حیـواني روح دی، دریـم روح، روح الامین دی چې روح اعظم هم ورته وایي چـې پـه ټـول عـالم، لکـه د دریـاب غونـدې محیط دی، دا روح له جاري روح او مقیم روح سره تړلی دی، دغه ډول د عـالم څلـور واړه ارواح، یعنې جمادي، نباتي، انساني او حیواني ټـولې د لـوی روح (روح الامـین) له برکته قایمې دي. په دې مقام کې اساسي عنصر خفـي ذکـر دی، لـه دې املـه د باطن صفایي حاصلیږي.

امر د دې مقام دایمي ذکر او غفلت یې نهي ده.

**میر زاخان انصاري وایي :**

د گمان مورچه دې واخلي
د خدای یاد دې مشغلت کا
تل دایم دې په یـاد اوسي
او پرهیز دې له غـــفلت کا
بیهوده عمل دې پـرېږدي
ترو دې مینه په خــلوت کا

**دولت وایي :**

حقیقت د زړه طاعت د نبي حال دی
المدم د مذکور یاد دی

**۴ـ معرفت :** د معرفت په مقام کې پر سالک باندې د حق ذات پېژنـدل دي، د حق ذات لکه د بحر په څېر دی چې هر څه په کې ډوب دي، لکه د نـور پـه شـان دی چې هر څه پرې روښانه دي، لکه د آب حیـات پـه شـان دی چـې هـر څـه پـرې ژوندي دي، د حق ذات لکه د دریاب غوندې دی او بنـدگان یـې لکـه د ماهیـانو پـه شـان دي، چـې پـه دغـه دریـاب سره ژونـدي دي او مـاهي چـې هـرې خـوا تـه مخ وگرځوي مخ یې د اوبو په خوا وي؛ نو په سالک لازم دي چې دا وپیژني چې بنده پـر هر لوري مخ اړوي؛ نو یې مخ د حق تعالی جل جلاله پر لوري وي. لنډه دا چـې پـه دې مقام کې سالک د حق تعالی دیدار ته رسیږي.

د دې مقـام امـر دا دی چـې سـالک بـه د زړو پـه سـترګو د تـل لپـاره د حـق تعـالی جـل جلالـه د ذات کتنـه کـوي او نهـي يـې دا ده چـې د حـق تعـالی جـل جلاله ذات نه ګوري.

**مير زاخان انصاري وايي:**

د ارواح تجلي دا ده
چې د ديدن د معرفت کا
دی بې مثله لوی درياب دی
چې د زړه په ديد عزلت کا
نه يې رنګ نه يې مکان شـــته
يـــو بې مثــله اشارت کا(۱: ۱۱)

**۵ـ قربت:** په دې مقام کې پر سالک بانـدې دا زده کـړه ده چـې پـه دې ځـان وپوهوي چې د حق تعالی جل جلاله قربت په اعلی په ادنی په فرښتو، پـه شـيطان او په انسان په اول او اخر په باطن او په ظاهر يـو شـان دی، سـالک تـه پـه کـار دي چې په دې مقـام کـې ځـان د دې شـيانو پـه اوازونـو پـوه کـړي. سـړی چـې هـر اواز اوري هغه دې له حق تعالی څخه ګڼي؛ خو دا اوازونه به له دوو حالتونو څخه بهر نه وي يا به د رحم اواز وي او يـا بـه د قهـر اواز وي، د رحـم اواز هغـه اواز دی د کـوم پـه ذريعه چې سړي ته يقين او هدايت حاصل شي، چې هغـه لـه ګنـاه او غفلـت څخـه راوباسي او دا د کاملانو اواز دی او سالک بايد دغه د رحم اواز چې رحـماني اواز دی اختيارکړي، د قهر اواز د ناقصانو اواز دی چې سړی يې په اوريـدو سره ګناهګـاريږي او د حق له ذکـر څخـه يـې غـافلوي. پـه دې مقـام کـې د سـالک غوږونـو تـه د حـق اواز رسيږي.

امر په دې مقام کې دا دی چې سامع عارف به هر اواز د حق اواز ګڼـي د هغـه په تسبيحاتو به ځان پوهوي او نهي يې دا ده چې هر اواز د حق اواز ونه ګڼي.

**ميرزاخان انصاري په دې اړه وايي:**

اواز کل واړه له يــــــوه دي
ګهی قهر ګاه رحمت کا
چې په ځمکه په اسمان دي

د یوه مـولي صفت کا
کر بعید پرې نه پوهیږي
ثنا واړه په لغـت دی (۱: ۱۰)

**٦ـ وصلت:** په دې مقام کې سالک خپل ځان خدای جل جلالـه تـه سـپاري، ژوند چې د خدای جـل جلالـه امانـت دی سـالک بـه دغـه امانـت خپـل ښـتـن تـه سپاري.

د دې مقام امر دا دی چې سالک بـه خپـل ځـان لـه مـرگ نـه وړانـدې پـه مـړه حسابوي، غږیدل، لیدل تگ او راتگ، خوراک او ښناک او ژوند او ژواک به یې ټـول په حق تعالی جل جلا له پورې وي، خپل ټول صفتونه به د حق له خـوا گڼـي، نهـي یې دا ده چې سړی خپل صفتونه، لکه پوهیدل، غږیدل، اوریـدل او نـور د وجـود لـه صفتونو څخه وگڼي نه له حق تعالی جل جلاله څخه.

**ارزاني وایي :**

په وصلت د واصلانو یوکیده دي
له یوه وجود شمېرل د واړه وجودونه

**۷ـ وحدت:** د وحدت مقام د فنا في الله مقام دی، په دې مقام کې بـه سـالک ځان د حق په ذات کې محوه گڼي او ځان به د حق لـه ذات سره داسـې رنگـه یـو او یگانه بولي، لکه د مالگې په کان کې چې هر څه لوېدلي وي؛ نو مالگـه بلـل کېـږي او لکه د باران څاڅکي چې په دریاب کې پریوځي؛ نو دریاب بلل کېږي. د وحـدت په مقام کې به ذاکر د کل ذکر کوي، له ځان څخه به ناخبره وي، موحد د کـل ذکـر په اختیارولو سره کل بلل کېږي، د دویی او غېرگون خیال به په زړه کې نه راولي پـه دنیا کې چې څه علم او عمل دی هغه د همدغه توحید لپاره دی.

د وحدت د مقام امر دا دی چې موحد هره خوا خپل مخ اړوي؛ نو خپل مـخ بـه ویني که ښکلی مخ وي او که ناولی هغه به خپـل مـخ گڼـي، هـر اواز چـې اوري؛ نـو خپل اواز به یې گڼي، که د چا صفت کوي که غیبت که چاته زیان یاگټه رسـوي، نـو داسې به یې گڼي لکه له خپل ځان سره یې چې کوي، نهي یـې دا ده چـې هـر څـه لکه ځان نه گڼي او هر عمل چې کوي داسې یې نه گڼي چې له خپل ځان سره یـې کوي.

د وحدت په مقام کې د شیطان خطر او د موحد او ملحد فرق: په دې مقام کې شیطان کوشش کوي چې موحد تېر باسي، شیطان ورته وايي چې ای له خدای سره یو شویه موحده! د خلکو مال د خدای مال دی د خلکو مال موحد ته حلال دی، ځکه چې موحد له خدای سره یو شوی دی په موحد د امر او نهي پابندي نه شته، ځکه چې په پادشاه د چا حکم نه چلیږي هر څه چې کوي کوه یې ځکه له تا نه پوښتنه نه کېږي.

هر هغه څوک چې د شیطان په دې خبرو تیروځي هغه گناهگار او ملحد دی، ځکه چې دا د نفس او هوا لاره ده، موحد وای هغه څوک دی چې د نفس د هوا او حق تعالی جل جلاله تر منځ فرق وکړای شي د نفس هوا تر پښو لاندې کړي او له خدای سره یگانه شي.

**میرزاخان انصاري وايي:**

هر واصل چې یگانه شـــــي
نندارە به د وحدت کا
واحد خلاص له بندگی دی
او نه جرم جنـــایت کا (۱: ۱۰)

**۸ـ د سکونت مقام:** د سکونت مقام د وحدت بام دی، د سکونت په مقام کې له روح او تن صفتونه سره بېلېږي، روح لکه د سواره او تن لکه د تیزوني په شان وي، روح لکه د رب او تن لکه د مربوب غوندې وي، د تن صفتونه راشه درشه، اوربدل، خوړل، څښل، کښېناستل او پاڅېدل؛ خو روح له دغو صفتونو څخه خلاص دی، د تن صفت د روح لپاره عذاب دی د حق تعالی جل جلاله صفت د روح لپاره راحت دی، ساکن به (تخلقو باخلاق الله) ته په پام کولو سره خدايي خوی اختیار وي، خپل بشري صفتونه به پرېږدي، د سکونت د مقام نهي بشري صفات درلودل دي، ساکن چې کله خدايي خوی اختیار کړ؛ نو مسکین وبلل شي، مسکین هغه څوک دی چې له طلب او غوښتنې څخه کراري ومومي.(۱۲: ۱۲۵)

د پورته اته مقامونو ترڅنگ هغه کسان چې د بایزید د طریقت پر لار روانیږي؛ نو بایزد ورته اووه صفته ټاکلي دي. د روښاني لارې یو پیرو باید دغه صفات ولري. هغه اووه صفتونه دا دي:

۱- له حرامو دې ځان وژغوري.
۲- اسراف دې نه کوي لږ دې خوري او لږ دې څښي.
۳ : خبرې دې لږ او په نرمۍ کوي او بدې خبرې دې نه کوي.
۴ ـ خوب دې لږ کوي، په خوب او ویښه دې خدای په یاد ساتي.
۵ـ د نیکانو صحبت دې کوي او د بدانو د صحبت دې ځان ژغوري.
٦ ـ لوی خدای ج دې تل پټ یادوي.
۷ ـ لوی خدای (ج) به په یووالي پیژني او تل دې د خدای (ج) په یاد کې وي.(۵: ۱۳ـ۱۵)

بایزید په خپله تصوفي لار کې د یوه سالک لپاره لوړ یاد شوي اته مقامات مقرر کړي دي او د دې لارې هر لاروی باید دغه اته مرحلې تېرې کړي، د دوی په وینا چې د کمال مرتبې ته ورسیږي؛ خو د اسلامي علماوو له نظره دا عقیده چې د وحدت الوجود عقیده ده غلطه او له اسلامي شریعت سره په ټکر کې ده بله عقیده چې د وحدت الشهود عقیده ده، چې د وحدت الوجود په مقابل کې رامنځ ته شوې صحیح او له شریعت سره موافقه عقیده ده، د وحدت الوجود معنا دا ده، چې همه اوست (ټول هغه دی) هر څه بېرته ورګرځېدونکي دي او له خدای سره یوځای کېږي؛ خو د وحدت الشهود معنا همه از اوست (ټول د هغه دی) یعنې هیڅ وخت بنده له حق ذات سره یوکېدای نه شي، خدای پاک چې ټول موجودات یې پیداکړي دي بېل او بنده ګان او نور موجودات بېل دي، د حق ذات الله جل جلاله دی او له خپلو بندګانو به د ښه او بد پوښتنه کوي. الله جل جلاله هغه ذات دی چې په خپله موجود دی او په هر کمال سره موصوف دی او له هره عیبه څخه پاک دی، د دې ذات پر شته والي او یګانګۍ ډېر دلایل موجود دي:

**اول دلیل:** ټول انبیأ علیهم السلام او ټول حکماء او په هر دور کې د هر قوم اکثریت د دې ذات یګانګۍ او شته والي باندې باور او یقین لري، دې دلیل ته اجماع ویل کېږي.

**دوهم دلیل:** په دې جهان کې یو مکمل نظام موجود دی، د دې جهان د هر شي خپله خپله وظیفه وي او له فکر کولو څخه وروسته دا معلومیږي، چې د دې جهان دا نظام قابل دې زوال دی، مثلاً چې له سپوږمۍ څخه یوه کیلو ماده راوړل

ممکن دي؛ نو د ټولې سپوږمۍ راوړل او د سپوږمیز نظام ختمیدل هم ممکن شول او چې له ځمکې څخه یوه کیلو ماده وړل ممکن شول، نو د ټولې ځمکې زوال هم ممکن شو او چې د یو کیلو اوبو څخه بخارات جوړیدای شي، نو ټولې اوبه هم په بخار بدلیدی شي، چې د یو انسان مړه کیدل ممکن دي نو ټول انسانان مړه کیدای شي، د ستورو او شمسي نظام ختمیدل هم ممکن دي، نو معلومه شوه چې دا جهان پیداکړل شوی دی، ازلي او ابدي نه دی؛ نو کله چې دا ثابته شوه چې دا جهان پیداشوی دی؛ نو سوال پیدا کېږي چې د دې جهان پیداکوونکی څوک دی، ایا پیداکوونکی یې ۱ـ یو جز دی ۲ـ دا ټولې اجزاوې دي ۳ـ دا جهان په خپله دی او که ۴ ـ له جهان څخه یو خارج ذات دی.

۱ـ دا ناممکنه ده چې پیدا کوونکی د دې جهان یو جز شي، ځکه چې دا جهان معدوم وو او معدوم پیداکول نه شي کولای.

۲ـ دا هم ناممکنه ده چې د دې جهان پیداکوونکی دې دا ټول اجزاوې وي، ځکه چې دا ټولې اجزاوې معدومې وې؛ نو دا اجزا هم معدوم وه او معدوم پیداکول نه شي کولای.

۳ـ د دې جهان پیداکوونکی دا جهان، یعنې دا مربوطې او منظمې اجزاوې نه شي کیدای، ځکه بیا هغه خبره چې معدوم پیداکول نه شي کولای.

۴ـ نو لازمه شوه چې د دې جهان پیداکوونکی یو داسې ذات دی چې له دې جهان څخه خارج لکه د میل، ساعت او نورو شیانو جوړوونکی چې خارجي ذات دی او په لازمي طور سره به دا خارجي ذات هر قسم کامل وي، حیات، علم، قدرت اراده به لري. مړ، بې علمه، بې شعوره، عاجزه او مجبور پیداکول نه شي کولای او دا ذات به کوڼ، ړوند او ګونګی نه وي که وي، نو داسې ذات خو ناقص ذات وي او محتاجه وي، دی قابل د پیداکولو نه وي. خلاصه دا چې که دا خارجي کامل ذات موجود نه وای، نو دا سلسله د وجود به نه وای شروع شوې.

**دریم دلیل:** د اوبو طبیعت او خاصیت دی چې خپله سطحه همواره ساتي او اختلاط او ګډون غواړي، نو پر دې قاعده باندې دا ضروري وه چې د سمندرونو د اوبو یو رنګ او یو خوند وای، لیکن دوی مختلف دي او له دې طبیعت څخه مانع بل شی نه شته ماسوا له یوه خارجي طاقت څخه چې الله جل جلاله دی.

۴ـ انسان چې کله په یو مشکل کې ونښلي او له ظاهري اسبابو څخه مایوسه شي، نو الله جل جلا له ته زاري شروع کړي او مشکل یې حل شي؛ نو معلومه شوه چې یو ذات مشکل کشا شته چې هغه الله جل جلاله دی.

الله جل جلاله یو دی، یعنې ده لره شریک نه شته، نه په ذات او نه په صفاتو کې، نه په افعالو کې او هر څوک چې د الله جل جلاله په صفاتو او افعالو کې ځان شریک بولي، نو هغه مشرک، کافر او ملحد دی، د یو والي معنا دا ده چې الله جل جلاله یو دی، د الله جل جلاله د ذات په شان دوهم ذات نشته، الله جل جلاله د همیشه لپاره ژوندی دی او دا ژوند د ده ذاتي دی. ماسوا له الله جل جلاله څخه پرته د نورو شیانو حیات نه ذاتي او نه دایمي دی، د مخلوقاتو علم نه دایمي دی او نه کلي دی؛ خو د الله جل جلاله علم کلي او دایمي دی.

**پایله:**

دا څرگنده خبره ده چې پیر روښان ډېر لوی نوم دی او بیا په تصوف کې خو د ځانگړي مقامونو څښتن پیر، پیر روښان دی، په کار ده چې په اړه یې کتابونه او پراخې څېړنې ترسره شي، خو دا چې زما موضوع په یو مشخص چوکاټ کې تړل شوې وه، نو ما تر خپلې وسې د پیر په اړه همدومره را وکښلای شول، هیله ده گران څېړونکي او د دې برخې لارویان د پیرروښان په اړه دا لړۍ لا پسې وغځوي او هغه تیاره اړخونه یې هم جوت کړي، چې له بده مرغه تر اوسه پورې هم نه دي څرگند شوي.

هیله من یم زما دا مقاله د پیر روښان په اړه د یو مأخذ په توگه د څېړونکو د استفادې وړ وگرځي.

## مأخذونه


۱ـ ارزاني، خویشکی. **دیوان**: کابل، پښتو اکاډمي، ۲۰۰۵م کال.

۲ـ انصاري، میرزا خان. **د میرزا خان انصاري دیوان**: کابل، پښتو ټولنه، ۱۳۵۴ل کال.

۳ـ ایوبي کندهاري، محمد نادر، **عرفان**، دوهم چاپ: لاهـور، صـحاف نشرـاتي مؤسسه، ۱۴۴۸ هـ ق کال.

۴ـ حبیبي، عبدالحی. **د پښتو ادبیاتو تاریخ**، لـومړی او دویـم ټـوک: پیښـور، دانش خپروندیه ټولنه، ۱۳۸۴ ل، ل کال.

۵ـ رفیع، حبیب الله. **کتابونه دریابونه**، د بایزید روښان ژوند او اثـار: پیښـور، د امان کتاب خپرولو موسسه،۱۳۸۰ل ل کال.

٦ـ رښتین، صدیق الله. **د پښتو ادب تاریخ**، دویم چـاپ: کابـل، پښـتو ټولنـه، ۱۳۷۷ل ل کال.

۷ـ زغم، احمد شـاه. **تصـوف پـه پښـتو ادب کـې**: کابـل، د کابـل پوهنتـون د پښتو څانګې د لسانس دورې لېکچر نوټ، ۱۳۹۰ل ل کال.

۸ـ ښکلی، اجمل.**تصوف او ادب**: جلال آباد، مومند خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۹ل کال.

۹ـ لواڼي، دولت. **د دولت لـواڼي دیـوان،** دویـم چـاپ، د پوهانـد عبدالشـکور رشاد په سریزه: کابل، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۱ل ل کال.

۱۰ـ هاشمي، سید محی الدین. **د بایزید روښان یـاد**: کابـل، د افغانسـتان د علومو اکاډمي، ۱۳۸۸ل ل کال.

۱۱ـ هیوادمل، زلمی. **د پښتو ادبیاتو تاریخ**: پیښور، دانش خپرونديـه ټولنـه، ۱۳۷۹ل ل کال.

څېړنوال عبدالظاهر شکيب

# د حسن ګل بانډوال ژوند او علمي هلې ځلې

## لنډيز:

د څېړونکو، علمي او ادبي شخصيتونو په اړه څېړنې کول نه يواځې د ادبي تذکرې دنده ده، بلکې موږ ته زموږ په علمي ژوند کې ډېر څه را زده کوي، د هغوی له تجربو او علمي کارنامو مو خبروي او ترڅنګ يې موږ ته د زړو او نوي قالبونو د بطلان کرښې معلوموي.

له نېکه مرغه ما دا او دې ته ورته ارزښتونو ته په کتلو سره د څېړنوال حسن ګل بانډوال ژوند او علمي هلو ځلو ته لنډه غونډې کتنه کړې او دا ځکه چې په دې وروستيو کې د استاد بانډوال نوم د رسنيو له پاڼو مخ په تتبدو او ورکېدو و، دا چې بانډه وال څوک و؟ څه يې کړي او موږ ته يې څه په ميراث را پرېښي په دې مقاله کې يې په اړه پوره معلومات لوستلای شئ.

**سريزه:**

هره ټولنه د خپلو علمي، ادبي، فرهنګي او کلتوري پرمختګونو لپاره بېلابېل دلايل، لاملونه او تجربې لري چې له امله يې د يادې ټولنې ادبيات مخ پر وده روان وي.

زموږ ټولنه هم چې تر ډېره حتا په فرهنګي لحاظ هم يوه سنتي ټولنه ده تر اوسه پورې يې په فرهنګي او ادبي چارو کې د پخوانيو دود پالل کېږي او که کله هم نوې خبرې يا نوې تيوري او ځېل رامنځته کېږي له بده مرغه له ډول ډول مخالفتونو سره مخامخېږي، په داسې حال کې چې ادب وده او غوړېدا د تيوريو له مخالفته او

د ځینو ثابتو چوکاټونو له ماتېدلو رامنځته کېږي، البته ډېر ځله ژبه چې د نورو علومو له زوایې څېړل کېږي هم نوې لارې ګودرې پرانیزي او نوې خبرې پیدا کوي.

په دې مقاله کې محوري موضوع همدا ده، په دې معنا په دې مقاله کې د هېواد هغه څېړونکی او لیکوال معرفي شوی چې هغه ژبې ته له نوي دیده کتلي او ادبیات یې د روانپوهنې یا ارواپوهنې له زاویې مطالعه کړي، بې له شکه ادبیات تر ډېره د اکثریتو علومو مور ده او چې کله یې د نورو علومو په روح کې مطالعه کوو، نو بې له شکه نوې خبرې او تیوریانې په کې موندلای شو.

استاد باندوال یو له هغو کسانو څخه و چې ادبیات یې له نوي دیده مطالعه کول او د ادبیاتو رواني ځمکه یې په ډېره ښه توګه درک کړې وه.

د دې لپاره چې دا موضوع ښه روښانه شوې وي، نو مقاله کې زیات جزیات موندلای شئ، خو تمه ده چې دا او دې ته ورته موضوعات زموږ ځوان څېړونکي لا پسې وغځوي او پیلامه یې له همدې ځایه وشي.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت:**

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې لومړی د هېواد یو هېره شوې علمي څېره یو ځل بیا څېړونکو ته په یاد شوه او ترڅنګ یې دا موضوع هم جوته شوه چې ژبه د هرې پوهې له دیده نوې لارې او ګودرې پرانیزي چې بې له شکه زموږ ادبیاتو ته نوی لوری ورکولای شي او موږ د پرمختګ لوړو مدارجو ته په لږ وخت کې رسولای شي.

**د څېړنې موخه:**

د دې څېړنې موخه په دې کې ده چې زموږ ځوان څېړونکي له خپلو علمي او څېړنیزو څېرو خبر شي او ترڅنګ یې هغوی ته دا موضوع هم جوته شي چې ژبه یوازې د ادبیاتو له دیده نه مطالعه کېږي، بلکې که سړی وغواړي ژبه له ډېرو اړخونو مطالعه کولای شي چې یو اړخه یې هم روانپوهنه یا ارا پوهنه ده.

**د څېړنې پوښتنې:**

په دې څېړنه کې تر ډېره لاندې پوښتنې ځواب شوې دي:

✓ استاد باندوال څوک و؟

✓ استاد بانډوال د پښتو ژبې لپاره څه وکړل؟

✓ استاد بانډوال په خپل علمي ژوند کې کوم کتابونه لیکلي او څومره یې چاپ شوي؟

✓ د استاد کړي کار زموږ د ژبې لپاره کومه نوې دریڅه پرانیستې او که نه؟

او دې ته ورته ځینې کوچنۍ پوښتنې په دې مقاله کې ځواب شوې دي.

**د څېړنې میتود:**

په دې مقاله کې تر ډېره له تشریحي او تحلیلي میتود څخه استفاده شوې ده.

## د استاد بانډوال د ژوند علمي هڅې

د ارواښاد حسن گل بانډوال له نامه سره زه هغه وخت اشنا شوم چې په ۱۳۷۲ لمریز کال د ننگرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانگې محصل وم او ارواښاد بانډه وال مې د ژبې د تدریس د اصولو او پیداگوژي د مضمونونو استاد و، تل به یې په پراخه حوصله او بشپړ متانت موږ ته د ښوونې او روزنې په باب لکچرونه راکول او زموږ پوښتنې به یې په پراخه سینه اورېدلې او د یو صمیمي دوست په څېر به یې زموږ پوښتنو ته ځوابونه راکول، هغه په واقعي معنا غوښتل چې موږ یو څه زده کړو او د خپلې ټولنې د راتلونکي لپاره خپل مسؤلیت اداء کړو.

کله چې د ۱۳۸۳ کال په پسرلي کې د علومو اکاډمي ته راغلم استاد مې په علومو اکاډمي کې د دفتر همکار او د یوې کوټې ملگری شو او د استادۍ شاگردۍ ترڅنگ مو د ملگرتوب او دفتر د همکار په توگه ډېرې ورځې په خوښۍ یو ځای تېرې کړې.

استاد حسن گل بانډوال د هغو پر هېواد مینو او پوهو استادانو په ډله کې و چې د ښوونې او روزنې، تدریس او د تدریس د اصولو په اړه یې موږ په ډېر څه پوه کړي وو او تل به مو د تدریس د میتود او څېړنې په اړه سره په دفتر کې علمي بحثونه کول.

استاد حسن گل بانډوال د پاچا گل زوی په ختځه درانی او له آره د ننگرهار ولایت د روداتو ولسوالۍ د بانډې د کلي اوسېدونکی و او په همدغه کلي کې په

۱۳۲۰ لمریز کال زېږېدلی و(۱)، خو ښاغلي محمد داود وفا په خپل اثر (ستوري د ادب په اسمان کې) د ده د زېږېدنې کال ۱۳۲۲ لمریز لیکلی (۲) او استاد بانډه وال په خپل کتاب (پښتني قبیلې او خېلونه قاموس) کې خپل د زېږېدنې کال ۱۳۲۳ لمریز لیکلی دی. (۳)

استاد بانډه وال خپلې لومړنی زده کړې په ۱۹۵۰ م کال د روداتو په شاهي کوټ لومړني ښوونځي کې پیل کړې او تر ۱۹۵٦ م کال پورې یې په نوموړي ښوونځي کې خپلې زده کړې ترسره کړې، وروسته یې خپلو زده کړو ته د ننګرهار په عالي دارالمعلمین کې تر ۱۹٦۳ م کال پورې دوام ورکړ او بیا په ۱۹٦٤ م کال کابل ته راغی او د کابل په عالي دار المعلمین کې هم زده کړې وکړې او په ۱۹٦٦ م کال ترې فارغ شو. د دې ترڅنګ یې د رحمان بابا په لیسه کې د ښوونکي مقدسه دنده هم ترسره کوله. د کابل له عالي دارالمعلمین څخه تر فراغت وروسته د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې په پوهنځي کې شامل شو او په ۱۹۷۰ م کال د کابل پوهنتون له ښوونې او روزنې له پوهنځي هم څخه فارغ شو.

استاد با نډه وال په ۱۹۷۵ م کال کې له افغانستان سره د متحده ایالاتو د بین المللي مرستو په یو سکالر شپ کې امریکې ته لاړ او هلته یې په نیویارک کې د بافلو کالج څخه په ښوونه او روزنه کې د ماسترۍ دیپلوم ترلاسه کړ او له دوه کالو زده کړو وروسته بېرته هېواد ته راستون شو. (۴)

استاد بانډه وال خپل لومړنی رسمي ماموریت په ۱۳٤۲ ل کال د پوهنې وزارت په چوکاټ کې د رحمان بابا په عالي لیسه کې د معلمۍ له مقدسې دندې څخه پیل کړ او تر ۱۳۵۷ ل کال پورې لومړی د رحمان بابا او وروسته د ننګرهار په احداد لیسه کې ښوونکی و. وروسته بیا د پوهنې په وزارت کې څلور کاله د پښتو ژبې ایډیټور و او په ۱۳٦۱ ل کال د علومو په اکاډمي کې د علمي غړي په توګه مقرر شو او د محقق په علمي رتبه ومنل شو، استاد بانډه وال په ۱۳٦٦ ل کال د څېړنوال علمي رتبې ته ترفیع وکړه او تر ۱۳٦۷ ل کال پورې په علومو اکاډمي کې په خپلو علمي څېړنو بوخت و، چې د وطن حالات خراب شول او په ۱۳٦۷ لمریز کال پېښور ته مهاجر شو. هلته په پېښور کې هم په ښوونیزو او تعلیمي مؤسسو کې د وطن د بچیانو د روزنې لپاره په مسلکي دندو بوخت شو، لومړنی دنده یې د

۱۹۸۹ د نومبر له میاشتې تر جون ۱۹۹۰ م کـال پـورې د پـاک - جـرمن پـه مؤسسـه کې د ماسټر ټیچر ټرېنر په توګه دنده تر سره کړه. (۵)

له ۱۹۹۱ م کال څخه تر ۱۹۹۳ م کال پورې د بشري قواوو د تربیې پـه کـالج کـې د اداري څانګې چېرمین په حیـث او د ( Communication) د مضـمون اسـتاد او همدارنګـه په همدغه کالج کې داخل خدمت ښوونکو ته د مسلکی زده کړو د اسـتادۍ دنـده یـې هـم درلوده. په ۱۹۹۳ م کال کې د نبراسـکا پوهنتـون د متحـده ایـالاتو د بـین المللـي ودې او انکشاف د پروګرام په مرسته له افغانستان سره د ښوونې او روزنې پـه سـکتور کـې د ښـوونې او روزنې د لومړنیو ښـوونځیو د تعلیمـي نصـاب د ډیـزاین کولـو او لارښـوونو د متخصـص پـه توګه دنده ترسره کړه. (٦)

استاد بانړه وال وروسته بیا د ۱۳۷۲ ل کال په پای کې ننګرهار تـه راغـی او د ننګرهار پوهنتون د ښوونې او روزنې په پـوهنځي کـې د ښـوونې او روزنـې د مسـلکي مضامینو استاد شو، څه کم دوه کاله یې دلته دنده تر سره کړه او بیا بېرته پېښـور تـه لاړ. په پېښور کې له څه مودې وزګارتیا وروسته یـو ځـل بیـا د بېلابېلـو غـیر دولتـي مؤسسـو لکـه UNICEF، save the children او لـه افغانسـتان سره د بلجـیم د پیوستون په پروژه کې یې د لنډ وخت لپاره کار وکړ (۷) او د طالبـانو د حکومـت لـه پای ته رسېدو وروسته په ۱۳۸۱ ل کال بېرته کابل ته راغی او یـو ځـل بیـا د علومـو اکاډمي د پښتو څېړنو په نړیوال مرکز کې د پښتو مجلې مسؤل مـدیر وټاکـل شـو او خپلو څېړنو ته یـې همدلتـه دوام ورکـړ، چـې بـالاخره د ۱۳۸۳ ل کـال د مرغـومي د میاشتې په ۹ نېټه د غرمې پر ۱۲بجو او ٤٥ دقیقو د مغزي سـکتې لـه املـه د خپـل کار د مېز تر شا یې د اجل داعي ته لبیک ووایه، روح یې ښاد او یا یې تل پاتې. (۸)

استاد بانړه وال چې زه ورسره په دفتر کې یو ځای پـاتې شـوی وم، تـل بـه یـې علمـي بحثونـه، جرګـې او مرکـې خوښـېدلې، هغـه د یـوه هوسـا او پـر ځـان بسـیا افغانستان ارمانجن و او همېش به یې د هېواد په غمیزو او تراژیدیو خپل فکر بوخت ساته او په دې اړه به یې کله ناکله بحثونه هم کول.

استاد بانړه وال د ښوونې او روزنې په بېلابېلو برخو کې زده کړې کـړې وې او تـل یـې له خپل مسلک سره مینه کوله او په مسلکي چارو به تـل بوخـت و، هغـه د تعلیمـي نصـاب،

پیداگوژي، د تدریس د اصولو او د زده کړې پر بېلابېلو مېتودونو کې د ځانګړې پوهې خاوند و او په عملي ډول یې په دغو برخو کې ژورې تجربې کړې وې.

هغه به په علمي مجالسو او سیمینارونو کې رغنده ونډه اخیستله او په علمي غونډو کې به د بحثونو ځانګړی مینه وال و، تل به یې خپل نظر او لیدلوری په دغه ډول غونډو کې څرګنداوه. اروابناد بانډه وال د ښوونې او روزنې، تعلیمي نصاب او د تدریس د اصولو او میتودونو ترڅنګ په پښتني تاریخ او د پښتني قبیلو او خپلونو په برخه کې هم ځانګړې پوهه درلوده او په دې برخو کې یې ځانګړي آثار او علمي مقالې هم لیکلي وې، استاد بانډه وال څو څو ځل په تقدیرنامو او تحسین نامو هم ویاړل شوی دی، د هغه وروستۍ دولتي رتبه اوله رتبه وه. (۹)

استاد بانډه وال د ښوونې او روزنې په برخه کې د هېواد دننه او له هېواد څخه د باندې په ډېرو ملي او بین المللي علمي سیمینارونو او کنفرانسونو کې ګډون کړی و، چې په علمي کانفرانسونو او غونډو کې په ملي او بین المللي کچه خپلې لیکنې او مقالې هم وړاندې کړې دي. د هغه ډېرې مقالې په کابل مجله، عرفان مجله، د سواد زده کړې مجله او نورو کې خپرې شوي دي، د ځانګړو آثارو په ډله کې یې لاندې آثار د یادولو وړ دي:

۱- **پښتني قبیلې او خپلونه (قاموس):** دا علمي څېړنیزه پروژه استاد بانډه وال ته د پښتو څېړنو نړیوال مرکز د ریسرچ انستیتوت له خوا د څېړنوال علمي رتبې ته د ترفېع په غرض ورکړل شوې وه، چې په ۱۳٦۵ ل کال یې بشپړه کړې ده . ټایپي نسخه یې د افغانستان د علومو اکاډمي په کتابتون کې خوندي ده. دا پروژه په کتابي بڼه په ۱۳۸۰ ل کال په پېښور کې د ختیځ بیا رغونې اداري (کور) له خوا په ۵٦۸ مخونو کې د زرو ټوکو په شمېر چاپ شوې هم ده.

**۲ - په لومړنیو ښوونځیو کې د ژبې د زده کړې لارښوونې او ستراتیژۍ :** دا اثر په ۱۳۷۹ ل کال په پېښور کې د ختیځ بیا رغونې اداره (کور) له خوا په لویه کچه په ۸۷ مخونو کې چاپ شوی دی.

**۳ـ د لومړي، دويم او دريم ټولگيو د ژبې د زده کړې مهارتونه، پښتو ژبه د دويمې ژبې په حيث:** د څلورم ټولگي لپاره، **پنځم ټولگي قرائت او لارښود** او د نورو درسي موادو په تاليف کې برخه اخيستل.

٤ـ (**د ژبې زده کړه**): د لويانو د سواد زده کړې لپاره درې جلده په پښتو ژبه او درې جلده په دري ژبه له ښوونځي څخه د باندې زده کوونکو پروگرام لپاره.

٥ـ په افغانستان کې د سواد زده کړې د پروسې د پرمختگ ارزيابي (څېړنيز اثر ) (۱۰)

٦ـ د ښوونې او روزنې د اصطلاحاتو قاموس په پښتو ژبه (ناچاپ)

۷ ـ د سواد زده کړې له ۹ کلنۍ څخه تر ۱۵ کلنۍ پورې کوچنيانو ته د سواد زده کړې لپاره د ژبې کتاب (ناچاپ) (۱۱)

۸ ـ ارواښاد بانډه وال د سرمحقق علمي رتبې د ترفيع په غرض د کونړ او ننگرهار ولايتونو د اتنوگرافيکي څېړنې پروژه اخيستې وه، چې پر دغه پروژه يې هم ډېر کار کړی و؛ خو دا چې مرگ معلوم نه وي، نو ده هم په همدې منځ کې د اجل داعيې ته لبيک ووايه او په رسمي وخت په خپل دفتر کې د مغزي سکتې له امله دې فاني نړۍ وکوچېد.

**پايله:**

تر کومه چې ماته معلومه ده د استاد بانډه وال په اړه يوه داسې څېړنه چې د هغې د علمي ژوند په اړه لږه غوندې رڼا واچوي هم نه ده ترسره شوې، په داسې حال کې چې استاد بانډه وال هم استاد و، هم څېړونکی و، هم روانپوه و او هم له کمالونو ډک انسان، خو دا چې ولې د تاريخ له حافظې دومره ژر ووت ښايي ډېرو ته دا خبره د پوښتنې وړې.

د دې لپاره چې زموږ ځوان اکاډميک نسل د استاد بانډه وال له څېړنو او علمي ژونده خبره شي، نو په اړه يې څېړنې او گروېږنې په کار دي چې له يوې خوا د استاد حق ادا شي او له بلې خوا زموږ ځوانان د داسې علمي او څېړنيزو ستو له څېړنو خبر شي.

هیله ده چې د استاد بانده وال د علمي او څېړنیز ژوند بېلابېل اړخونـه وڅېـړل شي.

## مأخذونه:


۱- په علومو اکاډمي کې استاد بانده وال د رسمي سوانحو دفتر.

۲- حسن گل باندہ وال (پښـتني قبیلـې او خیلونـه قـاموس) د افغانسـتان د علومـو اکاډمي ، د پښتو څېړنو نړیوال مرکز ، د ختیځ بیا رغونې اداره (کـور) ، پېښـور ، ۱۳۸۰ ل کال ۲۰٤ مخ .

۳- حسن گل باندہ وال (پښتني قبیلې او خیلونه قاموس) ،٥٥٦ مخ .

۴- حسن گل باندہ وال (پښتني قبیلې او خیلونه قاموس) ، ٥٥٦ مخ .

۵- حسن گل باندہ وال (پښتني قبیلې او خیلونه قاموس) ، ٥٥٧ مخ .

٦- حسن گل باندہ وال (پښتني قبیلې او خیلونه قاموس)، ٥٥٦ مخ .

۷- حسن گل باندہ وال (پښتني قبیلې او خیلونه قاموس) همدغه مخ .

۸- زما د شخصي یاداښتونو څخه .

۹- د رسمي سوانحو دفتر .

۱۰- حسن گل باندہ وال ، پښتني قبیلې او خیلونه قاموس ، ٥٥٨ مخ .

۱۱- حسن گل باندہ وال ، پښتني قبیلې او خیلونه قاموس ، ٥٥٨مخ .

پوهنیار میوند بختیار

# د خروټو د لهجې ګړویزونه (ډایلکټزمونه)

## لنډیز:

په پراخ مفهوم سره د مفاهمې هرې وسیلې ته ژبه ویلای شو؛ خو په علمي توګه چې موږ پر ژبه بحث کوو، هغې ته یو کسبي سیستم وایو چې له یو لړ اختیاري وییزو غږونو څخه جوړ شوی دی او د ټولنې وګړي یې د یوه بل د پوهولو او راپوهولو لپاره کاروي، یا په لنډه توګه ویلی شو چې ژبه د یو لړ اختیاري وییزو غږونو څخه جوړ شوی سیستم دی چې د ټولنې د وګړو ترمنځ د افهام او تفهیم یوه مهمه وسیله ده.

د ژبې په سیستم کې کوچنیو تغییراتو ته موږ لهجه وایو. که سیستمونو یومخیز سره توپیر درلود؛ نو بېلې ژبې یې بولو، یا د یوه ژبني سیستم په دننه کې کوچنیو جغرافیوي تغییراتو ته ګړدود (لهجه) ویل کېږي. په لنډه توګه ویلی شو، هغه څه چې ژبه نه ده هغه لهجه ده، یا که ژبه یوه ونه فرض کړو؛ نو ښاخونه یې لهجې دي او د یوې ژبې د وګړیو په غږېدا کې هغه توپیرونه چې محسوسېږي، خو نور خلک یې په خبرو پوهېږي، هغه لهجه ده.

د لغت په اړه پوهان مختلف تعریفونه لري. لغت یا ویی هغه ژبنی معنا لرونکی فورم دی، که تجزیه شي، خپله معنا له لاسه نه ورکوي او له تجزیې څخه یې ممکن خپلواک مورفیم، یا ناخپلواک مورفیم یا دوه خپلواک مورفیمونه لاس ته راشي، لکه ترکیبي لغتونه. مورفیم او کلمه هم پخپل منځ کې توپیر لري. لهجوي لغتونه (دایلکتزمونه) هغو لغتونو ته وایي چې د یوې ژبې په لهجو کې کارول کېږي او د

معياري لهجې او د هماغې ژبې نورو لهجو ويونکيو ته نـوي وي. د بېلگـې پـه توگـه د (ډوډۍ) لغات چې په ادبي ليکنۍ ژبه کې کارېږي؛ خو کړويزونه يې مـړۍ او ټيکلـه ده.

هره ژوندۍ ژبه لهجې لري، پښتو هم د نړۍ په ژونديو ژبو کې هغه ژبه ده چـې لهجوي رنگارنگي يې د هر چا پام ځانته را اړولی شي. همدا لهجې او لهجوي لغتونه کـه را غونـډ شي، لهجـوي قاموسـونه وکښـل شي او پـه دغـه برخـه کـې علمـي او اکاډميک کار وشي؛ نو لرې نه ده چې پښتو ژبه بـه لـه خپلـو سيالو ژبـو سره پـه يـوه کتار کې ودرېږي. لکه څنگه چې ټوله ته معلومه ده چې د هرې ژبـې د لغـاتو پانگـه له څلورو برخو څخه جوړه ده چې په لاندې ډول ده:

۱ـ د ارکاييکو يا زړو لغتونو ژوندي کول.

۲ـ د ژبې له ټولو لهجو څخه دايلکتزمونه يا لهجوي لغتونو را ټولول.

۳ـ اډاپټېشن يا له نورو ژبو څخه د لغتونو پورول

۴ـ د نويو يا مصنوعي لغتونو جوړونه

پورته برخې د ژبې په غنا کې مستقيم نقش لرلای شي.

دايلکتزمونه يا لهجوي لغتونه هغه لغتونه دي چې د يوې ژبې په لهجو کـې يـې خلک د يوه بل د پوهولو او راپوهولو لپاره کاروي او په ورځنۍ ژبه کې کارول کېـږي، لکه ډوډۍ، مړۍ، ټيکله، وجود، جوند او داسې نور.

په دې کوچنۍ ليکنه کې په غزني ولايت، قره باغ ولسوالي کې د مېشته خروټو له گړدود څخه تر سلو زيات هغه نوي او کم پيدا لغتونـه راټـول شـوي دي چـې ډېـرو يې ليکنې ته لاره پيدا کړې نه ده او په شـفاهي توگـه د خلگـو پـه ژبـه او لهجـه کـې کارول کېږي. په دغو راټولو شويو لغتونو کـې د ځينـو ريښـې آن زاړه آريـايي پېـر تـه رسېږي، لکه اوبجه، بگ، جات او داسې نور. په دې مقاله کې د راټولو شـويو لغتونـو ډېره برخه نړه پښتو لهجوي، پور او ارکايک لغتونه دي چې تر اوسه د خرټو پـه لهجـه کې کارول کېږي.

آر لغتونه: ژبه، لهجه، ويی (لغت) او ډايلکټزمونه (لهجوي لغتونه).

## سریزه:

ژبه د بشر لويه اختراع او د تمدن بنسټ دی. بغير له ژبې د انسان د ژوند، پرمختګ، پوهې، او... تمدن د شته والي تصور پر اوبو د کرښو ايستل دي. ژبه د انسانانو او نورو ژونديو موجوداتو ترمنځ د توپير لوی سرحد دی. همدا ژبه ده چې د انسانانو ترمنځ د مفاهمې د لويې وسيلې په نامه يادېږي، د انسان له پيدايښت سره که سمه نه وي زېږېدلې؛ نو لږ به ترې کشره وي.

ژبه او لهجه يو له بل سره نه شلېدونکی تړاو لري. څه چې ژبه نه ده، هماغه لهجه ده، يا ژبه او لهجه د يوې سکې دوه مخونه دي. لهجې هم لکه ژبه د ټولنې د افرادو ترمنځ د افهام او تفيهم دنده مخته وړي؛ نو پخپل ذات کې هيڅ کومه لهجه غلطه نه ده، ناسمه څه چې ارزښتمنه هم ده. د پښتو ژبې لهجې د نادرو لغتونو خزانې دي او د لغتونو راټولول او د ګرامري ځانګړنو ثبتول يې پخپل ځای ارزښتمن کار دی. له بده مرغه پښتو ژبه تر اوسه يوه معياري لهجه نه لري چې په رسمي اعلاميو او راډيو - ټلوېزيون کې يې ټول ويندويان پيروي وکړي. دلته د معياري لهجې د منځته راتګ پر پرنسيپونو نه غږېږي؛ خو دومره يادونه اړينه بولم چې معياري لهجه او يو متحد ليکدود د پښتو ژبې په بنيادي اړتياوو کې راځي.

د غزني د قره باغ د خروټو لهجه چې ځينې ځانګړنې يې له لوېديځ، ځينې يې د سوېل ـ لوېديزو لهجو سره ورته دي او ځينې ځانګړنې يې مرکزي لهجې ته پاته کېږي. دلته به د دې لهجې پر ځينو ګرامري ځانګړنو بحث وکړو او د ليکنې ډېره برخه به د نوموړې لهجې ډيالکټيزمونو يا لهجوي لغتونو ته ځانګړې کړو، هيله ده، دا او دې ته ورته هڅې به د پښتو ژبې په درد ولګيږي.

## د څېړنې اهميت او مبرميت:

ماکس ميولر (Max Muller) تر ادبي ژبې پر لهجو باندې کار ته د لومړيتوب حق ورکړ او ويې ليکل:

"ادبي اصطلاحات مصنوعي دي... د ژبي واقعي او طبيعي ژوند له هغه استبداد سره سره چې د کلاسيکو او ادبي اصطلاحاتو له خوا شوی دی، د هغې په لهجو کې دی." (۱۲: ۷۲ مخ)

د لهجو د راټولولو اهمیت له هیڅا څخه هم پټ نه دی. که لهجوي لغتونه له هرې لهجې راټول شي، د ژبې او ادب په بډایینه کې به مهم نقش ادا کړي او په راتلونکي کې به د لوی لهجوي قاموس په منځته راوړولو او جوړولو کې به ستره ونډه ولري. همدا راز د معیاري لهجې په برخه کې هم له لهجوي لغتونو څخه استفاده کېدای شي. د مختلفو لهجو د لغتونو د را غونډولو یوه ګټه دا هم کېدای شي چې له دغو لهجوي لغتونو څخه د پښتو ـ پښتو قاموسونو په لیکلو کې ډېره ګټه پورته شي او د قاموس لیکونکي لپاره به د لغتونو په معنا او تشریح کې د مترادفو لغتونو کمی نه وي، که څخه هم له هره اړخه پوره مترادف لغتونه نه شته یا ډېر کم دي.

پر دې موضوع باندې، څومره چې ماته معلومه ده، چا تر اوسه څېړنه کړې نه ده. د لهجوي لغتونو راټولول همدومره ارزښتمن دي، لکه د زړو لغتونو را ژوندي کول یا د نوو لغتونو جوړول. پاتې دې نه وي چې د خروټو د لهجې په باره کې متفرق معلومات په ځینو کتابونو کې راغلي دي.

**د څېړنې موخې:**

**اصلي موخه:** لکه څنګه چې ټولو ته معلومه ده چې د یوې ژبې د لغتونو پانګه له دغو څلورو برخو څخه را بشپړېږي: ارکاییزم یا زاړه لغتونه، ډایلکټیزم یا لهجوي لغتونه، نیولوجیزم یا نوي لغتونه او فارنیزم ـ اډاپټیزم یا پور لغتونه یې بولي. د دې مقالې یوه موخه دا کېدای شي چې د خروټو لهجو لغتونه له مرګه وژغورل شي، له دغو راټولو شویو لغتونو څخه د لهجوي قاموسونو په برخه کې استفاده وشي او دې ته ورته هڅې د دې سبب ګرځي چې د ژبې د عمومي قاموسونو لپاره د مترادفو لغتونو په پیدا کولو کې مرسته وکړای شي.

**فرعي موخې:** محمد معصوم هوتک د ((پر معیاري ژبه د معیار په ژبه یوه څېړنه)) اثر کې د (څه باید وشي؟) تر سرلیک لاندې کاږي: "له لهجو سره مسئولانه چلند وکړئ. دې واقعیت ته ځیر شئ چې لهجه په پښتنو کې لا تر اوسه هم د تقدس درجه لري. له مقدساتو سره بېباکي د کور پایې نړوي. د لهجو مرګ او ژوند هم طبیعي جریان ته پرېږدئ. ناحقه خپل ځان مه په خوني کوئ.

د هري لهجې ويونکي چي ياست، د خپلي لهجې لغتونه راټول او خپاره يې کړئ. دا کار له همدا نن شروع کړئ. له لهجوي زېرمي سره که اصطلاحات (ګړنې) هم راخوندي شي، خو د زوی زېری به وي (۱۲: ۱۸۴ مخ)

د دې وړې ليکنې يوه موخه دا هم کېدای شي چې د خروټو د لهجې په باره کې عمومي معلومات زموږ له لهجه پېژندنکيو او د پښتو ژبې له ژبپوهانو سره شريک کړو. د ادب له مينانو او شاعرانو سره دا مرسته کولی شي چې د ځينو معاصرو متنونو په پوهېدنه کې زموږ دا هڅه مرستندويه واقع کېدای شي او ادبيانو ته د ژباړې او تخليق په برخه کې څه نا څه مترادفات په ګوتو ورکړي. د دې ليکنې يوه موخه دا هم کېدای شي‌چې د خرټو د لهجې لغتونه راټول کړو او د يوه لهجوي قاموس لپاره د خامو موادو په برابرولو کې به مو مرسته کړې وي او دا وړ هڅې د معيارې لهجې په منځته راوړلو کې هم ارزښتمنې دي.

**د څېړنې پوښتنې:**

۱ـ آيا د خروټو په لهجه کې داسې لهجې يا لهجوي لغتونه شته چې تر اوسه زموږ د ژبې په قاموسونو کې ثبت شوي نه وي؟

۲ـ د لهجوي لغتونو راټولول کومې ګټې لري که نه؟

۳ـ ژبه څه ده؟

۴ـ لهجه څه ده؟

۵ـ ژبه او لهجه آيا توپير لري؟

٦ـ لهجې يا لهجوي لغتونه کوم ډول لغتونه دي؟

۷ـ د خروټو د لهجې عمومي ځانګړنې کومې دي؟

په دې ليکنه کې پورتنيو ځينو پوښتنو ته مشرح او ځينو ته سر، سري ځواب ويل شوی دی.

**د څېړنې فرضيه:**

د خروټو لهجه چې په ځينو ځانګړنو کې له لوېديزې لهجې، په ځينو له مرکزي او په ځينو کې له سوېل ـ لوېديزې لهجې سره ورته والی لري. د لغوي زېرمې له اړخه يوه شتمنه لهجه ده چې ډېر او نوي لهجوي لغتونه لري.

**د څېړنې ډول او مېتود:**

د دې څېړنې ډول ساحوي او له سروې مېتود څخه يې په ليکنه کې استفاده شوې ده؛ خو په څنګ کې ورسره له کتابتوني څېړنې او تشريحي مېتود څخه هم ګټه اخيستل شوې ده.

## د خروټو د ژبې لهجوي لغتونه

### ژبه څه ده؟

ژبه د يو لړ اختياري وييزو او اوريزو سمبولونو (علايمو) يوه مجموعه ده چې هر سمبول يې زموږ د يوه ذهني انځور نمايندګي کوي. دا انځورونه د انساني چاپېريال او مهال ښېزونه او ځانګړتياوې، پېښې او کړه وړه رااخلي او په دې توګه ژبه د انسانانو ترمنځ د پوهولو يوه اله او وسيله ده. (۲: ۲ مخ)

د ژبې علمي تعريف کانديد اکاډميسن پوهاند محمد رحيم الهام د ((روش جديد در تحقيق دستور زبان دری)) اثر په ۱۲ مخ کې د ژبې له ټولو تعريفونو څخه يو جامع تعريف داسې کښلی دی: ''ژبه د غږيزو سمبولونو داسې يو اکتسابي او ميثاقي سيستم دی چې د ټولنې وګړي يې له يو بل سره د مفاهمې له پاره کاروي.'' (۱۱: ۸ مخ)

که په لنډ ډول ووايو ژبه د پوهولو او راپوهولو داسې يوه وسيله ده چې انسانان پرې په خپلو کې اړيکې ټينګوي، خپل خيالات نورو ته بيانو ي او د نورو د خيالاتو او غوښتنو ځواب پرې وايي. (۱۰: ۵۲ مخ)

**لغت څه ته وايي؟**

مجاور احمد زيار لغت داسې تعريفوي: ''ويی يا لغت هغه خپلواکه معناييزه ژبنۍ ټوټه يا يوون دی چې پر زياتو وړو معناييزو ټوټو نه شنل (نه تجزيه) کېږي يا يې ځوک شنل نه غواړي. ... په پای کې دې نتيجې ته رسېږو چې لغت د ژبې ډېر وړوکی نسبتاً خپلواک معنا لرونکی واحد دی. (۸: ۱۸ مخ)

لغت او مورفيم د ورته والي ترڅنګ ځينې توپيرونه هم لري، لغت کېدای شي له دوو مورفيمونو څخه منځته راغلی وي، لکه د ( پوهنتون) لغت چې له دوو مورفيمونو څخه رغېدلی چې (پوهنه + تون) دي، لومړی يې ازاد او دوهم يې مقيد

مورفيم دی؛ خو په ټوله کې يو لغت يا يوه کلمه ده. موږ کولای شو مرکب او مشتق لغتونه تجزيه کړو؛ خو مورفيم هيڅکله د تجزيې وړ نه دی.

د يوې کره ليکنې پښتو وييپانګه لکه نورې ژبې له څلورو خواوو څخه را بشپړېږي:

(۱) ګړدودي وييونه يا ګړوېزونه، (۲) لرغوني يا ارکاييک وييونه، (۳) خپلاسي يا مصنوعي وييونه يا نوېزونه او (۴) پور يا مستعار او دخيل وييونه، يا پوروېزونه (۴: ۵ مخ).

۱ـ ارکاييزمونه (Archaisms)، زړه يا لرغوني لغتونه: په لهجه کې که نيم نيمژوانده پاتې لغتونه چې يا يې په ټوله کې يې څرک نه لګي او يا تش په زړو ادبي او تاريخي ليکنو او متنو کې راخوندي شوي وي او يوازې د ليکوالو، شاعرانو او ژورنالستانو له خوا په لږو ډېر شکلي او معانيز بدلون کارول کېږي او ورو ـ ورو ګړنۍ ژبې ته هم لار مومي؛ لکه: نړی، هېواد، اتل، يون، وياړ، هسک او...

۲ـ ديالکتزمونه (Dialectisms) يا لهجوي لغتونه: دا لغتونه چې په بېلابېلو لهجو کې استعمال لري؛ لکه کور، ډوډۍ، اوبه، پلار، مور، خور، ورور او....

۳ـ نېولوجېزمونه (Neologisms) نوي جوړ شوي لغتونه: هغه لغتونه چې د نوي رغاونې له لارې د ژبپوهنې (Linguistics) او بيا د لغتپوهنې (Lexicology) او د اړوندې علمي او تخنيکي څانګې د پوهانو له خوا نوي جوړېږي، هغه هم د ترکيب (Word Compound) او تجزيې (Derivation) او تيارو لغتونو له مخې؛ لکه پوهنتون، پوهنځی، توغندی، غرنی، وګړنی، پانګوال، ځمکوال، لاسليک، سرليک، برخليک، مخکتنه، ټولنپوهنه، او... .

٤ـ فارنېزمونه او اداپتېزمونه (Foreignisms & Adoptisms) يا پور لغتونه: دا ډول لغتونه له نورو ژبو څخه راپورېږي. دا ډول لغتونه که په پوروړې يا پورونکې ژبه کې په هماغه آره جوله او معنا وکارول شي، (دخيل) بلل کېږي؛ خو که لږوډېرو جوليز يا مانيز بدلون پکې راشي، يا په بله وينا چې د پوروړې ژبې له فونولوجيکي او رغانيزو (ګرامري) او يا هم له معناپوهېزو آرونو سره اړخ ولګوي؛ نو بيا اداپتيزمونه، لکه پښتو شوي (مفغن) پارسي شوي (مفرس)، هندي شوي (مهند) او عربي شوي (معرب) بلل کېږي.

پور لغتونه که د ډېرو نړدې (ګاونډیو) ژبو ترمنځ هم وي، بې بدلونه نه پاتېږي؛ نو له دې لامله یې انډول زیاتره (اداپتیزمونه) کارول کېږي؛ لکه بینک (بانک)، شمع (شمه)، طمع (تمه)، مصرع (مسره)، وقت (وخت)، قحطي (کاختي) او.... (٦: فیسبوک پاڼه)

پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار (پښتو ویپوهنه او ویېرغاونه) اثر کې لهجوي لغتونه چې زموږ د مقالې عمده موضوع ده، داسې راپېژني: "ګروېزی (واژهٔ ګویشی dialectism): هغه ویی چې په ژبه، په نورو ټکو، په اړوندو ګړدودونو کې ژوندی کارېدنګ لري، هر ګوره، کېدای شي، په ځینو ګړدو کې له منځه تللی وي او چېرې یې په یو نیم ځانساتي ګړدودو کې ځرک ولګي، لکه ونج (ککړک – سور رود)، ترووړل (تروښل) د (اختطافول) په معنا او نولل (لونل) د (نثارول) په معنا (پېښور)، ښاغلی، پخوله، نټه (انکار)، سکته (قناعت) ... (کندهار) تون، نړۍ، مرېستون او داسې نور کمپېښي ګړویزونه چې هممهاله له زړویزونو سره هم اړخ لګوي (۵: ٦٧ مخ)

## لهجه dialect څه ته وايي؟

لهجه د خبرو اترو طرز یا د خبرو د افادې یو ډول دی. لهجې ته په انګرېزي کې (dialect) وایي چې د یوناني له لغت dialectos څخه مشتقه کلمه ده او ډیالکټوس د خبرو کولو طریقې ته ویل کېږي. لهجه د یوې ژبې محلي نوعه هم بللای شو. لهجې ته فرېزیولوجي phraseology هم ویله شوې ده او هغه هم د افادې د څرګندولو لارې ته ویل کېږي. (۱۲: ۴۲ مخ)

کاندید اکادمیسین پوهاند محمد رحیم الهام، لهجه یا ګړدود د یوې ګړنۍ ټولنې د ګړېدونکیو ډله ییز توپیر بولي او ګړدود د یوې ژبې د بشپړ نظام فرعي نظام ګڼي.

پوهاند صدیق الله رښتین ((پښتو ګرامر)) اثر کې پښتو لهجې پر دوو ډلو وېشي چې یوه یې اصلي او بله فرعي ډله نوموي. اصلي ډله بیا پر دریو څانګو: لوېدیځه لهجه، مرکزي لهجه او ختیځه لهجه باندې وېشي. بله ډله فرعي لهجې نوموي چې هغه بیا پر وزیرۍ لهجه، د خټکو لهجه، کاکړۍ لهجه، د احمدزو لهجه، د وردګو لهجه، د پکتیا لهجه، د اپریدو لهجه، د یوسفزو لهجه، د باجوړ لهجه، د مومندو لهجه، د خوګیانو لهجه او د شینوارو پر لهجې وېشي. (۳: ۴۱۳ - ۴۱٦

مخونه). د پوهاند رښتين صاحب د وېشنې پر اساس ويلی شو چې د خروټو لهجه مهمه فرعي لهجه حساب کېدای شي.

د يوې وېشنې پر اساس لهجې پر دوه ډوله ده:

**الف: جغرافيايي لهجې:** هغه لهجې چې په يوه خاصه سيمه او محل پورې اړه لري، لکه د شينډنډ پښتو لهجه، د کندهار پښتو لهجه، د پکتيا پښتو لهجه، د ننګرهار پښتو لهجه، د غزني پښتو لهجه، د پېښور پښتو لهجه، د وزيرستان پښتو لهجه، د سوات پښتو لهجه او داسې نور....

**ب: ټولنيزې لهجې:** دا هغه لهجې دي چې د ټولنې د بېلابېلو ټولنيزو ډلو، قشرونو، د بېلابېلو اقتصادي طبقو او دندو درلودنکيو له خوا ويل کېږي. لکه د بډايو او شتمنو لهجه، د خوارانو لهجه، د شپنو لهجه، د ښوونکيو لهجه او داسې نور. د خبرو اترو او ګړېدا د دغو ډلو تر څنګ په ژبني سيستم کې نورې ځانګړې بڼې هم وجود لري، چې د (ګړېدا ژبه)، د (ليکلو ژبه)، (ادبي ژبه)، (ولسي- ژبه) او په نورو سره يادېږي (۱۰: ۳۲ - ۳۳ مخونه)

نوموتی ژبپوه دوکتور زيار د پښتو لهجو اړوند کاږي: ''پښتو ګړدودونه (لهجې) پر څلورو غورو ډلو وېشنه مومي:

۱- سوېل - لوېديزه پښتو

۲- سوېل – ختيزه پښتو

۳- شمال ختيزه پښتو

۴- منځنۍ پښتو (۴: ۴ مخ)

ګړدود (لهجه) پوهنه نومي اثر د پښتو لهجوي وېش تر سرليک لاندې کاږي:

له دغه څلور ګوني لهجوي وېش سره څلورګونې سيمې او څه ناڅه څلور ستر ټبرونه (ډلې) تړاو لري او هغه دا دي:

۱- لومړۍ ډله لوېديځ يا کندهاري لهجې: په لومړنۍ ډله کې کندهار، هلمند، سيستان... کې د غلجي، غرغښتي... لړکيو، زياتره په سړبني پښتنو پورې اړه لري.

۲- دوهمه ډله يا سوېل ختيځ لهجې چې د لومړۍ ډلې په مخامخ جغرافيايي دريځ کې ټيکاو لري. يا په بله وينا زياتره د کسي د غره سوېل او ختيځ سيمې پکې راځي. په داسې حال کې چې لومړۍ ډله کې زياتره د دغې تاريخي پښتني ټاټوبي

کې شمال او لوېدیځ سیمې راځي. په دغه ډله کې د ټبرني پلوه د لړکیو سرېني ترڅنگ زیاتره غرغښتي او کرلاڼي ټبرونه راځي، لکه کاکړ، کاسي، شیراني، وزیر، مسید، گنداپوري، بنوڅي او ختک دغه راز بېټني چې له پنځو بنسټیزو ټبرونو څخه کوم ځانله دریځ نه لري او د پخوا راهیسې په وزیرستان او ورڅېرمه سیمو کې اوسي، هغه هم په همدغه لهجوي ډله کې شمېرل کېږي.

۳ـ مینځني لهجې د دورانیو، غلجیو له پخوانیو ټبرني پولې، د جلدک څخه د جلال آباد د سره رود تر دوسرکې پورې نږدې په یو مخیز ډول ټول غلجي ټبرونه رانغاړي. د متوزیو دوهمه ډله ټبرونه، لکه د غزني، د قره باغ خروټي، د ښرنې علي خېل، د زرملې متیزي په استثنایي توگه د دوهمې لهجوي ډلې استازي کوي. په زړه پورې بیا دا چې دغو ټبرونو د کاکړو، شیراني او سوېلي پښتونخوا نورو شاوخوا ټبرونو د (ښ – ṣ) تر څنگ د (ږ – ẓ) دویم بدلون (ز) هم راخپل کړی دی.

۴ـ شمال ختیځ یا ننگرهاری لهجه: دغه ډله له جغرافیایي پلوه له غلجي حصارک او سره رود له غلجي ټبرونو پرته ټول ننگرهار، کونړ، لړ او ډېر باجوړ، د مومندو سیمه، شاوخوا پېښور، سوات، چچ هزاره ضلع، هریپور او د سیند پورې ټولې سمیې رانغاړي چې په ټولیز ډول په کې شینواري، مومند، ساپي، ترکاني، یوسفزي، دلزاک، داودزي، گدانه او نور لوی او واړه ټبرونه راځي. ( ۷: ٦٦- ٦٧ مخونه)

**لهجوي لغتونه (Dialectisms):** کوم ځانگړي توپیرونه چې د یوې ژبې د ویونکو لخوا لیدل کېږي، هغه د هغې ژبې بېلابېل لهجې دي، یا په بله وینا د یوې ژبې هر ویونکی د هماغې ژبې د یو گړدود ښکاروندویي کوي او یو له بله سره د بېلابېلو بیولوژیکي، سوسیالوژیکي او جغرافیایي دریځونو په لرلو سره د هماغې یوې ژبې په استعمال او کارونه کې توپیر لري، لکه ډوډی، ټیکله، مړی او داسې نور... (۸: ۷۱ مخ)

ژبه د ټولنې د وگړیو ترمنځ د پوهولو او راپوهولو یوه وسیله ده یا ژبه یوه ټولنیزه، اکتسابي او ثقافتي پدیده ده، نه عضوي، فطري او طبیعي بلکې یوه ټولنیزه پدیده ده.

پښتو ژبه د نړۍ له ژوندیو ژبو څخه ده چې پر بډایو ادبیاتو سربېره د زیاتو لهجو درلودونکې هم ده.

اوس به دې ته راشو چې لهجه څه شی ده؟

د ژبې او لهجې د توپیر په باره کې پوهاند تږی لیکي: «اما زما په فکر د دې توپیر د ښودلو لپاره تر دې هم ښه لاره دا ده چې سړی ژبه یو سیستم وګڼي او کوم ډله ییز توپیر، چې پخپله دغه سیستم کې لیدل کېږي، هغه لهجه وبولي. اما کله که خپله سیستم بېل وي، هغه بېله ژبه وګڼي. په دې ځای کې دا هم باید وویل شي چې ښایي پخپله دلته یوه ژبني سیستم کې لهجوي اختلاف اجتماعي وي چې د صنف او طبقې پر اساس منځته راځي او ښایي محلي وي چې د جغرافیاوي توپیرونو پر اساس رامنځته کېږي. (۱: ۹۷- ۹۸ مخونه)

پښتو ژبه هم ګڼې لهجې لري او هره لهجه یې خپلې ځانګړتیاوې او ښکلاوې لري، په هره لهجه کې ځینې داسې نادر لغات موندل کېږي چې ښایي د ژبې نورو ویونکو ته به نوي وي او ممکن سم پرې پوه نه شي؛ نو موږ دلته دا هڅه کړې ده چې د خروټو د لهجې ځینې لغتونه راټول او د پښتو ژبې مینه والو په مخ کې یې کېږدو!

په دې لیکنه کې مو ځینې داسې لغتونه هم راوړي دي چې ډېره ژوره ریښه لري او آن په اریایي دور ته یې ریښه رسېږي. دا او دې ته ورته هڅه لغتونه له مړه کېدو ژغورل کېدای شي او که دې ته ورته هڅو ته دوام ورکړل شي د پښتو ژبې د لغتونو پانګه به مو غني کړې وي او د پښتو ـ پښتو قاموس لیکونکیو ته به مو په یو شمېر مترادف لغات ورکړي وي.

**د خروټو د لهجې ځینې ګرامري ځانګړنې:**

د غزني د قره باغ د خروټو لهجه چې ځینې ځانګړنې یې له لوېدیځ ګړدود سره ورته، په ځینو خصوصیاتو کې د سوېل ـ لوېدیزې لهجې سره ورته ده او ځینې ځانګړنې یې مرکزي لهجې سره مشترکې دي. دلته به د دې لهجې پر ځینو ګرامري خصوصیاتو څنګزن بحث وکړو:

**د فعلونو برخه:** د فعلونو په برخه کې، له ښې خوا دوهم واریانټونه لهجوي دي، لکه:

| | |
|---|---|
| وکړ – وکو | کښېنم – چېنم |
| وکړه – وکه | کښېنه – چېنه |

| | |
|---|---|
| وکړم – وکم | کښېني – چېني |
| وکړي – وکي | کښېنوست – چېنوست |
| وکړئ – وکئ | شته – سته |
| کوي – کيي | شو – سو |

د نرینه او ښځینه دواړو لپاره د (دی – ده) کومکي فعل پر ځای (ده) راوړي، لکه:

- سړی راغلی ده. ښځه راغلې ده.

**د نومونو برخه:** ښځینه نوم داسې جمع کوي:

هغه ښځینه نومونه چې پای ته یې زور راغلی وي او فشار یې پر لومړی څپه وي، لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| ښځه | ښځي |
| لښته | لښتي |
| ځانگه | ځانگي |
| خپلوانه | خپلواني |
| زرکه | زرکي |
| سنځله | سنځلي |
| پېغله | پېغلي |
| مینه | میني |
| خوشکه | خوشکي |

هغه ښځینه نومونه چې پای ته یې زور راغلی وي او فشار یې پر وروستی څپه وي، لکه:

| | |
|---|---|
| ډېوه | ډېوې |
| زړه | زړې |
| وربره | وربرې |
| خورزه | خورزې |
| پیاله | پیالې |

| | |
|---|---|
| وياله/ بياله | ويالې/ بيالې |
| ويده | ويدې |
| منه | منې |
| مږه | مږې |

ډېرى د ژونديو موجوداتو نرينه نومونه چې پر ښواک غږ پـای تـه رسـېدلي وي، پر (ان) او ښځينه مفرد يې پر (انې) جمع کېږي، لکه:

| مفرد | جمع |
|---|---|
| ورور | وروران |
| پلار | پلاران |
| خور | خورانې |
| مور | مورانې |
| لور | لورانې |
| کاغ | کاغان |
| پړانګ | پړانګان |
| لېوه | لېوان |
| زمرى | زمريان |
| ګيدړ | ګيدړان |
| مږ | مږان |

همدارنګه ډېرى هغه لغتونه چې د (ژ – ž) غږ پکې راغلى وي، يا د فونيم پـر (ز – z) او په زياتو لغتونو کې د (ش – š) فونيم پر (س – s) اړوي، لکه:

| | |
|---|---|
| ژرنده | زرنده |
| ژبه | زبه |
| ژوند | زوند |
| روژه | روزه |
| ژوبل | زوبل |
| شول | سول |
| شته | سته |

| | |
|---|---|
| وشو | وسو |
| مشر | مسېر |
| کشر | کسېر |
| شگه | سگه |
| تش | تس |
| تشی | تسی |
| شخوند | سخوند |

پاتې دې نه وي چې (کې، چې، مې، نې، زې، تې، دې) د (کې يې، چې يې، مې يې، نه يې، زه يې، ته يې، دې يې) لنډ شکلونه هم دي.

دلته به د خروټو د لهجې يو شمېر ډيالکټيزمونه يا لهجوي لغتونه له لوستونکيو سره شريک کړو:

۱- ارغلی arğalay: انغری، نغری، دا لغت ښايي اورغالی وي.

۲- اوېجه aweja: ځمکه، ملک، هېواد، لکه د خدای پر اوېجه مې پرېږده!

۳- اسمان څکالیasmān cakālay: ښاپېرک.

۴- اسيت asyat: علت، کبل.

۵- اکرب akrab: يتيم، پلار مړی، بدبخت.

٦- اډېيل ādeyal: هغې سپرغې ته وايي چې وچه شوې وي.

۷- انگښی anğaṣay: د ناوې د پيکي اوبدلو وښتانو ته وايي.

۸- اکوڼی akuṇay: بچيان، اولاد.

۹- الېيل aleyal: وريتول، الووی کول.

۱۰- الپته alapata: وارخطا.

۱۱- بچوڼی bačuṇay: بچيان، اولاد.

۱۲- بمبره ١٦٣ambara : غومبسه.

۱۳- بدلۍbadale: سندرې.

۱۴- بوخڅه buxca: غونډه، د جامو بوخڅه، د تارونو بوخڅه يا پنډکی.

۱۵- بروسه barosa: اعتماد، اعتبار.

١٦- بگ bag:لوی، غټ لکه وايي لکه لوی بگ يې او لـه وړو سره لـوبې کـوې!

۱۵- بوج boj: زړی، زنبی، لکه د ختېکي یا هندوانې بوج چې ډېر ګړی یې بوجان راځي.

۱٦- بادوریه bādwrya:باد وریا، ګردله، هغه واوره چې له تېز باد سره مله وي.

۱۷- بلخې bəlaci: لوی وېښتان، څڼې.

۱۸- برزې brazi: کولمې.

۱۹- بړوس ṭṛus: مرور.

۲۰- بسیا basyā: مېشت، د بېلګې په توګه پلانکي زوی بسیا کړ، یعنې واده یې ورته وکړ.

۲۱- بغور bağwar: اننګی، باړخو.

۲۱- پاته‌مړی pātama ṛay: میراث، میرات.

۲۲- پکو pako: درمانده، بېوسه

پسرلی صاحب وایي:

د ژوند په هغه وخت کې چې له ځانه وم پکو

د تېرو خوږو یادو مسیحا راغلې وې

۲۳- پتلېز ptlrz: پیوسته، سریښ، په ځمکې پسې هموار.

۲۴- پی pəy: شړومبی، شوملې. خود پوهاند زیار په اند خوشال بابا د مستو هممانیز (پی) په دې ډول راوړي: که به پی څښې شودې پی یې د بزو څښه (۴: ۳٦ مخ)

۲۵- پېغلچکه peğilčaka: هغه نجلی چې لا پېغله شوې نه وي، نورسه پېغله.

۲٦- پونګه ponga: د مېوه لرونکیو ونو غوټی چې لا ګل شوې نه وي. ممکن له پانګې سره اړیکه ولري.

۲۷- پولی puləy: دا هم د سېرې یوه برخه ده.

۲۸- پلپوټ palpoṭ: پلټنه، پوښتنه گروېږنه .

۲۹- پلټن palṭən: د خلکو ډله، یو گروپ خلک.

۳۰- پټڼ ptaṇ: گودر. پر گودر د نجونو مجلس ته هم وایي.

۳۱- پوښی puṣəy: رواش، د څوکرو غوندې نازکې او اوبوزنې نه وي.

۳۲- پېزوان pezwān: دا زېور له پوزې څخه پر شونډو راځوړند وي.

۳۳- پانکټې pānkaṭe: پایزېب.

۳۴- پوټی poṭay: مړه خاوره، چې عموما په کچه لارو کې د سپرو او پلیو له تگ راتگه پیدا کېږي.

۳۵- پښولی paṣwalay: د کوچنیانو پایزېب.

۳٦- پټخ paṭax: د نازک بڼ، نازک بادرنگ، پټخ بادرنگ.

۳۷- پځېيل paǰeyal: داغل.

۳۷- تمبولی tamboləy: کله چې خټه په منځ کې نرمه او سر یې کلک شوی وي، پر سر یې څوک گرځېدلی شي، تمبولی ورته ویل کېږي.

۳۸- ترسېری tarseray: د غوا او غوایه په سر کې اچول شوی پړی ډوله شی دی.

۳۹- تندی tandəy: هغه غوا چې نوې لنگه شوې وي.

۴۰- تړک ṭṛak: گرمي، سورتړک، ډېره گرمي.

۴۱- تیخنی tixanay: د رخت له رنگارنگ ټوټو پر لاس باندې گنډل شوی فرش.

۴۲- توږم twaẓam: تفت، د گرمی په موسم کې چې په فضا کې گرد غوندې خپور وي.

۴۳- ټیک ṭik: له مېخکی غټ له سرو زرو جوړ او پر مرغلرو جړاو شوی د پوزې کالی دی.

۴۴- جند jənd: وجود، سټه، پڼه.

۴۵- جنډړی jindṛəy: د وجود مترادفه کلمه ده. دا لغت هندي مستعار ښکارېږي.

۴٦- جات jāt: ځمکه،ځای، لکه د خدای په جات مې پرېږده!.

۴۷-جنت کوکی janat kokəy: پتنگ، شوپرک.

۴۸- جیجوری jijūray: غبغب، تر زنې لاندې راوتلې غوښه.

۴۸- خوا xwā: زړه. خوا مې بده ده.

۴۹- خوا ایستل xwā: غېږ ایستل. راځه خوا وباسو یانې راځه غېږه (کشتی) وباسو.

۵۰- خوړجنه xwaṛjana: غوړېبجنه، هغه څوک چې ښایسته نه وي، په موږ کې یوه اصطلاح ده وایي د خپل کور ناوې خوړجنه وي!

پسرلی صاحب وایي:

ښه مې د قدرت خوړجنې ناوې ته چې وکتل

دا بوډۍ د ډېرو سرخوړلیو زلمو کونډه وه

۵۱- خاپونه xāpūna: د پښو چاپونه، د پښو نخښې

۵۲- خونه xuna: کوټه، اطاق.

۵۳- خولې xwle: له زر تارو څخه رغېدلی کالی دی چې د رخت لستوڼي ځنې جوړوي.

۵۴- ختې xati: جامې، کالي. د ښځې په توګه پلانکي سپینې ختې اغوستې دي.

۵۵- خرنډ xranḍ: پر خپله خبره ډېر تاکید کول، د خپل زړه منل د بل خبره نه اورېدل.

۵٦- خرید xrid: جنگ، جنجال.

۵۷- څولیculay: بنګړی.

۵۸- څېړی ceṛəy:څړی، له مریو څخه جوړ شوی زېور دی چې نجونې او پېغلې یې د شا د چوټي په ویښتانو پورې تړي او تر پوندو پورې یې ځوړند وي.

۵۹- څوکری cukray: تاند او نازک رواش.

٦۰- څیره cira: جنډه، چیره، د رخت یوه ټوټه.

٦۱- څونی cunəy: ټیکری، پړونی، سالو.

٦۲- څپلی capləy: سانگه، نېزه بازي.

٦۳- څنگلوری cangloray: گاونډی، همسایه.

۶۴- څوب cwab: غم، خپگان.

۶۵- څوړ cuṛ: ښکته، کوز شوی، لکه ناوې مو څوړه کړه.

۶۶- چمبر čambar: حوېلی، تر کلا کوچنی کور.

۶۷- چشکه čaška: خمار، لکه چښکه یې ماته شوه.

۶۸- ځګی ǰagay: هغه د کردوړکي (سفالي لوښی) څخه جوړ لوښـی چـې لـه مستو څخه شړومبی پکې جوړېږي.

۶۹- دکه daka: تلوسه.

۷۰- دوک duk: غم، خپګان.

۷۱- دریګڼی drigaṇay: میدان، ډګر.

۷۲- دروبڼ drobaṇ: د مېلمه لپاره تر اندازې زیات تیاری نیول.

۷۳- ډیډې ḍıḍe: غوړوالی، لښتی.

۷۴- رنډ ranḍ: رنډېدل، د څاروي ځای پر ځای درېدل، نه مخته نه شاته تلل.

۷۴- زوولی zowalay: پیدا شوی، زېږېدلی.

۷۵- زڼکی zaṇkay: ژڼکی، ژڼی، نوی ځوان.

۷۶- زاړي‌لوغزه zāṛilwəǧza: هغه غوا چې د لنګوال یې ډېر وخت وتلی وي.

۷۷- زړېیـي zaṛeyi: د لانـدي هغـه غوښـه چـې ډېـر وخـت پـرې وتلـی وي. د نوینې غوښې بډ.

۷۸- ژغل žəǧl: باجری، وړې وړې ډبرې، میده شوې تیږې.

۷۹- ژنګوری žanguray: د انګورو وربښکی، وانښکی.

۸۰- سره بڅري srə bacəri: د ژمي په ډېر یخ کې چې له شنه اسمانه یو قسم پرخه ووري هغې ته سره بڅري وايي.

۸۱- سره وره srə wrə: شفق، مازیګر مهال چې لمر لوېده خواتـه وریـځ د لمـر له وړانګو سور رنګ خپـل کـړي. د سرو ورو پـه هکلـه د خلکـو عقیـده ده، چـې هغـه وخت را پیدا کېږي، چې بې ګناه خلک مړه شوي وي.داسې وايي:

چې مړه وي مومنان، یا به باد وي یا باران، یا به سرخي وکړي اسمان.

۸۲- سړېسن saṛesan: بې خولې بې ژبې، آرام او کرار څوک.

۸۳- سېسن sesan: د چا بدن چې له وېښتانو ډک وي.

۸۴- سپينکي spinki: د لم کترې چې د اور په واسطه غوړي ځنې وايستل شي.

۸۵- سېمی semay: پېشلمی، پېشمنی، پسېمی، پړشمی او چربانګی.

۸٦- سکاڼه skāṇā: توره، تور رنګې.

۸۷- سرکونډي sarkūnḍı: د پېکي وېښتان، د مخې وېښتان.

۸۸- سخاوزه sxāwza:د لوخې يو ډول دی چې ريښه يې د کورنيو درملو په توګه کارول کېږي.

۸۹- سانګه sānga: څپلی، نېزه بازي.

۹۰- سېک sek: شېمه، دمه، قوت.

۹۱- سپېرخی sperxay: د ناوې په وېښتو کې د روپيو ور اېښوول.

۹۲- سولی swaləy: هغه نجلی چې د هر ديګ سرپوښ لرې کوي يا يې څکه يې کوي، سولېږي پرې.

۹۳- سېره sera: يو ډول ګاڼه ده چې ښځې يې پر تندي لګوي او له سرو زرو څخه جوړه شوې وي.سېره او متعلقات يې تقريبا له نونس نيمو طلاوو څخه په کلاسيک شکل پر سرو غميو جړاو شوي او جوړ شوي وي.

۹۴- سيګروڼی sigroṇay: له سګې (شګې) څخه جوړه شوې سپکه او ځيږه ډبره.

۹۵- سلګه salaga: د غنم د وړي ستنې.

۹٦- سوړي suṛı: دروغ، درواغ.

۹۷- سوړن suṛən: دروغجن، درواغجن.

۹۸- سرنامه sarnāma: د واده د پيل نغاره، د واده پر اول سهار د کلي د ډم له خوا ډول وهل کېږي چې خلک وړه ور وړي، د سرنامې ډول، د سرنامې وړه.

۹۹- سپوڼ spūṇ: غړ، پسپسک، لکه چوپ شه، سپڼ دې وا نه ورم!

۱۰۰- ساګ sāg: سابه، پالک، سارمې او داسې نور.

۱۰۱- شېرغلی šerğalay: د مېږيانو د غار شاوخوا ايستلې خاوره، مېږتون.

۱۰۲- شینشوبی šinšobay: یو ډول خود رویه بوټی دی، لکه نعناع.

۱۰۳- شېله šela: ناو، سیندگی، هغه رود چې یوازې د باران اوبه په کې راځي، سروکال اوبه نه لري.

۱۰۴- ښمر ṣamar: فایده، گټه.

۱۰۵- غونجۍ ğwanajəy: هغه سخوندره چې لا غوا شوې نه وي.

۱۰۶- غاو āğw: جنجال، ږغ پورته کول.

۱۰۷- غنې ğane: بوټي.

۱۰۸- غنگۍ ğingəy: نری آواز. لکه څوک چې نری نری ژړا کوي یا سندره بولي.

۱۰۹- غونډې ğunḍe: غونډې ویشتل یانې ډبرې ویشتل.

۱۱۰- کښلی kuṣalay: ښکلی، ښایسته.

۱۱۱- کاوړ kāwaṛ: خوشکه، غوسه، قهر.

۱۱۲- کنځر kanǰaṛ: بړستنه.

۱۱۴- کنگړی kangṛay:لکه ږلۍ داسې وي خو تر ږلۍ سپک وي، پرې پرې ستوري ډوله شکلونه لري. د کنگړي د ورښت په باب د خلکو عقیده چې کله اوري نو اسمان شین کوي.

۱۱۵- کیشکوری kiškuray: وچه شوې ډوډۍ، کلکه شوې ډوډۍ.

۱۱۶- کوکۍ kokəy: د ماتې شوې شیشې ټوټه.

۱۱۷- کاغۍ kāğəy:، کښکېرکه،کڼاخه.

۱۱۸- کرپالي karpāli: وچه شوې وینه چې له دېوال یا غولي څخه را جلا شوې وي.

۱۱۹- کرښینډۍ kıršindəy: ښویینډۍ، لخشک، یخمالک.

۱۲۰- کیښکۍ kiṣkəy: فرش، گېلم.

۱۲۱- کواټ kawāṭ: قوي، غټ، لوی. د پلانکي کواټ صورت دی.

۱۲۲- کنگړ kangəṛ: د لاسونو پخوانی زېور، لکه وښی داسې کالی و، چې له سپینو زورو او گیلټو څخه به رغېدلی و.

۱۲۳- کوڅر kawcar: وزر.

۱۲۴- کامن kāmin: د نکاح شپه.

۱۲۵- کړاڅی kṛācay: ماشوم، کوشنی، کوچینی، ایوان (حیوان).

۱۲٦- گوگ gog: خالیگاه، د ونې چې په تنه کې د زړښت لـه وجـې پـه کـې خالیگا جوړه شوې وي. د ماشومانو یوه کیسی ده، چې وایـي: ((ونـه ده، گوگنـه ده، په منځ کې سره پلنه ده، پاڼې زنگ زنگ دي، وټې يې تور لونگ دي)).

۱۲۷- گوگی gogay: په دېواله کې الماری ډوله تاخچه چې کنځړ او بړسـتنی په کې خوندي کوي.

۱۲۸- گرابلې grāble: گرېوان، تنې.

۱۲۹- گیټی giṭəy: ووړ گاټی، وړه تیږه ، وړه ډبره.

۱۳۰- ګړنجوونی Θṛanjawunay: شرنگوله، شرنگوونی، جرس.

۱۳۱- گروې grawe: تنې.

۱۳۲- گوښی gwaṣay: تنها، یوازې، یکړ، څړه، لوند، مجرد.

۱۳۳- گلی galəy: کوڅه چې دا لغت هم هندي مستعار لغت ښکارېږي.

۱۳۴- گنگړخلی gingiṛxalay: د ریشقو (شپېشتو) پـه پټیـو کـې د ریشـقې پاتې شوي مونډونه.

۱۳۵- گاولی gāwlay: غویدنگ، د غوایه بېډی.

۱۳٦- گوسي gawsi : یو ډول پایزار و.

۱۳۷- لېووگی lewugəy: لېوه، د لېوه مونث.

۱۳۸- لوغ lwəğ یا لوېغ: د غوا له تیو څخه چې شیدې پـه اسـانه را ولوشـل شي، نو خلک وایي چې څومره ښه لوغ يې دی.

۱۳۹- لال lāl: پرتوگاښ، واگه.

۱۴۰- لالو لرگی lālo lrgay: د پرتوگاښ د اچولو آله.

۱۴۱- لوگه lūğa: سپېره، خاموشه، لکـه لوگـه دنیـا، لوگـه میکـده چـې نرینـه شکل يې لوگ دی.

۱۴۲- لېیه leya: خوشی، ایله گښت. د ببلگې په ډول لېیه يې چې څـه کـوې هغه کوه، هسې دې هم څوک د سپکې نشته.

۱۴۳- مزی mazay: چاغ.

۱۴۳- مېږتون meẓatūn: ډېر ګړي يې مېږتانه راځي. مېږی.

۱۴۴- ماټ māṭ : بريت.

۱۴۵- مارېيل māreyal: توصيه کول. د بېلګې پـه ډول دا خـواږه اخونـدزاده صاحب ور مارېيلي دي.

۱۴٦- مېخکی mexakay: د پوزې زېور دی.

۱۴۷- مږه خوږ žṛə xwaẓ: د سل ناروغي.

۱۴۸- مورلۍ murləy: شپېلۍ، توله.

۱۴۹- ميندکه mindaka: زړی، زنی، لکه د زردالو، الو او شفتالو ميندکه.

۱۵۰- مندو mandaw: وجود، بدن، پڅه.

۱۵۱- ناټکۍ naṭakəy : نانځکه، لوبته، لوبتکه، ناوکی.

۱۵۲- نوين noyan: نوی، تازه، لکه نوين کوچ، نوين شړومبی، نوينه غوښه.

۱۵۳- نولکی nawlakay: نوی، تازه.

۱۵۴- نوتاکه nawtāka: نوې لښته، تانده لښته.

۱۵۵- نامه توری namə toray : تورن، بدنام.

۱۵٦- نل nal: يو ډول هرزه بوټی دی، لکه کبل.

۱۵۷- نمط namat: نيت، عزم، اراده.

۱۵۸- ورږ wraẓ: له وسه تېرېدل، سـپينې تښـتېدل، وانـې وتـل، د بېلګـې پـه ډول: ولې دې کار کولو ته ورږ مږه دي.

۱۵۹- وانې wāṇı: سپينې، زموږ خلک داسې وايي: ((وانې مې ووتې! معنا دا چې سپينې مې وتښتېدې.))

۱٦۰- وټی waṭay: ځونډی.

۱٦۱- ونـډۍ wanḍəy: برخـه، ونـډه، د اخـتر لپـاره چـې لـوی څـاروی (غـوا، غويی) حلال کړي او اووه کسه پرې شريک شي، هغه ونډۍ بولي.

۱٦۲- ورټ wrat: کرکه، نفرت، لکه ورټ مې درنه کېږي.

۱٦۳- ويروثی wiroθay: د مړي کورنۍ ته مېلمستيا ورکول.

۱٦۴- وچموری wačmoray: هغه ماشوم چې د مور له شيدو بې برخې شي.

۱٦۵- وندخور wandxor: مجازا وحشي. (۱۳: مرکه)

**یادونه:** دا پورته ذکر شوي لغتونه د قره باغ د خرټو (د دې کربښو د لیکوال) په لهجه کې کارېږي، خو ځینې یې د قره باغ د اندړو، ترکیو، دوتاڼیو، ناصرو او میاخېلو په لهجو کې هم شته دی.

**پایله:**

ژبه د بشري تمدن او پرمختګ د یوې مهمې وسیلې په توګه یاده شوې ده. ژبه د بشر یوه مهمه اختراع ده چې د ټولنې د وګړو تر منځ د افهام او تفهیم یوه غوره وسیله ده. دا ژبه ده چې په وسیله یې بنیادمان خپل خیالات، افکار، اندېښې او...غوښتنې بل وګړي ته لېږدوي.

لهجه په ژبني سیستم کې دننه د خبرو اترو د افادې یوه ځانګړې طرز ته ویل کېږي، یا څه چې ژبه نه ده، هغه لهجه ده، یا ژبه یوه لویه ونه او لهجې یې ښاخونه دي. په دې لیکنه کې د خروټو د لهجې په اړه عمومي خبرې شوې دي او د دې لهجې ډیالکټیزمونه مو څه ناڅه را غونډ کړي دي. خروټي په غلجیو پسې اړوند پښتانه دي چې د هېواد په بېلابېلو برخو کې اوسي؛ خو مور دلته یوازې د غزني ولایت د قره باغ د خروټو د لهجې ډیالکټیزمونه راټول کړي دي.

هره ژوندي ژبه لهجې لري، د لهجو منځته راتګ ډېر لاملونه لري چې دلته پرې خبرې نه کوو، پښتو ژبه هم چې د ژوندیو ژبو په کتار کې ولاړه ژبه ده، د ډېرو لهجو لرونکې ده. دا د لهجو رنګارنګی پښتو ژبې ته یوه ځانګړې ښکلا وربخښلې ده. د پښتو ژبې هره لهجه خپلې ځانګړتیاوې او ښکلاوې لري،که د لهجو لغتونه له هرې لهجې راټول شي د ژبې او ادب په بډاینه کې مهم رول لري او په راتلونکې کې د یوه لوی لهجوي قاموس په منځته راوړو او جوړولو کې اساسي ونډه لري؛ همدا راز د معیاري لهجې په برخه کې هم له ډیالکټیزمونو څخه استفاده کېدای شي. دایلکتزمونه یا کړویزونه هغو لغتونو ته ویل کېږي چې د یوې ژبې په لهجو کې کارول کېږي او د معیاري لهجې او د هماغې ژبې د بلې لهجې ویونکیو ته نوي وي.

د مختلفو لهجو د لغتونو د را غونډولو یوه ګټه دا هم کېدای شي چې له دغو لهجوي لغتونو څخه د پښتو ـ پښتو قاموسونو په لیکلو کې ډېره ګټه پورته کېدای شي او د قاموس لیکونکي لپاره به د لغتونو په معنا او تشریح کې د مترادفو لغتونو کمی نه وي، که څخه هم له هره اړخه پوره مترادف لغتونه ډېر کم دي.

ما په دې ليکنه کې زيار ايستلی دی چې داسې لغتونه راټول کړم چې زموږ قاموس ليکونکيو ثبت کړي نه وي، پر دغو ديالکتزمونو (Dialectisms) سربېره په دې ليکنه کې ارکايک لغتونه هم راغونډ کړي دي چې ځينې يې ډېره ژوره ريښه لري او اريايي دور ته يې ځېلې رسيږي، لکه اوبجه، بگ، جات او داسې نور... خو ځينې لغتونه بيا پور لغتونه برخه کې راځي چې په دخيل او مفغن شکل ويل کېږي. په دغو راټولو شويو لغتونو کې ځينې له هندي ـ ذاوردو سره شريک ښکاري، لکه جند، جنډړی، گلی، دوک، څولي او داسې نور خو ځينې يې هندي ژبې سره همريښه ښکارېږي.

د يوې ژبې وييپانگه چې له ارخاييزم، ډيالکټيزم، اډاپټيزم او نيولوجيزم لغتونو څخه رغېدلې ده؛ نو هرې برخې ته يې بايد د اړتيا پر بنا کار وشي. زموږ د ژبې د لغتونو پانگې کې د لهجوي لغتونو په اړه کوم کار شوی نه دی؛ هيله ده چې نور ځانگوال هم دې ته ورته هڅې وکړي.

## مأخذونه:


۱- تړی، حبيب الله. **نوې ژبپوهنه او ژبنې مسايل**: جلال آباد، د ختيزې سيمې ليکوالو او ژورنالېستانو خپلواکه ټولنه، ۱۳۸۹ ل کال.

۲- خوېشکی، محمد صابر. **پښتو غړپوهنه او وييپوهنه**، اتم چاپ: جلال آباد، مومند خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۸ ل کال.

۳- رښتين، صديق الله. **پښتو گرامر**، سيد محی الدين هاشمي (ژباړن): پېښور، يونيورسټي بک ايجنسی، ۱۳۷۲ ل کال.

۴- زيار، مجاور احمد. **د خوشال ادبي پښتو (يوه ژبپوهنيزه شننه):** پېښور، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴ ل کال.

۵- زيار، مجاور احمد. **پښتو وييپوهنه او وييرغاونه:** جلال اباد، مومند خپرندويه ټولنه، ۱۳۹۳ ل کال.

٦- صميم، محمد آصف. **کمپيوټري نوموني؛ د پښتو نيولوجيزم يوه اړينه برخه**، د استاد محمد آصف صميم فيسبوک‌پاڼه، ۲۰۱٦ ل کال.

۷- غوربندی، میراجان. **ګړدود (لهجه) پوهنه**: کابل، جهان دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۵ ل کال.

۸- غوربندی، میراجان. **لکسیکالوژي (لغت پوهنه)**: کابل، انتشارات نامي، ۱۳۹۴ ل کال.

۹- منګل، علي محمد. **پښتو لهجې**: کابل، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۸۱ ل کال.

۱۰- منګل، علي محمد. **د ژبې د پیدایښت په اړه ځینې نظریې**، کابل ژبنی او ادبي میاشتنۍ خپرونه، کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي. دریمه دوره، ۲مه ګڼه، د غویي میاشت، ۱۳۹۵ ل کال.

۱۱- میاخېل، عصمت الله. **ګړدود پوهنه**، لومړی چاپ: هرات، خروش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹٦ ل کال.

۱۲- هوتک، محمد معصوم. **پر معیاري ژبه د معیار په ژبه یوه څېړنه**: کندهار، علامه رشاد خپرندویه ټولنه ـ کندهار، ۱۳۹۰ ل کال.

۱۳- په متن کې راغلي وییونه د دې کرښو د لیکوال په لهجه کې شته دي او له خلکو سره د خبرو اترو پر مهال را غونډ شوي دي.

څېړندوی راضیه نوري

# د شال شعري ګلبڼ

**لنډیز:**

مېرمن مستوره شال د پښتو ادبیاتو او فرهنګ په معاصره دوره کې یوه نه هېرېدونکې څېره ده؛ خو لکه چې په کار ده تر اوسه هغسې نه ده پېژندل شوې. هغې پر ویاندې سربېره په شاعرۍ کې هم ښه لاس درلود. نثرونه یې هم لیکلي دي؛ خو ډېر لږ یې تر موږ رارسېدلي دي. د محتوا او موضوع له مخې د مستورې غوندې شاعري د ګوتو په شمېر پښتنو ښځینه شاعرانو کړې ده. د هغې زیاتره شعرونه شعري خصوصیات او هنري ښکلاوې لري. په دې مقاله کې د مستورې شاعري تر څه اندازې څېړل شوې او شعري ښېګڼې او ښکلاوې یې په ګوته شوې دي.

**سریزه:**

پښتنو ښځو د ژوند په هر ډګر کې له پښتنو نارینه وو سره څنګ په څنګ زیار او زحمت ویستلی دی. د خپل توان په اندازه یې د خپلو نارینه وو مرسته او ملاتړ کړی دی او هیڅکله یې یواځې نه دي پرېښې. پښتنو ښځو د ادب او فرهنګ په ډګر کې هم له لرغونې دورې تر معاصرې دورې پورې ونډه اخیستې او په دې ډول یې خپل ادب او فرهنګ غني کړی دی.

د پښتو ادب د لرغونې او کلاسیکې دورې په پرتله په معاصره دوره کې ښځو د خپل فرهنګ او ادب د غني کولو لپاره ډېر کار کړی دی. په دې ښځینه وو کې یوه هم مېرمن مستوره شال ده. د مستورې شال د شاعرۍ ټولګه تر اوسه نه ده چاپ شوې، د "پروني" په نامه کومه کوچنۍ ټولګه چې د هغې په نوم چاپ ده، هلته

ورسره د مستورې ځينـې نثرونـه او د نـورو ښـځينه شـاعرانو شـعرونه هـم راغـلي دي. اوس د هغې د شعرونو ټولگه چاپېدونکې ده. د هغې د شعري ټـولگې پـه چـاپ سره به افغاني ټولنه د هغې د شعر په ځرنگوالي ښه پوه شي.

## د څېړنې اهميت او مبرميت:

د دې څېړنې اهميت او مبرميت په دې کې دی چې د مستورې شعرونه خواره واره وو، نه وو چاپ شوي او نه وو راټول شوي؛ نو هر چېرته چې به د هغې په شـعرونو څه خبرې کېدې، يوا ځې د پروني په څو شعرونو به راڅرخېدې. په دې څېړنه کې د هغې د شعري ټولگې له مخې د هغې په شعرونو خبرې شوې دي.

## د څېړنې موخه:

د دې څېړنې موخه دا ده چې افغاني ټولنه د خپلـې يـوې حقـدارې ويانـدې او شاعرې د شاعرۍ په منځپانگه او هنري ځرنگوالي خبر شي.

## د څېړنې پوښتنې:

په دې څېړنه کې به لوستونکي د دې پوښتنو ځوابونـه ومـومي: مسـتوره شـال څوک او د کوم ځای وه؟ دا چې مستوره شال د ويانديۍ تر څنگ د پښتو ژبې شاعره وه، د شعر لورى او محتوا يې څه ده؟ د شعرونو مستقله ټولگه يې چاپ ده که نه؟

## د څېړنې مېتود:

ما په دې څېړنې کې له تشريحي او توضيحي مېتود څخه کار اخيستى دى.

# شال او شاعري

مېرمن مستوره شـال د سـيد عبـدالرزاق لـور پـه ۱۳۰۹ل. کـال کـې د کـونړ د اسمار په شال کلي کې زېږېدلې ده. په شپږ کلنۍ کې يې ليک لوست پيل کړ او د هماغه وخت دوديـزې زده کـړې يـې وکـړې. مسـتورې شـال د مروجـو دينـي او ادبي علومو ډېر کتابونه له خپل پلار څخه ولوستل وو. مستورې شال له ۱۳۴۰ل. کـال را وروسته په کابل راډيو کې د وياندې په توگه دنده درلوده. د هنر او ادبياتو په څانگـه کې د دندې پر مهال يې د پښتو او دري ژبو له ادبياتو سره ښه اشنايي پيدا شوه؛ نـو په ادبي نثري ټوټو کې يې خپل استعداد د پښتو ادب مينه والو ته هم وښوده.(۱)

مستوره شال ښه شاعره هم ده. د "پرونی" په نوم په يوه ټولگـه کـې يـې ځينـې

شعرونه او څو نثرونه پخوا چاپ شوي دي. دغه ټولګه د نیک محمد پکتیاني په اهتمام په ۱۳۳۳ل. کې چاپ شوې ده.

داسې معلومېږي چې مستورې پر پښتو سربېره لږ و ډېره پارسي شاعري هم کړې ده، په پړوني کې یې د(خطاب به پشتونهای آزاد) تر سرلیک لاندې یو پارسي شعر هم چاپ شوی دی.(۲)

کوم وخت چې مستوره د پښتو ادب او فرهنګ د پالنې پر ډګر راڅرګنده شوه، هغه مهال د افغانستان په سطح په دې ډګر کې د ګوتو په شمېر ښځینه موجودې وې. که د ویاندې په توګه د مستورې خوږ، زړه راکښونکی او ویښوونکی غږ د هېوادوالو غوږونو ته رسېده، نو تر څنګ ځای ځای د هغې د شعر رنګینو نغمو هم د مینه والو زړونو ته لارې پیدا کولې.

مېرمن شال نثر لیکونکې هم وه؛ خو نثر یې ډېر لږ خوندي شوی او ډېر تر مـوږ رارسېدلی دی. د هغې شاعري هم په پوره اندازه د مینه والو لاسونو ته رسېدلې نه ده، له نېکه مرغه چې زموږ یوې بلې مخکښې پښتنې لیکوالې او شاعرې صفیه صدیقي د هغې شته شاعري او ځینې نثرونه راټول او چاپ ته اماده کړي دي. که د هغې دغه شعري ټولګه ولوستی شي، نو د ډېرو لږو ښځینه شاعرانو په شعرونو کې د مستورې د شعر غوندې رنګارنګي لیدل کېږي.

د مستورې شعري ګلبڼ ډېر سمسور معلومېږي او رنګارنګ ګلان په کې لیدل کېږي. د هغې شاعري د موضوع له پلوه ډېره غني ده. د غني توب تر څنګ د هغې شعر د سلاست او رواني له پلوه هم د ځانګړې ستاینې وړ دی. هر راز ټولنیز موضوعات په کې شته دي چې ځینو ته یې دلته اشارې کوم:

مستورې په خپله شاعرۍ کې د هغه وخت د پښتني ټولنې ښه عکاسي کړې ده. په دې برخه کې دومره بې پروا ده چې د خپل شخصي ـ ژوندانه د حالاتو له بیانولو او انځورولو یې هم ډډه نه ده کړې. هغې ډېر ځله د هغه وخت ناانډولۍ، ظلم او ناوړه دودونه په خپلو شعرونو کې راځلولي او غندلي دي. هغې د خپل ژوندانه پړاوونه په یوه شعر کې داسې منعکس کړي دي:

ما چې سترګې کړې راپورته
په ناز نازرالوېدمه

د ژونـــــدون پـــــه ورځـــــو شـــــپو کـــــې
د خـــــوږ پـــــلار او مـــــور کتـــــو کـــــې
لا پـــــه مينـــــه پويـــــه نـــــه وم
مـــــور مـــــې لاړه لـــــه دنيـــــا نـــــه
شـــــومه کنـــــدو تـــــه گـــــوزاره
زه پـــــه ژونـــــد شـــــوم خـــــواره زاره
څـــــو کلونـــــه پـــــس مـــــې پـــــلار هـــــم
لاړ ډېـــــر ژر لـــــه دې جهانـــــه
خـــــواره زاره هغـــــه وخـــــت شـــــوم
لا تـــــر اوســـــه سر گردانـــــه
بـــــې رضـــــا پـــــه نـــــاروا زه
لـــــه مذهبـــــه بـــــې پـــــروا زه
زه خپلوانـــــو کـــــړم گـــــوزاره
اجبـــــاري ژونـــــد تـــــه جليـــــا زه
د ښـــــکاره انکـــــار سره مـــــې
راتـــــه غـــــم پېښـــــی پـــــه سر شـــــو
چـــــې مـــــې روح تـــــن تـــــرې بېـــــزار و
معـــــرفي مـــــې پـــــه همـــــسر شـــــو(۳)

د يوې مور په توگه له زامنو د وفا تمه لري؛ خو کله چې يې تمه شکېږي، نو د زوی له بې وفايۍ نه سر ټکوي او هغه ته داسې مخاطبه کېږي:

د دنيـــــا او عقبـــــی لارې دې کـــــړې ورکـــــې
ای غافـــــل لـــــه خـــــير و شره راشـــــه راشـــــه
لکـــــه نـــــه چـــــې مـــــور او خـــــور چېـــــرې لـــــرل تـــــا
بـــــې وفـــــا شـــــوې بـــــې خـــــبره راشـــــه راشـــــه
د راتلـــــو او د ليـــــدو دې لارې څـــــارم
د خســـــته ســـــترگو بـــــصره راشـــــه راشـــــه
نـــــوک ووری غونـــــدې جـــــدا د بـــــل پـــــه حکـــــم

فرمـــــانبر د بـــــد رهـــــبره راشــــه
زحمتونــــه دې د مــــور ځرنگـــــه هېـــر کـــړل
جفــــا کـــــاره ســــتمگره راشــــه راشــــه
د زړه وینــــې مــــې اوبــــو پــــر ځــــای درکــــړي
ای نیالگــــه بــــې ثمــــره راشــــه راشــــه
د زړه خونــــه مــــې ده ځــــای ســــتا د اســــتوگنې
لــــه ســــرې خــــونې بهــــره راشــــه راشــــه

مستورې ته وطن ډېر گران و، په وطن عاشقه وه. هغـه ځوانـانو او پېغلـو تـه پـه وطن د سر ورکولـو درس ورکـوي. ځوانـان د هېـواد خـدمت تـه هڅـوي او دا خـدمت هغوی ته د امتحان دوره بولي. وطن ناموس گڼي او په ناموس ساتنې ځـان قربـانول د پښتون وظيفه بولي، هغه وايي:

دا دوره د امتحــــــــــــــــــــــــــــان ده
د هېـــــــــواد خـــــــــدمت لپــــــــاره
راشــــــه وښــــــوروه ځــــــان تــــــه
د نــــــاموس عــــــــزت لپــــــــاره
قربــــــــاني ســــــــتا وظيفــــــــه ده
پــــه هــــر وخــــت او هــــر قــــدم کــــې(۴)

مستوره شال وطن پالي، وطن غواړي خو خپلواک او سرلوړی وطـن. خپلـواکي ساتنه او خپلواکي تر لاسه کـول د نارینـه وو او ښـځینه وو گـډ مسـؤلیت گڼـي. هغـه استقلال او خپلواکي د ایمان او عزت په څېر بولي او که د خپلو وینـو پـه قیمـت هـم وي؛ خو د دې ایمان او عزت ساتنه غواړي:

اســــــــــــــــتقلال او حریــــــــــــــــت
د وطــــــــــن د مــــــــــور خــــــــــدمت
فریضــــــــه هــــــــم مــــــــو ایمــــــــان دی

د سرو وينـــــــــو پـــــــــه قيمـــــــــت
وطنوالـــــــــو! گرانـــــــــو خوينـــــــــدو
دا عـــــــزت زمـــــــــوږ د ځـــــــان دی(۵)

په پـورتني شـعر کـې مسـتورې د ښـځې مسـتقل شخصـيت ښـودلی، يـواځې نـر د اسقلال او خپلواکی په ګټلو مکلف نه بولي، بلکې ښځينه هم د نارينه وو په څېـر پـه دې ډګر کې مکلفې بولي. هغه يواځې تش په نامه خپلواک هېواد نه غواړي، هغـه د هېـواد د ترقـۍ او پرمختـګ هوډونـه روزي، هغـه د هوسـاينې او تلپـاتې خوشـحالۍ هيلې لري او وايي:

بحـــر د علـــم مـــې دا رنـــګ پـــه جوشـــېدلو شـــولی
چـــې يـــې ظلمـــت د جعـــل ورک کړلـــی رنګـــين ســـحر شـــوی
پـــه پښـــتونخوا د علـــم لمـــر پـــه راختلـــو شـــولی(٦)

د يوې با احساسه او باشعوره پښـتنې پـه توګـه د مسـتورې شـال د قومپـالنې جذبې او احساسات لکه کوڼړی سيند تل پـه څپـو دي. هغـه د خپـل قـوم پرمختـګ غواړي، هغه خپل قوم د علم په زيور ښايسته ليدل غـواړي. لـه هغـې سره د پښـتو او پښتنوالې احساس شته او لـه الله جـل جلالـه تـل د دغـه احسـاس درلـودو غوښـتنه کوي، مستوره يو ځای وايي:

الهـــــــي د زړه د ســـــــترګو لـــــــــږ نظـــــــــر را
پوهـــــــه علـــــــم د لېمـــــــو نورالبـــــــصر را
چـــــې مـــــدام د پښـــــتونوالې پـــــه درد ســـــوځي
د زړګـــــي پـــــه سر دا هســـــې شـــــان پرهـــــر را (۷)

هغه تل د بېوزلـو او غريبـو پـه درد دردمنـه ده، د غريبـو پـه حـال خـبره ده، پـر غريبانو يې زړه د کباب غوندې وريت دی، له نورو هم د غريبانو د پاللو غوښتنه کـوي او دا غريب هغې نه دی ځانګړی کړی، له مسلمانه تر کافره او له خپل هېوادوالـه تـر بېګانه پورې ټول د هغې په وينا کې شامل دي:

د سر پــه خــم خانــه کــې دې شراب لــرې کــه نــه؟
د خــوارو پــه حــال ســوی زړه کبــاب لــرې کــه نــه؟
سرگمــه لالهانــده تــه د هجــر پــه تیــارو کــې
رڼــا د یــار و لــوري تــه شــهاب لــرې کــه نــه؟ (۸)

یو بل ځای پر پښتني ننگ و غیرت ویاړي، ځان په همدغه ننګ و غیرت کې مستور او پټ بولي او وایي:

مــوږ تــه د وطــن کــاڼي لالونــه پــه نظــر کــې دي
ســترگې مــو ړنــدې شــه کــه پــه کــې کلــه دا ځــل نــه وي
زه د ننــگ، غــیرت، پښــتو کــالو کــې مســتوره یمــه
بــې پښــتونولۍ بــه مــې پړونــی او شــال بــل نــه وي[۹]

مستوره د شاعرۍ په توگه د نرم او مینه ناک زړه څښتنه ده، د هغې په شاعرۍ کې عاطفه او همدردي له ورایه لیدل کېږي. هغه حقیقي پهلوان هغه بولي چې د دردمندو په حال دردمند شي او لوږدلي او بېوزله له خاورو راپورته کړي:

چــې د دردمنــدو پــه حــال وژاړي باڼــه لامــده کــا
پــه دا صــفت د هــر چــا ســترگې د ســتایلو شــولی
چــې پــه قــوت خپــل کــړي لــه خــاورو نــه لوېــدلي پورتــه
د پهلــوان پــه نــوم هغــه د یادېــدلو شــولی(۱۰)

مستوره زحمت او راحت دواړه مني؛ خو له زحمتونو وېرېدل، خپل عزم او اراده بایلل او ځان ناکامۍ ته تسلیمول او په آرمان ژوند تېرول ژوند نه، بلکې مرگ گڼي:

ســړو تــودو نــه وېرېــدل ژونــد پــه ارمــان تېــرول
دا ژونــدون نــه دی د مرگــي یــې یــو داســتان گڼمــه(۱۱)

د یوې مور په توگه مستورې د اولاد روزنه هم له یاده نه ده ویستلې. هغه اولاد په افغاني او پښتني ننگ او پت روزي. هغه پښتو، ننگ او غیرت د پښتنو جامه بولي او چې څوک دا نه لري، هغه پښتون ته په درنه سترگه نه گوري:

ننــگ لــرو، غــیرت لــرو، پښــتو مــو ده جامــه د ځــان
لــوخ بربنــډ ښــکارېږو کــه مــو دا حــس او اتکــل نــه وي

مــونږه پښـــتانه یــو؛ نـــو پښـــتو غـــیرت بـــه ســـاتو خپـــل
څـوک چــې بــې پښــتو شي تـر هغـه بـه ډاکـو غـل نـه وي(۱۲)

مستوره یوه مهربانه او زړه سوانده شاعره او لیکواله ده. شعر یـې پـر تـرحم او مهرباني سربېره شعري کیفیتونه او باریکۍ هم لري، چې انسان ژور فکر و سوچ تـه اړباسي، د لاندیني شعر لومړی بیت یې ښه غور او فکر ته اړتیا لري:

هــــر نفـــس زمـــا ملګــــری د نســــیم کــــړه
پــــه فنـــا کـــې راتــــه عمــــر جاوېــــدان را
چـــې پـــه حـــال د مظلومـــانو اوښـــکې تـــوی کـــا
لکــــه ورېـــــځ د پســــرلي بـــــاري چشـــمان را
چـــې پـــه خپلـــه پـــرې خجلـــه کلـــه نـــه شـــم
ماتــــه دغســــې ضـــمير داســــې وجــــدان را (۱۳)

مستورې په پورتني شعر کې د پښتني ټولنې یـو ډېـر بـد او نـاوړه عمـل انځـور کړی دی. کونډه او یتیمه میراث ګڼل لا تر اوسه هم په افغاني او په ځانګړي ډول په پښتني ټولنه کې لیدل کېږي؛ خو هغه انسان ته په دومره درنښت قایلـه ده چـې یـو ځل بیا له الله جلا جلاله غواړي چې ملایکې ورته د درنښت په دود سجده وکړي:

ســــجده د احـــــترام چــــې شي تکــــراره د ملکـــــو
ای خدایــــه! وایــــه بـــل هســــې تـــراب لـــرې کـــه نـــه
مخمــــوره او مدهوشــــه پــــه خوبونـــو د غفلـــت کـــې
راپــــاڅېږه بیــــداره څــــه حســــاب لــــري کــــه نــــه(۱۴)

شال هم د جنګونو له ضررونو په امن نه ده پاتې، دې جنګونو ځورولې، کړولې او له وطنه شړلې ده. په شاعرۍ کې یې د دې ناخوالو انعکاس هم پـه ډېـرو ځـایونو کې لیدلی شو؛ خو هغه نهیلې نه ده، سولې او هوساینې ته هیله منده ده او وایي:

د ســــولې پــــسرلي تــــه د امېــــد غــــوټۍ خنــــدېږي
د اوښـــکو بارانونـــه بـــه نـــور نـــه اوري لـــه ســـترګو
د وینـــو ســـره سره څـــاڅکي بـــه پـــه سرو ګلـــو بـــدلېږي
راســـتون بـــه پسرلـــی شي وچ باغونـــه بـــه سمســـور کـــا

بـــورا بلبـــل بـــه راشي لـــه گلونـــو بـــه تـــاوېږي
غبـــار او تـــورې لـــړې د غمونـــو ای وطنـــه!
لـوگي او سـپېلني بـه شي لـه تـا ځـي جـلا کېـږي(۱۵)

مستوره په هېواد کې د سولې او کرارۍ لپاره د هېوادوالوکلک عزم اړین بولي، ځکه خو له هېوادوالو د کلک عزم کولو غوښتنه کوي:

راځـــئ! چـــې يـــې پـــه کلکـــه پلـــو نيســـو وطنوالـــو!
د سـولې زريـن ((شـال)) چـې زمـوږ مخـې تـه غـوړېږي(۱٦)

مستوره د يوه رښتيني انسـان پـه توگـه خپـل همنـوع تـه پـه زيـات ارزښـت او درنښت قايلـه ده. هغـه وايـي، هغـه مغـز چـې پـه هغـه کـې انسـاني مينـه او عاطفـه موجوده وي، تر ځمکې او اسمان غوره دي. په ځانگړې ډول له شاعر څخه د مينـې، عاطفې او انسانپالنې تمه لري او رښتينی شاعر هغـه بـولي چـې لـه دې خصـلتونو برخمن وي:

ارزښـــتناک بـــه زيـــات لـــه ځمکـــې لـــه اســـمان وي
هغـــه سر چـــې ډک لـــه مينـــې د انســـان وي
پـــه رښـــتيا چـــې څـــوک شـــاعر وي پـــه نـــړۍ کـــې
تـــــــرجمان د خصـــــــلتونو د جهـــــــان وي(۱۷)

د هېواد د ساتندويانو د احساساتو راپارولو لپـاره مسـتورې د ملالـې پـه څېـر د دښـمنانو پـه وړانـدې د مبـارزې سـنگر تـود سـاتلی دی. پـه خـوږه او سـاحرانه ژبـه ساتندويان سرښندنې ته داسې هڅوي:

دا مـــې وظيفـــه ده چـــې گلونـــه او باغونـــه خپـــل
دا مـــې وظيفـــه ده چـــې دا شـــاړې او ډاگونـــه خپـــل
وســـــاتم ښـــــېرازه او سمســـــور يـــــې کـــــړم
پـــاک پـــه خپلـــو گوتـــو لـــه اغـــزو کړمـــه راغونـــه خپـــل
دا مـــې وجيبـــه ده چـــې وســـله پـــه لاس کـــې واوســـم

ښـــکته لکـــه تنـــدر پـــه دښـــمن کـــړم گوزارونـــه خپـــل
زه پـــه متانـــت ایمـــان ولاړ لکـــه لـــوی غـــر یمـــه
نــه پرېــدم غلــیم تــه تــود ســنگر او میدانونــه خپــل(۱۸)

وطن پر مستورې ډېر گران و. تل یې د وطن ستاینه کړې، تـل یـې افغانان وطن ساتنې ته هڅولي دي.

ای خـــوږه وطنـــه زمـــا ژونـــد یـــې تـــا کـــې پایمـــه
ســـتا مینـــه مـــې وینـــه د زړگـــي او د رگونـــو ده
غېـــږه د وطـــن مـــې تـــل زانگـــو د غیرتونـــو ده
پښـــتو تـــه د دښـــمن مـــې سره تبـــې د سرو اورونـــو ده (۱۹)

مستوره شال هم د نورو افغانانو په څېر د جنگ له زیانونو پر څنډه نه وه پـاتې، څکه خو یې جنگ څخه کرکه او نفرت درلود. په څنگ کې یـې وسـله نـه خوښـوله، حق یې حقدار ته رسېدل غوښتل. خپل غږ او پیغام یې نړیوالو ته رسـول غوښـتل او له هغو یې د دې جنگونو په پای ته رسېدو کې د مرستې تمه درلوده، هغه وایي:

مـــــوږ نفـــــرت لـــــرو لـــــه جنگـــــه
وســـــله نـــــه غـــــواړو تـــــر څنگـــــه
ډېـــــر لعنـــــت پـــــه هغـــــو وایـــــو
څـــــوک چـــــې خـــــوري د چـــــا حقونـــــه
څـــــوک چـــــې کـــــړي تجاوزونـــــه
بلـــــوي د جنـــــگ اورونـــــه
د جهـــــان څـــــو ورځـــــو شـــــپو کـــــې
خـــــوار و زار کـــــا ولســـــونه
مـــــوږه ســـــوله غـــــواړو ســـــوله
دې ناارامـــــه ژونـــــد لپـــــاره
دا زمـــــوږ د زړو فریـــــاد خـــــو

دا زمـــــــــــــــــــــورِ د روح اواز خــــــــــــــــو
واورئ واورئ ای دوســــــــــــــــــــــــــــتانو
ای د ســــــــــــــــــولې پیروانــــــــــــــو(۲۰)

هغه د سولې تږې وه، د سولې هیله یې درلوده؛ خو افسوس چې له تندې وچو شونډو سره یې دغه هیله گور ته یوړه او په پردېسۍ کې یې د پښتونخوا په پېښور کې د ۱۳۷۷ ل. د وږي په ۹ مه له دې ارماني نړۍ سترگې د تل لپاره پټې کړې او د کونړ د اسمار په شین کوړک کې د سیدبهاءالدین او سید شمس الدین مجروح د قبرونو تر څنگ خاورو ته وسپارل شوه.

**پایله:**

مستوره شال د ویاندۍ تر څنگ د پښتو ژبې یوه ښه شاعره هم وه، چې پورته یې د ځینو ناچاپ شعرونو بېلگې وړاندې شوې. شاعري یې د روانۍ له مخې د ځانگړې ستاینې وړ ده. د حقایقو د په ډاگه کولو او په زغرده ویلو کې ښه جرأت لري. په شاعرۍ کې یې د خپلې سیمې (کونړ) لهجوي اثرات څرگند دي. شاعري یې د محتوا له مخې ښه غني ده، ټولنیز، روزنیز، اخلاقي، سیاسي او نور ډول ډول شعرونه یې په شاعرۍ کې لیدل کېږي.

شاعري یې له شعري کیفیته هم ډکه ده او ټولې هغه ځانگړنې لري چې شعرپوهانو د شعر په تعریف کې راوړې دي.

**مأخذونه:**


۱. میاخېل شاه محمود او مشوانی عبدالقیوم، د وطن معماران، دوهم ټوک، دارالاسلام مطبعه، ۱۳۹٦ل، ۲۸٦- ۲۸۷ مخونه.

۲. شال، مستوره، پرونی، مهتمم: نیک محمد پکتیانی، ۱۳۳۳ل. ۱۱ مخ.

۳. مستوره شال، شعري ټولگه ناچاپ، د صفیه صدیقي په اهتمام، ۱۳۹٦، ٦مخ.

٤. پورتنی اثر، ۴-۵ مخونه.

٥. پورتنی اثر، ۵ مخ.

٦. پړونی، ۳۰مخ.

۷. پورتنی اثر، ۱۷مخ.

۸. مظهـري ملـورو، کـبرا. پښــتنې لیکـوالې او شــاعرانې، لـومړی ټـوک، د افغانستان د علومو اکاډمي،دولتي مطبعه، ١٣٦٦ل، ۸۱مخ.

۹. پړونی،۲۰ مخ.

۱۰. مستوره شال، شعري ټولگه ناچاپ، د صفیه صدیقي په اهـتمام، ۱۳۹٦، ۴ـ۵ مخونه

۱۱. پورتنی اثر، ۹۳ مخ.

۱۲. پورتنی اثر، ۱۹مخ.

۱۳. پورتنی اثر، ۱۹مخ.

١٤. پښتنې لیکوالې او شاعرانې، لومړی ټوک، ۸۱ مخ.

۱۵. مستوره شال، شعري ټولگه ناچاپ، د صفیه صدیقي په اهتمام، ۱۳۹٦، ۱۸مخ.

١٦. پورتنی اثر، ۱۸مخ.

۱۷. همدا اثر، ۷۱مخ.

۱۸. پورتنی اثر، ۷۳مخ

۱۹. یاد اثر، ۷۳مخ

۲۰. پورتنی اثر، ۷۸مخ.

څېړندوی سمیله احمدزۍ

# د نامعلومې زمانې پښتو نکلونه

**لنډيز:**

ولسي نکلونه چې د وگرو د تمدن له لومړيو څخه تر اوسه پورې د بشر د ژوندانه بېلابېلې برخې يې تر موږه را رسولې دي او په هر توکم او قبيله کې ځانگړی ځای او مقام لري، نو ځکه د همدې کيسو د رامنځ ته کېدو يو علت هم د يو قوم او ټولنې د ژوندون حالات او مقتضيات دي چې له ډېر پخوا څخه مونږ ته راپاتې دي.

د دې کيسو له لارې موږ د پښتني ټولنې له بېلابېلو خصوصياتو، لکه عشق، مينې، ورورگلوي، زړورتوب، توري، مېړانې، دود او دستور، تصوف، محروميتونو، هيلو او ملي روحيو سره پېژندگلوي پيدا کولای شو.

دا چې د پښتو نکلونه د کومو عواملو له امله رامنځ ته شوي او په دې نکلونو کې نغښتې موخې او پيغامونه څه دي او ولې د ولسي ادبياتو دغه خوندوره برخه اوس له هېرېدو او ورکېدو سره مخامخ ده، دا او دې ته ورته موضوعات د دې مقالې په چوکات کې څېړل شوي او د پښتني او غير پښتني نکلونو د ځانگړتياوو په اړه هم خبرې شوې دي.

**سريزه:**

د فولکلوريکو کيسو ماضي د بشريت د لومړي سباوون تر مهاله رسېږي ان په ځينو کيسو کې خو د طبيعت او کايناتو پر وړاندې د انسان لومړی عکس العمل او غبرگون هم يو ډول فولکلور انگېرل کېږي.

نکلونه د ولسي ادبياتو يوه ښکلې او په زړه پورې برخه ده او له ډېرو لرغونو ادبياتو څخه گڼل کېږي.

همدارنگه نکلونه هغه وخت رامنځ ته شول چې د بشر په ژوند کې پېښې د بدلون او اوښتون سبب شوې او دغو بدلونونو له انسان سره د ځان او نړۍ په اړه نوی فکر پیدا کړ. یو لړ تلوسې او هیلې ورسره پیدا شوې، چې له دې تصوراتو او برخلیکونو یې نکلونه جوړ کړل او خوله په خوله او سینه په سینه له یونسل څخه تر بل نسله پورې ولېږدول.

په دې اړه کاندید اکاډمیسن محمد ابراهیم عطایي لیکي: « د یوې ټولنې د اجتماعي تکامل د تاریخ پېژندنه په هر وخت او هر ځای کې یو ضروري امر دی. د دغې پېژندنې په باره کې باید وویل شي چې د فلاسفه وو په افکارو کې د انسان موټ په مور وپېژندله او دا کار نو د فولکلور په داستاني برخه کې په روښانه ډول د انسان واقعي تکامل په باب انساني ذهن تنویروي او قانع کوي.» (٦: وېب)

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت:

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې د ادبپوهانو په وینا د اسطورو او کیسو له لارې چې د کلتوري انسان پېژندنې یوه غوره برخه ده، په لرغوني نړۍ کې پرې د انسان معنویت په ډېره ښه توگه پېژندلای شو، د دې تر څنگ د دې کیسو په وسیله مونږ د لرغونې زمانې نړۍ لید او د کلتور ښکلاوې او نیمگرتیاوې په ښه توگه محسوسولای شو.

په دې کیسو کې واقعیتونه په ریالیستیکه یا حقیقي بڼه افاده کېږي او له دې امله د ټولنې د پېژندلو لپاره د یوې مهمې سرچینې په توگه کارول کېږي.

## د څېړنې موخه:

د دې موضوع هدف دادی، دا چې نکلونه دپښتني ولسونو د ژوند رښه او حقیقي هینداره ده او د ولس د ژوند بېلابېلې برخې لکه د حیا، ننگ غیرت او د مېړانې خوږې او په زړه پورې خواوې په ښکلي او منظم ډول منعکس کوي. په دې لیکنه کې هڅه شوې چې دا بېلابېلې برخې واضح او دغه شتمنه او مهمه برخه له ورکېدو او هېرېدو څخه وژغورل شي.

## د څېړنې میتود:

په دې څېړنې کې له تحلیلي او تشریحي میتود څخه کار اخیستل شوی دی.

**د څېړنې پوښتنې:**

په دې څېړنه کې تر ډېره لاندې پوښتنې ځواب شوې دي:

۱- څنگه پښتو نکلونه له غیر پښتني نکلونو څخه جلاکولای شو؟

۲- د ولسي- ادبیاتو دا په زړه پورې او غنې برخه ( پښتو نکلونه) څنگه له ورکېدو او هېرېدو څخه ژغورلای شو؟

۳- ولې د پښتو نکلونو او کیسو اورېدل د خلکو په منځ کې تت شوي دي؟

او دې ته ورته ځینې کوچنۍ پوښتنې په دې مقاله کې ځواب شوې دي.

**د نامعلومې زمانې پښتو نکلونه:**

کیسه د انسان د ماضي هینداره ده. د لومړي بشر- په ذهن کې جوړه شوې افسانه د بشریت په فرهنگ او مدنیت کې پر مخ تللې او تر ننه را رسېدلې ده.

کیسه د بشریت د پیدایښت په سباوون کې زېږېدلې ده او زموږ په سپېڅلي کتاب قرآن عظیم الشان کې یې په اړه روایت دی: کله چې امر وشو چې لوی ذات د ځمکې پر مخ خپل خلیفه رالېږي، نو انسان یا آدم یې را واستاوه. ملایکو ته یې امر وکړ چې سجده ورته وکړي ټولو ملایکو ورته سجده وکړه، خو شیطان له دغه امر نه سرغړاوی وکړ او په دې توگه ورته د لعنت طوق غاړه کې ورواچاوه، چې د دینې ارزښتونو ترڅنگ دې کیسې فولکلوري ارزښتونه هم پیدا کړل او په حقیقت کې نکلونه له همدې ځایه پیلږي.

نو د ادبپوهانو په وینا د انساني فرهنگ له پیلیدو سره کیسه هم پیل شوه، د انسان د عمل او کړنو کیسه، د غوښتنو او تمایلاتو کیسه، د هغه د من (خودی) او ایگو (id.ego ) کیسه او دهغه د عشق او قهرمانۍ کیسه، په دې لړ کې زیاتې مشهورې کیسې د مصر، هند او یونان په مدنیتونو پورې اړه لري چې څوک یې فولکلوریکې او څوک یې هم ژانري کیسې بولي.

د ادبپوهانو په وینا په مصر کې د درې زرو کالو د مخه کیسې موندل شوي

دي چې له سحر او جادو سره يې رابطه درلوده. دا کيسې پر پاپيروس بانـدې ليکـل شوي وې  چې يو لړ يې د مصر د خوفو کورنۍ[1] د پاچاهـانو او د درې زامنـو پـه بـاب دي. دا هغه پاچاهان وو  چې اهرامونه يې جوړول.* په دې کيسو کې لومړۍ هغـه د يو جادوګر کيسه ده  چې غوښتل يې د خپلې بې عزتۍ بدل واخلي، نو لـه مومـو نـه يې د جادو يو نهنګ جوړ کړی و او په پای کې يې خپل دښمن (( يا د ښـځې  يـار)) د لمبلو پر مهال وواژه.

دوهمه کيسه د يوې شهزادګۍ د لادرکه  کېدو او يا غلا شوو کـاليو پـه بـاب ده چې د دغوکاليو د پيدا کولو لپاره يو جادوګر راغوښتل کېږي او د جـادو پـه زور د يـو خاص تالاو اوبه پر ځمکه  ننباسي، چې د دغه ستر تالاو يا ډنډ په تل کـې هغـه پـټ شوي کالي ومومي.

همدارنګه د مصر په لرغونو کيسو کې د دوو ورونو کيسـه هـم ډېـره مشـهوره ده چې په هغې کې يوه سرې پرخپلې ورينداري تـور لګـولی  واو پـه مقابـل کـې د هغـه وريندار د لګېدلي تور د بدل اخيستو هڅه کوي.

تر مصر وروسته  د لرغوني يونان کيسې هم ډېرې مشهورې دي د ادبپوهانو پـه وينا د لرغوني يونان لومړۍ کيسې چې د يوسيپ فيبلز په نوم مشـهورې دي او زمـوږ په فرهنګ کې د لقمان حکيم د کيسـو پـه نـوم هـم يـاديږي. د دې کيسـو پـه بـاب داسې فکر کېږي چې يوسيپ يو غلام و.  په يوناني ژبه کې د دغو کيسو لـه ټولـو نـه زړه ټولګه په دوه سوه قبل الميلاد کې په پاپيروس ليکل شوې وه، خو اوس ورکه ده. د يونان پـه کيسـو کـې د هـومر: ايليـاد او اوديسـه نظمونـه  هـم ډېـر مشـهور دي.دا نظمونه له ميلاد نه  نږدې اوه سوه کاله مخکې ليکـل شـوي دي او پـه  رښـتيا هـم د هومر ايلياد او اوديسې نومې کيسـې چـې منظـومې دي ، د يونـان  د لرغـونی کلچـر

[1]-  د خوفو هرم د مصر د درې ګونو اهرامو تر ټولو لوی او لرغونی هرم دی چې د مصر د قاهرې په ښار کې موقعيت لري او ۲۵۶۰ کاله مخکې له ميلاد څخه جوړ شوی دی. څېړونکی په دې عقيده دي چې دا هرم د فرعون د مقبرې لپاره د نوموړي په امر جوړ شوی دی. دا هرم درې خونې لري پورتنی خونه يې د پادشاه د خونې په نامه مشهوره ده وروسته د ملکې خونه او لاندې خونه ناتمامه پاتې شوې ده.

ډېره ښه نمایندګي کولای شي. دغه کیسې په داسې وخت کې د یونان د خلکو ټولنیز ژوند انځوروي چې تمدن لا ځیره نه وه وهلې.

په لرغوني هند کې د (ریګویدا) کیسې هم د یادونې وړ دي. د دغه کتاب یوه برخه، یعنې (برهمن او پانیشاد) ډېرې کیسې لري د دې ترڅنګ راماین او مها بارت هم اوږدې کیسې دي. مها بارت زوړ حماسي داستان دی. په مهابارت کې د (نل دومینتې) کیسه هم راغلې چې د ادبپوهانو په وینا دا کیسه په خپله یو مشهور رومان دی.

د دې ټولو ور هاخوا په هندي ادب کې «پنجاتنترا» نومی کتاب د یادونې وړ دی چې وایي دا کیسې په لومړي سرکې د یو راجا د زوی د تعلیم لپاره « وشنو شرما» نومي یو پنډت لیکلې وي، دا کیسه هم د ایسیپ یا د لقمان حکیم د کیسو یا الف لیله یا یو زرو یوه شپه د کیسو په شان نړیوال شهرت لري، چې وروسته برزویه طبیب په فارسي واړاوه او د کلیله او دمنه په نوم یې یادې کړې. ( ۱۳:۴ مخ)

نو که د دې کیسې ځېړنه وشي هر ولس ⁄ سیمه او قوم له نورو سیمواو قومونو په تمایز داسې خپل ځانی نکلونه او افسانې لري چې له پند اوعبرت ځخه ډکې او د دوی فولکلوریک روایات په کې بیانیږی. دا جوته ده چې هر قوم د هغه د فولکلوریکو روایاتو او ادبیاتوپر بنا تربل هرڅه ښه پېژندل کېدای شي.

له بلې خوا نکلونه او افسانې د ولسي ادبیاتو یوه مهمه برخه ده چې د ماضی په هېنداره کې را ځلیږي او د یوه قوم د ټولنیز ژوند تر ټولو ښه پېژندنه پرې کېدای شي، ځکه له ټولو دودیزو فولکلوریکو اړخونونه یې بشپړ حکایت او روایت کوي .

نکلچیان د نکل په ابتدا کې وایي:« و نه و....» په دغه عبارت کې « بې زمانه زمان» ته اشاره وینو، ازلي زمانې ته، هغه زمانې ته چې د اوس غوندې نه وه، مینه، محبت، صداقت او بشریت په مې و. لومړنی وخت و خو له ورووګلوۍ او خوشحالۍ ځخه ډک و. ادبپوهان وایي هغه وخت د اعلی مثالونو زمانه وه د خلکو مینې ریښتینې او بې تکلفې وې. اوس هم خلک مینیږي، مګر ادم و درخانۍ مینې ته نه رسېږي، اوس هم پهلوانان شته، خو د رستم په ځېر خیالي پهلوان چې آن له دیوالونو سره یې هم پنجې نرمولې نه شته.

نو که خبره راټوله کړو کیسې یا نکلونه د ولسونو په شفاهي ادبیاتو کې په مختلفو نومونو، لکه داستان، سرګذشت، روایات او حکایاتونو په نامه یاد شوي دي. (۵: ۹مخ)

دا چې انسانانو کله د نکلونو او افسانو جوړولو ته مخه کړې ده، څوک یې په اړه په دقیقه توګه نه شي ویلای، خو دا باید ووایو چې نکلونه د انسانانو له ژوند سره سم را پیدا شوي له همدې انسانانو سره یو ځای حرکت کوي، بېلابېلې تاریخي پېښې او حالات د مختلفو ضرورتونو له مخې بیانوي او خلک یې هم د پخوانۍ تجربو او تفریح په موخه لولي او اوري.

کله کله د پښتنو په فولکلوري نکلونو کې له نورو سیمو او نورو کلتوري حوزو څخه ډېرو راغلو نکلونو سره مخامخ کېږو، چې دغو نکلونو په پښتني سیمو کې تغییر کړی او د دې سیمې رنګ یې اخیستی دی.

په پښتو نکلونو کې داسې نکلونه او کیسې هم شته چې له سره دا نکلونه په بشپړه توګه له نورو سیمو څخه پښتو ژبې ته راغلي وي، لکه د لیلا او مجنون نکل او اوس دومره عامه شوې چې ته وا د پښتو ژبې سوچه نکل دی.

د دې نکلونو مهمه ځانګړنه داده چې په دې نکلونو کې هر څه په مجرد شکل څېړل کېږي. ښایست، زور، لښکر، پیسې، جګوالی او داسې نور ، لکه د پادشاه نوم په نکل کې اخیستل کېږي، خو د دربار د عظمت په باب په کې څه نشته، د لښکر نوم اخیستل کېږي، خو له لښکر سره یو کس مقاومت کوي ، ښایست په کې یادېږي، خو د ترسیم درک په کې نه وي.

همداراز د دې نکلونو بله ځانګړنه داده چې دا نکلونه معمولا تراژیدیکه بڼه لري، یعنې تر ډېره دغه نکلونو د نکل د مرکزي لوبغاړو یا اتل په مړینه پای ته رسیږي، لکه د شیر علم او میمونې، مومن خان او شیرینو نکلونه او دې ته ورته نکلونه.

د پورته ځانګړنو ترڅنګ د پښتو نکلونو بله ځانګړنه داده چې د دې نکلونو ویونکي هم د پښتو لنډیو په څېر معلوم نه دي او د زمانې په تېرېدو او د سیمې په بدلېدلو سره په کې بدلون راځي چې د هرې سیمې نکل یا وریانت بیا ځانله ځانګړنې لري او دغه ځانګړنې د پښتني فولکلور د غنا لامل شوې دي.

د کیسې کولو او ویلو شوق په پښتنو کې ډېره سابقه لري. مونټ سټوراټ الفنسټون د کلیوالو پښتنو په اړه لیکلې دي: ((له ډوډۍ نه وروسته دوی کښېني او چلم څکوي او یا د قصې او بدلو ویلو لپاره یوه دایره جوړوي. بوډاګان لوی قصه ویونکي دي. د دوی قصې د پاچایانو، وزیرانو، د پېریانو او ښاپېریانو دي، خو ډېرې یې دیني او د جنګ په باب دي. دغه قصې له غزلو او نارو سره ګډې شوې او ان د غیرت په ټکي ختمېږي. پښتانه له قصو او غزلو څخه ډېر خوند اخلي. څه وخت چې یوه قصه ویل کېږي، دوی ټول چوپ ناست وي. د هغې په پای کې ټول د ستاینې نارې وهي: ای شاباش،....)) (۷: وېب)

که څه هم په ولسی ادبیاتو کې د نکلونو ترڅنګ سیمه ییزې بدلې٬ متلونه٬ اشعار٬ انګېرنې او لهجوي ځانګړتیاوې هم شاملې دي، خو په تکرار سره وایو چې دا ټولې هغه ښکارندې دي چې یو قوم په بشپړ ډول پرې پېژندل کېدای شی یا په بل عبارت، نکلونه هغه اساطیر (یادونه) دي چې له ماضی سره په تړاو د یوه قوم لرغوني کړه وړه په کلماتو تمثیلوي.

خبره پر فولکلوریکو نکلونو او کیسو را جورلي څلور پنځه لسیزې پخوا به نکلونه په کلیو او بانډو کې په ډېر منظم ډول اورېدل کېدل، د شپې له خوا به ځوانان د کلي یو ټاکلي ځای یا هم د یو چا حجرې ته را ټولېدل او هلته به یې له یوه داسې راوي دا نکلونه او کیسې اورېدلې چې په کلي او سیمه کې به د نکلچي په نوم مشهور و او جالبه داوه چې په پخوا وختونو کې به په ښارونو کې هم د نکل شپې رېبدې ٬ ځایونه یې معلوم وو ٬ دکابل په زاړه ښارکې چنداولو ته څېرمه د اوسنۍ سینما پامیر پر ځای به د نکل په شپه بې شمېره کسان را ټولېدل اوخواږه نکلونه به یې اورېدل ٬ نکل کوونکي به د دوی ترمنځ ولاړاو په لوړ او ټیټ آواز به یې خواږه نکلونه ورته ویل او داسې نکلونه چې په منځ کې به یې یوه ناره هم د نظم په بڼه په لوړ او آهنګین آواز ویله. تر کومه ځایه چې زه معلومات لرم په ټوله پښتونخواکې کیسې په یوه ډول ادا کېدې، په پېښورکې هم د شپې د کیسو ځای د اوسنی ( کیسه خوانی) په نوم معلوم و چې اوس هم هلته لوی لوی پښتني پلورنځي جوړشوي دي .

پخوا به د کیسو او داستانونو په ویلو کې له جلا سبک او سلیقې کار اخیستل کېده. د مثال په توګه:

زموږ په هېواد او فرهنګ کې کیسې د شپې له خوا ویل کېدلې ، د ورځې له خوا کیسې ویل سپېرې ګڼل کېدې او ان په مجلسونو او ودونو کې هم چې کله به سازیانو یا هنرمندانو مجلس کاوه، نو چې شپه به پخه شوه، بیا به کیسې ویل کېدې. د امریکا په اندیز ښار کې هم دا باور موجود وچې ویل یې که د ورځې له خوا کیسې وویل شي، نو د ژمي ستوري پرې خفه کېږي او د هغو د قهر په وجه مصیبت او غمیزه پېښېږي. د شپې کیسې د خوب راوستلو یوه وسیله هم وه او د یو زرو یوه شپه کیسې د شپې ویل شوې کیسې دي. (٦: وېب)

نو په ټوله کې دغه اساطیري کیسو نه یواځې په افغانستان، بلکې په ټوله نړۍ کې اورېدونکی درلودل ، چې ښه بېلګه یې په نړیواله کچه په دې اړه د فلمونو او ډرامو جوړېدل دي چې آن تر موږه هم راورسېدل، خو دا چې هره سیمه خپلې ځانګړنې لري، نو ښایي ډېر ځله د نورو نکلونه موږ ته ډېر په زړه پورې نه وي خو دا چې فرهنګي مشترکات لرو، نو ځکه خپل اصالتونه هم په کې موندلای شو. پخوانۍ اساطیري کیسې او افسانې به د هغه ملک له دودیز فرهنګ سره سمې عیارې او په داسې خاص مهارت او ادا به صحنه بندي شوې وې چې اورېدونکی به یې د صحنې په منځ کې ښخ دراوه او زیاتره به یې اصلاحي جنبه درلوده/ لار ښوونکې به وې او په هره برخه کې به یې داسې پند او نصیحت پروت و چې له اوسنیو بې لارې کوونکوسینمایي فلمونونه نه یې په کراتو مراتو ارزښت زیات و .

په دغو کیسو کې به د ښو او بدو پاداش د اوریدونکي له ذهني تقاضا سره برابر ګرځول کېده / لنډه داچې دغو نکلونو به د عام ولس په منځ کې دومره اهمیت درلود چې آن ځینې مینه وال به د ژمي په سختو واورو کې دکیسو د اورېدو لپاره له یوه کلي نه بل ته تلل. هغه وختونو کې چې دي نکلونو د خلکو تر منځ رواج درلود ځینو نکل پالو کسانو به پر خپلو اولادونو د نکلونو د اتلانو نومونه هم ایښودل چې همدا اوس هم د سعد ملوک / صیفل ملوک، آدم خان، درخانۍ او بهادر جمالې نومونه په نر او ښځو چې په عامیانه تلفظ (ست ملوک، صیفل ملوک او بودروجماله تلفظ کېدل ) ایښودل . که پخوانیو فولکلوري کیسو ته په دقیقه توګه توجه وشي،

نودا به جوته شي چې دا کیسې ساده نه وي، د پند او نصیحت له پلوه لوی لوی حکمتونه په کې پراته وو ′ په هغو نکلونو کې به مظالم بیانېدل او د ظالم انجام به د منطقي دلایلو په رڼا برباد را ووت د دې تر څنګ په دې کیسو کې به د مینې او محبت رازونه بیانېدل، عاشق اومعشوقه به یا وصال ته رسېدل او یا به یې یو د بل په فراق کې خپل ژوند له لاسه ورکاوه ′ کله ناکله به په نکلونو کې د عمل داسې افراط بیانېده چې اوس یې په اوریدو هېڅوک هم باورنه کوي، مثلاً ( دیو) به د نکل قهرمان په خپلو وزرو کې بلې دنیا(کوه قاف ) ته بېولی و مرسته به یې کړې وه او یا به یوه مین د خپلې معشوقې د وصال په تمه غرونه سوري کړي و او یا به یې سل ګزه اوږد ښامار وژلی واو یا به ورته نور جادویي حرکتونه ترسره کړي و .

په هغو نکلونو که به ځېنې نکلونه دومره اوږده وو چې حتی بشپړې دوې شپې به یې اخیستې او مینه وال به همداسې بوخ ورته ناست و چې له امله یې تر نه پورې موږ ته رارسېدلي دي، خو په ټوله کې دغه نکلونه که حقیقي و یا خیالي ډېر ژورمفاهیم به په کې پراته و چې د ځینو بې لاسو انسانانو په جوړولو کې یې هم رغنده رول لاره. دغه نکلونه په داسې هنری معیارونو ولاړ وو چې اوسني فلمونه د همدغو کیسو عیني بڼه بللای شو.

زما د مطالعاتو له مخې پخوانیو خلکو به صیفل ملوک د نکل تر څنګ د زبزبانې ښاپېرۍ ′ مومن خان او شیرینۍ ′ آدم او درخانۍ ′ طالب جان او ګل بشرې ′ قطب خان او نازو، ښادي او بیبو′ شېپتو برېخو′ شیرعلم او میمونې او لنډه داچې په ملي هنداره اثر کې سجل ټول نکلونه اورېدل او له دې نکلونو به یې انتباه اخیسته . یو به راوي و، نکل به یې کاوه، بل به شپون و او نکلچي ته به یې ښه ښه ویل اوپاتې نورو به په ډېر دقت غوږ ورته نیولی و او د نکلچي له نکل سره به په هغو ځایونو کې ګرځېدل ،کوم به چې د راوي له خولې بیانېدل او دوی به اورېدل.

د نکلونو د لېږد پروسه معمولاً د سوداګریزو اړیکو، مهاجرتونو او یو بل ته د قومونو د نږدېوالي په پایله کې د یوې حوزې فولکلور او نکلونه بلې حوزې ته نفوذ کوي او په دغه ورتګ سره کله کله داسې هم لیدل شوي چې د نکل اصلي ټاټوبی ورک او په هره ژبه چې ژباړل کېږي او هرې کلتوري حوزې ته چې ننوځي، هغه ژبه

او کلتوري حوزه یې د ملکیت دعوه کوي اوپه دې توګه د بلې ژبې او کلتور اغېز پرې وشي او په وسیله یې او د دغو فولکلوریکو نکلونو سوچه والی له منځه لاړ شي .

د بېلګې په توګه د لیلا او مجنون فولکلوریک نکل چې په هره ژبه کې ژباړل شوی د هغې ژبې اغېز پرې زیات راغلی او په پای کې هم دغه نکل خپل اصلیت له لاسه ورکړی دی.

نو په ټوله کې د دې نکلونو د شکل او مضمون په اړه به ووایم چې پښتو نکلونه د شکل او مضمون له مخې آزاد دي، د کوم ځانګړي لیکوال له خوا نه دي جوړ شوي، چې ځانته د لیکنې او افادې خاص اسلوب او قوانین ولري او پر کوم ځانګړي سبک روان وي.( ۲: ۱۱۹-۱۱۰ مخونه)

ځینې وخت داسې هم شوي چې پښتو نکلونو ته اژدها، پېرى، دېو او جادوګر را داخل شوي دي، خو دا د دې معنا نه لري چې دغه نکلونه دې پردي وي، بلکې دا په ډاګه ویلای شو چې پښتو نکلونه د پښتنو خپل فرهنګي میراث دی چې سینه په سینه له یو نسل څخه بل ته را انتقال شوي دي، که څه هم لږ او ډېر توپیرونه د زمانې او وخت په تېرېدو سره په دې نکلونو کې راغلي دي خو په اصل کې د پښتو ژبې مال دی او یا هم اوس یې مال شوی دی.

د بېلګې په توګه د مومن خان او شیرینو په نکل کې چې هر څومره شاماران او دیوان ورننوځي، بیا هم د نکل موضوع چې ولور او تربورګلوي ده او د پښتنو د یوه ځانګړي ټولنیز او اقتصادي حالت نمایندګي کوي، پر خپل ځای ولاړه ده او د کیسې په اصلي مفهوم کې کوم توپیر نه لیدل کېږي.

که له دې بحثه راتېر شو او د نکلونو د داخلي جوړښت څېړنه وکړو، نو د ادبپوهانو په وینا پښتو نکلونه په لومړي سر کې په دوو لویو برخو وېشل کېږي، لومړی هغه نکلونه دي چې زموږ د ولس له زړه څخه یې الهام اخیستی او په پښتني حوزو کې رامنځ ته شوي دي او د دې نکلونو رامنځ ته کوونکي او اتلان هم پښتانه دي او بل هغه نکلونه او کیسې دي چې د نړیوال فولکلور د لړۍ‌په سلسله کې د بېلابېلو ملتونو ترمنځ شریک دي او د نړۍ ډېر لرې ملتونه سره نښلوي او د بشري نړۍ ګډ فولکلوري میراث دی.

سیال کاکړ «د پښتو نکلونه» نومي اثر په یوه برخه کې د پښتو نکلونو په باب لیکي:

« ځینې وایي چې د پښتو ادبیاتو اوسني شکلونه لکه ناولونه، ډرامې او افسانې د نکلونو پرمختللي بڼې او بېلابېل شکلونه دي او له ولسي- نکلونو څخه زېږېدلي دي.» (۲: ۱۱۸مخ)

لکه څنګه چې مخکې هم اشاره وشوه، دا چې نکلونه څه وخت رامنځ ته شوي او لومړنی نکل ویونکی څوک او یا هم لومړنی پښتو نکل، کوم نکل دی، دا لا تر اوسه نه ده ثابته شوې، خو د پښتو نکلونو د راټولولو په برخه کې له خورو ورو کارونو او لیکوالو څخه وروسته لومړنی کس چې په کتابي بڼه یې پښتو نکلونه راټول او خوندي کل هغه محمد گل نوري دی نوموړي زموږ دغه ولسي پانګه تر یوه حده له ورکېدو څخه ژغورلې ده چې وروسته ډېرو نورو ښاغلو له نوري صاحب څخه په تقلید په دې برخه کې کار کړی دی . همدارنګه په کوزه پښتونخوا کې سید عابد شاه عابد او سیال کاکړ دوې مجموعې «د پښتو نکلونه» او «ولسي نکلونه » په نامه چاپ کړي دي.

په همدې توګه پښتو ژبې ته له نورو نا پښتني سیمو څخه هم د مختلفو عواملو له امله ډېر زیات نکلونه را داخل شوي دي، دا چې موږ یې څنګه توپیرولای شو په اړه یې ځینې خاصې ځانګړنې موجودې دي چې کولای شو د دغو ځانګړتیاوو پر اساس یې پښتو نکلونه له نورو نا پښتني نکلونو څخه بېل کړو.

۱- د ښځې وفا او ستاینه:

د پښتو نکلونو یوه ځانګړنه داده چې په دغو نکلونو کې تل د ښځې مقام ته په درنه سترګه کتل شوي او ډېر لوړ خیال ورته شوی دی. او پر دې سربېره په پښتو فولکلوري نکلونو کې تر ډېره ښځه د وفا سېمبول او حیثیت ته یې تر اندازې زیات احترام شوی دی. د بېلګې په توګه: کله چې ظریف خان په هند کې نظر بند کېږي او مابۍ په کلي کې یواځې پاتې کېږي او کلونه کلونه د ظریف خان په انتظار کې کښېني، تر دې چې په ویښتانو کې یې سپین پیدا کېږي.

په دې توګه ګورو،که څه هم مابۍ په کلي کې ځانته پاتې وه، مګر هېڅ کله مابۍ ته په سپکه سترګه نه کتل کېږي.

د دې ترڅنګ په دې نکلونو کې نه يوائې د ښځې وفاداري ښودل شوې، بلکې خپلو محبوبو ته د نارينه وووفاداري هم په ښه توګه منعکس شوې ده. لکه د مابۍ او ظريف خان د نکل هغه برخه چې د هندوستان د پاچا دوې لوڼې له ظريف خان څخه غواړي چې په دوی کې له يوې سره واده وکړي، مګر ظريف خان له دغه واده څخه انکار کوي او د دوی په ځواب کې داسې وايي:

ښاد يم ښاد يم اې نجونو ښاد يم

تاسې مې خويندې تاسې مې ميندې

نن زه د خپلې مابۍ په ياد يم های های مابۍ په ياد يم

يو بل څه چې په دې نکلونو کې د سړي فکر ځانته جلبوي، هغه د مينانو د خواست او دعا قبلېدل دي اوهغه هم په دې دليل چې په ټولو پښتني نکلونو کې رښتينې مينې او په ځانګړې توګه د ښځې مقام ته فوق العاده احترام او درناوی ښودل شوی دی.

د بېلګې په توګه، د ښادي خان او بيبو په کيسه کې کله چې ښادي خان مري، بيبو هم د ده پر مړي پرېوځي او له خدای څخه غواړي چې د دې روح دې واخلي او خدای پاک يې هم له غوښتنې سره سم روح اخلي او دا هم له ښادي سره په مرګ يو ځای کېږي.

همدارنګه کله چې طالب جان په قبر کې ږدي، ګل بشره خدای ته خواست کوي چې دا هم مړه کړي، د دې غوښتنه قبلېږي اوله طالب جان سره يو ځای کېږي . د موسی خان او ګل مکۍ او آدم خان او درخانۍ نکل هم په همدغه شکل پای ته رسيږي. (۳: ۸۱مخ)

۲- په پښتني نکلونو کې د توربورګلوۍمسئله ډېره راغلې ده، ځکه پښتني نکلونه د قبيلوي نظام محصول او په هر نکل کې يې قبيلوي مسايلو څه نا څه تبارز کړی دی، خو دا تبارز په ځينو نکلونو کې ډېر روښانه، خو په ځينو کې يې اغېزې ډېرې نه برېښي. د آدم خان او درخانۍ، مومن خان او شيرينو نکلونه ټول د قبيلوي مسايلو بيان کوي چې له بده مرغه ډېرې قربانۍ يې هم مېرمنې وي، په دې معنا قتل ورور وکړي خو په بدو کې خور ورکړل شي او دا چې بيا د خسرګنۍ کورني پرې څه ډول ظلمونه کوي د هغې خو مه کوه پوښتنه.

۳- په خپل سرنوشت کې د ښځې رول:

په پښتني نکلونو کې یو شی چې تر اندازې زیات په زړه پورې دی هغه په خپل سرنوشت کې د ښځې مستقیم رول دی. موږ ټول په دې پوهېږو چې په پښتني ټولنې کې په تېره بیا د دوه درې سوه کالو پخوا زمانو کې ښځې هېڅ کله د خپل واده او د ژوند د ملګري د انتخاب حق نه درلود، مګر په پښتو نکلونو کې موضوع برعکس ده. په دې نکلونو کې تر ډېره نجلۍ او هلک یو بل سره انتخابوي او هېڅ قدرت هم نه شي کولای چې دوی له خپله تصمیمه وګرځوي. لکه څرنګه چې په دې نکلونو کې لیدل کېږي، دې کار ته نه یواځې دا چې بد نه ویل کېږي، بلکې دا کار ستایل شوی هم دی.

د طالب جان او ګل بشرې په نکل کې ګل بشره د باچا لور ده، مګر پر یو طالب باندې مینه شوه، د مور او پلار له ټولو مخالفتونو سره سره بیا هم ګل بشره خپل د ژوند ملګری خپله انتخابوي. البته ډېر ځله پیوستون ته نه رسیږي او په مرګ سره یو ځای کیږي خو بیا هم له عادي عرف او سنتي دودونو سره په ټوله معنا مخالفت کوي.

په هر صورت! آزاد انتخاب یا د نجلۍ او هلک یو بل سره خوښول د نکلچیانو یوه اخلاقي توصیه ده چې په مختلفو نکلونو کې یې تبارز ورکړی او د نکل ترتیب یې داسې تنظیم کړی دی چې اورېدونکي هم په دې قانع کوي چې آزاد انتخاب یوه غوره اجتماعي اصل دی او باید همداسې ومنل شي.

په همدې ډول د پښتني نکلونو په مجموعه کې د پښتني کلتور ځینې نورې برجسته برخې، لکه مېلمه پالنه او توره او مېړانه په څرګند ډول ښکاري، لکه د آدم خان او درخانۍ په نکل کې.

نو په دې توګه پورته خصوصیات پښتني فولکلوریک نکلونه له نورو نا پښتني نکلونو څخه جلا کوي او هغه برجسته ګي چې د نورو د ژبو فولکلور یې نه لري په دې ځانګړنو کې له ورایه څرګندیږي.

خو له دې ټولو خبرو او ځانګړنو سره سره بیا هم پښتني نکلونو ځینې داسې مسایل لري چې څوک په دې نه پوهیږي چې دا د پښتني ټولنې محصول دي او که له نورو ژبو څخه دې ژبې ته را داخل شوي دي، لکه ( انصاف ښه شی دی)

نکل چې یواځې د ښه او بد لپاره ویل شوی. کـه څـه هـم دا نکـل ځانتـه کـوم ځانګړي پښتني خصوصیات نه لري، خو موږ دا هم نه شـو ویـلای چـې دا یـا داسـې نکلونه دې هرومرو له غیر پښتني فولکلور څخه راغلي وي، ځکه د دغو نکلونو د ویلـو ځای او ویونکي نه دي څرګند ، دا او د دې په شان نور نکلونه د اخلاقـي توصـیې او د اوږدو شپو د لنډولو لپاره رامنځ ته شوي او زما په اند هغـه اهـداف او مقاصـد چـې پښتو نکلونه یې تعقیبوي په دې نکلونو کې نه شته. (۱: ٦٦-۸۸مخونه)

خو دریغه چې د دغوفولکوریکو کیسو او نکلونواوربدل اوس د خلکو ترمنځ تـت شوي دي او ډېراوریدونکي نه لري چې زما په نظر درې مهـم اوعمـده علتونـه لـري: لومړی داچې د نړۍ هـنری پرمختـګ او د فلمونـو راوتـل د دې سـبب شـول چـې دا نکلونه نورخپل اورېدونکي له لاسه ورکړي، دوهم د هېـواد اوسـنۍ غمیـزې د خلکـو زړونه دومره تپي کړي چې د هېچا خوله خندا او هوس ته نه جوړېږي او هېڅ شي ته یې زړه نه ښه کېږي.

دریم داچې پخوا زمانه کې ډېره ساده ګي وه او داوس په شـان دنـړۍ لـه یـوه ګوټ نه تر بل ګوټ پورې لار ې نه وې جوړې او یو خبر به له یـوې سـیمې تربلـې پـه ډېره سختۍ پـه (سـمه توګـه ) رسېده، ځکـه دهـرې خـبر ې او آوازې سره بـه خـروار درواغ ضمیمه کېدل او خلکو به منل ′ دا ځکـه چـې د خلکـو ذهنونـه او ذهنیتونـه د خپل ژوند پر چاپیریال پورې محدود و او له نورې پراخې نړۍ څخه یې معلومـات نـه درلودل او په هرڅه به د یوې اوږدې کیسې اونکل له لارې خلکو ژر باورکاوه، لکه د مخه چې وویل شول د خلکو عمر به ټول په خپـل کـلي کـوراو سـیمه کـې تېرېـده ، مسافرتونه کم و اود اوس په شان به نن دلته او سبا به په لندن او نیویـارک کـې نـه ګرځېدل په تکرار سره وایو چې ذهنـي پراختیـا یـې ترخپـل مـاحول پـورې محـدوده اولید لـوری یـې کمـزوری و ′ دا خوجوتـه ده چـې سـیاحت او ګرځېدنـه یوانسـان لـه نویوښکارندوسره مخامخ کوي اوپه جهـان ګـردۍ کـې د ده ژونـد پرواقعـي اوعینـي کیسو بدلیږی چې هغه بیا د افسانو اورېدو ته اړتیا نه لري .

په پای کې ویلای شو چې د پښتو نکلونه له ډېر پخوا څخه موجود دي او زمـوږ د پښتني ټولنې منظر کښنې کې ډېر عمده او مهم رول لوبوي.

**پایله:**

ادبپوهان د هغه ولس د ادبیاتو زړېرمه پیاوړي بولي چې په بنسټ کې یې د فولکلور ډېرې لګېدلې وي. دوی څوانو لیکوالو ته سپارښتنه کوي، که چېرې غواړي خپل ادبي ایجاد پر مناسب مقام ودروي، نو هڅه دې وکړي چې د ولس له ذوق څخه الهام واخلي. دغه راز دوی وایي چې نني کیسه لیکوال به په خپل فن کې هغه وخت بریالي وي چې خپله نوې کیسه د شفاهي کیسې په تقلید کې ولیکي.

ولسي کیسې د پېړیو په جریان کې د پښتني ټولنې دود، دستور، اعتقادات، کره وړه، نادودې، محرومیتونه او داسې نور ټولنیز موارد په میراث پرېښي. پښتني نکلونه د ماضي په هېنداره کې ډېر ښه ځلیږي او دې کیسو ته د ځانګړې زمانې ټاکل هم سم کار نه دی ، یعنې د نکلونو زمان عام وي نه خاص او دا نکلونه تر ډېره د نالوستې قبایلي ټولنې د کلتور پیداوار وي.

له بلې خوا نکلونه او افسانې د ولسي ادبیاتو یوه مهمه برخه ده او د یوه قوم د ټولنیز ژوند تر ټولو ښه پېژندنه پرې کېدلای شي، ځکه له ټولو دودیزو فولکلوري اړخونو یې بشپړ حکایت او روایت کوي.

**مأخذونه:**


۱- جهاني، عبدالباری. د پښتني فولکلوریکو نکلونو خصوصیات، کابل مجله، پرله پسې ګڼه ۷۲۹، د علومو اکاډمي، ۱۳۵۹ لمریزکال.

۲- خاورې، غوټۍ. د پښتو شفاهي ادبیاتو شکل او مضمون، د علومو اکاډمي، دولتي مطبعه، ۱۳٦٦ لمریز کال.

۳- عطایي، محمد ابراهیم. ملي هېنداره د اجتماعي څېړنو له نظره، د کندهار د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست، ۱۳۹۰لمریز کال.

۴- کرګر، محمد اکبر. کیسه، تېر مهال او ټولنیز ناخود آګاه، هاشمي خپرندویه ټولنه، ۱۳۹٦لمریز کال.

۵- لاموال، عبدالمالک. د ځینو پشه یي کیسو تحلیل او څېړنه، د علومو اکاډمي، ۱۳۸۸ لمریز کال.

٦- فایز، فضل الحق، د نکلونو او اساطیرو رول د ماضي په هېنداره کې، انیس ورځپاڼه، طلوع افغان وېبپاڼه ،۱۸/۷/لمریز۱۳۹۷، dailies.gov.af<anis د لاسرسي نېټه: ۱۸/۱۲/ ۲۰۱۸م.

٧- پښتو ولسي اوشفاهي ادبیات، www.toloafghan.com، ۲۰۰۷/۸/۲م، د اخیستنې نېټه ۱۰/۲۸/۲۰۱۸م.

and tribe from the beginning of the specialization till now, therefore, one of the reasons for creation of these type of

stories is also the living conditions of a nation and society that have come to us

since long time.

Through these stories we get familiarity with various specialties of Pashtoon

community, such as love, brotherhood, bravery, customs and traditions, Sufism,

deprivations, hopes, and national spirits.

The causes of the emergence of the Pashto stories and what are the implications

and messages in these stories, and why this part of the local literature is now in

danger of being forgotten and lost, these and similar topics are examined in this

article and also the characteristics of Pashtuns and non-Pashtuns stories are also

discussed in this article.

scientific discussion, we use language as a kind of quasi-system that combines a series of optional words and uses the people of the community to understand and understand it.

Or we can say that the language is made up of a series of optional words or a system that is a means of understanding and understanding among the people of the community.

In the language system, we are accustomed to the small changes, and systems are generally different from each other, we separate it from the language, but within a language system, the dialect is tapped and small geographically accented, In short, we can count on everything that is not tongue, in fact, to accent, or to assume language as a tree, the branches of those dialects, when they can be distinguished in speaking of people, and they can accent people to speak it.

---

## The Poetic Rosary of Shaal

**Researcher Razia Noori**

**Abstract**

In the contemporary period of Pashto literature and culture, Miss Mastura Shaal is accounted to be a remembering personality, but she has not been well introduced as it is required. Apart from her oratory skills, she was good in poetry too. She has written many proses the record of which has not been kept, however. From the content and subject point of view, Mastura Shaal is accounted to be of the unique woman poets. Most of her poems have poetic characteristics and artistic beauties. This paper sheds light on her poetic style, merits and beauties of her poems.

---

## Pashto tales of unknown era

**Samila Ahmadzai**

**Abstracts:**

The local tales that has brought different parts of human life to us and have special place and position in every ethnicity

the way for other investigators for the Peer Roshan and his unity of existence.
I did this research about this study, which discusses the Sufi officials and the mode of unity of the universe and discusses its deepest points.

## Hassan Gul Bandawal life and activities

**Research Fellow Abdul Zaher shakib**

**Abstract:**

In the case of his scientific personalities, his literary scholar is not only a literary worker, but he teaches us a lot about things in scientific life, they tell us about their experiences and their scientific work, and alongside them, they will make us the old and new literary and interdisciplinary lines.

Fortunately, with this in mind, for example, I did a short study of his work on the scientific activities of the deputy head of the university, Hasan Gul bandawal, and this is the reason why the name of Professor Bandawal is getting worse than the media pages.

Who was bandawal? What has happened to us and what has happened to us?

In this article you can read a bandawal master of a series of information.

## The Kharot Accent dialectiesm

**Maywand Bakhtyar**

**Abstracts:**

It means to communicate with every means of communication, but when we talk about the language of the

meaningful. This is the reason why the successful message is revealed.
In addition to the use of the Genghau industries, the industry has also used a sensual or sensational agreement.

---

# Linguistic and literary issues

**Researcher P.HD Nzam u ldin katawazai**

**Abstract:**

In diesem Ausfsatz ist der Versuch unternommen worden, fundamentale spracheissenchaftliche Konzepte zu erklaenren, um einem Verstaendniss der Lireraturwissenchaft beizutragen. Die grundlegende Annahme debei ist, dass literatur ein spezifiches System der Prodkction und Uembermittlung von Bedutungen ist. Sprache bedient sich, wie andere Systemen der Bedeutungen der Zeichen. Daher bildet das Verstaendniss der Semiotik eine geeignete Grundlage fuer das Verstaendniss and Ananlyse sprachicher Texte. Diese Methode lenkt Aufmerksamkeit auf die materielle Seite der Literatur,i.e. die sparchliche Konstruktion und betrachtet derer Rolle im Prozess der Herstellung und Uebermittlung von Bedeutung. Diese neue Methode kann, hoeffentlich dazu beitragen eine neue Perspektive in den literaturwussenchaflichen Forschungen des Pashto zu eroeffnen.

---

# Unity of existence and Peer Roshan

**Hamidullah Omarkhel**

**Abstracts:**

A lot of research has been done about the Peer Roshan and their way of mysticism, but unfortunately it has not been introduced as it should be introduced, because I have opened

inflected much loss to the people, face people with psychological disorder, take out the social calm and tranquility, created obstacles in the development of society and welfare of the people. Moreover, the war has also such scenarios of distraction of people s shelters, displaced millions of Afghans, distrusted in country. These and some other painful events oppressing poets very much and as such explain their pains by poetry, shed tears for people and country, show hate from war. The number of such poets is considerable. This article first discusses the poetry and then presents information about the war with indication of the relationship between poetry and war. In this connection, the article considers the samples on hate from war in the poetry of Pir mohammad Karwan and Abdul Ghafoor Lewal and discusses different aspects of the war in detail.

---

# In the poem of Peer Mohammad Karwan, the consensus of senses

**Mohammad Tahir Sharar Sapay**

## Abstructs:

When two poets in their words combine the duties or characteristics of two senses together or assign the task of a sense to another, this kind of industry is in agreement in the literature known as industry sense or industry.

The industry became sensational after the French Revolution in literature, which later became the Pashto literature, many poets have used their art in this way and along with their writing, and they also shared poetry in poetic aesthetics, one of which is Peer Mohammad Karwan.

In the current era, including Pashto poets, is a poet who, in his poetry, paints aloud much artistically, and by means of similes, metaphors and other industries, the poetic and spiritual dimensions of the poem have become very meaningful and

types of karrai according its formation; closed karrai and opened karrai. Closed karrai encompasses rhymes, alignment and othe vocal formations. Opened karrais are solely freed from rhyme restriction, but the "harmonious word" has the charactristics in its own internal formation.

The folklorists of public literature have not still been given special attention to it as well.

So, in this paper, it has explained on the formation of karrai, its connection with landay as well as vocal and logical connections. And ended with instances.

---

## Some humane thoughts in the prose of Gul Paha Aulfat

**Sayed Asghar Hashami**

**Abstract:**

Ostad Ulfat was such a pained thinker and creative writer that he has carefully presented the negative and positive acts of the society to the society. His saying has abundance of great messages for the humanity. In this article, the humanistic ideas of his prose are discussed and example is provided along with the prose.

---

## Antipathy from war in modern Pashto poetry

**Researcher Rahimullah Hrifaal**

**Abstract:**

Our country has been suffered very much from war. The ongoing 40 years long war is devastative and painful. The war

the main reasons is traditional disagreement and social compromise. But, as we are reminded of the Hutaki period, this is an inverse problem. In this sense, it is a matter of being a great and political leader, thanks to the same arrogance and literacy.

Because her mother had nazo Ana her well-groomed woman, in the same way, the daughter of Mirwais Nika Bibi Zeinab was also the lady who even performed counseling at the Court, which in fact all these privileges were inferiority.

For this reason, all aspects of the study and the state of art are discussed in this article.

---

## KarGar new experiences in fictional literature

**Abdul Wakil Solamal Shinwary**

**Abstract:**

This is accepted by literary critics as the story is alive and the life of the story. Man from Adam was born in this story in the story, and in the story we will die, but these stories are once artistic and timeless.

This article discusses the short stories of KarGar Goodies and shortcomings have been discussed and it has been proven that KarGar did not write the stories merely for a taste of art, but Its second goal is to portray its own life And this proves that the story is truth or near truth.

---

## Karrai in Pashto Oral Literature

**Researcher Abdul Ahad Mangal**

**Abstract:**

Karrai is the common genre that is often repeated with Landay together. Karrai has seven syllables and there are two

## Life and literary activities Mohammad Akbar Motamed

**Senior Research Fellow Nasrullah Naser**

### Abstracts:

Elite poets and writers are represented in our country, and there are situations as well. Those who are not among us have something to write about and benefit from In the case of their present generation, we will understand the future and become aware of their activities and literary works.

And with this, the elite will be given the right to do so.

In this elite and literate literary one is the head of Mohammad Akbar Motamed Shinwari, who devoted his life to the literary activities and activities of Pashto language and literature.

He has written many works in his life or translated into other languages, whose activities and services are appreciated.

In addition to his biography, the professor in this episode is a general discussion about his studies, writing, poetry, guidance of his students and other scientific activities.

By which its scientific and literary character will become clear.

---

## Women in the Hotaki period

**Research Fellow Atefa Noristani**

### Abstracts:

From the beginning to the present, the share of women has become unbearable, and in addition to various reasons, one of

# List of Contents


| No | Title | Author | Page |
|---|---|---|---|
| 1. | Life and literary.... | Nasrullah Naser | 210 |
| 2. | Women in the Hotaki... | Atefa Noristani | 210 |
| 3. | Kargar new experiences ... | Abdul Wakil Solamal | 209 |
| 4. | Karrai in Pashto Oral... | Abdul Ahad Mangal | 209 |
| 5. | Some humane thoughts... | SayedAsghar Hashami | 208 |
| 6. | Antipathy from war... | Rahimullah Hrifaal | 208 |
| 7. | In the poem of Peer ... | M. Tahir Sharar Sapay | 207 |
| 8. | Linguistic and literary... | Nzamuldin katawazai | 206 |
| 9. | Unity of existence... | Hamidullah Omarkhel | 206 |
| 10 | Hassan Gul Bandawal... | Abdul Zaher shakib | 205 |
| 11. | The Kharot Accent... | Maywand Bakhtyar | 205 |
| 12. | The Poetic Rosary of... | Razia Noori | 204 |
| 13. | Pashto tales of unkno... | Samila Ahmadzai | 204 |

**Published:** Academy of Science of Afghanistan

**Editor in Chief:** Research Fellow Sayed Nazim Sayedy

**Assistant:** Researcher Assistant Hazrat Agha Hamdard

**Editorial Board:**

Research Fellow Dr.Abdul Zahir Shakib

Senior Research Fellow Dr. Khalilullah Ormar

Senior Research Fellow Nasrulla Naser

Research Fellow Mohammad Asif Ahmadzai

**Composed & Designed By:**

Sayedy

**Annual Subscription:**

Kabul: 960Af.

Province: 1440 AF.

Foreign Countries : 60$

Price of each issue in Kabul : 80 AF.

- For Professors, Teachers and Members of Academy of Science of Afghanistan: 70 AF.
- For the disciples and students of schools: 40 AF.
- For other Departments and Offices: 80 AF.